د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونيت بخش علوم بشری
مرکز زبانها و ادبيات
د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت


# کابل

**په دې ګڼه کې:**

- ايا ايندر کوڼ اسطوره بشپړه حماسه ده؟
- د ژبې په پوهاوي او را پوهاوي کې د دماغ د بروکه...
- د سهيلي پښتونخوا د پښتو ناول تاريخي بهير
- په پښتو ادب کې د مېلمه پالنې دود انعکاس
- نجيب سر بندی د سبک پر څلور لارې

او نور...





څېړنيزه، ژبنۍ، ادبي او فولکلوري مجله
کابل
۱۴۰۱ لمريز کال، ۱-۲مه ګڼه


# Kabul

## Quarterly Journal


**Establishment : 1931**
**Research and Scientific Publication of Afghanistan Science Academy**



Address:
Afghanistan Science Academy
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shahr-e-Now, Kabul, Afghanistan.
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبانها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

ژبنۍ، ادبي او فولکلوري درې میاشتنۍ څېړنیزه مجله

د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
۱ - ۲مه ګڼه

## یادونه

✓ مقاله دې له یوې رسمې پتې څخه چې په هغې کې د لیکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټیلیفون شمېره او برېښنالیک پته وي، د علومو اکاډمي ادارې ته را ولېږل شي.

✓ رالېږل شوې مقاله باید پوهنیزه ـ څېړنیزه، بکره او له منل شوو علمي معیارونو سره برابره وي.

✓ رالېږل شوې مقاله، باید په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرلیک، باید لنډ او له منځپانگې سره سمون ولري.

✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډیز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کړای شي. همدغه راز، لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقاله باید د سریزې، اهمیت، مبرمیت، موخې، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې روش، پایلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل یې ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونه وي، د فونټ سایز ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله باید (Single ) وي او ادارې ته دې سافت او هارد کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمي د نشراتي لایحې له مخې د یوې مقالې د تائید او رد واک لري.

✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسئولیت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له مأخذه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

**خپرندوی:** د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسئول مدیر:** څېړنپوه محمد نبي صلاحي

**مهتمم:** نوماند څېړندوی خالد تکل

**کتنپلاوی:**

څېړنپوه دکتور عبدالظاهر شکیب

څېړنوال دکتور رفیع الله نیازی

څېړنوال سید نظیم سیدي

څېړنوال محمد آصف احمدزی

**چاپ ځای:** لایف سټار. کابل ـ افغانستان

**تیراژ:** **۲۰۰** ټوکه

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، طره باز خان واټ،

کابل، نوی ښار، د شاه بوبو جان کوڅه

**د اړیکو شمېرې:**

۰۷۷۰۸۴۸۰۸۶- ۰۷۹۹۸۶۱۲۹۹ - ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹

**د مجلې برېښنالیک:** magazinekabul@gmail.com او info@asa.gov.af

**کلنۍ ګډون بیې:**

په کابل کې: ۹۶۰ افغانۍ

په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| گڼه سرلیک | لیکوال | مخگڼه |
|---|---|---|
| ۱ . ایا ایندرکوڼ اسطوره بشپړه حماسه ده؟ | څېړنوال سیدنظیم سیدي | ۱ |
| ۲. د ژبې په پوهاوي او را پوهاوي کې د دماغ د بروکه... | پوهنیار رحمت الله کټوازی | ۳۷ |
| ۳. د سهیلي پښتونخوا د پښتو ناول تاریخي بهیر | څېړنپوه دکتور عبدالظاهر شکیب | ۵۱ |
| ۴. په پښتو ادب کې د مېلمه پالنې دود انعکاس | څېړندویه شکیلا میاخېل | ۹۴ |
| ۵. د درېیم ټولګي د پښتو ژبې د نوي... | محمد عالم عالمیار | ۱۱۲ |
| ٦. نجیب سربندی د سبک پر څلور لارې | څېړندوی فضل الرحمن علیزی | ۱۲۵ |
| ۷. د متلونو موسیقوي ارزښت تجزیاتي جاج | پوهنیار عبیدالله اغبـز | ۱۴۱ |
| ۸. د عبدالحمید شرعة الاسلام (بشپړ متن) تنقیدي جاج | څېړنیار محمد اسحاق مومند | ۱۵۴ |
| ۹. د پښتو لرغونې دورې د منظوم عرفاني ادب څېړنه | څېړنوال شهزاده توحیدمل | ۱٦۵ |
| ۱۰. د زین العابدین پردېس ژوند او شاعري | څېړندوی لطف الله صابر | ۱۷٦ |

څېړنوال سیدنظیم سیدي

# ایا ایندرکوڼ اسطوره بشپړه حماسه ده

# Is the Enderkun myth a complete epic?

**Associate Prof. Sayed Nazim Sayedy**

## Abstract

What is myth and when did it make its way to our oral literature? What is Hamasa and what are its characteristics? These are the discussions that have been analyzed in detail in this article and then applied to the form and content of Nuristani literature After that, there was a short discussion on Nuristani literature, oral literature of Nuristan, and nickels, and after that, the legend of "Enderkun" or nickel, which is a popular folk nickel of the people of Nuristan, was summarized, and after that, the context of the epic. thrown into as a result, he has fulfilled the conditions of Hamas which are not even found in current coins, but they are present in this myth and he has fulfilled almost the majority of the conditions of Hamas, so we can say with confidence that (Enderkun) is a complete comedy.

## لنډیز

اسطوره څه ده، کله یې زموږ شفاهي ادبیاتو ته لاره پیدا کړې ده او کومې ځانګړنې لري. دا هغه بحثونه دي چې په دې مقاله کې په تفصیل سره څېړل شوي او بیا د نورستاني ادبیاتو په شکل او محتوا کې تطبیق شوي، تر هغې وروسته په نورستاني ادبیاتو، د نورستان په شفاهي ادبیاتو او بیا په نکلونو لنډې خبرې شوي او تر هغې وروسته د «ایندرکونې» اسطوره یا نکل چې د نورستان د خلکو یو مشهور ولسي نکل دی لنډیز راغلی او تر هغې وروسته د حماسې په چوکاټ کې اچول شوی چې په نتیجه کې یې آن د حماسې هغه شرایط هم پوره کړي چې په اوسنیو نکلونو کې په ذره بین هم نه پیدا کېږي، خو په دغه اسطوره کې شته او د حماسي والي کابو اکثریت شرایط یې پوره کړي، نو ځکه په ډاډ سره وایو چې (ایندر کونې) یوه تمام عیاره حماسه ده.

## سریزه

په پښتو ژبه کې ځینې داسې ولسي کیسې او نکلونه شته چې د وروستیو څېړنو له مخې اسطورې او ځینې یې آن حماسې زبات شوې دي، لکه د ادم خان او درخانۍ نکل او همداسې ځینې نور، چې دغه چار اوس په نړۍ واله کچه ډېر مهم او د ځانګړنې پاملرنې وړ دی، ځکه د دوی په وینا د ولسي نکلونو بقا او پایښت په همدغو مسایلو کې دی او دا مسایل باید په ټولو ولسي نکلونو کې وڅېړل شي.

له بله مرغه د دغه چار لټون پښتو ادب ته هم لاره کړې او ورسره جوخت د لړه کیو ژبو نکلونو ته هم ور انتقالېدلای شي، خو که څوک یې وپلټي او را برسېره یې کړي.

په دې څېړنه کې د همدغه ارزښت او مبرمیت په پام کې نیولو سره ما د لومړي ځل لپاره د نورستان یوه مشهوره اسطوره (ایندرکونې) چې ځینې برخې مې له کتابونو او ځینې ما په خپله د نورستان ولایت په یو علمي سفر کې ضبط کړې وې، د حماسې په چوکاټ کې په تطبیقي توګه واچوله چې له بله مرغه تر نیمایي زیات شرایط او آرونه یې په کې پوره شول چې د تفصیلی څېړنې لپاره یې تاسې ته په مخ کې ږدم.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې لومړی موږ ته اسطوره او حماسه له نوي لیده معرفي کوي او بیا مو د نورستان له مغتنمو اسطورو او ولسي نکلونو څخه خبروي او دا راته په ډاګه کوي چې په نورستان کې لا تر اوسه پورې څومره ناویلې او نا ثبت شوې ولسي کیسې

او نکلونه شته او که خوندي نه شي، بې له شکه د زمان جبر به يې له ځان سره وتروړي او بيا به يې يوازې نومونه پاتې وي او بس. د دې ترڅنګ د دغو کيسو يا نکلونو ارزښت په دې کې هم دی چې لا تر اوسه د يوناني نکلونو يا اسطورو په څېر اصالت او خوند يې ساتلی، هماغه ځانګړنې په کې لا هم موندلای شو، چې دغه کار د دې حوزې ادبياتو ته د ځانګړي ارزښت ترڅنګ د لرغونتيا تومنه هم زياتولای شي او دا هغه څه دي چې نور هېوادونه يې په جعليت سره هم نه شي کولای، خو زموږ په ادب کې ځاني دغه تومنه شته، خو بويه چې په مسلکي او سمه توګه خوندي شي.

## د څېړنې موخه

په دغه علمي ـ څېړنيزه مقاله کې د اندرکوڼ اسطورې باندې علمي ـ څېړنيز بحث کېږي او د دغه بحث په پايله کې به معلومه شي چې ايا دغې اسطورې د يوې بشپړې حماسې ځانګړنې پوره کړې او که نه؟ همدا ډول د دغې اسطورې په تاريخي ارزښت به هم خبرې وشي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې مطرح شوې دي:

- اسطوره څه ته وايي؟
- حماسه څه ده او کومې ځانګړنې لري؟
- ايا نورستاني نکلونه له پښتو نکلونو اغېزمن دي؟
- نورستاني نکلونه څومره ارزښتمن دي او څومره يې تر اوسه خوندي شوي؟
- (ايندر کوڼ) اسطوره يوه تمام عياره حماسه ده او که نه؟

او دې ته ورته ځينې نورې کوچنۍ پوښتنې هم پوښتل شوې، چې د مقالې په اوږدو کې ټولې ځواب شوې.

## د څېړنې ميتود

د دې مقالې په اوږدو کې تر ډېره له تشريحي او توضيحي ميتود څخه ګټنه شوې ده، خو د اړتيا پر مهال له انتقادي ميتود هم استفاده شوې. د دې ترڅنګ د مقالې ډول ساحوي او کتابتوني دواړه دي.

## «ایندر کوڼ» اسطورې ته یوه بشپړه حماسه ویلای شو؟

په دې کې شک نه شته چې د نورستان او نورستانیانو په اړه له پخوا راپاتې نکلونه په سلو کې اتیا سلنه تمام عیارې اسطورې دي چې د اسطورې ټول شرایط پرې تطبیقیږي، خو په ورته وخت کې په همدغو اسطورو کې ځینې یې بیا په ټوله معنا او یا هم تر ډېره بریده حماسې هم دي، چې دغه ځانګړنه بیا د نړۍ په ډېرو کمو ژبو او ادبیاتو کې موجوده ده.

موږ که نن سبا د یوناني ادبیاتو او حماسو خبره کوو او په نړۍ واله کچه یې شهرت موندلی، نو یوازینی لامل یې همدغه په یو وخت کې د څو ځانګړنو خپلول او لرل دي چې له ښه مرغه زموږ د نورستان اسطورې هم له دغو ځانګړنو څخه ډکې دي، خو دا چې یوناني ادبیاتو ته د ټولې نړۍ پاملرنه اوښتې او زموږ له اصلي اریایي یا نورستاني ادبیاتو چا ګردونه نه دي څنډلي، نو دا د ادبیاتو نه، بلکې د دې سیمې د ادیبانو ستونزه او نیمګړتیا ده چې دغه اسطورې یې په خپل ټول قوت او ځواک سره نړۍ ته نه دي پېژندلي، البته دا به هم بې انصافي وي چې په دغه برخه کې د ښاغلي سمیع الله تازه او ښاغلي څېړنوال عبدالغفور لېوال هلې ځلې هېرې کړو؛ ځکه دغو دواړو ښاغلو یوه د تاریخي ریښو او اصالتونو له مخې او بل هم د ادبي قوت او ظرافتونو له مخې تر خپلې وسې په دې برخه کې کار کړی، خو دا چې له نورو اسطوروي ادبیاتو سره یې په پرتلیزه توګه په پام کې ونیسو، نو هله را معلومېږي چې دا برخه څومره بکره، سوچه او په دوديز حجاب کې رانغاړل شوې پاتې ده.

زما په نظر په کار ده چې په هر اړخ او خوا یې خبرې وشي، چې له ښه مرغه د همدغه ارزښت په پام کې نیولو سره ما هم په دغه لیکنه کې د (ایندرکوڼ) پر اسطورې چې په دې نامه یو ډېر مشهور او فزیکي بڼ لا هم د واما ولسوالۍ په سیمه کې موجود دی څېړنه کړې او زبات کړې مې ده چې دا اسطوره یوازې اسطوره نه، بلکې د نړۍ والو منل شوو نورمونو له مخې یوه حماسه هم ده، ځکه د حماسې کابو ډېر آرونه پرې د تطبیق وړ دي.

د ایندر کوڼ اسطوره سمیع الله تازه په خپلو بېلابېلو کتابونو کې په بېلابېلو وریانتونو ثبت کړې، خو دا چې یو مهال زه او زما ګران همکار څېړندوی احسان الحق کبیر نورستان ولایت ته د لهجوي قاموس د ثبت او را ټولولو لپاره تللي وو، نو ما د

خپل هغه درانه او علمي کار ترڅنګ د نورستان ځینې اسطورې هم د ولسي خلکو له خولو راټولې او خوندي کړې، چې له نېکه مرغه دغه لړۍ مې د «اساطیرو وطن» په نامه پیل کړه او د ایندرکوڼ اسطورې څو وریانتونه مې هم په همدغې لړۍ کې خوندي کړل او که د الله (ج) رضا وه او ژوند راسره یاري وکړه، نو یو وخت به د دې لړۍ ټولې ثبتې کړې اسطورې چاپ او د مینه والو تر لاسونو ورسوم.

دا چې هغه وخت زما کلیدي کار د لهجوي کلمو راټولول وو، نو په ورته وخت کې دغه کار ته هم متوجه شوم او هوډ مې وکړ چې دا مواد باید راټول شي، ځکه له یوې خوا د دود پالنې او نوښت پالنې ترمنځ په سیالۍ کې تروړل کېږي او له بلې خوا ځینې اساطیري ارزښتونه او مواد د دې له امله هم پر سیند لاهو کېږي، نو ځکه باید هېر او له منځه لاړ شي، خو دې ته متوجه نه دي چې نړۍ نن سبا پر همدغو اساطیرو او حماسي مسایلو ژوندۍ ده، پرې ویاړ کوي او امتیازات پرې اخلي چې ښه بېلګه یې د نړۍ په لسګونو تاریخي موزیمونه، ښارونه او لرغونې سیمې دي چې نن سبا د سیلانیانو پرې وار نه وي، نو ځکه ما هم د دغې برخې د یو لاروي په توګه دا خپل مسؤلیت وباله او په دې برخه کې مې نسبي هڅه وکړه، هیله ده چې د دې برخې اصلي ځانګه وال ترې لمن راډکه او پر موږ یې را وشیندي.

د دې لپاره چې دغه موضوع مو په منظمه توګه سپړلې وي، لومړی باید پر اسطورو وغږېږم چې اسطوره څه شی ده، له حماسې سره یې څه اړیکه ده، بیا حماسه څه شی ده او تر هغې وروسته به بیا د ایندرکوڼ اسطورې لنډیز وړاندې کړم او بیا به پرې خبره وکړم چې پر کوم اساس حماسه ده او ولې؟

**اسطوره:** د اسطورې په اړه ډېر تعریفونه شوي، ځینې پوهان یې تازي کلیمه بولي چې د سطر له ریښې څخه اخیستل شوې ده. دا کلیمه په عربي ژبه کې د خواشینوونکو خبرو، کیسه ډوله خبرو او پاروونکو خبرو په معنا کارول کېږي، خو ځینې یې بیا له (اسطار، اسطاره، اسطیر، اسطیره، اسطور، اسطوره) څخه جوړه شوې بولي. د مشهور لیکوال سیوطي په وینا : اسطوره یو داسې نوم دی چې جمع نه لري، ځینې نور پوهان چې ابو عبیده یې په سر کې دی وایي چې: اساطیر د اسطاره جمع ده.

د ادبي دایرة المعارف په وینا: اسطوره او اسطورې هغه نیمه خرافي کیسې او افسانې دي چې د مافوق الطبیعي ځواکونو په اړه رامنځ ته شوې او نسل په نسل په میراث را پاتې دي. (۱)

کله چې د خرافي کیسو یا افسانو خبره کوو، نو موخه مو هغه کیسې دي چې په اوس وخت کې یې ذهن منلو ته چمتو نه دی، نه یوازې اوس بلکې په پخواني وخت کې یې هم ذهن ډېر منلو ته چمتو نه و، خو دا چې پخوا د پیریانو، شیشکو او رویو کیسې ډېرې وې، نو ځینو ولسي خلکو به څه نا څه منلې، خو اوس یې منښت د صراط پر پله مزل دی، نو ځکه وایو چې خرافي دي او د مافوق الطبیعي ځواکونو په اړه راته بیانونه لري.

د اسطورې په اړه د آریانا قاموس د دویم دور په لومړي ټوک کې لولو: "اسطوره: په انګرېزي ژبه کې اسطورې ته Myth او اسطورو ته Mythos وایي. په عربي کې افسانه د اسطورې په معنا او مفهوم کاروي. په یوناني ژبه کې د Myth کلمه له Mythos څخه مشتق شوې ده. په یوناني ژبه کې د افسانې کلمه د (میتولوژي) په معنا او مفهوم راغلې ده، چې له دوو کلمو (میتوس) او (لوګوس) نه جوړه شوې ده، چې په لومړي سر کې د هر ډول کیسې په معنا استعمالېده، هومه روس دا کلمه د حکایت او سر ګذشت په معنا راوړې ده، پندار دا کلمه له میلاد نه پنځه پېړۍ مخکې د سرګذشت او افسانې په معنا وکاروله.

ځینې فولکلور څېړونکي میتولوژي د اسطورو ټولګه بولي او د علم الساطیر په معنا یې کاروي. میتولوژي (اسطورې) داسې یو ځانګړی نظام دی چې په اصل کې مذهبي رنګ لري، چې خارق العاده او د انسان له توان نه پورته پېښې او د نړۍ د پیدایښت په اړه رنګارنګ تصورونه، خیالونه او مفکورې لري. له دغو اسطورو نه د لرغوني انسان انګېرنه دا وه چې هغه د طبیعت، کایناتو او په نړۍ کې د نورو پېښو د پیدایښت او رامنځ ته کېدو په لاملونو باندې نه پوهېده، هڅه یې دا وه چې د هغې زمانې د انسان د ژوندانه دا مرموز او پټ لاملونه په ګوته کړي." (۲)

په دغه پېژند کې موږ له دوو مسئلو سره مخامخېږو، یو لیکل شوو ادبیاتو سره او دویم هم له نالیکلو یا شفاهي ادبیاتو سره. په لیکل شوو ادبیاتو کې موږ ډېر ځله هغه مسایل او خبرې څېړو چې زموږ په مخ کې تېرې شوې وي او یا هم د تېرېدو په حال کې وي او یا هم ګومان کوو چې په راتلونکې کې به د همدغو لاملونو له مخې پېښې شي، چې په هغې کې بیا د خیال، عاطفې، اندېښې، ظرافت او نورو ښکلاګانو ظرافتونه یو ځای کوو او زړه راښکون په کې پیدا کوو، خو په فولکلوري یا ولسي ادبیاتو

کې بیا هغو مافوق الطبیعه مسایلو ته لاس غځوو چې په اړه یې په ذهن کې اټکلونه یا ګومانونه لرو او فکر کوو چې همداسې به وي، خو سل په سلو کې پرې ډاډه نه یو، په دې معنا موږ همدا نن هم داسې فلمونه جوړو چې انسان په کې الوځي، انسان په کې دیو یا هیولا دی، انسان په کې سړی خور دی، انسان په کې یوه سترګه لري، انسان په کې له بېلابېلو موجوداتو سره په جګړه بوخت دی او انسان په کې په آب حیات او دایمي ژوند پسې ګرځي، سوکالي او تلپاتې ځواک غواړي، خو دا چې حقیقت څه دی او څومره خپلو دغو هیلو ته رسېدلای شي، نو پر یخ لیکل او لمر ته یې اېښودل دي، خو لا هم د تلپاتې ژوند ارمان مو له ذهنه نه وځي، نو فولکلور یا شفاهي کیسې موږ له خپلو دغه ډول غوښتنو او ارمانونو څخه نه په شا کوي او یو ډول خیالي اشباع ته مو رسوي.

د اسطورې په اړه په یو بل تعریف کې لولو: "اسطورې د فوق طبیعي ځواکونو او ارباب الانواعو په اړه هغه خرافي یا نیمه خرافي داستانونه دي، چې د روایت په بڼه له پرله پسې نسلونو څخه یو بل ته رالېږدي، اساطیر د بشري وګړو د پهلوانیو له کیسو او د پیریانو او ښاپیریو له کیسو سره، چې د ساتېرۍ لپاره جوړېږي، توپیر لري. اسطورې له دیني روایاتو سره اړیکې لري او په یو شمېر ادیانو کې همدا اسطورې تکرارېږي یا ردېږي.

د اسطورو یو غرض د نړۍ توضیح او بیان دی او جوړوونکي یې د طبیعي پېښو لپاره شخصیت ټاکي. ائوهمروس (څلورمه مخزېږدې پېړۍ) اسطورې د پخوانیو موجودو قومونو له مبالغې ډکې کیسې ګڼلې" (۳)

په دغه تعریف کې موږ یوه نسبي د حل لاره پیدا کوو، په دې معنا اسطورې د خارق العاده موجوداتو یا ارباب الانواعو او الهو هغه خرافي او نیمه خرافي کیسې دي چې له یو نسل څخه بل نسل ته سینه په سینه د موضوعاتو په زیاتولو او کمولو سره را لېږدول شوې، خو په دې توپیر چې دیني روایاتو سره اړیکې لري او د انسانانو له هغو فولکلوري کیسو سره چې پیریان، ښاپیریان، دیوان او دې ته ورته ښکارندې په کې ذکر شوې وي متفاوتې دي، په دې معنا په دغو کیسو کې ځینې یې په پخوانیو ادیانو کې راغلې وې، خو دا چې په ادیانو کې لاسوهنه وشوه او هر چا له خپلې طبعې او غوښتنې سره سمې جوړې کړې، نو کیسې په خرافاتو یا اساطیرو بدلې شوې، خو دا

مسئله زموږ د محبوب دین اسلام په اړه د تطبیق وړ نه ده، ځکه د دغه دین ساتندوی او پالندوی په خپله د الله پاک ذات دی، نه بشري ځواک .

د اسطورې ناقدین بیا له پورته تعریف سره ډېر همغږي نه دي او وایي: اسطوره باید استثناء ولري او چې کله د استثناء خبره راغله، نو بیا جي. اس. کرک وایي چې د اسطورې ټولو ځانګړنو ته په کتلو سره ښایي اسطوره یو دودیز حکایت وبولو، ځکه په هره اسطوره کې یوه حکایتي یا روایتي بڼه شته او همدغه موجودیت یې هغه دودیز کولای شي او په دې توګه په  اسطوره کې د منظومو ادابو، قومي کړنلارو او اخلاقي دودونو ژور انځور پروت دی چې له یو نسل څخه بل نسل ته سینه په سینه انتقالېږي.

د جي. اس. کرک وینا ته په کتلو میرچیا الیاده وایي: اسطورې د لرغونې پېر تاریخ موږ ته په ډاګه کوي او دا څرګندوي چې دا څرکونه د خلکو په افکارو او روایتونو کې څه ډول ورته والی او پیوستون لري. په بله وینا هره اسطوره د یو ځانګړي روایت په رڼا کې د لرغونې پېر معنایي شتون موږ ته پرانیزي او د هغوی په اړه ټوله ځواکمنتیا او بې ځواکي موږ ته داسې بیانوي چې د اوس لپاره له ډېرو خبرو خالي نه دي. (۴)

د ایران نامتو لیکوال رسول رمضانیان د اسطورې په اړه وایي: د ژبې او اسطورې جوړښت د هستۍ د بېلابېلو برخو د ښانګې په توګه د انسان لومړني ګامونه دي چې د انسان له کړنچارې سره سرو کار لري او همدا لامل دی چې انسان د اسطورې له دوران نه د فلسفې دوران ته لار پیدا کوي او دغه لار موندنه یې د یادېدلو الګوریتم نسبي بریالیتوب بللای شو چې دې بریالیتوب د انتزاعي، علي، معلولي او استنتاجي تفکر امکان د ښانګې د برخو په توګه مساعد کړ او په دې توګه انسان د فلسفې پېر یا Thinking پړاو ته د یو فکرمن موجود په توګه لاره پیدا کړه. (۵)

د استاد رمضانیان په وینا کې دوو ټکو ته نغوته شوې، یو دا چې اسطوره د لومړنیو انسانانو لومړنۍ هڅې دي چې بې له شکه له مبالغې به ډکې وي او دویم هم د پرمختګ پړاو یې دی چې انسان په کې فلسفې او فکر کولو ته هڅه کوي. بې له شکه د متمدنو ټولنو تر ټولو مهم بحث او توپیر فکرمنېدل دي، هره هغه ټولنه چې خلاقیت او تمدنیت لپاره فکر کوي، هغه به د فلسفې لوړو مدارجو ته لار پیدا کوي او هره هغه ټولنه چې د فیل په غوږ کې ویده وي، هغه به اکتسابي او تر ډېره تقلیدي ټولنه وي چې کله ناکله د پټو سترګو د تقلید له امله تر ګټې یې زیانونه زیات وي، نو موږ چې

کله هم د فلسفي لوړو پوړیو ته لار پیدا کوو، بې له شکه بنسټ یا پیلامه یې همدا اسطوره ګڼلای شو. که د اسطورې په اړه بحث هر څومره وغځوو هومره غځېدلای شي، ځکه دا ډېره لویه موضوع ده او په داسې کوچنیو مقالو کې نه را خلاصه کېږي، خو ما له مجبورۍ په دې څېړنه کې د مقالې پورې اړوند د اړتیا وړ مواد ترې واخیستل، نور به بیا شي. اوس به له موضوع سره سم د اسطورې په ډولونو هم یو لنډ بحث ولرم او تر هغې وروسته به بیا د اسطورې او حماسې پر اړیکې بحث وکړم او د هغې په رڼا کې به ایندرکوڼ اسطوره وڅېړم.

ادبپوهان د انګریزي ادبیاتو پر بنسټ اسطوره پر څلور برخو باندې وېشي:

**۱- فابل Fable :** په دغه ډول اسطوره یا داستان کې معمولاً ژوي یا حیوانات راځي او غږېږي، خو منطق او ژبه یې د انسانانو وي او په اصطلاح د انسانانو کړنه او کردار ترسره کوي، چې بېلګې یې په اساطیري ادبیاتو کې زیاتې دي، خو ځینې ادبپوهان بیا فابل هغه اسطورې ګڼي چې په هغې کې انساني کړنې یا خبرې اترې او افعال د کاڼو، بوټو، ژوو، الوتونکو مرغانو او خزنده وو له خوا ترسره کېږي. په دغه ډول اسطوره کې چې ژوي غږیږي، نو تشبیه یې له انساني غږو سره شوې وي، لکه نفس له سپي، غل له سورلنډي، انساني غوښتنې له ښامار یا دوزخ سره تشبیه یا مخاطب شوې وي، خو آره موخه یې همدا توکي یا غږي وي.

**۲- دیومالا، دیوتاګان، دېوان، هیولا یا مافوق البشر موجودات:** په دغه ډول اسطوره کې معمولاً د رسمونو، رواجونو، مذهبونو، د کایناتو تخلیق، د آدم (لومړي انسان) د زېږېدنې او ځمکې ته یې د را کوزېدو د واقعې، د فطرت د پدیدې، دېوان، مافوق البشر او دې ته ورته مفروضو باندې لیکل شوو کیسو ته دیومالا یا دیوتاګان وایي.

د ادبپوهانو په اند دیومالا هندي توری یا کلمه ده چې ډېر ځله مافوق البشر موجوداتو، دېو، هیولا او دې ته ورته موجوداتو ته ویل کېږي چې ډېر ځله د لومړیو اذهانو او خارق العاده موجوداتو په اړه کیسې وړاندې کوي.

**۳- تاریخي اتلان یا لجنډLegend :** تاریخي اتلان یا اتل نامې هغو اسطورو ته وایي چې کرکټرونه یې انسانان وي، خو ځواک او وړتیا یې د ارباب لانواعو وي او ترڅنګ یې، ځینې د پلار یا د مور له اړخه هم ارباب الانواع یا الهې وي، په دې معنا یا به یې پلار ارباب الانواع وي او یا به یې مور الهه وي، نو ځکه فوق العاده بشر یا

انسان وي، چې نیم ارباب الانواع او نیم انسان وي، خو ځینې ادبپوهان بیا وایي: تاریخي اتلان هغو اتلانو ته هم وایي چې د روایتونو پر اساس یې کله ناکله په کړنو، مېړانو او اتلولیو کې دومره مبالغه او اغراق کېږي چې آن له منلو هم وځي، خو دا چې ولس ته اتلان دي، نو مني یې او درناوی ورته لري، خو په حقیقت کې انسانان وي، مگر واک او وړتیا یې د ارباب الانواعو او الهو هومره وي، لکه په پښتو ادب کې چې مومن خان له ښامار سره مقابله کوي او وژني یې یا تر دې وړاندې په آریایي کیسو کې د رستم او سهراب او دې ته ورته کیسې او په یوناني کې لکه د ټراي ټراژیدي.

**۴- عشق، مینه:** معمولاً زموږ اساطیري کیسې یوه اتله یا مرکزي کرکټره هم لري چې ډېر ځله یې هم په ښایست، هم په هنر او هم په ظرافت کې له اغراق او آن غلو څخه کار اخیستل کېږي، لکه د ټرای په حماسه کې هیلن یا د ښکلا الهه، د ادم خان او درخانۍ په نکل کې خپله دُرخانۍ چې د ښایست یې په لرې ملکونو کې اوازې خورې شوې وې، همداسې په نورستاني اسطورو کې ښلابېلي اتلانې، لکه ایندیرا او وریترا الهې چې یوه یې د خیر یا باران او بله یې د شر یا وچکالۍ الهه وه. د دې ترڅنگ په دغو روماني کیسو کې له انسان سره د بل خدای ته نږدې انسان مینه هم راځي، لکه له اتل سره د ملنگ له خوا مینه او لورېینه، د نابلده سړي مینه او ورته لارښوونه او داسې په لسگونو نور موارد چې دا ټول په مینه کې راځي او پایله یې خارق العاده چارې زېږول وي. (٦)

ځینې ادبپوهان پر دغو څلورو برخو سربېره دوې نورې برخې یا ډولونه هم په اسطورو کې د اسطورو د پنځم او شپږم ډول په توگه یادوي چې هغه په لاندې ډول دي:

**۵. اسرائیلیات** (Israelites) دا هغه ډول کیسې یا اسطورې دي چې اسلامي مفسرینو د اسرائیلو کیسې را اخیستې او په نوو الفاظو کې یې وړاندې کړې او په یو پیغمبر پورې یې تړلې چې خوند او زړه راښکون لري، خو ځینې مسایل یې په افراطي توگه وړاندې کړي، چې په حقیقت کې هغسې نه دي، لکه په حضرت علي(رض) او ځینو نورو څو پیغمبرانو پسې د ځینو اضافي خبرو او اتلولیو منسوبول، په داسې حال کې چې په دیني مسایلو کې هغه مسایل زبات شوي نه دي.

٦. **تصوف يا (Mysticism)** معمولاً موږ په خپلو اسطورو يا نکلونو کې يو نېک، ملنګ او ساده بنده ګورو چې د منې په دم کولو، د خرما په دم کولو او يا دې ته ورته توکو په دمولو سره انسان ته د نرينه اولاد زېرى ورکوي، په داسې حال کې چې طب به يې له منلو او درملنې عاجز وي، همداسې کله ناکله به دم کړې اوبه اتل يا اتلې ته ورکوي او سپارښتنه به ورته کوي چې په فلانۍ تېرې، بوټي او لرګي يې واچوه هغه به بېرته انسان او ژوندى شي او يا دې ته ورته ځينې افراطي کارونه به کوي چې دا چار به آن د نېکانو بنده ګانو او تابعينو په وس کې هم نه وي، خو موږ به يې د يو ملنګ له خولو اورو او ګورو، نو دغه ډول مسايلو ته تصوفي اسطوره وايي چې ادبپوهان يې دا شپږم ډول بولي. (۷)

نو ګورو چې اسطوره دغه ډول ډولونه لري چې له ښه مرغه اکثريت ډولونه يې په آريايي نکلونو په ځانګړې توګه پښتو او نورستاني کې موندل کېږي چې هر يو يې په خپل ځاى کې څېړل غواړي، خو دا چې زما موضوع د ايندر کوڼ اسطورې حماسي څېړنه ده، نو ځکه د بحث لمن همدې اړخ ته وېړوم او د اسطورې او حماسې پر اړيکې باندې غږېږم چې څنګه ده؟

کله چې د اسطورې او حماسې خبره کوو، نو د ادبپوهانو په وينا د دواړو ترمنځ پولې دومره سره نږدې او ګډې شي چې کله ناکله بېلول يې هم افلاطوني ځواک غواړي، خو دا چې د هرې ښکارندې تعريف د هغې ځانګړنې او بريد پولې معلوموي، نو دغه مسايل يې سره جلا او د بېلتون کرښې يې جوتې کړي، نو ځکه اړينه بولم چې لومړى حماسه تعريف او ځانګړنې يې بيان کړم، چې دغه چار زموږ موضوع اسانه او تر ډېره ځوابولاى شي:

**حماسه:** "حماسه په لغت کې زړورتيا ته وايي او په اصطلاح کې د وصفي شعرونو هغه ډول دى چې د يوه قوم يا وګړو د پلهوانيو، مېړانو او وياړونو کيسه په کې تمثيل شوې وي.

حماسه (له عربي څخه د زړورتيا په معنا) له ادبي انواعو څخه (چې اغلب په شعر کښل شوي وي يا حماسي منظومې وي) د قومي، ملي يا توکميزو پهلوانيو، جګړو، مېړانو، وياړونو داستانونو ته ويل کېږي". (۸)

حماسه وصفي شعرونه دي چې په هغې کې د يو قوم د مېړانې، اتلوليو، سرښندنو او وياړونو کيسې وړاندې کېږي، داسې چې هم د قوم اتلولي وښيي او هم يې تر نورو

متفاوت او جوت کړي، خو د معاصرو ادبپوهانو په وینا د نظم یا شعر خبره اوس یو څه د تأمل وړ ده، په دې معنا حماسه کېدلای شي چې په شعر نه، بلکې په نثر هم وي، لکه د اروانښاد محمد گل نوري ځینې حماسي نکلونه چې په خپل ټول قوت او ظرافت سره یې وړاندې کړي او په اورېدلو سره یې نه یوازې انسان ترې خوند اخلي، بلکې احساساتي او عاطفي مراندې یې هم را کاږل کېږي، نو ځکه د نظموالي خبره د اوس لپاره سمه او مناسبه نه بولي.

ځینې نور ادبپوهان بیا حماسه هغه لرغونی ادبي ژانر بولي چې په لغت کې زړورتوب او مېړانې ته وايي او همدغه مېړانه د انسان په زړه کې جگړه، پهلواني او سرښندنې تاندوي، خو له دې خبرې څخه دې داسې معنا نه اخیستل کېږي، چې گواکې حماسه یوازې پر همدې معناگانو منحصره ده، بلکې حماسه ځینې نورې معناگانې هم لري، لکه تر تاریخي دورې پخوانۍ دوره هم په ښه توگه تشریح کوي، د هماغه یا تر هغې پخوانیو یا لومړنیو انسانانو د ژوند انځور موږ ته په مخ کې ږدي او بیا په دې بهیر هم غږېږي چې څنگه همدغو لومړنیو انسانانو تمدن، پرمختگ او مهذب ژوند ته لاره پیدا کړه، خپلواکي یې واخیسته او تر ننه پورې د دایمي ژوندون لپه څنگه کوي او دې ته ورته د ژوند نور ډېر مهم ارزښتونه څېړي. (۹)

خو ایا د خپلواکۍ اخیستلو او گټلو لپاره هره روا او ناروا جگړه چې په داستاني بڼه انځور شوې وي حماسه ده، یا هره داستاني جگړه چې ډېر ځله هېوادني مسایل هم په کې ډېر مطرح نه وي حماسه ده؟

دا هغه پوښتنه ده چې ځواب یې ډېر مسایل روښانولای شي، سرمحقق هېوادمل په دې اړه کاږي: «حماسه د ح په زور د شجاعت او زړورتوب معنا لري او له ډېرو زړو ادبي انواعو څخه گڼل کېږي، چې د یو ملت، قوم، قبیلې او یا شخص د مېړانې، تورې کیسې او جنگي کارنامې په حکایتي او داستاني ډول بیانوي. هر ډول جنگي او حماسي اشعار حماسه نه شي جوړولی، که څه هم حماسه له حماسي او جنگي اشعارو جوړېږي، خو هر حماسي یا جنگي شعر یا ویاړنه حماسه نه ده.» (۱۰)

د استاد په وینا: حماسه له جنگي اشعارو څخه رامنځته کېږي یا هغه جنگي اشعار چې د حماسې ځانگړنې ولري حماسه ده، خو هر شعر ته حماسه ویل سمه او مناسبه

خبره ځکه نه ده، چې حماسه خپلې ځانګړنې او مشخص چوکاټ لري چې دغه چوکاټ موږ له اضافي او شعاري شعرونو څخه ځانګړي کوي.

سرمحقق زلمی هېوادمل د خپلې خبرې د پخلي لپاره د دکتور شمیسا په حواله لیکي: ("حماسه قدیمترینه او مهیجترینه ادبي نوع ده چې د قبل التاریخ زمانې تاریخ بیانوي." د جوامعو د لومړنیو خلکو اوضاع او احوال حماسه ترسیموي یا په بله وینا په حماسه کې د لومړنیو څیزونو او اشیاوو بیان کېږي، له مرګ و ژوند، عشق و نفرت، ګذشت او فداکارۍ سره د بشر د مخامخېدو لومړنۍ هڅې په حماسه کې مطرح کېږي. همداراز ویل کېږي چې حماسه په هغه دوران پورې اړه لري چې متعدد ملل سره متحد شول، د ثروت، غنایمو او استقلال د لاس ته راوړو لپاره یې پر نورو هېوادونو یرغل کاوه. (۱۱)

حماسه د قبل التاریخ زمانې تاریخ بیانوي او اسطوره هم د قبل التاریخ زمانې تاریخ بیانوي، خو فرق یې دا دی چې اسطوره ډېره عامه او آن اسرائیلیاتو پورې ټول مسایل رانغاړي، خو حماسه بیا د یو هېواد یا یو قوم او آن وګړي د اتلولیو، مېړانو، پهلوانیو، سرښندنو او قربانۍ هغه کیسې او نکلونه بیانوي چې خپل ادبي قوت، ظرافت او ځواک ولري، خو په دې شرط چې موخه یې هېوادني، ملي او قومي مسایل وي، نه کوچني، اضافي او ابتدایي.

حماسه په حقیقت کې د انسان له تعقلي، تهذیبي او په ټوله کې ذهني غځونو سره پیل شوې ده چې د وخت په تېرېدلو سره یې نوي رنګونه او نوي مضامین خپل کړي دي، خو ځینې ادبپوهان وایي چې حماسه په لیکلې بڼه له ګیلګمېشه پیل کېږي، ګېلګمېش سومري حماسه ده چې آشورباني پال لیکلې او له میلاد څخه درې زره کاله پخوا ته یې مخینه رسېږي، دا حماسه په منظوم شکل په دولسو لوحو کې لیکل شوې چې د نینوا په کتابتون کې ساتل کېدله، جورج سمېټ وایي په دغو دولسو لوحو کې یوه یې د نوح (ع) داستان ته ورته پېښه ده، نو ځکه مسلمانان فکر کوي چې ګېلګمېش ښایي د نوح (ع) داستان وي.

خو دا چې تاریخ یې کله پیل شو او څنګه پیل شو، په دې اړه ډېر بحث ځکه نه کوم چې موخه مې د هغې څېړل نه دي، یوازې د ابتدا یا لومړني بنسټ په توګه مو د ګېلګمېش حماسې یادونه وکړه او بس.

دا چې د اسطورې د ډولونو په اړه مو خبرې وکړې، نو اوس د موضوع د ښې روښانتیا او د اسطورې او حماسې د توپیرونو او مشترکاتو په خاطر د حماسې ډولونو ته هم لنډه اشاره کوم چې دا مسئله سمه جوته شي.

ادبپوهان په لومړي سر کې حماسه پر دوو سترو برخو وېشي:

**۱- د لرغونتوب له مخې.**

**۲- د موضوع له مخې.**

د لرغونتوب له مخې حماسه بیا په درې برخو وېشل کېږي:

**الف)** دودیزې حماسې:Traditional Epicsدغه ډول حماسې لومړنۍ Primary Epics او ولسي حماسې Folk Epics هم بلل کېږي، چې په لرغونو زمانو کې رامنځته شوي او د هماغه وخت خیالات او مفکورې انځوروي، لکه: ایلیاد، اودیسه، مهابهاراتا، فردوسي شهنامه او داسې نور.

**ب)** ثانوي حماسې: Secondary Epics دا حماسه چې ادبي حماسه Literary Epics هم بلل کېږي، له لرغونو حماسو څخه په اخیستنه او استفادې سره وړاندې کېږي او د زړو دودونو پر تفاوت نوي مسایل وړاندې کوي، لکه د ویرژیل (انه یید) حماسه چې د ایلیاد او اودیسې پر اخیستنې لیکل شوې ده.

**ج)** معاصره حماسه :Tertiary Epicsدا حماسه هم له دویمي یا ثانوي حماسو څخه په اخیستنې لیکل کېږي چې ډېر ځله نوې او معاصرې غوښتنې منعکسوي، لکه: د انګلیسي ژبې د نامتو شاعر ماتیو آرنولډ جوړه کړې شاهنامه چې د رستم او سهراب له حماسې څخه په اقتباس یې پنځولې ده. (۱۲)

د حماسې دویم ډول د موضوع له مخې د حماسې ډولونه دي چې دا هم ډېر ډولونه لري، خو مشهور ډولونه یې: ۱- اساطیري حماسه، ۲- د پهلوانۍ حماسه، ۳- دیني او مذهبي حماسه، ۴- عرفاني حماسه او داسې نور دي، چې په لنډون سره ورته نغوته کېږي:

۱. **اساطیري حماسې:** د ادبپوهانو په اند لرغونې او اصلي حماسې دي چې تر تاریخ وړاندې دورو پورې اړه لري، لکه: د ګېلګمېش حماسه، فردوسي شهنامه او داسې نور.

۲. **د پهلوانۍ حماسې:** دا ډول حماسې معمولاً د پهلوانانو په ژوند او پهلوانیو پورې اړه لري، لکه د ایندرکونې په حماسه کې د ایندر د ژوند او پهلوانۍ کیسې.

**۳.ديني او مذهبي حماسې:** د دغه ډول حماسو اتل مذهبي يا ديني سړی وي او ټول داستان پر مذهب يا دين څرخي، لکه د دانتې الهي کومېډي.

**۴. عرفاني حماسې:** دغه ډول حماسې معمولاً په رواني او نفسي مسايلو چورلي او اتل په کې له خپل نفس سره په جنګ وي، يعنې تر ډېره يې د فنا في الله لړۍ پيل کړې وي، لکه د منصور بن حلاج حماسه او داسې نور. (۱۳)

د حماسې پورته ډولونو ته په کتلو سره، زما په نظر اوس د حماسې او اسطورې توپيرونه او د پيوستون کربښې جوتې شوې او د همدغو نزاکتونو له مخې حکم کولای شو چې حماسه کومه او اسطوره څه ده.

که له دې بحثه را تېر شو، اوس به له موضوع سره سم د حماسې هغه لويې ځانګړنې په ګوته کړم چې له امله يې موږ يو نکل، داستان يا منظومه يا شعري کيسه حماسه بللای شو، خو دغه ځانګړنې د ايندر کوڼ د اسطورې د لنډون تر وړاندې کولو وروسته نورې هم زياتېږي او دا ځکه چې حماسه ډېرې ځانګړنې لري او موږ يې هغه بيانوو چې زموږ له داستان سره اړيکه لري او په کې موندل کېږي:

څېړنوال لېوال د حماسې لپاره لاندې شپږ عمده ځانګړنې اړينې بولي:

"۱. د کيسې په طرح کې د داسې يوه اتل شتون، چې فوق العاده ځانګړنې لري او هغه کار چې نور يې نه شي کولای، دی يې د يوه لوی ځواک په ملاتړ ترسره کوي.

۲. د عادي بشر تر توانه پورته برياليتوب ترلاسه کول، چې بشپړول يې د نورو په توان کې نه وي.

۳. د ټاکلي زمان او مکان له محدودې څخه بهر وي او يوه پراخه عيني او ذهني زمينه ولري.

۴. د ماوراء الطبيعي (تر طبيعت پورته يا بهر) موجوداتو يا د هغو د ځواک موجوديت.

۵. د حماسي اثر د بيان سبک بايد ځانګړی او تر عادي سبکونو لوړ وي، چې حماسي لحن يې د تشخيص وړ وي او په ټول اثر کې د سبک دغه ځانګړنه وساتل شي.

٦. شاعر يا ليکوال يې د خپل اثر په ټول پرمختيايي بهير حاکم او حاوي وي، په دې به پوهېږي چې کيسه د کوم هدف خوا ته ځي." (۱۴)

دغه ځانګړنې د حماسې او اسطورې بېلتون او پيوستون په ټوله معنا جوتوي او دا را زباتوي چې حماسه له اسطورې پرته شونې نه ده، خو اسطوره له حماسې پرته شونې ده. هره حماسه اسطوره ده، خو هره اسطوره حماسه نه ده، حماسه جز او اسطوره کل ده، خو په ورته وخت کې مشترکات هم لري، په دې معنا حماسه له

اسطورې زېږېدلې، اسطوره يې مور ده چې په خپل غېږ کې يې روزلې ده، شبدې يې ورکړې او په مينه يې ستره کړې ده چې د همدغې مينې له امله يې د وجود غړي دومره ستر شوي چې آن تر مور يې هم وجود او اندامونه غټ دي، خو بنسټ يې همدا اسطوره ده.

په حماسه کې معمولاً دوه متفاوت او مخالف لوري موجود وي، چې يو خير او بل شر دی، خو اسطوره بيا کېدای شي ټوله پر ښېګڼو يا بديو را وڅرخي او يا هم همدا ځانګړنې ولري، خو د حماسې په څېر قيد او محدوده نه ده، نو دغو او دې ته ورته خبرو ته په کتلو سره اوس به لومړی د ايندرکوڼ داستان لنډيز هم له خپلو سيمه ييزو ريکاډونو او هم به د سميع الله تازه له بېلابېلو کتابونو وړاندې او بيا به پرې د حماسې ځانګړنې تطبيق کړو او تر هغې وروسته به جوته شي چې ياده اسطوره يوه حماسه هم ده او که نه؟

## ايندر کوڼ

د ايندرکوڼ د اسطورې بېلابېل وريانتونه ښاغلي سميع الله تازه ثبت او خوندي کړي دي، خو د «ادبيات شفاهی نورستان» اثر کې يې دغه اسطوره په دومره قوت، ظرافت او روانۍ سره خوندي کړې چې څېړونکی يې په اړه قضاوتونو ته اړ ايستلای شي چې ځينو برخو ته به يې ځير شو:

يمرا: د تورو او زغرو رب النوع.

ايندر «اينتر»: د انګورو او ش... رب النوع، د زلزلو د مخنيوي رب النوع او د ښوالي رب النوع.

ډاينيک: د ايندر مېرمن چې دا هم الهه ده.

ګېښ، ګيوېښ، ګوېش: د ايندر ورور او د جګړې رب النوع.

بدوان: ديوانه بابا سيمه يا د باشګل سيمه.

کلښوم: د مرکزي نورستان «پارون» يوه سيمه.

ايندرستان: په ځينو روايتونو کې د هندوستان او په ځينو کې د خيالي يا ناپېژندل شوي وطن په معنا راغلی.

ګور کوڼه: د سرو زرو، سپينو زرو، لښتيو، ګوتميو، زغرو او جنګي وسايلو رب النوع.

وايي ايندر او ګوېښ دوه سکني وروڼه وو چې يو يې د ښوالۍ او ش... رب النوع او بل يې د جګړې رب النوع و. دا دواړه ښاغلي له خپلو کورنيو سره له ايندرستان (خيالي نړۍ – هندوستان) څخه بدوان يا کلښوم (د پارون يوه سيمه) سيمې ته را کوچېدلي وو او په دغه سيمه کې يې استوګنه غوره کړې وه، ځکه دا سيمه هم ښکلې وه او هم يې اوسېدونکي د دوی له طبيعت سره برابر خلک وو، خو د ځينو راويانو په

وینا ایندر لومړی پلا د «اکوڼ» سیمې ته راغلی و او هلته یې څمکه شنه او کرکیله یې په کې کړې وه، ډېرې مېوه لرونکې ونې یې هم په کې کرلې وې، خو دا چې دغې سیمې د گورکونېه په نامه رب النوع لاره، نو هغه یې مخالفت وکړ او په جگړې یې له دغه ځایه وشاړه. د راویانو په اند دغه جگړه دومره وژونکې او خواشینوونکې وه چې بېلگې یې له اشورا او دیوا او یا دې ته ورته نورو آریایي حماسو سره ورته دي، خو ځینې روایتونه بیا په دې ټینگار کوي چې ایندر د جگړې او وژنو پلوی موجود نه و، نو ځکه یې جگړې ته زړه نه ښه کاوه او دا سیمه یې پرېښوده.

ځینې راویان بیا وایي: د دې سیمې د پرېښودلو یو لامل دا هم و چې گور کونېه او مریانو به یې تل کار کاوه، د څټک ټکار به یې ایندر ته مزاحمت کاوه، دی چې نور له دغو اوازونو او ټکونو څخه ستړی شوو، نو غوره یې وگڼله چې دا سیمه همدغه خدایگوټي ته پرېږدي او دې ترې وکوچېږي.

په هر حال، هر لامل چې و خو ایندر له دغې سیمې څخه وکوچېد، د وایگل له سینده واوښت او د نیشیگرام په سیمه کې یې واړول چې له ښه مرغه د اوبو د چینې پر ځای ورته لوی خدای د شیدو چینه ور په برخه کړه او ده دا ځانته د صبر او حوصلې پایله او ډالۍ وگڼله، خو څه موده لا تېره نه وه چې هلته هم د مرئیانو او کاریگرو له هاها او څټکونو د اوازونو له امله په تنگ شو او دا سیمه یې هم یا په جگړې او یا په خوښې او د مزاحمت له امله خوشې کړه او د واما په سیمه کې مېشت شو، د راویانو په وینا : د ده له کوچېدنگ سره سم د شیدو چینه د اوبو په چینې بدله شوه او هغه ډالۍ چې د اربا ب النواعو او الهو لوی خدای ده ته د ډالۍ په توگه ورکړې وه، بېرته له گورکونېه رب النوع څخه واخیسته.

ایندر، کورنۍ او ورور یې گوېش څه موده په آرام او خوښۍ سره په دغه سیمه کې تېره کړه او د ښوالۍ چارې یې هم پیل کړې چې مېوه لرونکو ونو یې ورو ورو مېو ته ځان جوړاوه، چې په دې وخت کې د ایندر او گوېش ترمنځ ناندرۍ پیدا او بالاخره په شخړې واوښتې، ایندر د دې لپاره چې دا ستونزه حل کړې وي، نو خپل ورور گوېش ته یې یوه گېډۍ گلان چې پرېمانه زردالو او منې یې کولې او یو د ښو اوبو لرونکو انگورو تاک وړاندې کړل چې یو په کې غوره کړي. دا چې ایندر هوښیار و، نو په دې پوهېده چې ورور یې د گلانو گېډۍ غوره کوي او هغه هم د گلانو گېډۍ خوښه کړه

او په دې توګه يې د پارون وېرې، پراخې، ښکلې او سمسورې سيمې ګوښ ته ور کړې او دی د واما په کوچنۍ سيمه کې مېشت شو. (۱۵)

ګوښ خپلې سيمې ته لاړ او ايندر په همدغه سيمه کې په خوارۍ او زحمت پيل وکړ، څه موده وروسته يې په همدغه سيمه کې کونړ (باغ، بڼ) جوړ کړ چې د ايندر کونړ يا د ايندر بڼ په نامه مشهور شو، خو د اوسنيو روايتونو يا موجودو نورستانيانو په وينا: (کونړ) هغه باغ ته وايي چې ګڼې مېوه لرونکې ونې ولري، ايندر کونړ يعنې د ګڼو مېوه لرونکو ونو بڼ يا باغ. (۱٦)

دغه بڼ د کال تر پايه کابو د ژمي پر مهال خوندور انګور وکړل او ايندر دوې غټې کجاوې له انګورو ډکې او د مريانو په لاس يې خپل ورور ګوښ ته د پېرزوينې له مخې ولېږلې، ګوښ چې کله دغه ډول نادر انګور وليدل، نو په اندېښنه کې شو او فکر يې وکړ چې ورور يې دی تېرايستی او ښه سيمه يې ترې لاندې کړې، ځکه د پارون سيمې تر اوسه پورې داسې خواږه او مزه دار انګور نه دي کړې، نو په کار ده چې د ايندر غمه وخوړل شي او په هر چل او دوکه چې وي، د ځمکې له مخه لرې شي، نو ځکه يې له ايندر سره د جګړې او د هغه د وژلو هوډ وکړ.

بله ورځ ايندر د سين پر غاړه د ژرندې د جوړېدلو په درشل کې و چې ګوښ پرې له شا بريد وکړ او په دې توګه دواړه ښکر په ښکر شول، خو ايندر په خپل طلايي ښکر ګوښ داسې وواهه چې بدن يې ټپي ټپي او وينې ترې روانې شوې او آن کابو د مرګ تر کومې يې ورساوه.

ګوښ له ډېرې غوصې د ايندر بڼ په خوا کې د غره څوکې ته وخوت او له هغه ځايه يې درنې ګټې او کمرې، چې د راويانو په وينا کابو غرګي وو پر ايندر را خطا کړل، خو ايندر سم له واره هغه کينچ (قپ) او د خپل بڼ لاندينۍ برخه يې پرې مضبوطه کړه او په اصطلاح د خپل بڼ لاندې برخه يې سنګ کاري کړه، کله چې ګوښ د ايندر دغه تماشه وليده، نو له خپل هوډه مايوسه شو او له جګړې يې لاس واخيست، په لار کې له يوې داسې چينې سره مخامخ شو چې غرڅه او هوسۍ ورته د اوبو څښلو لپاره راتللې د دې ترڅنګ خوا او شا سيمه يې هم ډېره ښکلې او سمسور کړې وه، ګوښ د دې لپاره چې دا چينه خپله کړې وي، نو بنسټيزه يې له ځمکې را وکښله او د موراېګل سيمې ته يې انتقال کړه چې هغه سيمه هم ډېره ښکلې او سمسوره وه او دا کار يې ځکه وکړ چې نوموړې ډېره اوږده رېږه لرله او په دغه سيمه

کې يې د ږيري د مينځلو لپاره ځای جوړ کړی و، يوازې د اوبو د کمښت تشه محسوسېده، نو په دغې چينې سره يې دا تشه هم ډکه کړه او دا سيمه تر نن پورې د «گوېښ دړپلون» يا د گوېښ د ږيري مينځلو سيمې په نامه يادېږي. (۱۷)

ايندر چې له دغه تاوتريخوالو بېغمه شو، نو د واما په سيمه کې يې د ايندرکوڼ له بڼ سره نږدې په ځينو رغنيزو چارو پيل وکړ، هم يې کورونه جوړ کړل او هم يې په غره کې ځينې داسې کېندنې او جوړونې وکړې چې نن سبا يې مډرنه ماشينري هم په اسانۍ سره نه شي کولای، لکه د غره په منځنۍ برخه کې چې ټوله هواره او ښويه تېږه ده، د مناسبې لارې جوړول، چې دی او کورنۍ يې پرې تېره را تېره شي. همداسې د غره په منځ کې د بڼ لپاره د کابو درې کيلو متره تونل وهل او بڼ ته له لرې ځايه اوبه راتېرول چې هم يې بڼ سمسور کړ او هم يې دغې سيمې ته ځانگړې ښکلا ورکړه. د دې ترڅنگ ايندر د غره د تېږو په توږلو هم پيل وکړ او هڅه يې وکړه چې د دواړو غرونو ترمنځ له همدغو گټو او کمرو يو داسې پول جوړ کړي چې د انسانانو ترڅنگ لوی لوی ارباب الانواع هم پرې تېر را تېر شي، خو د کار پر مهال يوه پېښه ورته پېښه شوه او هغه داسې، ايندر يو زوی لاره چې هغه هم له خپل پلار سره په دغو ودانيزو چارو بوخت و، يوه ورځ يې د کار په منځ کې خپل پلار ته وويل چې زه تږی شوی يم او ماته لږې اوبه راکړه، پلار يې د دې لپاره چې پلمه يې ورته کړې وي او ځان يې ترې بې غمه کړې وي، نو ورته يې وويل: لاړ شه په کور کې د شيدو چاټۍ له شيدو نه ډکې دي، هغه وخوره هم به دې دمه جوړه شي او هم به دې تنده ماته شي، خو په دې شرط چې شيدې يې داسې وخورې چې پر سر يې پېروی «قيماق» حتی بې ځايه هم نه شي او نه کنډو.

زوی يې د پلار خبره ومنله، کور ته لاړ او يوه دورمه يې پيدا کړه، له چاټيو يې ټولې شيدې داسې وخوړې چې پېروی يې آن له ځايه هم ونه ښورېد. د راويانو په وينا دورمه يې له پاسه په کې وټومبله او شيدې يې وخوړې، خو بله ډله راويان بيا په دې گروهه دي چې چاټۍ يې له لاندې خوا نه په دومره هنر او مهارت سورۍ کړه چې آن معلومېدله هم نه او بيا په کې ده خپله نيچه يا دورمه کېښوده او په دې توگه يې ټولې شيدې وخوړې. کله يې چې پلار راغی او د زوی کارنامه يې وليده، نو په شک کې شو او اندېښنه ورته پيدا شوه چې زوی خو مې تر ما هم هوښيار وخوت، داسې نه شي

چې کومه ورځ مې د ورور په څېر دی هم پر ما برید وکړي او ما له منځه یوسي، نو وړاندې تر دې چې زوی مې دا کار وکړي، غوره به وي چې زه پرې وار له مخه کړم او له منځه یې یوسم.

زوی یې را وغوښت او د کړي کار پوښتنه یې ترې وکړه. زوی یې هم رښتیا خبره ورته وکړه، دی زوی ته په غوصه شو او ورته یې وویل: که ته همداسې کارونه وکړې، نو سبا به مې د ورور غوندې ته هم زما دښمن شې او خبره به مې نه منې، نو لاس یې پسې واچاوه چې را گېر یې کړي، خو زوی یې چې د پلار په نیت پوه شوی و، نو منډه یې ترې واخیسته او د غره څوکې ته وخوت، په دې وخت کې ایندر خپلې مېرمنې (ډاینیک) ته چې د غره پر سر ولاړه وه غږ کړ چې هلک را ټینگ کړي، مېرمنې یې هم زوی کلک پلک ونیوه او پلار ته یې وسپاره، کله چې ایندر ور ورسېد، نو هلمته یې ځای پر ځای خپل نازولی زوی وواژه او په خوا کې یې پر یوې غټې ډبرې کښېناست، خو کله یې چې دمه جوړه شوه او غوصه یې سړه شوه، نو پر خپل دغه کار ډېر خپه او پښېمانه شو، ځکه د ارباب النواعو لپاره د نرینه اولاد نه لرل لوی عیب وي، نو مېرمنې (ډاینیک) ته یې مخ واړاوه او هغه یې هم ملامته کړه چې ولې دې له دغه کاره منع نه کړم او ولې دې زوی راته کلک پلک ونیوه. که تښتېدلی وای، نو اوس به ژوندی و، خو تا راته ونیو او تا را باندې وواژه، اوس نو په کار ده چې ستا سزا هم در کړم.

مېرمن یې ورته خپلې زارۍ او لاسوندونه ور په یاد کړل او په ژړا کې یې ورته وویل چې ما خو درته وویل چې ارباب النواعو ته د نرینه اولاد نه لرل لوی عیب وي، خو تاسې زما خبره نه منله او بالاخره هغه مو وواژه، خو دغو خبرو پر ایندر هېڅ اغېزه ونه کړه او د هماغې غوصې له امله یې خپله مېرمن ډاینیک هم ووژله او په اصطلاح د هغې له شره یې ځان خلاص کړ، خو کله یې چې خپلو دغو سر په سر تېروتنو ته پام شو او په دې پوه شو چې ارباب الانواع به مې هم ونه بخښي، نو له هغه ځایه یې ځان غیب کړ او هماغې سیمې ته لاړ، له کومې چې راغلی و، خو ځینې نور بیا وایي چې ارباب الانواع د سر په سر تېروتنو او وژنو له امله یې له دغې سیمې وشاړه او یا یې مړ کړ او دا سیمه یې ترې پاتې کړه، خو خلک د ایندر په طلایي ښکرونو (انټلا) پسې خپه شوي وو. وایي ایندر دوه لوی او سره پېچلي د سرو زرو ښکرونه لرل چې په نورستاني اصطلاح کې ورته (انټلا) وایي، ایندر به په دغو ښکرونو ډېر لوی او نادر

کارونه کول او د شر او ستونزو پیدا کېدلو رب النوع  به یې په همدغو ښکرونو ماتول، نو ځکه ولس یې ښکرونو ته هم ډېر درناوی کاوه او پرې ګران ول، خو چې کله له دغې سیمې لاړ، نو بیا یې خلک په قدر پوه شول. (۱۸)

ایندر د ښکرونو ترڅنګ لویه خېټه هم لرله چې د غوایي په څېر وه او خپله به یې هم ویل: زما خېټه د غوایي په څېر ده، نو ډېر خوراک او پالنې ته اړتیا لري او باید ویې پالم او پالل یې په انګورو او شرابو ښه کېږي، نو تل به یې په شرابو ډکه کړې وه او وایه شي چې خپله به یې هم ډېر ښه شراب جوړول او په کې ډېر ماهر و.

ایندر له آس سره هم ځانګړې مینه لرله او تل به د شپې له خوا په خپل آس پر خپل باغ ایندرکوڼ ګرځېده، هم به یې د هغې پالنه کوله او هم به یې ترې خوند اخیست، د دې ترڅنګ غوایان او ګډې یې هم ډېر خوښ ول، چې تر مرګ وروسته یې هم تر ډېره پورې خلکو یې د ده په نامه غوایان او ګډې قرباني کول او د ده ارواح ته به یې د ده په کور (ایندراما) کې چې په یو ځانګړې ځای کې و، نذرانه کول او د ځانګړو دعاوو په ویلو سره به یې هلته د دې په نیامت اېښودل چې ګوندې قرباني یې قبوله شي.

په ایندراما کې د خپله ایندر، د مېرمنې او د زوی مجسمې یې خوا په خوا اېښودل شوې وې، خو زوی او مېرمنې ته یې خلکو عبادت نه کاوه، بلکې یوازې د ده مجسمې ته نمانځنه کېدله. د دې ترڅنګ کله به چې د ایندرکوڼ مېوه پخه شوه، نو لومړی به د ایندراما ته دوه ټوکرۍ یا کجاوې انګور ورتلل او تر دغه تقدس وروسته به بیا د کلي د ملک او د بڼ د مسؤل په امر د یو ځانګړې دود پر اساس پر خلکو وېشل کېدل چې هغه دود یې هم خپلې ځانګړنې او کوایف لرل، خو دا چې زما د موضوع لمن دومره وېږه نه ده، نو له بیانه یې تېرېږم.

ایندراما ته به ډېر خلک په دې نیت هم راتلل چې ناروغي یې ښه شي، زوی یا اولاد ورکړل شي، په جګړه یا دښمنۍ کې یې سوبه په برخه شي او دې ته ورته اړتیاوې به یې د نذر او قربانۍ په وړاندې کولو سره له ایندراما څخه غوښتې، چې په دغو مراسمو کې به د کلي مشران او روحاني خلک هم حاضر ول او ځانګړې مراسم به ترسره کېدل او تر هغې وروسته به بیا د خپل کار پایلې ته په تمه ول چې کار یې کېږي او که نه، خو د کار د کېدلو او نه کېدلو ډاډ او له ایندر سره د اړیکې نیولو وسیله یوازې اوتا (روحاني شخص) او دوې ښکلې نجونې وې چې دغو خلکو هم د ایندراما ساتنه کوله

او هم يې له هغه سره په وينا يې اړيکه نيولای شوه او هغه يې ليدلای شو، خو نور چا بيا دا وړتيا او ځواک نه لاره، ځکه هغه وړتيا او سالکيت چې بايد عام خلک يې ولري او ايندر پرېږي وګوري نه لاره او نه يې په راتګ پوهېدل، خو ياد درې تنه يې په راتګ به داسې پوهېدل چې خلک به هم ورته حيران ول. دوی به د شپې له خوا يوه شېبه غلي شول، خاموشي به يې اختيار کړه، بيا به شور او زوړ پيدا شو، دوی به پوښتنه وکړه، ته څوک يې؟

ځواب به يې واورېد: انتهلا ايندرسم، ګا بوړه سم (زه د پېچل شوو ښکرونو لرونکی ايندر يم، غټه خېټه لرونکی ايندر يم.

په دې کار سره به دوی بيا هم خاموشي اختيار کړه او لږه شېبه وروسته به يې د اوتا په وسيله د دعا، نذر او قرباني مراسم پيل کړل او د قرباني وينه به يې د ايندر پر مجسمې واچوله بيا به يې د (ويشته) په نوم لرګي د ايندراما په نغرۍ کې وسېځل چې دغو لرګيو به ځانګړې خوشبويي لرله، د دې ترخنګ لږ زېړ غوړي به يې هم پر اور ور واچول او بيا به يې نو دعا ګانو ته زور ورکړ او اړمنو به خپلې غوښتنې له ايندر څخه شروع کړې او تر هغې به يې ويلې چې اوتا به مراسم ختم کړل.

اړمن د دې لپاره چې د خپلو غوښتنو په پوره کېدلو او نه پوره کېدلو پوه شوي وي، نو په نغري کې له ډېرۍ شوو کوچنيو کاڼو څخه به يې درې درې پورته کول، که به اخر کې درې کاڼي پاتې ول، نو پوه به شول چې دعا يې قبوله شوې او خوشحاله به له ايندراما څخه تلل او که به درې نه وو پاتې، نو پوه به شول چې دعا يې قبوله شوې نه ده او تر هغې به يې دعاګانې کولې چې اخر به اوتا اړ شو چې په زوره يې له ايندراما څخه وباسي. له واما سره نږدې سيمه تيتين نومېږي، تيتين په طبيعي لحاظ ډېرې اوبه نه لري او وچه سيمه ده، خو د نورستانيانو په اند دا سيمه ځکه وچه شوې او چينې په کې نه شته چې چينې يې ايندر په چل او زور سره د واما سيمې ته خپل ايندرکوڼ باغ ته انتقال کړې او لامل يې هم دا دی چې ايندر د تيتين سيمې له رب النوع سره جګړه کړې او هغه ته يې غوصه راغلې وه، نو ځکه يې ترې اوبه خپل بڼ ته را انتقال کړې دي. (۱۹)

د ايندر په اړه يوه بله خبره هم ډېره مشهوره ده او هغه دا کله چې ايندر په پرايګرام (پاشګل) کې اوسېده، نو د خپلې بښوالۍ لپاره يې د باشګل سيند له هغه ځايه انتقال او د (پځي ګرام) د درې په سيمه کې يې د پارون له سيند سره ونښلاوه، خو په دغه

کار ورور یې ګوېښ غوصه شو او د دواړه ترمنځ نښته وشوه، چې په نښته کې ایندر ماته وخوړه او ګوېښ بېرته په خپلې تورې غرونه سره څېرې کړل او سیند یې بېرته د پخوا په څېر د غرونو په منځ کې خپل ځای ته انتقال کړ.

د نورستان د سیمې فولکلورستان وایي: ایندر یو کوړی یا سپی هم لاره چې د ایندر کوړی په نامه مشهور و او دنده یې دا وه چې له ایندرکوڼ نه ساتنه وکړي، خو یوه ورځ یو کس ایندرکوڼ ته داخل شو، هم یې ترې مېوه وخوړه او هم یې له ځان سره یووړه، سپي هغه سړی ولید خو نه یې د هغه ممانعت وکړ او نه یې ایندر ته وویل، کله چې ایندر له دغې پېښې خبر شو، نو سپي ته په غوصه شو او د غره څوکې ته یې نغوته وکړه چې هلته لاړ شه او هملته ډبره شه.

سپی هماغه ځای ته لاړ او ډبره شو او تر اوسه پورې ځینې نورستانیان په همدې ګروهه دي چې د غره په څوکه کې د سپي په څېر او شکل راوتلې ډبره هماغه سپی دی چې د ایندر په حکم ډبره شوی او تر اوسه پورې پاتې دی. (۲۰)

دا و د ایندرکوڼ د اسطورې لنډیز چې ما په خپلو الفاظو وړاندې کړ، خو که چېرې دغه اسطوره د ښاغلي تازه او یا نورو لیکوالو د لیکنو له مخې مطالعه شي او یا هم د سیمې د خلکو له خولو واورېدل شي، نو هله یې قوت او زړه راښکون معلومېدلای شي، ځکه هم زړه راښکون لري او هم په کې هغو نادراتو ته متوجه کېږو چې د نړۍ مشهورې او شهکار حماسې یې لري، خو لکه په سر کې مې چې وویل، دربغه چې موږ خپلو فرهنګي میراثونو ته کار نه دی کړی او ټول عمر بهرنیو لیکوالو او څېړونکو موږ ته زموږ فولکلور او اسطورې را ټولې کړې او دوی متوجه کړې یو چې کومه یوه حماسه ده او کومه نه؟ په هر حال، د ایندرکوڼ اسطورې لنډیز ته په کتلو سره اوس به د یوې بشپړې او تمام عیارې حماسې ځانګړنې یوه یوه پر دغې اسطورې تطبیق کړو او وبه ګورو چې یاده اسطوره یوه بشپړه حماسه هم ده او که نه؟

استاد هېوادمل کاږي:۱ـ هر حماسي اثر یا حماسه د جنګ، جګړې، مېړانې، سرښندنې، پهلوانۍ، تورزنۍ او شهسوارې کیسې لري، چې دا جګړې ډېر ځله د هېوادنیو، ملي او عالي موخو لپاره وي، لکه په فردوسي شهنامه کې چې د افراسیاب او رستم جګړه وینو چې د خپل هېواد د خلاصون او دفاع په خاطر یې کوي، خو کله ناکله داسې پېښېږي چې دغه جګړې پر نوامیسو باندې کېږي او موخه یې لکه د

هېوادنیو مسایلو پر څېر ډېره عالي نه وي، لکه د ټرای جگړه یا ایلیاد او اودیسې چې تر ډېره یې بحث او هدف پر ښځمنو دی او د یوې ښځې لپاره ټول هېواد او خلک په وینو کې لېت پېت کوي. (۲۱)

د ایندر کوڼ په اسطوره کې هم همداسې یوه پېښه شته، په دې معنا ایندر له گوېش سره د ځمکې پر سر جگړه کوي، ایندر له گور کوڼه سره د ځمکې په سر جگړه کوي او دا جگړې دومره خونړۍ وي چې آن غرونه په کې رېز مرېز شي، خو آره موخه په کې د ځمکې او جایداد پر سر وي، چې معمولاً په اکثریتو ملتونو کې ځمکه د مور او ناموس حیثیت لري او هېڅوک چمتو نه دي چې خپله ځمکه، مور یا ناموس په داسې اسانۍ له لاسه ورکړي، نو که په دغه اسطوره کې هر رب النوع وگورې، جگړه یې د ځمکې پر سر ده چې هر یو له ځانه په ډېرې مېړانې سره اتلولۍ او پهلوانۍ ښیي، نو دغې اسطورې د حماسې دا ځانگړنه په ټوله معنا پوره کړې ده.

۲- د حماسې بله لویه ځانگړنه د ژوو ستر، عمده او کلیدي رول دی، په دې معنا د حماسې په کیسه یا نکل کې ژوي هم وي او دغه ژوي تر حده زیات هوښیار، شعوري او په خبره پوه وي او کله ناکله خبرې هم کوي، چې دغه کار یې تر نورو موجوداتو جلا او متفاوته کوي، لکه د ایلیاد په حماسه کې چې خانتوس یا د آشیل آس د اشیل لپاره د یو جنرال یا اتل هومره کارونه کوي، خبرې ورسره کوي او آن وړاندوینې ورته کوي چې کابو ډېرې یې رښتیا هم خېژي، همداسې د فردوسي شهنامې په حماسه کې د رستم آس رخش او د آدم خان په حماسه کې د آدم خان آس کورنگ هغه ژوي دي چې هم خبرې کوي، هم هوښیار دي او هم شعور لري. (۲۲)

د ایندر کوڼ په اسطوره کې هم همداسې یوه مسئله شته، په دې معنا ایندرکوڼ یو سپی لري چې په نورستاني اسطوره یا ژبه کې ورته ایندر کوړی وایي، دغه کوړی یا سپی هم په خبره پوهېږي او هم د ایندر له بڼ څخه ساتنه کوي او بني بشر ورته نه پرېږدي، خو یو ځل داسې کېږي چې یو څوک دغه بڼ ته راشي، مېوه یې وشکوي هم یې وخوري او هم یې له ځانه سره یوسي. سپی دا هر څه په خپلو سترگو ویني سړی هم وپېژني، خو په اړه یې خپل مالک ته څه ونه وایي، نه یې ورته نوم واخلي او نه یې ورته د کړنې په اړه څه ووایي، په داسې حال کې چې ایندر له دغې پېښې خبر شي، نو سپي ته په غوصه شي او د خپلې غوصې له امله یې د غره څوکۍ ته ولېږي

او همله یې ډېره کړي چې د روایاتو پر اساس تر ننه پورې هغه څوکه د سپي په بڼه شته او ولسي خلک یې هماغه سپی بولي، نو د ایندر کوڼ اسطورې دغه روایت ته په کتلو سره دا جوتېږي چې دغه سپی معمولي سپی نه دی او مالک یې هم په دې ورته په غوصه شوی چې ولې یې ورته حل نه دی ویلی او دا خبره د دې سپیناوی کوي چې سپی خبرې کولای شي، نو د حماسې د دغې ځانګړنې له مخې د ایندرکوڼ اسطوره د حماسې دغه ځانګړنه هم لري.

۳- د حماسې بله ځانګړنه د اتل یا اتلې له خوا د یو داسې نا اشنا، ستر، لوی، غټ او ډارونکې بلا یا موجود وژل وي چې انسان یې فکر هم نه شي کولای، خو د اسطورې یا نکل اتل به یې وژني، نو معنا دا ده چې اتل دومره واک او ځواک لري چې هویلاوې او بلاوې وژلای شي، لکه د ګېلګمېش په حماسه کې هوم بابا چې یو نا اشنا بلا او ځناور دی د اتل له خوا وژل کېږي یا د مومن خان له خوا د یو داسې ښامار وژل چې نیم ښار یې تر ستوني تېر کړی، خو دی یې په دومره مهارت او زړورتیا وژني چې سړی یې فکر هم نه شي کولای. (۲۳)

د ایندر کوڼ اسطوره هم همداسې یوه پېښه لري، په دې معنا لومړی د تورو او زغرو له رب النوع ګور کوڼه سره ښکر په ښکر کېږي، بیا له خپل ورور ګوېښ سره ښکر په ښکر کېږي او په خپل طلایي ښکر هغه له خپلې سیمې شړي چې په دغه جګړه کې د ګوېښ ډېر اتلان او جنګیالي چې خارق العاده موجودات دي له منځه وړي. درېیم خپل زوی چې هغه هم رب النوع دی او تر ده په کراتو مراتو هوښیار دی او شونې ده چې وروسته یې تر ده واک و ځواک هم زیات شوی وای وژني او بالاخره څلورم خپله مېرمن وژني چې دا ټول د خارق العاده موجوداتو یا د نیمه اربا ب النواعو موجوداتو وژل دي چې دا د یوې تمامې عیارې حماسې ځانګړنه ده او دا ځانګړنه په دغې اسطورې کې هم مراعت شوې ده.

۴- د حماسې یوه بله کلیدي ځانګړنه د بوټو او مېوو خارق العاده ځانګړنو لرل دي، په دې معنا د حماسې بوټي به یوه فوق العاده ګي لري چې عادي بوټي به یې نه لري، لکه: د دایمي ژوند ځانګړنه، د ناروغو درملنه، د مجسمه شوي او ډېره شوي انسان بېرته په عادي توګه رغېدنه، د مرګي حال انسان یا موجود رغېدنه، شنډ انسان ته د اولاد ورکړه او داسې نور،لکه: د فتح خان په حماسه کې د ملنګ په لکړې شپېته منې له ونې را

غورځېږي او بیا شپېته مېرمنو ته ورکول کېږي او بیا شپېته ماشومان زېږوي، همداسې د ګېلګمېش په حماسه کې د اوبو لاندې هغه بوټي پسې هلې ځلې کوي چې ځوان پاتې شي او دایمي ژوند ورکړي چې تر ګېلګمېش وړاندې ورته مار ور رسېږي او په خوراک سره یې پوستکی وغورځېږي او ځوانېږي. (۲۴)

د ایندرکونې په اسطوره کې هم ځینې بوټي فوق العاده ګي لري، نو د ایندرکونې اکثریتو مېوه لرونکو بوټو دا او دې ته ورته کمالات لرل، خو که په اوسني وخت کې یې هم چا مېوه خوړلې وي، په ځانګړې توګه غوزان او انګور، نو هله به ورته معلومه شي چې څومره طبیعي او ښه خوند لري او تل به یې د خوراک غوښتونکی وي؛ نو د ایندرکونې اسطوره د حماسې دغه ځانګړنه هم په ټوله معنا لري.

۵- ادبپوهان وایي چې په حماسه کې بله ځانګړنه د اتل یا اتلې فوق الطبیعه جوړښت یا فوق الانساني خلقت وي، په دې معنا اتل هېڅکله یو بشپړ انسان نه وي یا یو عادي انسان نه وي، بلکې نیم یې انسان او نیم یې رب النوع یا خارق العاده او یا هم انسان وي، خو هم یې اتلولی له انساني وړتیا څخه لوړې وي او هم یې عمر یو څه زیات وي، چې ښه بېلګه یې د ګلېګمېش په حماسه کې خپله د ګېلګمېش جوړښت دی، چې یوه برخه انسان او دوې برخې  رب النوع دی چې له خارق العاده موجوداتو سره جګړه کوي یا د رستم او اسفندیار په جګړه کې رستم پنځه سوه کاله عمر لري او په ځینو روایاتو کې تر دې هم زیات وي، د ټرای په حماسه کې اشیل یو اتل وي، خو نیمه رب النوع څکه وي چې مور یې تیتس یوه الهه وي او همداسې نورې اسطورې هم در واخله. (۲۵)

د ایندر اسطوره کې خپله ایندر ربالنوع دی چې د ش... انګورو او ځنګلاتو د رب النوع  په نامه شهرت لري او یو بشپړ انسان څکه نه دی، چې دوه ډېر اوږده، تاو او سره پېچلي ښکرونه لري چې د راویانو په وینا د سرو زرو دي، د دې ترڅنګ خېټه یې هم د غوایي په څېر غټه ده چې دی هم ځان له غوایي سره تشبېه کوي، نو معلومېږي چې شکل او څواک به یې هم د غوایي په څېر وي او د روایاتو پر اساس په موجوده موجوداتو کې تر ټولو زیات ځواک لرونکی مخلوق غویی دی، دا چې دا خبره څومره زبات شوې، پر هغې خبره نه کوم، خو په ولسي روایاتو کې دا مسئله ډېره مشهوره ده، نو همدغه روایت ته په کتلو سره اوس اټکل کولای شو چې ایندر څومره وړتیا او ځواک

لاره، یعنې هم بشپړ انسان نه و او هم یې سوونه کلونه ژوند کړی و، ځکه څو څو ځلې یې له بېلابېلو ارباب النواعو سره جګړې کړې، په هره سیمه کې یې بڼوالي جوړه کړې چې هغه هم کلونه وخت نیسي، په غرونو کې یې لارې جوړې کړي او داسې په لسګونو نور کارونه یې کړي دي چې هره یوه یې جلا اسطوره ده، لکه له یوش، ګوېش، یمرا او نورو ارباب النواعو ، چې ځینې یې د شر، ځینې یې د اوبو، ځینې یې د ښکلاګانو او.... اربا ب النواع دي، جګړې کړي چې د ټولو یادول یې له دې موضوع څخه بهر موضوعات دي، نو ځکه ترې صرف نظر کېږي، خو په ټوله کې دغې اسطورې د حماسې دا ځانګړنه هم بشپړه کړې ده.

٦- په حماسه کې یوه بله ځانګړنه د اتل یا اتلانو له خوا د زیات خوراک کول دي، چې کله ناکله په عقلي لحاظ موږ ته د منلو وړ نه وي. (٢٦)

ایندر چې د بڼوالی او ځنګلونو رب النوع و، نو تل به یې مېوه لرونکې ونې په خپل باغ کې کرلې او ډېر ځله به یې د خپل باغ مېوې په خپله خوړلې، خو ځانګړې مینه یې د انګورو او د انګورو له ش... سره وه او خپله به یې هم ویل چې خېټه مې د غوایي هومره غټه ده او دا خېټه باید له ش... ډکه شي، نو هله به مې تنده ماته شي او همداسې به یې کول هم، تل به یې خېټه له ش... ډکه وه، شرم به پروت و.

نه یوازې ش...، بلکې بې خرته پېروي لرونکي شېدې یې هم څښلې چې تل به ورته چاڼې ډکې وې او کله یې چې زوی هغه په داسې مهارت وخوړې چې د پلار شرایط یې پوره کړل، نو دی هم ورته حیران شو، خو خبره دا ده چې یوه کاسه شیدې خوړل هم زور غواړي چاڼې خو لا پر ځای پرېږده او بیا شېدې چې پېروی ولري، نو د انسان زړه نیسي ، خو دلته ګورو چې ایندر دا ټولې خوري، د دې ترڅنګ د ایندر له غیابېدلو وروسته خلکو به د ایندر د باغ لومړۍ مېوه ایندراما ته وړله او داسې عقیده یې لرله چې ایندر راځي او دا خوري، نه یوازې دا بلکې مالونه به یې هم په ایندراما کې د ده مجسمې ته قرباني او نذرانه کول او هملته به یې پرېښودل چې ده یې بیا وخوري، نو دا خبره هم د دې ښکارندویي کوي چې ده په ژوندني هم ډېر خوراک کاوه، چې د حماسې دا ځانګړنه یې هم پوره کړې ده.

٧- په حماسه کې بله ځانګړنه میتافزیکي یا غیبي واک دی، داسې چې یا به همدغه موجود له غایبو شیانو او موجوداتو سره خبرې کوي او یا به خلک د همدغه موجود په غیابت کې له همده سره خبرې اترې کوي او خپلې غوښتنې به ورته وړاندې

کوي او دا ځکه چې اتل به په ارب النواعو پورې اړه لري د هغوی اولاده به وي، لکه: د ګېلګمېش په حماسه کې له شمس رب النوع سره د ګېلګمېش خبرې اترې یا له خپل یار انکېدو سره د نوموړي خبرې او همداسې نور. (۲۷)

په دغه اسطوره کې هم موږ همداسې موارد لرو، په دې معنا ایندر له ګوښن سره خبرې کوي، ایندر له ګور کوڼه سره نېغ په نېغه خبرې کوي، ایندر چې کله خپل زوی او مېرمن ووژني، نو د هغوی له روح سره خبرې کوي او بالاخره ایندر ته لوی ربالنوع په غوصه شي او نفرت ورنه وکړي او له دغې سیمې یې وشړي یا یې ووژني چې په فزیکي لحاظ هغوی شتون نه لري، خو میتافزیکي قوت او ځواک یې ایندر دې ته اړباسي. د دې ترڅنګ کله چې ایندر له دغې سیمې غیب شي، نو تر ډېرو کلونو پورې به د سیمې خلک ایندراما ته ورتلل او ګومان یې کاوه چې هغه دلته راځي او د دوی غوښتنې اوري او ورته یې پوره کوي. یا د ایندر باغ ته به چې کله خلک په غلا ورغلل، نو د سپیو د غپا اوازونه او نور وحشتناک اوازونه به په کې اورېدل کېدل چې د خلکو په ګروهه دا د ایندر سپی دی چې لا هم خلک بڼ ته نه پرېږدي او په ډېره شوي وجود هم له دغه بڼه ساتنه کوي چې دغو ټولو مواردو ته په کتلو سره د حماسې دا ځانګړنه هم په دغه اسطوره کې د تطبیق وړ ده.

۸- په حماسه کې معمولاً اتلان یا ارباب النواع له یو بل سره په ټکر کې واقع کېږي او جګړې کوي او کله ناکله بیا داسې هم کېږي چې ځینې اتلان له یو اتل او ځینې له بل څخه ملاتړ کوي او په همدې توګه جګړه پېښېږي، لکه افراسیاب چې له رستم سره مقابله کوي، آشیل له پاریس سره، په ایلیاد کې زیوس او افرودایټې له ټرایانو ملاتړ کوي او هیرا او اتنه د یونانیانو او په پایله کې یې خونې جګړې پېښېږي. (۲۸)

دغسې په ایندرکوڼ اسطوره کې هم ګوښن په لومړیو کې له ایندر سره خوا په خوا ځینې جګړې کوي، آن د ګور کوڼه او نورو ارباب النواعو په جګړه کې ګوښن د ایندر ملاتړی وي، خو وروسته بیا ترې ګوښن بېل شي او ان خپله ګوښن هم ورسره مبارزه او جګړه پیل کړي، چې په هره جګړه کې جګړه خپل پلویان او مخالفین لري او بالاخره لوی رب النوع یې مخالف او ان له واما نه یې د تل لپاره وشړي، نو دا مسایل ټول د ایندرکوڼ په اسطوره کې شته چې دغو ځانګړنو یې د حماسي والي تصدیق کړی دی.

۹- حماسه معمولاً د مینې کیسې لري او تل الهه پر اتل یا رب النوع مینېږي، خو اتل ورته یا ارزښت نه ورکوي او یا یې چندان خیال نه ساتي. د دې ترڅنګ په حماسه کې تل اتل نرینه یا رب النوع وي، ښځینه اتله یا الهه په کې ډېر کم او په ندرت سره پیدا کېږي چې دا بېلګې هم په نړۍ والو حماسو او هم د پښتو ادب په حماسو کې شته. (۲۹)

دغه ځانګړنه د ایندر په اسطوره کې هم شته، په دې معنا ایندر خپله رب النوع دی او نرینه دی، خو د ښځې په اړه یې بیا ډېرې خبرې نه شته، خو دومره معلومېږي چې ښځه یې پرې مینه ده او هغه ځکه، کله چې ایندر خپل زوی وژني، نو مېرمن یې ورته یوازې زارۍ او عاجزي کوي، نه ورسره جګړه کوي او نه یې پر وړاندې درېږي او دا کار معمولاً د مینې نهایت اوج او پخته ګي وي، ځکه مئین پرې ګران دی او ان د ناروا کار پر وړاندې یې هم نه درېږي، خو ایندر ورته توجه نه کوي او نه یې خبرو ته چندان ارزښت ورکوي، خو دا چې غوصه یې نه سړېږي، نو خپله الهه یا مینه هم وژني، خو چې کله یې بېرته اعصاب ارام او پر ځای شي، نو په خپل کار پښېمانه شي، ځان ته سزا ورکړي او خپله کړنه ورته په هېڅ ډول بشري کړنه ښکاره نه شي، خو دا چې کار یې د بخښلو نه وي، نو له بلې خوا پرې حکم وشي او دی د خپلې ناسمې کړنې سزا ووینې، نو دا اسطوره د حماسې دغه ځانګړنه هم لري.

۱۰- د حماسې یوه ځانګړنه دا ده چې د حماسې اتل باید قومي او ملي روحیه ولري او هماغه وپالي، لکه: په مومن خان او شیرینۍ کې د خپلې مینې لپاره د نورو وطنونو جنت نښان سوکالۍ پرېږدي او خپلې سیمې ته ځان را رسوي، د ټرای په حماسه کې اشیل د ملي، هېوادني او نوامیسي ارزښت لپاره مبارزه کوي. په فردوسي شهنامه کې رستم د قومي او ملي ارزښتونو لپاره جنګېږي. (۳۰)

همداسې د ایندر په اسطوره کې هم ایندر چې هر ښه شی یا توکی پیدا کوي ایندرستان ته یې لېږي او له هغې سیمې سره د مینې لپاره یې لېږي، بیا وروسته له خپل ورور او ځینو نورو ارباب الانواعو سره جګړه د خپلې سیمې او خپل ارزښت لپاره کوي چې دا جګړې یې ټولې د ملي او قومي ارزښتونو لپاره دي، ځکه په کومه سیمه چې اوسېږي ، هغه سیمه ورته قومي، ملي او هویتي ارزښت لري او په هېڅ صورت یې بیا نړېدلو او له منځه تللو سره همغږی نه دی.

پر دغو ځانګړنو سربېره حماسې ځینې نورې لویې او کوچنۍ ځانګړنې هم لري چې په لنډه توګه به ورته نغوته وکړم:

۱۱- د حماسې د اتل مکان، ځای او قلمرو هر چېرې وي، ان تر ځمکې لاندې او پاس هم وي، لکه په گېلګمېش کې نوموړی د انکېدو د لیدلو لپاره تر ځمکې لاندې یا بلې نړۍ ته ځي.

د ایندرکوڼ په اسطوره کې هم همداسې یوه مسئله شته، په دې معنا د ایندر یوه سیمه ایندرستان او بله یې هم واشګل، واما، پارون او نورې سیمې دي او په هره سیمه کې یې بښوالي کړې، اوبه یې ورته را پیدا کړي او رغاونیزې چارې یې په کې ترسره کړې دي او چې کله نادرک کېږي هم، بیا هم ایندراما سیمې ته راځي، په داسې حال کې چې بلې سیمې ته کوچېدلې وي او یا شونې ده چې له نړۍ تللی وي، خو بیا هم دې نړۍ ته راځي، نو ځکه دا ځانګړنه هم په دغه اسطوره کې شته.

۱۲- د حماسې د اتل کړنې خارق العاده او ناطبیعي وي، لکه رستم یو سور کړی خر خوري.

ایندر کوڼ هم همداسې یو خارق العاده او ناطبیعي خوراک کوي، لکه په یو وخت کې دوه ثبته یا ټوکرۍ انګور خوړل، په یو وخت کې یو حوض چې کابو څو سوه لېټره کېږي، د ش... څښل او خپله یې هم وایي چې زما خېټه د غوایي هومره غټه ده او هر ځل دغه خېټه په ش... ډکوي. د څو چاټیو شیدو خوړل او همداسې د یو یا زیاتو قربانۍ مالونو خوړل چې دا ډول خوراک له ناطبیعي موجوداتو پرته عادي او طبیعي موجود نه شي کولای.

۱۳- د حماسې اتل د ژوند په بېلابېلو پړاوونو کې له ضد یا بل رب النوع سره په جګړه کې وي، لکه د رستم بېلابېلې جګړې. همداسې ایندر هم د ژوند په بېلابېلو پړاوونو کې بېلابېلې جګړې کوي، چې اکثریت یې له خپل ډول یا ارباب الانواعو سره دي، لکه له ایندرستانه راتګ هم یو لامل لري، بیا د چیمې په سیمه کې اړول او هلته د چیمې د سیمې له رب النوع ګورکوڼه سره جګړه کول، له هغې سیمې را کوچېدل او بیا یې له مریانو سره جګړه کول، له هغې سیمې هم را کوچېدل او په واما کې اړول او هلته یې هم له خپل ورور ګوېښ سره زړه بدوالی او وروسته ورسره جګړه کول، بیا د خپل زوی وژل، بیا د خپلې مېرمنې وژل او همداسې سر په سر پېښې هغه څه دي چې دغې اسطورې ته یې د حماسې والي رنګ ورکړی دی.

۱٤- په حماسه کې اتل تل په اوږدو او ګواښونکو سفرونو وځي، چې دغه سفرونه يې يا د دايمي ژوند لپاره وي او يا هم د سوکاله ژوند لپاره، لکه: ګېلګمېش چې د دايمي ژوند لپاره بېلابېلو سيمو او ځايونو ته ځي.

لکه څنګه چې پورته هم ورته نغوته وشوه، لومړی يې ايندرستان يا خيالي نړۍ کې ژوند کاوه، بيا چيمي ته راغی، بيا وايګل ته لاړ، بيا نيشي ګرام ته وکوچېد، تر دغې سيمې وروسته د ادرو له کوتله واوښت او واما ته لاړ او بيا تر ډېره هماله پاتې شو چې په دغو ټولو سيمو کې يې له بېلابېلو موجوداتو سره جګړې کړي او ستونزې ورته پيدا شوې دي، خو دا ټول د دې لپاره ول چې آرام، سوکاله او تل دايمي ژوند وکړي، خو له بده مرغه په واما کې هم دايمي او ارام ژوند ونه کړي او له هغه ځايه هم د وژنو پر اساس وشړل شي او د ځينو په وينا ووژل شي چې نور نو يې په اړه دقيق معلومات نه شته.

۱٥- په حماسي جګړو کې اتل او ضد يې له ډول ډول وسلو څخه ګټه کوي او هڅه کوي چې خپل دښمن له پښو وغورځوي، لکه رستم او اسفنديار له تورې، نېزې، ګورز او نورو څخه ګټه کوي.

د ايندر په اسطوره کې لولو: کله چې ايندر له ګورکونه سره مبارزه کوي، نو د هغه پر وړاندې له خپلو پېچلو او طلايي ښکرونو څخه ګټه کوي، همداسې له ګوېښ سره په مبارزه کې له ونو، بوټو او ان د غره له کمرونو څخه ګټه کوي، بسته غرګی پرې را خطا کوي، خو ايندر يې سم له واره نيسي او د بڼ په لاندينۍ برخه کې يې د سنګکارۍ په توګه ږدي چې هم هغه په دغه کار سره حيرانوي او هم د خپل بڼ د سمسورتيا چارې پرې ترسره کوي.

د دې ترڅنګ ايندر غواړي چې له غره برخې برخې او تړانګې تړانګې ډبرې جلا او له يوه غره نه بل غره ته پرې پول جوړ کړي چې دا کار نن سبا په مجهزو ماشينريو هم په اسانۍ شونی کار نه دی، خو دوی په هغه وخت کې دا کار کاوه، نو ځکه يې د حماسې دا ځانګړنه هم په ټوله معنا خپله کړې ده.

۱٦- په حماسه کې مهمه ځانګړنه د اتل يا د ضد له خوا يې د يو بل غولونه او تېر ايستنه ده، لکه د ټراى په جګړه کې چې يونانيان د لرګي آس د ټراى ښار ته د ډالۍ په توګه لېږي، خو وروسته د آس له ګېډې را کښته کېدونکي پوځيان د ټراى ښار په ورانۍ او ويجاړۍ بدلوي او ټولې ښځمنې يې کونډې او بورارې کوي.

د ایندر په اسطوره کې هم همداسې غولونې او تېر ایستنې شته، لکه ایندر چې کله پوه شي چې ورور یې گوښن ورسره د سیمې پر سر جگړې ته زړه دی او خوابدي یې ترمنځ پیدا کېږي، نو هغه ته یې یوه د گلانو گېډۍ او بل هم د انگورو تاک وړاندې کړل چې خوښ یې کړي، دا چې د گلانو گېډۍ د منو او زردالو له لښتو څخه جوړه شوې وه او ښه په مړه خېټه مېوه یې نیوله، نو ایندر پوهېده چې ورور یې گوښن به همدا گلان خوښ کاندي، ځکه هغه د گلانو مینه وال او ظریف انسان دی، خو دا چې اصلي کمال په انگورو کې و، نو هغه یې په چالاکۍ ځانته پرېښووده او گوښن هم د گلانو پر خوشبویۍ وغولید، خو کله یې چې د ایندر د بڼ مېوې ولیدې او د هغې خوند یې وڅاکه، نو بیا یې د ایندر د سیمې لاندې کولو لپاره له هغه سره مبارزه وکړه، خو وخت له وخته تېر و، نو ځکه په دغه اسطوره کې د حماسې دا برخه هم کټ مټ د تطبیق وړ ده.

۱۷- د حماسې اتل چې نیمه انسان او نیمه ربالنوع وي، تل یې مړینه ښکاره، جوته او د نورو انسانانو ترمخ نه وي چې خلک یې د مړینې یا مرگ په راز پوه شي، لکه د گېلگمېش په حماسه کې چې گېلگمېش اورک ته رسېږي او هلته پر ځمکه ځملي، خلک فکر کوي، ویده دی، خو وروسته ټولو ته زبات شي چې مړ شوی دی.

د ایندر په اسطوره کې د ایندر او نورو ارباب النواعو مړینه هم همداسې گونگه او پټه ده، په دې معنا چې د اسطورې تر اخره موږ د گور کوڼه او گوښن پر مرگ او ژوند نور نه پوهېږو، همداسې ایندر چې کله د لویو اربا ب النواعو له خوا په غضب شي، نو مړی او ژوندی یې ورک شي، د ځینو په وینا دا سیمه پرېږدي، د ځینو نورو په وینا دا سیمه پرې پرېښودل شي او د یو شمېر راویانو په وینا له دې نړۍ لاړ شي، خو کله ناکله ایندراما ته راځي او هلته د خلکو ستونزو ته رسېدنه کوي او دا خبره یو څه د منلو وړ ځکه ده چې په اکثریتو اسطورو کې، کله چې ارباب الانواع له دې نړۍ وکوچېږي، نو بیا یې ارواحگانې راځي او د خلکو ستونزو ته رسېدنه کوي، چې هر څوک یې لیدلای نه شي، هماغه خپل مخصوص او ځانگړي کسان یې لیدلای شي او ایندر هم همداسې هغه درې تنه لیدلای شي چې د ده په کور کې د ده د کور او د ده د نورو اماناتو ساتونکي دي، نو ځکه د حماسې دغه ځانگړنه هم پر دغې اسطورې د تطبیق وړ ده.

۱۸- په حماسه کې وړاندوینه کېږي او تر ډېره هغه وړاندوینه سمه خېږي، لکه د ټرای په جگړه کې چې د اشیل د مړینې په اړه وړاندوینه کېږي چې د پوندې له خوا

به په غشي لګېږي او له همدغه ټپه به مري چې په جګړه کې بیا همدا وړاندوینه په حقیقت بدلېږي. (۳۱)

ایندر هم چې کله له خپل ورور ګوپښ سره د ځای ځایګي په اړه ستونزه او لانجه کې نښلي، نو هغه ته یوه د ګلانو ګېډۍ او بله هم د انګورو تاک وړاندې کوي، خو اټکل او وړاندوینه کوي چې ورور به یې ګلان خوښوي، ځکه هغه ظریف انسان دی، خو دا چې انګور هم خوندوره مېوه ده، نو شونې وه چې ورور یې ګلان نه، بلکې انګور خوښ کړي وای او د ده اټکل یا وړاندوینه یې ناسمه زبات کړې وای، خو ګورو چې داسې نه کېږي او د ده اټکل یا وړاندوینه سمه خېږي، همداسې د ځینو نورو مواردو په اړه هم، نو ګورو چې دا ځانګړنه هم پر دغې اسطورې په ټوله معنا د تطبیق وړ ده او له دې اړخه یې هم حماسه ګڼلای شو.

نو که خبره را ټوله کړم، حماسه د دغو ځانګړنو ترڅنګ ځینې نورې لوېې او کوچنۍ ځانګړنې هم لري چې د ټولو راوړل به یې دا بحث ډېر پراخ کړي، خو مهمې، کلیدي او موخنې یې همدا وې چې یادې شوې چې تر ډېره کابو په ټولو حماسو کې د تطبیق وړ هم دي او تر دې زیاتې یا ټولې به یې ستونزمنه وي چې په هره حماسه کې تطبیق شي او که تطبیق نه شي، نو بیا ورته حماسه ویل بله ستونزه زېږوي، نو ځکه ادبپوهان همدا ځانګړنې مهمې او کلیدي بولي او په یوه اسطوره کې یې تطبیقېدل په ټوله معنا حماسه بولي.

## پایله

په ښکاره ویلای شو چې ایندرکوڼ اسطوره چې زموږ د ګران هېواد افغانستان د لرې پرتې او وروسته پاتې ټولنې نورستان یوه جالبه او په زړه پورې اسطوره ده او بېلابېل وریانټونه هم لري، کابو ټول یې یوه تمام عیاره او بشپړه حماسه ده، ځکه چې د حماسې کابو اکثریت ځانګړنې پرې تطبیقېږي او همدغه تطبیقېدا یې موږ ته د دې جرئت راکوي چې په زغرده حکم وکړو چې دا یوه بشپړه حماسه ده، خو دا چې تر اوسه پورې موږ د خپلې دغې جنتي سیمې فرهنګي، ادبي او اسطوره یي ارزښتونو ته توجه نه ده کړې، نو دا د لیکوالو، چارواکو او مسؤلینو یو څه سستي او بې خوندي ده، نه د دغې سیمې د اسطورو.

زه ډاډه یم که د دغې سیمې اسطورو ته ځانګړې پاملرنه وشي، مسلکي کسان یې په خپل ټول قوت او ظرافت سره خوندي کړي. د دین، مذهب، عقیدي، فکر او رواني

ربړو قرباني نه شي او د فرهنګ په ژبه، د فرهنګ په نامه د فرهنګي اصالتونو د مسؤلیت په توګه را ټولې، خوندي او بیا وشنل شي، نو بې له شکه زموږ دغه اسطورې به د نړۍ والو اسطورو او حماسو په لیکو کې ځای ونیسي او لکه څنګه چې نن سبا د یونان، هند او ځینو نورو آریایي سیمو نیمه اسطورې او نیمه حماسې مشهورې دي او په نړۍ والو ریکاډونو کې یې خپل ځای ځایګي زبات کړی، نو زموږ دغه اسطورې به هم په نړۍ واله کچه د شهکار په لیکو کې ودرېږي او د نړۍ له هر کونجه به دلته د بېلابېلو څانګو څانګه وال د دغه مهم او مغتنم ارزښت په شنلو او خوندي کولو پسې را منډې وهي، خو په دې شرط چې موږ یې د بېلابېلو مسایلو په نامه قربان نه کړو او د یو فرهنګي ارزښت په توګه ورسره چلند وکړو، نه د بدایعو او موانعو په توګه.

## وړاندیزونه

د دې لپاره چې د نورستان د اسطورو د ضایع کېدلو مخنیوی شوی وي او دغه مغتنمه خزانه مو له لاسه ورکړې نه وي، نو په اړه یې لاندې وړاندیزونه لرم:

۱- په دې کې شک نشته چې د نورستان فولکلوري نکلونه په سلو کې اتیا سلنه اسطورې دي او دغه اتیا سلنه بیا نیم په نیمه حماسې هم دي، نو د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ریاست درانه مقام ته په ډېر درنښت وړاندیز کوم چې د اطلاعاتو او کلتور له وزارت سره په همغږۍ دې یوه څېړنیزه ډله سیمې ته ولېږي او دغه مواد دې له کلیو، بانډو او عامو خلکو څخه را ټول او خوندي کړي.

۲- د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو ریاست د وروڼو قومونو د ژبو او ادبیاتو انستیتوت دې د نورستان د شفاهي ادبیاتو په اړه کتابتوني او ساحوي برخو کې پروژې خپلو استادانو ته ورکړي چې هم دغه مغتنم اساطیر په مسلکي توګه خوندي شي او هم یې په مسلکي توګه وڅېړي او علمي ادرس یې معلوم کړي.

۳- دا چې اسطورې زموږ د پخوانیو او تر اسلام مخکې عقایدو ښکارندویي کوي، نو هیله ده چې څېړونکي یې د را ټولولو او خوندي کولو پر مهال سیمه ییز خلک او روحانیون په دې وپوهوي او قانع یې کړي چې دغو مسایلو ته له مذهبي کړکیو ونه ګوري، بلکې د پخوانیو عقایدو او فرهنګي زېرمو په توګه یې په صادقانه توګه را ټولې او خوندي کړي.

## مأخذونه


۱. لېوال، عبدالغفور. په ادبیاتو کې د اسطورې ځېړنه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، شمشاد هاشمي مطبعه: کابل، ۱۳۹٦ لمریز کال، ۱۸ مخ.

۲. آریانا دایرة المعارف، پښتو ورژن، دویمه دوره، لومړی ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دایرة المعارف ریاست، نبراسکا مطبعه: کابل، ۱۳۸٦ لمریز کال، ۳۷۸ مخ.

۳. لېوال، عبدالغفور. په ادبیاتو کې د اسطورې ځېړنه، ۲۰ مخ.

٤. دکتور محمد ضیمران. اسطوره چیست، ایرانیان ویب پاڼه.

۵. رسول رمضانیان. اسطوره ها و افسانه ها، ایرانیان ویب پاڼه.

٦. فاران، فیصل. اساطیري تلمیحات په پښتو شاعرۍ کې: کوټه، پښتو اکیډمي، ۲۰۱۵ زېږدیز کال، ۲۰- ۲۱ مخونه.

۷. اساطیري تلمیحات، ۴٦ مخ.

۸. په ادبیاتو کې د اسطورې ځېړنه، ۴۵ مخ.

۹. آشور باني پال، د گلگمېش افسانه، ( د نړۍ تر ټولو لرغونې حماسه)، د ذبیح الله صاحب ارغند پښتو ژباړه، مومند خپرندویه ټولنه: ننگرهار، ۱۳۹۴ لمریز کال، ف مخ.

۱۰. بېلابېل لیکوال، حماسه، د سرمحقق زلمي هېوادمل په اهتمام او تدوین، د دوکتورا دورې درسي لکچرنوټ: کابل، کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، د پښتو ژبې او ادبیاتو څانگه،۲۸ مخ.

۱۱. زلمی هېوادمل، د حماسې تاریخي سوابق، حماسه، د سرمحقق زلمي هېوادمل په اهتمام او تدوین، د دوکتورا دورې درسي لکچر نوټ، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو ریاست، د پښتو ژبې او ادبیاتو څانگه، کابل، (؟) کال، ۷۰ مخ.

۱۲. آشور باني پال، د گلگمېش افسانه، (د نړۍ تر ټولو لرغونۍ حماسه)، ف او ص مخ.

۱۳. د گلگمېش افسانه، ص – ق مخونه.

۱٤. په ادبیاتو کې د اسطورې ځېړنه، ۴٦ مخ.

۱۵. تازه، سمیع الله. ادبیات شفاهی نورستان: دویم چاپ، پېښور، د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانگه، ۱۳۷۹ لمریز کال، ۲۰۵- ۲۰٦ مخونه.

۱٦. عبدالله. د واما اوسپدونکی، د ایندر کوڼ کیسې یا اسطورې ولسي راوي، نالوستی ولسي سړی، ۴۸ کلن، ۱۳۹۹ لمریز کال. (مرکه کوونکی: سیدي)
۱۷. تازه، سمیع الله، ادبیات شفاهی نورستان، درېیم چاپ: کابل، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د بیهقي کتاب خپرولو مؤسسه، ۱۳۹۱ لمریز کال، ۳۱۳- ۳۱٦ مخونه.
۱۸. عبدالله. د واما اوسپدونکی، د ایندر کوڼ کیسې یا اسطورې ولسي راوي، نالوستی ولسي سړی، ۴۸ کلن، ۱۳۹۹ لمریز کال. (مرکه کوونکی: سیدي)
۱۹. تازه، سمیع الله. روایات اساطیری آریایی در اساطیر نورستان: کابل، د نهاد فرهنگی میرزا تازه گل خپرندوی ټولنې له خوا د امریکا د متحده ایالتونو په مالي مرسته چاپ شوی دی، ۱۳۸۹ لمریز کال، ۲۱۷- ۲۲۰ مخونه.
۲۰. تازه، سمیع الله. ادبیات شفاهي نورستان، ۳۲٦- ۳۲۷ مخونه.
۲۱. زلمی هېوادمل، د حماسو خصوصیات او سبک، حماسه، ۳۷ مخ.
۲۲. جمشید رشیدي، حماسي ادبیات، نویسا خپرندویه ټولنه، کابل، دویم چاپ، ۱۳۹۷ لمریز کال، ۲۳- ۲۴ مخونه.
۲۳. د گیلگمش افسانه، ش مخ.
۲٤. زلمی هېوادمل، د حماسو خصوصیات او سبک، حماسه، ۳۰ مخ.
۲۵. د گیلگمش افسانه، ت مخ.
۲٦. د حماسو خصوصیات، ۳۸ مخ.
۲۷. د گیلگمش افسانه، ت مخ.
۲۸. حماسي ادبیات، ۲٦ مخ.
۲۹. د گیلگمش افسانه، خ مخ.
۳۰. همدغه اثر، همدغه مخ.
۳۱. د گیلگمش افسانه، ض – أ أ مخونه.

پوهنیار رحمت الله کتوازی

# د ژبې په پوهاوي او را پوهاوي کې د دماغ د بروکه (Broca's aera) او ورنېکه (Wernicke's area) برخو ونډه

# The Role of Broca's and Wernicke's Brain Areas in Language Production and Perception

**Assistant prof. Rahmatullah Katawazi**

## Abstract

Language is a mutual way of understanding and communications. The brain and phonic symbols together function as of making the language a tool of mutual understanding. It means that the brain consists of some parts that give humans the ability to make others understand their speech and to understand other's produced speech. If these parts of the brain do not help language for making it the way of understanding, it is impossible for language to be the way of communication and understanding. The brain is made of two parts: right hemisphere and left hemisphere. Each hemisphere of the brain (Right and Left) has its own way of functioning. Many research studies indicate that most of the language-related functions are being run in the left hemisphere of the brain. Broca's area and Wernicke's areas are the two parts located in the left hemisphere of the brain. If these parts of the brain become malfunctioned, human beings can't use

language as a way of understanding. Broca's area gives the ability to the humans to produce speech, words and grammatical structures and to share their message(s) with others. On the other hand, Wernicke's area gives the ability to humans to comprehend the speech, sentences, and words meaningfully produced by others. This is called the classic model of language and brain that founded in the 19th century and opened a new window of the relations between language and the brain.

## لنډيز

ژبه د انسانانو ترمنځ د پوهاوي او را پوهاوي يوه وسيله ده چې د يو لړ تړوني (قراردادي) غږيزو سېمبولونو او له مغزو (دماغ) سره يې په ګډه پر مخ وړي. دماغ پر خپل وار دغه ونډه د دوو ټاکلو برخو له لارې تر سره کوي. دواړې برخې انسان ته د دې توان او وړتيا ورکوي چې نور په خپلو پيغامونو پوه کړای شي او د نورو وګړو د خبرو جاج (مفهوم ) واخلي. که د دماغ دغه برخې له ژبې سره په دې کې مرسته و نه کړي، نو د وينا ژبه په هيڅ ډول د پوهاوي او را پوهاوي لپاره نه شي کارول کېدای.

د ماغ له دوو برخو جوړ دی چې يوه يې ښۍ برخه او بله يې کينه برخه ده. ښۍ برخه د خپلې برخې د دندو مسئوله ده او کينه برخه د خپلې برخې د کړنو دنده پر غاړه لري. ډېرې څېړنې دا راښيي چې د ژبې اړوندې ډېرې دندې د هرچا د دماغ په کينه خوا کې تر سره کېږي، د دماغ د بروکه (Broca's aera) او ورنېکه (Wernicke's area)هغه دوې برخې دي چې دواړه د دماغ په کينه پيڅکه کې پرتې دي.که چېرې د دماغ دغه دوې برخې زيانمنې کېږي، نو انسانان نه شي کولای، له ژبې څخه د پوهاوي او را پوهاوي د يوې وسيلې په ډول کار واخلي. Broca's aera انسانانو ته ددې وړتيا ورکوي چې خبرې ،وييونه (کليمې) او ېښوييز (ګرامري) جوړښتونه راوزېږوي او وګړو ته يې پيغام ولېږدوي. (Wernicke's area) انسانانو ته ددې وړتيا ورکوي چې د نورو انسانانو له ويل شويو خبرو، جملو او وييونو (کليمو) څخه سم جاج (مفهوم) واخلي. دا د ژبې هغه کلاسيک موډل دی چې شاوخوا په ۱۹ مه پېړۍ کې رامنځته شو او د ژبې او دماغ د اړيکو تر منځ يې نوې درېڅه پرانيسته. په دې ليکنه کې له ژبې سره د دماغ د دې دوو برخو د تړاو اړوند بحث شوی دی.

## سریزه

ژبه د وبله پوهاوي د یوې وسیلې تر څنګ، ځینې نور اړخونه هم لري چې باید وڅېړل شي. دا سمه ده چې موږ وایو چې د ژبې له لارې انسانان کولای شي، د خپلو خبرو جاجونه (مفاهیم) ولېږدوي او د نورو د خبرو پر جاجونو پوه شي، خو دلته دا پوښتنه راولاړېږي چې ایا ددې جاجونو تر شا، د دماغ ونډه هم ټیکاو لري؟ نو که د دماغ ونډه نه وي، ایا کېدای شي، چې ژبه دې د یوې اړیکیزې اوزار په توګه وکارېږي؟

هو،که د دماغ ونډه وي، نو ایا د دماغ په دې هېښنده (عجیب غریب ) سیستم کې د دماغ کومې ځارګرې برخې ډېرې ښکېلې دي؟ کله ناکله د ژبې دغه پېژند (تعریف) چې (ژبه د وبله پوهاوي وسیله ده) خورا بابیزه برېښي. دا په دې معنا چې په دې پېژند کې د ژبې تش وګړنیز او ټولنیز (اړکیز) اړخ ته پام شوی. د ژبې بل اړخ د هغې جنیټیکي میکانیزم او دماغي (ذهني) اړخ دی چې ژبه د وبله پوهاوي د وسیلې تر څنګ، نوره هم پراخه راپېژني (تعریفوي.) که د ژبې د وبله پوهاوي په بهیر (پروسه) کې د دماغ ونډه وي، نو په دماغ کې په بیلیونونو عصبي ژونکې یاحجرې (نیورونونه) شته، چې د دماغ په بېلابېلو برخو پورې تړلي دي او د دماغ د بېلابېلو غړو په بولۍ یا امر، بېلابېلې چارې تر سره کوي. نیورونونه (عصبي حجرې) چې لنډې او اوږدې رانغاړي، ځیني یې له نورو نیورونو (عصبي حجرو) سره د تړلو لپاره کارېږي. څېړونکو موندلې چې یو نیورون ښایي، له ۱۰۰۰۰ نورو نیورونونو سره په سیده اړیکه کې وي. د دې تر څنګ، څېړنو داهم ښوولې ده چې د انسان په دماغ کې دومره عصبي حجرې (نیورونونه) شته، چې شمېر یې د نړۍ د وګړو تر شمېر زیات دی، یعني شاوخوا ۱۰ بیلیونه نیورونونه د دماغ په بېلابېلوبرخو کې پر بېلابېلو چارو لګیا دي. خو پوښتنه دا پیدا کېږي چې په دې ګڼ عصبي ریښه ییز چاپېر یال کې د ژبې برخه چېرته ده؟ دغې پوښتنې ته د ځواب شالید تر نولسمې پېړۍ پر شا ځي؛ بروکا په (۱۸۶۱-۱۸۶۵) کلونو کې څرګنده کړه چې د دماغ په مخامخ کیڼه پیڅکه کې یوه برخه شته او ویل یې چې دغه برخه د ژبې اړوندو ربړو پازواله (مسؤ له) ده. په ورستیو څېړنو کې هم څېړونکو د نوموړې له دې موندنو سره همغږې درلوده چې تر ده را وروسته څېړنو کې بیا دغه بر خه د (Broca's area)په نوم یاده شوه (د بروکا په خپل نوم) . د بروکا دلیل دا وو چې ډېر وخت کله چې د دماغ کیڼه برخه زیانمنېږي یا هم ګډوډۍ

(اختلالات) پکې رامنځته کېږي، نو د ژبې د ګړهار چم (مهارت) له منځه ځي، خو چې کله د دماغ ښی برخې ته په کمېښيي (نادره) توګه کومه وټه ( صدمه) رسېږي، دا ډېر لږ پېښېږي چې د ژبې د ګړېدنګ چم دې له منځه ولاړ شي او يا دې هم د ژبې سيستم په ټپه ودرېږي. نوموړی دې پايلې ته هغه وخت ورسېد چې په بېلا بېلو ناروغانو کې يې د افازيا (aphasia) ناروغي درملنه کوله او د ناروغانو د ماغونه يې وڅېړل؛ خو ورنيک په کال (۱۸۷۴) کې بيا د دماغ او ژبې په تړاو د نورو څېړنو په ترڅ کې څرګنده کړه چې (Cortex) برخې ته نژدې يوه بله برخه هم شته چې د ژبې په پروسه کې مرکزي رول لوبوي چې تر ده را روسته څېړنو کې بيا دغه برخه د ده په نوم (Wernicke's are) ونومول شوه. په خپل کتاب کې څېړونکي (٦٨:٥) ياده کړې ،چې له ځينو استثناأتو پرته چې ښايي شته، په بېخي لويه سلنه وګړو کې د ژبې بهير د هغوی د دماغ په کيڼ اړخ کې تر سره کېږي چې دغه دوه (Broca's area) او (Wernicke's area) برخې پکې پرتې دي. يعني دغه دوې برخې د ژبې په تړاو په دوو اړوندو ارزښمنو چارو کې چې تکلم (ګړېدنګ) او پوهاوی دی، پازوالی (مسئوليت) لري.

لکه وړاندې چې ورته نغوته وشوه، ژبه د وبله پوهاوي يوه وسيله ده ، خو دغه وسيله هم ټولنيز (محيطي)، هم جينيټيکي او هم دماغي (ذهني) پړاوونه او فکټورونه لري. دا چې ژبه څومره په ټولنيز يا چاپېريالي، او جينيټيکي او څومره په دماغي (ذهني (لاملونو او فکټورونو پوري تړلې ده، خورا لوی ويېنې(بحثونه) دي چې تر اوسه اوسه يې ژبپوهان او د ژبې ارواه پوهان کومې څرګندې پايلې ته نه دي رسېدلي چې ژبه دې مکمل يا په ذهني يا جنيټيکي او يا هم په چاپېريالي لاَملونو (عواملو) پوري وتړي. اما په دې بهير کې د درې واړو لاَملونو له ارزښتمن رول نه سترګې نه شي پټېدای، چې هر يو يې په ژبزدکړيز بهير کې د ځانګړي ارزښت ولري. دا چې د ژبې ځای په دماغ کې کوم دی، له لسيزو او پېړيو را روسته ژبپوهانو، ارواپوهانو او د ژبې اړوند څېړونکو لپاره خورا په زړه پورې سکالو (موضوع) پاتې شوې. دماغ خو له لويه سره يو هېښنده (عجيب و غريب) سيستم او جوړښت دی ،چې له دومره څېړنو او از مېښتونو سره سره يې اوس هم ځيني برخې د څېړونکو په اند ناسپړلې او نا شنلې پاتې دي. مانا دا چې سره له دومره څېړونکو چې له نومهالو وزلو (وسيلو) کار اخلي او د دماغ په د ننيو څېړنو بوخت دي، ډېر ناڅرګند څېزونه او پوښتنې لا د دماغ په تړاو شته چې يوه معما بلله کېږي.

څېړونکي پر دې اند دي چې د ژبې زده کړه، او د زده کړې بهیر (پروسه) یې د جینیټیکي عواملو تر څنګ محیطي (ټولینز) لاملونه (فکټورونه) هم لري. دوی وړاندې وایي چې پر یوه ژبه د برلاسي موندلو لپاره تش جینیټیکي لاملونه نه بس کېږي، بلکې ددې لپاره چاپېریالي(ټولنیز) هغه هم اړین دي چې پر مټ یې د ژبې ببلابېلې برخې وده کوي، او ورسره د دماغ ځینې برخې هم وده مومي. (۱:۳)

چامسکي پر (۱۹۵۹) کال د ژبې د زده کړې په اړه په خپله هغه لید توګه (نظریه) سره چې ماشومان ژبه د دوی په ذهن کې د ژبې د زده کړې د ( Language Acquisition Device) اوزار په واسطه زده کوي، نوره هم نویو څېړنو ته لار پرانېسته. نوموړی په دې اند دی چې ماشومان په طبیعي توګه د ژبې د زده کړې وړتیا لري او هر ماشوم د ژبې د دغې وړتیا له مخې زده کړه کوي. دی د ژبې د زده کړې وده د نورو بیولوژیکي پرمختګونو په لړ کې له( پل اخېستنې) سره پرتله کوي او دا دلیل وړاندې کوي لکه څنګه چې ماشومان په بیولوژیکي وده کې پرمختګ کوي، ژبه هم همداسې ګام پر ګام مخ پر وړاندې ځي. چامسکي په دې پروسه کې د دماغ ونډې ته کومه څرګنده اشاره نه ده کړې، خو وايي چې د ماشوم په دماغ کې خپله (language faculty) یا د ژبې د جوړښتونو پوهنځی شته، چې د وخت په تېرېدو سره دغه جوړښتونه د ژبې د زده کړې لامل ګرځي. تر ده را روسته کرَشن په (۱۹۷۷) کال کې د چامسکي د نظریې په ملاتړ، خپل ماډل وړاندې کړ چې په دې ماډل کې هم تر ډېره پوري د ژبې د طبیعي والي ملاتړ شوی. د کرَشن په ماډل کې نوي څه دا وه چې د مورنۍ (لومړنۍ) او دویمې ژبې د زده کړې بېلابېل ځایګني (نقطې) یې وښوولې، چې ګوندې مور لومړنۍ (مورنۍ) ژبه یو ډول او دویمه ژبه بل ډول زده کوو. یعني د نوموړي په اند موږ نه شو کولای چې دویمه ژبه هم هو بهو د مورنۍ ژبې غوندې زده کړو. پیاجیټ په (۱۹۲۰) کال کې پر دې څېړنه وکړه چې د ژبې زده کړه څنګه ترسره کېږي. نوموړی دې پایلې ته ورسېد چې زده کړه له یو ذهني بهیر یا پروسې څخه تېرېږي، دغې ذهني پروسې ته ده پېنځه پړاوونه وټاکل چې د (Cognitive Development) یا ادراکي ودې نوم یې ورته ورکړ. معنا دا چې په دې لید توګه (نظریه) کې هم د زده کړې په بهیرکې د دماغ (ذهن) ونډې ته پام شوی، خو په زغرده نه دي ویل شوي چې په دغه پروسه کې د دماغ کومې برخې ډېره ونډه لري.

د دې لپاره چې په نومېرلي (مشخص) ډول را جوته شي، چې د دماغ کومه برخه یا برخې د ژبې په بهیر کې تر نورو ډېره/ډېرې ښکېله یا ښکېلې دي او د دماغ له نورو برخو سره یې اړیکې کومې دي، په دې لیکنه کې پرې وړاندې رڼا اچول شوې ده او د نورو نویو څېړنو او موندنو پلټنه شوې ده.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د ساینس او ټېکنالوژۍ له پرمختګ سره په راز راز برخو کې نوې موندنې شوې او د نویو څېړنو پایلې په بېلابېلو برخو کې ځیني پخوانۍ څېړنې ګواښي (چېلینجوي) او د هغوئ د رد لپاره نوې موندنې او لارې چارې وړاندې کوي. خو ځیني نوې څېړنې او موندنې بیا پخوانۍ څېړنې او موندنې له نویو لیدلوریو ګوري او د پخوانیو څېړنو نوې برخې، چې په تېر کې نه وې سپړل شوي، را سپړي او نوي څېړونکي بیا پخوانیو هغو ته د لومړنیو او بنسټیزو څېړنو په سترګه ګوري او له ارزښته یې سترګې نه پټوي. دا چې په نورو ژبو (په ځانګړي توګه انګرېزۍ) کې په دې اړه هم وار له مخه کار شوی وو او هم په اوسني مهال کې څېړونکي له ژبپوهنې سره پر نویو تړلیو سکالوو (موضوعاتو) نوې څېړنې کوي، خو په پښتو ژبه کې دغه برخه ډېر څه نه لري. نو دې اړتیا ته په کتو ښایي دغه معلومات د پښتو ژبې له څانګپوهانو او څېړونکو سره په دې کې مرسته وکړي چې پښتو ژبه نوره هم د ژبې په اړه له دغسې نویو څېړنو برخمنه کړي. دې اړتیا ته په کتو، دغه څېړنه مو رامخته کړې ده. دا په مغز ژبپوهنې (Neurolinguistics) پوري تړلې سکالو ده چې د ژبې او دماغ تر منځ پر اړیکو رڼا اچوي او په پښتو ژبه کې یې زما پر اند، اړتیا ډېره ده.

## د څېړنې موخې

د دغې څېړنې موخه دا ده چې موږ په دې پوهوي چې د ژبې په وینا کې د دماغ ونډه څومره او څنګه ده، دغه راز د دماغو دا برخې له نورو سره کومې اړیکې لري. د دې لپاره چې په مشخص ډول را جوته شي، چې د دماغ کومه برخه یا برخې د ژبې په بهیر کې تر نورو ډېرې ښکېلې دي او د دماغ له نورو برخو سره یې اړیکې کومې دي، د دغې څېړنې یوازینۍ موخې دي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ د ژبې په وینا او اورېدا کې د دماغ د **(Broca's area)** او **(Wernicke's are)** ونډه څومره ارزښتمنه ده؟

۲ـ د دماغ دغه برخې (چې ژبنی سیستم پکې ځای پر ځای دی)، د دماغ له نورو برخو سره کومې اړیکې لري؟

۳ـ که په دماغ کې د ژبې دغه برخه یا برخې زیان ومومي، نو انسان په کوم ډول ناروغیو اخته کېدای شي؟

## د څېړنې میتود

په څېړنه کې له بېلابېلو علمي لیکنو او کتابونو (انګلیسي) ګټه اخیستل شوې ده او اړوند اړین معلومات ور څخه را اخیستل شوي او په تشرېحي او تحلیلي ډول وړاندې شوي دي.

## اصلي موضوع

دا چې د ژبې بهیر د دماغ په کومه برخه یا برخو کې ترسره کېږي،او یا هم د دماغ د کومو برخو ونډه پکې تر نورو ډېره ده، هغه پوښتنې دي چې ان له تېرو پېړیو یې ژبپوهان او ارواه پوهان د ځوابولو لپاره څېړنې کوي. په دې کې د لومړي کار تاریخي شالید د نیوروساینس (Neuroscienc) یا دماغ پوهنې ترهغو پوهانو رسېږي چې په دې اړه یې لومړنۍ څېړنې وکړې او د ژبې او دماغ د څېړلو دغې برخې ته یې د ژبپوهانو او اروا پوهانو پام ور واړاوه. په دوی کې تر ټولو لومړی د فرانسي پال پیري بروکا (۱۸۸۰-۱۸۲۴) نوم یادېږي چې په دماغ کې د ژبې د ځای د څېړنې په تړاو یې لومړنۍ ګام واخیست. بروکا د خورا عجیب شاګرد په توګه پېژندل کېده، چې د بکلوریا زده کړې یې په ادبیاتو، ریاضیاتو او فزیک کې وکړې او وروسته یې طبابت ته مخه کړه. هغه د طب علم ته په ۱۷ کلنۍ کې مخه کړه او په شل کلنۍ کې یې پای ته ورساوه او دا هغه وخت وو چې د ده ډېرو ملګرو اوس (تر ده راروسته) طب ته مخه کړې وه. بروکا وروسته تر دې چې د پاریس په پوهنتون کې یې د څېړونکي او پروفیسور په توګه دنده پیل کړه، د دماغ د اناټومي په اړه یې په خپلو څېړنو کې غوره څه وموندل چې وروسته د ده په نوم ونومول شول ((Broca's area) دغه برخه د دماغ په کینه پیښکه کې پرته ده. بروکا د هغه ناروغ سیده څارنه کوله چې شل کاله په پاریس کې برتي(بستر) وو. ناروغ په هېڅ ډول نه شو ګړېدلای، خو په ټولو هغو خبرو پوهېده، چې اورېدلې به یې او یا به هم خلکو ورته کولې. یعني د خلکو له خبرو یې سم جاج اخیست، مګرپه خپله یې یو ټکی هم نه شو ویلای، خو په پای پای کې، ناروغ د ۵۷ کلونو په منګ (عمر) خپل ژوند له لاسه ورکړ چې له مرګ وروسته یې

سملاسي بروکا د هغه د ذهن څېړنه پيل کړه او په پايله کې يې دا وموندله چې د بستر ناروغ د دماغ په کينه خوا کې ويجاړتيا (اختلال) د دې سبب شوی وو چې د خبرو توان له لاسه ورکړي يعنې هغه ناروغان چې د خبرو کولو توان له لاسه ورکوي د(Broca aphasia)په ناروغي اخته وي چې د دماغ په کينه پيڅکه کې( Broca's area) خپله کارندويي له لاسه ورکوي.

دويم نوم په دې برخه کې د الماني کارل وَرنيک (۱۹۰۵-۱۸۴۸) دی. دی هم نيورولوجيست (عصبي ډاکټر) و. وَرنيک هم د افازيا په اړه ډېرې څېړنې وکړې، ترڅو دې پايلې ته ورسېد چې په دماغ کې د(Broca's area)برخې تر څنګ، (Wernicke's area) برخه هم شته چې د ده پر اند (Broca's area) د کړېدنګ او(Wernicke's area) برخه بيا له کړېدنګ نه د مفهوم اخيستلو (درک، فهم) دندې پر غاړه لري چې د هرې برخې زيانمنېدل، انسان له دوو بېلابېلو ستونزو او ناجوړيو سره مخ کوي. د (Broca's area) زيانمنيدل د کړېدنګ وړتيا له منځه وړي، يعنې په دې ناروغي اخته کس بيا نه شي کولای چې وګړېږي او د( Wernicke's area)زيانمنېدل بيا په ګړېدنګ د درک يا فهم مهارت له منځه وړي ،يعنې په دې ناروغي اخته کس بيا نه شي کولای چې د نورو په خبرو پوه شي او مفهوم ترې واخلي. د وَرنيک موندنو د بروکا له هغو سره يومخيز توپير درلود. وَرنيک له خپلو هغو رنځورانو سره چې د دماغ په(Wernicke's area) کې به يې ويجاړی رامنځ ته شوی وو، د ګړېدنګ په وخت کې وموندله چې په دې ناروغي اخته ناروغان ګړېدلای شي ، خو له کړېدنګ څخه مفهوم نه شي اخيستلای. يعنې کله چې به له ناروغ څخه د يو شي پوښتنه کېدله، د دې پرځای چې هغې پوښتنې ته سم ځواب ووايي، داسې ځواب به يې وايه چې ګرسره به يې له پوښتنې سره څه اړاو تړاو نه درلوود. د دغو دوو برخو د نورې سپړنې لپاره او د دې لپاره چې په دماغ کې به د ژبې له وبله پوهاوي (افهام او تفهيم) سره څومره مرسته کوي، به پرې څه زيات وغږېږو.

د(Broca's area) په برخه کې نورو څېړونکو ويجاړي او ګډوډي داسې راسپړلې ده: د بروکا افازيا(Broca's aphasia)يا ناروغي هغه ناروغي ده چې انسانان د خبرې کولو (تکلم) له راز راز ستونزو سره مخامخوي. دا ناروغي په رورډي د دماغ د کيڼ لوري ته مخامخ برخې له زيا نمنېدلو څخه هغلته رامنځته کېږي چې د دماغ دغه برخه په کې پرته ده. په دې

ناروغي ځيني اخته ناروغان هيڅ ګړېدلاي نه شي، خو ځيني بيا په کليمو پوهيدلو کې ستونزې لري، او د ورته ويل شويو ويېونو (کليمو) جاج و مانا په سختۍ سره درک کوي. مګرځيني ناروغان بيا کېداى شي لږ لږ وګړېږي، خو دغه لږ لږ ګړېدل هم په ډېره خوارۍ سره کوي او کله کله ناسمې کليمې ، ناسم ګرامري جوړښتونه کاروي، او کله کله له غونډلو (جملو) ورې ټوټې غورځوي او نيمګړي غونډلې جوړوي. (۱۰:۲۲۵)

څېړونکی واګنر په خپله څېړنه کې يادونه کړې، چې(Broca's area) نه يوازې دا چې د ګړېدنګ (وينا) په توليد کې ونډه لري، بلکه يوه بله دنده هم ور ترغاړې ده، چې هغه د خبرو د ګرامري اجزاوو د رغاونې هم پازولي(مسؤوليت) دی. نوموړی وړاندې وايي چې(Broca's area) د دماغ په کيڼه پيڅکه کې هغه لويه برخه ده چې په ژبې پورې تړليو د ډېرو نورو اړوندو برخو دندې په کې ترسره کېږي. (۱۱:۸)

څېړونکي همداشان يادونه کوي، چې(Broca's area) په دماغ کې هغه برخه ده چې په پخواني موډل کې د ژبې فاکولټې ورته ويل شوي، يعني د دماغ هغه برخه چې د ژبې اړوند ډېرې دندې پکې ترسره کېږي. نو په دې توګه ويلای شو دماغ هغه برخه ده چې تر ډېره د تکلم دنده پر غاړه لري، خو د دې برخې زيانمنېدل، انسان په ګړېدلو (تکلم) کې له ډول ډول ستونزو سره مخامخ کوي.(۱۳۸:۴)

په بل اړخ کې(Wernicke's area) برخه هم د ژبې د چار(عمليې) په تر سرونه کې غوره نقش لوبوي. دغه برخه هم د دماغ په کيڼه پيڅکه کې پرته ده. څېړونکو ان په ګونګو انسانانو کې (چې د وبله پوهاوي لپاره نغوتژبه کاروي) هم دغه برخه څېړلې او موندلي ده چې لکه د نورو انسانانو په څېر، دوی هم په خپل دماغ کې دغه برخه ټيک همهغلته لري چې نور روغ انسانان يې لري. څېړنو دا هم ښوولې ده چې د ښي لاسو انسانانو د شاوخوا ۹۰ سلنه وګړو دغه برخه د دماغ په همدغه کيڼه پيڅکه کې ټيکاو لري او د کيڼ لاسو هغو د شاوخوا ۷۰ سلنه دغه برخه د دماغ په همدې کيڼه پيڅکه کې پرته وي.

د ژبپوهنې څېړونکی واګنر په دې تړاو په خپلو ليکنو کې ليکلي(Wernicke's aphasia) هغه ناروغي ده چې ناروغ په ټوليزه توګه د دې توان نه شي لرلای چې د يو چا په ګړېدنګ پوه شي او جاج ترې واخلي. دا هم هله رامنځته کېږي، چې د دماغ کيڼه پيڅکه زيانمنه شي. په دې معنا چې همدا (Wernicke's area) هلته پرته ده، چې په

پایله کې یې ناروغ نه شي کولای چې د یو چا د خبرو درک وکړي او په مفهوم یې پوه شي. ټولیزې ستونزې یې دا وي چې ناروغ د هغو کلیمو په معنا (مفهوم) نه پوهېږي چې دی یې اوري، او د ناروغ لپاره ستونزمنه وي چې خپلې خبرې په معنا لرونکو کلیمو واړوي او نور پرې پوه کړي. دوی وړاندې وایي چې دا چې ګړېدنګ (تکلم) د رښتینې بیاځلتیا (تکراري) او نویو وییونو (کلیمو) یوه ګډه ټولګه ده، نو دغه ډول ناروغان دا توان نه لري چې د دغه کار له توغ و توانه ووځي او له خپلې حافظې یې را یادې کړې او معنا والا جاجونه دې ولېږدولای شي.(۲۲۵:۱۰)

څېړونکو دا هم موندلې چې(Wernicke's area) په دماغ کې هغه برخه ده چې د انسانانو د خبرو پوهاوی (درک) ورپورې تړلی. یعني انسانان د خلکو له ګړېدنګ او رازېرېدلو وییونو او غونډلو څخه، د دماغ په دغه برخه کې جاج اخلي. (۱۱:۸)

لکه څرنګه چې وړاندې هم یاده شوه،د دغې برخې لویه دنده دا ده چې انسان ته د دې توانایي ورکړي چې د خبرو درک وکولای شي او په مفاهیمو پوه شي، نو له دې کبله په دې برخه کې ویجاړي د دې لامل ګرځي چې انسان له یادو چمونو (مهارتونو) بې برخې شي. په یوه علمي څېړنه کې (۱۴۲:٦) د ادبیاتو او ژبپوهنې څېړونکی ارمبلي کاږي:« سره له دې چې اوسني څېړونکي، په تېره هغوئ چې د انسان د دماغ او دندو څېړنه کوي) د ژبې او دماغ پر کلاسیک (پخواني) موډل نیوکې کوي، خو اوس هم په هغه موډل کې پاموړ خبرې شته، چې ځینې څېړونکي په دې برخه کې ناسم پوهاوی لري. ددې معنا دا ده چې په دغه کلاسیک موډل کې د دماغ دغه دوې برخې خورا ښې سپړل شوې، چې د ژبې اړوند کومې دندې او مسئولیتونه تر سره کوي، او زیانمنېدل یې په افازیا ناروغي اخته کس له کومو ستونزو سره مخامخوي. خو نن سبا نوې څېړنې او موندنې دا راښیي چې په دماغ کې د دې دوو برخو تر څنګ چې وړاندې پرې خبرې وشوې، ځینې نورې برخې هم شتون لري چې له انسان سره د ژبې په تړاو په بېلابېلو برخو کې دا مرسته کوي چې د وبله پوهاوي (افهام او تفهیم) لپاره یې وکاروي. مګر بیا هم پر ټولو برخو یې غږېدل او پرې لیکل، د دې لیکنې په لمن کې نه شي ځایېدای. په دماغ کې د ژبې اړوند د یادو شویو برخو په باره کې د لا نور پوهاوي او روښانتیا لپاره لاندې انځور وګورئ.




د (Broca's area)او(Wernicke's area) تر منځ اړیکې (انځور۱، ۴:۲)

په انځور کې وینو، په دماغ کې د(Broca's area)او(Wernicke's area) دواړې برخې د دماغ په کیڼ اړخ کې پرتې دي، چې(Broca's area) د کیڼ اړخ په مخکنۍ پیخکه او (Wernicke's are) یې په شاتنۍ پیخکه کې ځای لري. د(Broca's area) له (Wernicke's are) برخې سره د یو شمېر عصبي رېښو په واسطه نښلول شوې، چې دغو رېښو ته(arcuate fasciculus) ویل کېږي. دوی د ژبې د بېلابېلو برخو اړوند معلومات سره د همدغو عصبي رېښو په مټ تبادله کوي، چې په پای کې، ژبه د وبله پوهاوي (افهام او تفهیم) پر اوزار یا وسیله بدلوي، هغه اوزار یا وسیله چې انسانان یې په مرسته د ګړېدلو له لارې خپل پیغامونه نورو ته رسوي او د نورو له ګړېدنګ څخه جاج (مفهوم ) اخلي.

**پایله**

فرانسوي Broca او الماني Wernicke هغه لومړني پوهان ول چې په ۱۹مه پېړۍ کې یې د ژبې او دماغ تر منځ د اړیکو د څېړلو نوی ور پرانیست. دوی د ناروغانو د دماغي ناروغیو د ویجاړ تیاوو (اختلال) بېلابېلو نښو نښانو ته ځیر شول په پای کې دې پایلې ته ورسېدل چې د انسان په دماغ کې داسې دوې برخې شته چې د ژبې د ډېرو مسئلو اړونده دنده پر غاړه لري. دغه دوې برخې چې روسته د دوی په خپلو نومونو ونومول شوې د (Broca's area)او(Wernicke's area) برخې دي، د ډېرو انسانانو د دماغ په کیڼه پیخکه کې ځای پر ځای دي. روستیو څېړونکو/څېړنو هم ښوولې چې دغه دوې برخې له انسانانو سره په ګړېدا (تکلم) او پوهېدا (تفهم) دواړو

کې مرسته کوي، خو د پخوانیو څېړنو ارزښت ته په کتو، چې د دماغ او ژبې په اړه یې نوې دریځه پرانیسته، دوی هغه تېرې څېړنې چې د بروکا او وَرنیک له خوا شوي وې، بسنده و نه بللې او پر دې سربېره یې وویل چې په دماغ کې ځینې نورې برخې هم شته چې د ژبې په چارو یا مسئلو کې ښکېلې دي. د دوی پر اند، پر پخوانیو څېړنو بسنه نه شي کېدای چې تر ډېره د ژبې ډېرې غورې دندې چې وبله پوهاوی (افهام او تفهیم) دي په همدې دوو برخو کې تر سره کېږي.(Broca's area ) برخه د ګړېدنګ (تکلم) د برخې دنده پرمخ وړي او که چېرته د انسان د دماغ دغه برخه زیانمنه شي نو نه شي کولای چې سم وکړېدلای شي. ان ځینې انسانان، د څېړنو پر بنسټ، هیڅ ګړېدلای نه شي، خو ځینې بیا لږ لږ ګړېدلای شي چې همدا لږ لږ ګړېدل هم په ډېره خوارۍ سره کوي. (Wernicke's area) برخه بیا له وینا (کلام) نه د مفهوم اخیستلو (درک) چاره مخته وړي. د دماغ د دې برخې په زیانمنېدو سره انسانان نه شي کولای چې د نورو له خبرو مفهوم واخلي او پرې پوه شي. یعني په لنډه توګه ویلای شو، چې د ژبې او دماغ تر منځ د اړیکو په مسئله کې د(Broca's area) او(Wernicke's area) برخې خورا مهم رول لري او تر ډېره د ژبنیو مسئلو په برخه کې دوی لویه ونډه لري، خو د مغز-ژبپوهنې(Neurolinguistics) د برخې د څېړونکو لپاره اوس هم ستونزمنه ده چې په سیده توګه د انسان د دماغ فعالیت مشاهده کړي چې د ژبې اړوند پروسه پکې څنګه صورت نیسي. یوه ستونزه دا ده چې د نورو برخو عالمان او څېړونکي په دغسې مبهمو مسئلو کې پر حیواناتو او یا هم مرغانو خپلې څېړنې کوي، اما د مغز ـ ژبپوهنې(Neurolinguistics) څېړونکو ته ځکه دا خورا ستونزمنه ده چې له انسان نه پرته، په نورو حیواناتو کې دغسې ګډې نقطې نشته چې څېړنه دې ورباندې وشي او د ژبې د تکلم او تفهم اړوند دې له انسان نه پرته، پر نورو ژوندیو موجوداتو څېړنه وکړي. خو بیا هم، ممکن د څېړنې د نویو څېړندودونو (میتودونو او د ټیکنالوژي په لا نور پرمختګ سره به یو وخت د نړۍ ددې استثنایي مخلوق (انسان) دغه معما هم څرګنده شي چې د ژبې سیستم یې په دماغ کې په څه ډول سره صورت نیسي. دا چې د دماغ نورې کومې برخې (په نویو موډلونو کې) د ژبې په نورو کومو مسئلو کې ښکېلې دي او یا هم نویو څېړنو را سپړلي دي او یا هم هغه کومې نیګرتیاوې دي چې د ژبې او دماغ د اړیکو تر منځ په کلاسیک موډل کې تر سترګو کېږي، دا هغه پوښتنې

دي چې د ژبپوهانو له لورې باید په نورو څېړنو کې وڅېړل شي او په اړه یې مناسب ځوابونه پیدا او له لوستونکو سره شریک شي.

## مأخذونه


1-Ardila, A. (2011). There are two different language systems in the brain. Journal of

٢_Behavioral and Brain Science, ١(٠٢), .٢٣

٣_ Aremblay, P., & Dick, A. S. (٢٠١٦). Broca and Wernicke are dead, or moving past the classic model of

٤_language neurobiology. Brain and language, ١٦٢, .٦٠-٧١

٥_Blakemore, S. J., & Frith, U. (٢٠٠٥). The learning brain: Lessons for education.

Blackwell publishing.

٦_Hagoort, P. (٢٠١٤). Nodes and networks in the neural architecture for language:

٧_Broca's region and beyond. Current opinion in Neurobiology, ٢٨, .١٣٦-١٤١

٨_Muriel, S. T. (٢٠٠٦). Introducing second language acquisition. Cambridge

9_University Press: UK.

Poeppel, D. (٢٠١٤). The neuroanatomic and neurophysiological infrastructure for

١٠_speech and language. Current Opinion in Neurobiology, ٢٨, .١٤٢-١٤٩

١١_ Poeppel, D., & Hickok, G. (٢٠٠٤). Towards a new functional anatomy of language.

١٢_Cognition, ٩٢(١-٢), ١– .١٢

١٣_Rilling, J. K. (٢٠١٤). Comparative primate neurobiology and the evolution of brain

١٤_language systems. Current Opinion in Neurobiology, ٢٨, ١٠– .١٤

١٥_Wagner, H., & Silber, K. (٢٠٠٤). BIOS Instant Notes in Physiological Psychology.

Garland Science.

څېړنپوه دکتور عبدالظاهر شکیب

# د سهیلي پښتونخوا د پښتو ناول تاریخي بهیر

# Historical process of the Pashto novel of South Pakhtunkhwa

**Prof. ph.D. Abdul Zahir Shakib**

**Abstract**

if we look at the historical process of the novel In Pashto literature, it faces a number of mistakes and chaos from beginning to end, although it has been more than a century in Pashto literature that the novel has revealed its existence and the first time it has come to the feet through translation. then good work has been done in Pakhtunkhwa and Afghanistan and many novels have been written. This process is still ongoing and new Pashto novels are being written.

As far as south Pakhtunkhwa is concerned, this region is lags behind other Pashtun regions in this regard. the novel first entered south Pakhtunkhwa in the form of a translation in the last years of the twentieth century or the early years of the twenty-first century, just as it had done for Pashto. The first Pashtun author, Sai Kamal Khan Shirani, translated the renowned French author and novelist Walter's novel (candidate) into Pashto, renaming it (speslay) and having it published by the Pakhtunkhwa mile awami party's literary wing. we have briefly reviewed the South Pakhtunkhwa novels in this article, as well as the forty other novels from this region.

## لنډيز

تر کومه ځایه چې په پښتو ادب کې د ناول خبره ده، نو که په پښتو ادب کې د ناول تاریخي بهیر ته وکتل شي ، له پیله تر پایه له یو لړ تېروتنو او ګډوډیو سره مخامخ دی ، هر لیکوال چې د خپل کوم دوست یا خیرخوا ناول په لاس راوړی ، د هغه په اړه یې پرته له کوم تحقیق پریکړه کړې او په دغه بهیر کې یې هغه دلوړ مقام او د پښتو په لومړنیو لیکل شوو ناولونو کې شمېرلی دی. ځینو خو لا د یو غیر معیاري ناول په اړه تر ورتېره بریده مبالغه کړې، خو د حقدارو ناولونو په اړه د یو لړ مصلحتونو له مخې پټې سترګې او کاڼه غوږونه پاتې شوی دی. په دې څېړنو کې داسې ړانده قضاوتونه هم لیدل کېږي چې زماپه څېر یو لوستونکی یې په لوستلو او کتلو حیران پاتې کېږي، ځینو خو بیا په دې برخه کې پرته له مطالعې او پلټنې داسې په لوړ زړه له صلاحیتونو کار اخیستی چې سړی ورته ګوته په غاښ شي. په دې لیکنو او سپړنو کې ځینو لیکوالو په لوی لاس کوښښ کړی چې په پښتو ادب کې د ناول د تاریخي بهیر په اړه شوې پلټنې بې باوره کړي، ځینو خو بیا په دې برخه کې خپل سلیقوي برخوردونه هم پاللي او په یو وخت کې یې همدا یو ناول د پښتو ډېر معتبر او ځینو ورته بیا د بې ارزښته په سترګه کتلي او د ناول ګڼلو نه یې انکاري شوي هم دي. که زه چېرې په خپله دې لیکنه کې د ناول په تاریخي بهیر خبرې پیل کړم او د نړیوال ادب او پښتو ادب په اړانه کې د ناولونو تاریخچه راوسپړم، نو موضوع به راځخه اوږده شي او بیا به د یوې لنډې تنګې مقالې له دایرې بهر شي، نو دلته په پورته خبرو بسنه کوم او په سهیلي پښتونخوا کې د ناول د پیل په اړه څو لنډې خبرې کوم.

## سريزه

ناول د یوې ټولنې د لوړتیا او ځوړتیا په اړه موږ ته پیغامونه لري ، پرمختللې ټولنې په ځانګړي ډول شرقي ټولنو د خپلو وګړو د اذهانو په روښانولو کې تل له داستاني ټیپ یا سبک نه کار اخیستی او په دې اند دي، همدا ډول دی چې په سیستماتیکه توګه د خپلو خلکو راتلونکې روښانولی او د بریا لارې ورته په ګوته کولای شي، دا یې د سیکالوژیکي پلوه غوره ټاکنه ده ، څو یې ټولنه د خپل ټاکونکي ژوند د سمون لار رڼه ومومي. د ناول په مرسته کېدای شي چې یوه ټولنه له فکري پلوه سمې لارې ته وهڅول شي، چې زموږ په ټولنه کې په دې اړه دځینو لیکوالو کوښښونه د هېرېدو نه دي او د پوره ستاینې وړ دي، نو

ناول د یوې ټولنې په رغونه او د وګړو د سمې روزنې لپاره ډېر ښه ثابتېدای شي چې د سهیلي پښتونخوا لیکوالو په دې برخه کې تر ډېره خپل مسؤلیت اداء کړی دی. که لیکوال وغواړي چې یوه ښه ټولنه ولري نو دا یې په ذهني تمرکز پورې اړه لري چې د خپلې ټولنې نویو او یا راتلونکو نسلونو ته کومه لاره ټاکي ، ښه که بده ؟ که د ښې لارې د ښوولو کوښښ یې وکړ ، نو پوه شه چې د خپل اصیل فرهنګ د ښودنې استازولي یې وکړه او که د بدې لارې پر لور یې د هغوی هڅونه وکړه، نو دا د لیکوال اغیزمنتوب ښیي او ضرور به هغه له بلې ټولنې نه متاثر وي او له خپلې ټولنې نه به په غیر منطقي ډول زړه توری وي. ناول لیکونکي ته بویه چې ددغو مسایلو په رڼا کې د لیکلو پر مهال خپله موضوع په ډېر ژور او د اړتیا وړ موخو پر بنسټ ولیکي او داسې فکر وکړي چې زما د لیکنې پایله به څه وي، زما دا کوښښ به ترکومه بریده د خپل ولس او خلکو د کوم درد دوا شي ؟ د کیسې خوړلني مې په څه کې ده ؟ مکالمې او نور اړین توکي له اخلاقي پلوه د منلو او زغم وړ دي کنه ؟ زما د شخصیت تر بریده د ټولنې د نورو نسلونو د شخصیت موندنې په لوړاوي کې به مرسته وکړي که ضرر او اغېز به یې څومره وي؟ په دې ناول کې زما د ټولنې څومره بدیو او څومره نیکیو ته لاربښوونه شوې او په دې کیسه کې مې د خپلې ټولنې درناوی کړی، که سپکاوی؟.... زما په فکر تر دې نورې لا ډېرې پوښتنې باید د یو ناول لیکلو پر مهال د لیکوال په فکر کې د یوې ځانګړې فرضیې په ډول موجودې وي او ځان د خپلو پوښتنو د ځوابولو لپاره مخاطب کړي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

دا خبره له موږ سره زیاتره څېړونکي مني چې د نړۍ په کتابتونونو کې ښه ډېره برخه د ناولونو ده. هغه کسان چې د نړۍ په کتابتونونو ګرځېدلي، هغوی کتلي چې په ډېری کتابتونونو کې په ښه لوړه سلنه ناولونه شته دي. د سهیلي پښتونخوا لیکوالو هم، د ناول په برخه کې ډېر همت کړی دی، همدلته په ښه اوچته سویه یو شمېر په تول تللي او سټنډرډ (معیاري) ناولونه لیکل شوي دي. د دې مقالې د لیکنې اهمیت او مبرمیت هم په دې کې دی چې د ادبیاتو د دې ډېر مهم ژانر یعنې پښتو ناول په برخه کې دوی تر ډېره بریده پورې خپله ادبي او تاریخي ژمنتیا پوره کړې ده.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې په سهیلي پښتونخوا کې د پښتو ناول تاریخي بهیر روښانه شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ په سويلي پښتونخوا کې د پښتو ناول ليکنې بهير څه او څنګه پيل شوی دی؟

۲ـ د سويلي پښتونخوا د پښتو ناولونو منځپانګه کوم مسايل رانغاړي؟

## د څېړنې ميتود

په دې ليکنه کې له تشرېحي او تاريخي ميتود څخه کار اخيستل شوی دی.

### اصلي موضوع

که څه هم ناول په پښتو ادب کې له يوې پېړۍ زيات وخت وشو چې خپل موجوديت څرګند کړی او لومړی ځل يې سر د ترجمې له لارې راښکاره کړی او بيا په افغانستان او پښتونخوا کې ښايسته ښه کار پرې شوی دی او اوس دا مزل په ډېرې تېزۍ روان دی. تر کومه چې خبره د سهيلي پښتونخوا ده ، نو په دې مزل کې له نورو پښتني سيمو څخه دا سيمه وروسته پاتې ده ، په دې اړه عبدالکريم بريالی وايي : « د جديد نثر نګارۍ له پلوه زموږ سيمه ښخي پاته معلومېږي ، په افسانه ، ناول او ډرامه باندې يې توجه ښخي نسته .» ( ۱ )

لکه څنګه چې مو مخکې يادونه وکړه، پښتو ته ناول د ترجمې له لارې راغلی، همدغه ډول سهيلي پښتونخوا ته هم ناول د لومړي ځل لپاره د ترجمې په شکل کې راغلی دی، سايي کمال خان شيرانی لومړنی پښتون ليکوال دی چې د نامتو فرانسوي ليکوال او ناول نګار والټر شاهکار ناول (کينديد) يې په پښتو ژبه د (سپېڅلي) په نامه وژباړه او د پښتونخوا ملي عوامي ګوند د ادبي څانګې له خوا چاپ شو. دا ناول ډېر په هنر او سوچه پښتو کې ژباړل شوی دی او د لوستلو پر وخت داسې نه محسوسيږي چې ګوندې دا دې کومه ژباړه وي. (۲ )

ترکومه چې په سهيلي پښتو نخوا کې د طبع زاد ناول د ليکلو خبره ده ، نو په دې اړه بېلا بېل نظريات دي ، خو تر دې مهاله د ناولونو په نوم ځلوېښت اثره په سهيلي پښتونخوا کې ليکل شوي. ډاکټر نصرالله جان وزير او ډاکټر عثمان توبه وال په يوه مشترکه مقاله کې ليکي چې : «په سهيلي پښتونخوا کې د پښتو افسانوي ادب وړانګې د شلمې پېړۍ له نيمايي څخه راوروسته هغه وخت راخورې شوي دي ، چې خدای بخښلی سايي کمال خان شيراني د پښتو ادبي او صحافتي هلو ځلو ته د

خپلې میاشتنۍ رسالې (پښتو) له لارې دوام ورکړلو ، له دې سره په سهیلي پښتونخوا کې افسانه د ۱۹۵۳ع کال څخه او ناول یې څه کم سل کاله وروسته تر ۲۰۰۵ عیسوي کال په حساب راشروع شوی دی، ولې د پښتونخوا په سهیلي برخه کې چې کومه قیصه په ۲۰۰۵ ع کال د ناول په څېر راپېژندل شوې ده ، هغه د ناظر صادق نومې لیکوال لیکلې یوه اوږده قیصه (وچه لښته) ده چې ورته ناول ویل شوی دی .» (۳ )

نوموړی پر دغه ناول د تبصرې وروسته دې نتیجې ته رسېدلی چې دغه ناول د ناول ټولې اړتیاوې نه پوره کوي او په تکنیکي ډول نیمګړتیا لري ، نو زیاتوي چې : «ځکه نو (وچه لښته) چې د یو مکمل ناول اړتیاوې نه پوره کوي ، نو بیا خو د سیمه ییزو ناولونو په تذکره کې ددې اولیت مقام په باب خو هم سوالیه نشان پید اکېږي له دې کبله که دې ته اوږده افسانه یا ناول نما وویل شي، نو به هم بې ځایه نه وي... د سیمه ییز ناول په تذکره کې که څه هم ډېر نومونه یادېدلی شي، چې د (وچه لښته) وروسته په دا ډګر کې رامنځ ته شوي دي ، خو له دې څخه کوم چاته په صحیح معنو کې په دغه سیمه کې د اول ناول لیکونکي دستار تړل کیدای شي هغه ادیب افضل شوق او د هغه ناول (پروني مخونه ) دی.» ( ٤ )

(پروني مخونه) د افضل شوق یو تاریخي ناول دی چې په ۲۰۰٦ م کال د سکام پښتو ادبي اکاډمي کوټې له خوا په ۳۲۲ مخونو کې چاپ شوی دی ، دا ناول ټول ځلرویشت فصلونه یا بابونه لري ، د ناول په اخر کې د ناول لپاره د تاریخي کتابونو ریفرنس هم ورکړل شوی دی ، چې په دغه ناول کې ترې ګټه اخیستل شوې ده . پر ناول استاد سعدالدین شپون د (ښایسته ملغلره) تر سرلیک لاندې ، زرین انځور د (یو لیکوال یو سېلانی ، یو ناول ) تر سرلیک لاندې ، طاهر اپریدي (د شوق سفر) تر سرلیک لاندې، او افضل شوق د (زه هم غواړم چې څه ووایم) تر سرلیک لاندې سریزې لیکلې دي. ددې ناول په سریزه کې استاد شپون داسې لیکي : « په پروني مخونه کې د مصر او ځینو نورو ځایونو په زړه پورې انځورکشي هم ده ، ښکاري دا چې د شوق سترګې برسېره په انساني ښکلا د نړۍ په ښکلا هم نه مړېږي ، د مصر د اهرامونو نه نیولې د آلپ تر واورینو څوکو یو هم دده د قلم نه، نه دي پاتي ، زه د شوق داسې راتلونکو ناولونو ته سترګې په لار یم چې پام یې په ښو شي ، د خپلې پښتونخوا انځورکشي هم په همدې تفصیل او مهارت وکړي ، چې چا یې لا له جماله پلو نه دی

لرې کړی. په پروني مخونه کې د سېلاني مينه يو ستوې او يو پوړيزه نه ده ، بلکې لکه پراته پټ په پټ او لکه د پښتنو ناوې په اوو شالونو کې پټه ده.» ( ٥) زرين انځور بيا د (پروني مخونو) په اړه خپل نظر داسې څرګندوی : « پروني مخونه داسې يو ناول دی ، چې د نوې نړۍ د مينو او هوسونو ، د نويو اړيکو ، د نويو حقيقتونو تسلسل داستاني کوي او په ډېره په زړه پورې او خوږه بڼه يې وړاندې کوي ، د نړۍ د نندارچيانو او سېلانيانو لپاره د يو ستر لرغوني مرکز مصر ، تاريخي نندارې هم په کې کولای شو او د نوې زمانې د نويو ځوانانو او پېغلو د مينې او هوسونو ډېرې ښې ننداري هم په هنري بڼه وړاندې کوي . په حقيقت کې د ختيځ د تاريخ يوه داسې نندراه ده ، چې د نن د لويديځ اغېزې هم ورسره ملګرې شوي دي او د نوي تمدن او په زَړه دنيا کې د نويو حالاتو کيسې راته کوي ، د سېلاني پښتون شاعر او په مصر کې د زده کوونکې (وسا) نوې هغې پېغلې مينه چې کورنۍ يې ترکي ريښه لري او اوس الجيريان دي او د فرانسې اثرات هم پرې پرېمانه ليدل کېږي ، دا ټول د ختيځو ټولنو هغه نوي حقيقتونه دي چې ښاغلی ليکوال يې په خوږه ژبه موږ ته وړاندې کوي . پروني مخونه يو ډېر خوږ ناول دی او په داسې بڼه کښل شوی ، چې لوستونکی په پرلپسې توګه د ځان په لوري کشوي او نه يې پرېږدي چې د پاتې برخې له لوستلو يې تېر شي او دا د يو داستاني اثر مهمه خوبي ده. »( ٦) آغلې حسينه ګل ددې ناول په اړه وايي :« په دې ناول کې افضل شوق د ناول د اهم کردار يا هيرو په شکل کې د مختلفو تاريخونو، تهذيبونو، تمدنونو د سفر د پړاوونو نه تېرېږي.افضل شوق په دې ناول کې د واقعاتو سره تړلې قيصې او افسانې دومره په دلچسپۍ وړاندې کړي دي چې په بيانيه او مکالماتي انداز کې هيڅ قسم ابهام مخې ته نه راځي»( ٧) اغلې حسينه ګل د ناول نګارۍ د فن په اړه هم ډېره ښه غږېدلې ده ، د پروني مخونه د ناول په پلاټ، کردار نګارۍ، منظرکشۍ او د بيان په طرز او نورو اړخونو يې ښې مفصلې خبرې کړي دي.

ډاکټر نصرالله جان وزير او ډاکټر عثمان توبه وال ددې ناول يو عکس داسې وړاندې کړی دی: « د شوق د ليک انداز ډېر په زړه پورې ، مکالمې يې چستې ، معنی خېزې او يو ډول په مخ تللی فکر خپروي ، فقرې يې ساده ، روانې ، برجسته او ښکلی اهنګ لري ، په قيصه کې غير ماحول په وړاندې کولو سره قيصې ته ښکلا او رنګيني

وربخښي، تجسس یې یو په څو چنده زیات، موضوع یې واضحه او د پلاټ سکښت یې هم تر ډېره په زړه پورې دی. د هر کردار تر شا یې د تهذیبي او ثقافتي اقدارو د ښوونو هڅه کړې ده ، د اهدافو په تر سره کولو کې یې له لغویاتو ، پروپېګنډې او یا بل کوم تبلیغ ته ځای نه دی ورکړی، تر وسه یې زیار کړی چې مناظر او واقعات په حقیقي بڼه وړاندې کړي او هم یې د خپل استعداد مطابق زیار کړی چې د فن غوښتنې تر نظر لاندې وساتي، د تاریخ له پاڼو څخه یې هم یو څه راسپړلي دي ، که څه هم دا ناول د هغه د شخصي مینې یو رومانوي تاثر دی، ولې هغه دا رومانوي داستان د نړۍ د حسن او عشق په دریڅو کې داسې وړاندې کړی ، ګویا چې دا هم په هیڅ صورت له نورو جهاني مینې کم نه دی، په دې کې د منظر کشۍ کوم مهارت چې ښودل شوی، له هغه څخه دده د فن لوړتیا هم ښه څرګنده ده. هر کله چې وچه لښته د یو بشپړ ناول تقاضې نه پوره کوي، نو بیا خو دلته دا امکان پیدا کېدلی شي چې د وچه لښته په ځای دې د افضل شوق (**پروني مخونه**) په دا سیمه د پښتو اول ناول ولې نه وګڼلی شي ، ځکه چې په فني او فکري توګه دا د یو ناول په ټولو لوازماتو پوره خېژي.»( ۸)

د ډاکټر نصرالله جان وزیر او عثمان توبه وال له خبرو داسې ښکاري چې هغه یوازې د تخینکي ستونزو په اړه ناول له لومړی کتاره کاږي، کنه په خپله یې ورته د ناول نوم په یو ډول ورکړی هم دی.

د لومړي ناول په اړه یوه څه اختلاف شته ، په دې معنا چې یوسف ساحل په دې اړه وايي: «د ځینو فني نیمګړتیاوو پر بنسټ د ناظر صادق ناول (وچه لښته) سره اختلاف کېدلی شي ، لومړی ناول نه ګڼل یې د لیکوال حق تلفي ده ، چې ډېرو لیکوالو په دې باب نظرونه شته او لري یې ، په سهیلي پښتونخوا کې د ناول لومړي سفر په بهیر کې اعزاز ناظر صادق ته ور په برخه دی.» (۹ )

زرین انځور چې پر (وچه لښته) او (پروني مخونه) آثارو یې سریزې لیکلي دي ، په خپل یو اثر کې په دې اړه خپل نظر داسې څرګندوي : « زما په نظر دغه دواړه آثار په سهیلي پښتونخوا کې د ناول لیکنې لومړنۍ هڅې دي ، لومړنی هغه یې که ډېر مفصل نه دی او بشپړ ناول نه وي ، نو اوږده کیسه هم ناول دی او که منځنۍ هغه یې وګڼو،

نو ناولېټ یا ناولګوټی خو خامخا دی ، زما د ګران دوست افضل شوق (پروني مخونه) هم لکه ښاغلو لیکوالو چې مخکې ذکر کړی دی د تاریخي پېښو او مینې یوه داستاني ډوله انځورګري ده چې سفرنامه یي (یونلیکي) ځانګړنې یې هم ورسره ملې دي ، په دې توګه دواړه د ناول لیکنې په لومړنیو کړیو کې خپل ارزښت لري.»( ۱۰ )

د (وچه لښته) ناول پر کتاب د پښتو ادبي غورځنګ په یادښت کې داسې راغلي دي : «که څه هم د پښتو ادب په ډېرو اړخونو باندې د کارونو اړتیا لیدل کېږي ، خو په ځانګړې توګه د ناول برخه جدي پاملرنې ته اړتیا لري او که د پښتونخوا د نورو سیمو لیکوالو دغه اړخ ته څه نا څه کار کړی دی ، خو د لویدیځې پښتونخوا دغه سیمه په کومه کې چې موږ ژوند کوو، د پښتو غولی یې د ناول څخه تر اوسه بې برخې و ، اوس دغه دی د ښاغلي ناظر صادق ناول (وچه لښته ) چې ستاسو په لاسونو کې دی ، نو موږ ویلی شو چې دې سیمې هم ناول پیدا کړ او که خدای کول ددې سیمې نور لیکوال د ناول و اړخ ته کار وکړي که څه هم دغه ویاړ د پښتو ادبي غورځنګ ته په برخه کېږي چې ددې سیمې لومړی ناول یې چاپ کړ ، خو موږ به یې ویاړ هغه وخت وګڼو چې د سیمې نور لیکوال د ناول لیکلو اړخ ته اړ کړي او د پښتو غولي ته یو لړ ناولونه وړاندې کړي.» (۱۱ )

رشید احمد په خپل اثر پښتو ناول سل کاله کې وایي : « د سهیلي پښتونخوا یو نوموړي شخصیت او سیاستدان یو پښتو ناول د تېرې پېړۍ په اتیایمه لسیزه کې لیکلی او خور کړی وو ، ولې هیچا هم ددغه ناول یا کتاب ذکر نه دی کړی ، ډاکټر نصرالله جان وزیر او ډاکټر عثمان توبه وال خو په خپله مقاله کې هڅو ددې ذکر نه دی کړی ، چې په کال ۲۰۱۱ ع کې په مجله تکتو کې چاپ ده او ددې نه وړاندې ډاکټر عبدالهادي بازۍ د ابراهیم عطایي د یوې لیکنې په ځواب کې په خپله مقاله کې لیکلي دي ، چې تر ننه په ټول بلوچستان کې یو پښتون لیکوال داسې نشته چې ناول یې لیکلی دی ، نو دلته زه د محترم محمودخان اڅکزي ناول (دکوټې د اووم ۷ اکتوبر رزم ) وړاندې کوم ، دغه ناول په اردو ژبه کې هم ترجمه شوی او خور شوی دی ... دا ناول ډېر اهمیت لري یو خو دا د سهیلي پښتونخوا وړومبی ناول دی چې په کال ۱۹۸۴-۸۵ع کې چاپ او خور شوی دی... او بله دا چې دا یو مهم ستر سیاسي شخصیت لیکلی دی او تر ننه پورې هیڅ چا هم نه ذکر کړی او نه یې ورله چېرته حواله ورکړې ده »( ۱۲ )

رشيد احمد زياتوي : « د کوټې اووم اکتوبر رزم يو داسې ناول دی چې د پښتو ناول په تاريخ کې ذکر نشته او چا د ناولونو په شمېره کې نه دی راوستی ، ددې په حقله ټول محققين خاموش دي او ټول ليکوال د ناظر صادق (وچه لښته، ۲۰۰۵ ) د سهيلي پښتونخوا وړومبی ناول گڼي ، ولې داسې نه ده (وچه لښته) د سهيلي پښتونخوا دويم ناول او د اووم اکتوبر رزم وړومبی ناول دی.» (۱۳ )

خو د رشيد احمد د پورته خبرو په ځواب کې يوسف ساحل او ډاکټر جاويد اقبال په تکتو مجله کې د استاد محمد ابراهيم عطايي ، استاد هيوادمل او ځينو نورو لاسوندونو پر اساس جوابونه ورکړي او (د کوټې د اووم اکتوبر رزم) اثر يې د ناول پر ځای اوچرک گڼلی دی، هغوی وايي : « د اووم اکتوبر زياته برخه د اوچرک خصوصيات لري ، خو کله کله د راپورتاژ رنگ هم پرې غالب شي او ځينو ځايونو کې خو داسې ښکاري لکه يو صحافي چې د يوې واقعې رپورټينگ کوي چې هيڅ داخليت په کې نه وي ، د راپورتاژ او رپورټ دغو شوخو امتزاجي رنگونو سره کله چې ليکوال د تجسس فني حربه هم ملگرې کړي ، کومه چې د افسانوي ادب خاصه گڼل کېږي، نو د اووم اکتوبر رزم صنفي تعيين نور هم مشکل شي، پښتو ادب کې دا يوه نوې تجربه ده چې ښاغلي ليکوال په غير شعوري ډول کړې ده ، ځکه چې نه خو ليکوال د اوچرک د صنف نه خبر و او نه يې د افسانوي ادب او غير افسانوي تخليقي ادب غير معمولي تجربه لرله د ورکړی شوو حوالو نه پس موږ په دې نتيجه رسېدلي يو چې د کوټې اووم اکتوبر رزم د افسانوي ادب (داستان، ناول ، ناولټ ، ډرامه ، افسانه ) سره هيڅ تعلق نه لري ، دغه اثر ځينو ځايونو کې د راپورتاژ رنگ ضرور لري ، ولې دغه رنگ تر اخره ښاغلي ليکوال برقرار نه دی ساتلی، په دې بنياد دې ته راپورتاژ ويل هم نه دي پکار ، چونکې په دغه اثر کې د نورو صنفونو په نسبت د اوچرک زيات خصوصيات په نظر راځي ، لهذا ددغو خصوصياتو پر بنياد موږ دې ته د اوچرک نما داستان په ځای د اوچرک يوه ابتدايي نمونه ويلی شو ، چې ښاغلي ليکوال په غير شعوري توگه ترسره کړې ده، د کوټې د اووم اکتوبر رزم ته دا اعزاز هم حاصل دی چې دا د پښتو وړومبی اوچرک دی، چې دې نه مخکې په دې صنف چا هم طبع ازمايي نه ده کړې.»(١٤ )

رشيد احمد هم په دې باره کې خپل متقابل جوابونه وړاندې کړي دي، چې دلته ترې تېرېږو، بايد يادونه وکړو چې که د کوټې د اووم اکتوبر رزم اثر په ژور نظر وکتل

شي، نو ددې تر څنګ چې د اوچرک ژورنالیستیک ژانر رنګ په کې ښکاري ، په ځینو ځایونو کې هنري ادبي خوږلني او خصوصیات هم لري ، مکالمې ، ادبي ژبه او کیسه یې کله کله د ناول تر سرحده هم ورسوي او کله چې بیا د ناول ټول تخنیکونه پرې تطبیق شي، نو بیا له دې ساحې څخه بهر شي او کله کله د راپورتاژ شکل هم غوره کوي او کله خو سړی داسې فکر کوي چې د تاریخ کتاب لولي ، په هر صورت د کوټې د اووم اکتوبر رزم هیڅ کله هم لیکوال د ناول یا راپورتاژ یا بل کوم ادبي جوړښت او ژانر په نوم نه دی لیکلي ، بلکې د یو خاص هدف لپاره لیکل شوی اثر دی، چې د ناول سره ډېر نږدې فورم دی.

زرین انځور چې د داستاني ادبیاتو په اړه د نظر خاوند دی هم په دې اړه داسې نظر لري: « زما په نظر د کوټې اووم اکتوبر رزم تاریخي ، سیاسي او فکري یا نظریاتي اړخ لري ، له لیکلو څخه یې د ښاغلي لیکوال موخه د پوځي مارشل لا له هغو ظلمونو او غیر انساني کړنو څخه پرده پورته کول وو ، چې د بې وسلې مظاهره کوونکو پښتنو پر وړاندې یې ترسره کړل دا د کتاب د محتوا برخه ده ، خو د لیکلو بڼه یې یوه داسې ترکیبي بڼه ده ، چې ژورنالیستیک او تخلیقي هنر په کې په ګډه کارېدلی دی ، بیان یې یو ډول داستاني دی او له همدې کبله یې د داستاني ادبیاتو له کتاره په بشپړ ډول نه شو بهر کولای ، لکه د سینما په هنر کې چې ډاکومنټري یا مستند فلم ، هنري اړخ هم ولري ، داسې خو مستندې لیکنې هم خپل خاص هنري ارزښت لري ، دغه اثر هم یو سیاسي ، فکري او تاریخي ناول په توګه مطرح کېدای شي او سره له دې چې لیکوال یې د ناول په نوم نه دی لیکلی ، خو د سیاسي - تاریخي ناولونو په کتار کې د مطالعې وړ دی ، ځینې نومونه، کرکټرونه او پېښې د لیکوال ایجاد دی ، د هغه په تخیل پورې اړه پیدا کوي، خو دغه خواوې یې هم د پېښو اصلي اړخ ته چې د لیکوال اصلي مقصد دی ، تاوان نه ور رسوي . په نړۍ کې ډېر داسې تاریخي - سیاسي ناولونه شته چې د مشخصو تاریخي پېښو پر بنسټ لیکل شوي دي ، خو د لیکوال د تخیل او تخلیق قوت هم ورسره ملګری شوی او تاریخي ، هنري داستاني اثر یې ترې جوړ کړی دی ... ددې اثر له ۹۲ څخه تر ۱۰۵ مخ پورې چې په بشپړه توګه د پښتونخوا د معاصر تاریخ د یو څپرکي په توګه دی او د ناول پر ځای کټ مټ تاریخ دی ، خو بیا هم د کوټې د اووم اکتوبر رزم عمومي جوړښت او سکښت ناول ته تر بل هرڅه نږدې دی.» ( ۱۵ )

له پورته څېړنو وروسته په ۲۰۱۸ م کال کله چې د عبدالعلی غورغښتي ناول «اوښکې» پیدا او چاپ شو ، نو ددغه اثر په سریزه کې رشید احمد ولیکل چې: « ددې ناول کیسه هم عجیبه ده محترم عبدالعلي غورغوښتي دا ناول د کال ۱۹۷۹ په دولسمه میاشت کې تخلیق کړی وو او بیا یې ښاغلي عمر گل عسکر ته د مشورې یا تبصرې لپاره ورکړی وو ، چې خپله رایه پرې ورکړي ، ولې ښاغلي عمر گل عسکر دغه کتاب یا ناول داسې خوندي کړو چې هڅو بیا ترینه هېر شو ، خو کله چې محترم عبدالعلی غورغوښتي په ۸ فبروري کال ۲۰۱۸ کې وفات شو ، نو عمرگل عسکر صیب دوه وروځې وروستو یعنې په لسمه فبروري کال ۲۰۱۸ کې خپل کتابونه لټول چې ددغه ناول قلمي نسخه په لاس ورغله او هم په هغه ورځ یې نجیب زړگي علیخېل ته ورکړه او کیسه یې ورته وکړه ، چا چې د خدای بخښلي غورغوښتي برخودار طاهر ځلاند ته حواله کړه او داسې یې ورله د چاپ تابیا وکړه... لکه څنگه چې د پښتو وړومبی ترجمه شوی ناول د میا حسیب گل کاکاخېل «نقش نگین» دی چې هغه د کال ۱۸۷۹ خواوشا ترجمه کړی وو ، ولې بیا چاپ ډېر وروستو په کال ۱۹۵۷ کې شو، ددې نه وروسته میا محمد یوسف کاکاخېل د اردو ناول «توبة النصوح» هم په دغه نامه په کال ۱۹۰۴ کې پښتو ته ترجمه کړو چې هم په دغه کال چاپ شو او دغه د میامحمد یوسف کاکاخېل پښتو لومړی ترجمه شوی ناول بللی شي ، ولې د قلمي لیک په لحاظ «نقش نگین» اول پښتو ته اړول شوی وو ، نو همدغه حال د محترم عبدالعلی غورغوښتي د ناول «اوښکې» دی، چې دا لیکلی شوی خو په ۱۹۷۹ کې دی ، ولې چې چاپ اوس شو ، نو د چاپ په لحاظ ډېر وروستی دی .... داسې د پښتو ناول په تاریخ کې ددې ناول په چاپ کېدلو سره یو نوی باب ولیکلی شو چې د سهیلي پښتونخوا وړومبی قلمي لیکلی شوی ناول هم معلوم شو .»(١٦ )

عمر گل عسکر ددې ناول په سریزه کې لیکي چې : « زما په خیال دا ناول لکه څنگه چې له ما سره له ډېر وخته په خطي صورت کې موجود و ، نو په دې لحاظ دا د جنوبي پښتونخوا ړومبی ناول گرځولی شو .»( ١٧)

د دې ناول په اړه رشید احمد زیاتوي چې «دا ناول ټول لوازمات لري او د لیکوال په دغه صنف پوهه څرگندوي ، چې عبدالعلی غورغښتي یو لوستی سړی وو او نور ډېر ناولونه به یې خامخا لوستلي وو ... د کیسې شروع ارتقایي ډول ، د کردارونو د

لوستونکو سره پېژندګلو ، په کیسه کې مختلف واقعات ، سازشونه ، تصادم ، تلوسه او انجام د ناول د صنف د غوښتنو سره سم دی... ددې ناول کردارونه د عام ژوند کردارونه دي چې هر وخت يې موږ په خپلو لاروکوځو کې وينو ، اوس هم د پښتنو حالات د نوي دور سره دومره بدل شوي لا نه دي او د پښتني معاشرې دغه ټول کردارونه په پښتنه ټولنه کې موجود دي.»(۱۸ )

د غورغشتي زوی طاهر ځلاند ددې ناول په اړه وايي چې دا ناول په هغه وخت کې د افغان ثور غميزه په پس منظر کې ليکل شوی دی. (۱۹ )

د عبدالعلی غورغشتي د اوښکې ناول کرکټرونه کليوالي او د پښتنې ټولنې له دودونو سره سم انځور شوي دي،په کلی کې يوه غريبه کورنۍ ژوند کوي، خاوند يې خالو او مېرمن يې تورپيکۍ نوميږي، خاوند يې له ځنګله لرګي راوړي او په هغې ګوزاره کوي، واورې کيږي، خالو په ځنګل کې يخ وهي، ميرمن يي په کلي ګرځي، کليوال ورسره روانيږي، له ملک او ملا نه لاټين غواړي، خو هغوی يې نه ورکوي، خالو کلي ته راوړي، ناروغه وي، په اخونزداګانو يې ګرځوي، پيسې ترې شوکوي، اخر د مهربان په نامه يو ځوان يې هڅوي چې ډاکټر ته يې بوځي، تورپيکۍ له ملک نه په سود پيسې رااخلي، ډاکټران هم په هسپتال کې سم کار نه کوي، خپلې معاينه خانې ته يې غواړي، خالو ښه کيږي. ملک د خپلو پيسو او سود پوښتنه کوي، بله ورځ ترې په پيسو کې لور غواړي، خالو يې پيسې ورخلاصوي خو لور نه ورکوي، په خالو باندې رپوټ کوي چې ملک او اسلام ته غم جوړوي، تورپيکۍ بې سرپرسته پاتې کيږي، کليوال ورسره مرسته کوي، په پای کې په تورپيکۍ فشارونه زياتوي چې خپله لور د ملک زوی ته ورکړي، تورپيکۍ انکار کوي، دوی پسې د شپې قاتلان راولي، تورپيکۍ وژني او لور يې درخانۍ ورځنې بوځي. درخانۍ د ملک په کور کې له واده وړاندې ځانوژنه کوي. په دې ناول کې کرکټرونه طبيعي او له پيښو سره سم انځور شوي دي، په ناول کې ملک. د ظلم سمبول انځور شوی دی، د کرکټرونو رول طبيعي دی، په ناول کې هڅه شوې چې په پښتني ټولنه کې ناوړه دودونه،د ملکانو له خوا په ولس ظلم، د اخونزادګانو له خوا د دم او تعويذ په نامه د ساده ولس لوټل او د کليوالو له يو بل سره خواخوږي ترسيم شوي. د پلاټ له مخې هم دا ناول ښه دی، په ناول کې ټکرونه او له ټکرونو نوې راټوکېدلې پيښې يې هم خوندورې دي، په ناول کې کليوالي او ساده ژبه کارېدلې ده، ځای په ځای کليوالې محاورې هم لري، د کرکټرونو ژبه يې هغوی ته د ورکړل شوي کرکټر سره

سمه ده، د ناول په پيل کې تلوسه شته، خو وروسته دا تلوسه کمزوري کيږي او د تلوسې د کمزورې کېدو سره سم د غوټې خلاصيدل خپل هنري ارزښت او اهميت راکموي. په هر صورت ، داوې په سهيلي پښتونخوا کې د ناول ليکنې لومړنۍ هڅې چې موږ پرې لنډه رڼا واچوله ، خو دا يو مسلم حقيقت دی چې پښتو ناول په هغه څېر چې په غربي نړۍ کې رواج دی ، هغې مرحلې ته لا هم خپل مزل کوي او لومړني قدمونه خو به يې خامخا ډېر استوار نه وي ، خو که له دغو ناولونو راتېر شو ، نو په دې وروستيو کې د سهيلي پښتونخوا په ځمکه د ناول ښې بېلگې هم موندلای شو ، چې دلته پرې په ډېر لنډيز بحث کوو:

له دغو ناولونو چې وروسته کوم ناول په نظر راځي هغه د رحمت الله رحمت ناول دی، دا ناول په اصل کې څلور برخې لري چې په بېلابېلو ټوکونو کې په بېلابېلو وختونو کې چاپ شوي دي ، چې عبارت دي : (ناکامه مينه او زورور خلق ۲۰۰٦م، محبت ولې ورک شو ۲۰۰۷م، ايا محبت به خپل مطلب ته ورسېږي ۲۰۰۹ م او اميد ۲۰۱۰ م ) ددې ناول په اړه ډاکټر نصرالله جان وزير وايي:«رحمت الله رحمت ددې ناول قيصه وروسته نوره هم په درې ټوکه کې خپره کړې ده ، چې هر يو ټوک يې جلا جلا عنوان لري ، خو مواد ، پلاټ ، قيصه ، کردارونه او بنيادي تاثر يې هم هغه د اول ټوک څخه په مخ بيولی... په اوله برخه کې چې څه ښودل شوي هغه د محبت خان او د غوټۍ د مينې تنده ، ښوونځي ته د هغوی تگ راتگ، هلته له دوستانو سره د هغوی مصروفيات ، د ملک انورخان د جايداد احوال او د ملک زقوم خان د هغه وجايداد ته د سترگې خړولو پس منظر ، د کليو د خلقو ژوند او د هغوی عام مصروفيات د قيصې بنياد گرځول شوی دی ، په عمومي توگه طرز يې بيانيه دی ، کردارونه يې متحرک او د ماحول مطابق دي . قيصه يې ډېره خوږه او ساده ده ، انداز يې دلنشين او يو رنگه ښکلی تسلسل لري ، دده د نثر په تل کې بعضې وخت داسې محسوسېږي گويا چې د پښتو د ولسي نثر څخه يې ورته شيريني راپور کړې وي . (محبت ولې ورک شو ) دويمه برخه ده چې د اولې برخې د واقعاتو تسلسل دی ، ددې برخې نثر روان ، عام فهمه ، په زړه پورې او بې کچه خوږوالی لري او همدغسې د قيصې بيانولو انداز يې د ولسي نقلونو په څېر لطافت لري ، دريمه برخه (ايا محبت به خپل مطلب ته ورسېږي؟) کې د تاج دار ملنگ کردار ښځي کمزوری او مصنوعی غوندې دی،

مکالمې یې ډېرې سستې او شډلې دي ، ځینې مکالمې خو یې بېخي د موقع او محل سره هیڅ سمون نه خوري ، قیصه یې ډېره په بیړه بیړه یا ډېره په بې صبرۍ سره په یو ځغل مخ په بره اخیستې ده چې له کبله یې سسپینس زښت تاواني شوی او داسې ښکاري چې غوټه ترې دمخه خلاصه شوې ده ، د ناول څلورمه برخه د (امید) په نامه سره په کال ۲۰۱۰ کې چاپ شوې ده ، چې ځینې برخې یې هم د هغه مخکینیو طوالت دی خو په دې کې پرته له ناول نه یو څه داسې شیان شامل کړل شوي دي چې په هیڅ صورت د ناول برخه نه شي جوړېدای. » ( ۲۰ )

یوسف ساحل ددې ناول په اړه خپل نظر داسې څرګند کړی : « که په مجموعي توګه وکتل شي د رحمت الله رحمت ناولونو د لیک انداز د ناول په طرز تحریر نه دي ، بلکې د ولسي داستانونو په څېر دي، یو قسمه کردار یې درېواړه ناولونو کې استعمال کړی دی او څلورمه برخه ناول (امید) کې یې د راپورونو په څېر قیصې کړي دي چې اکثره ده په کومه ادبي غونډه کې شرکت کړی دی، د هغو غونډو ادبي ګزارشونه یې لیکلي دي چې د ناول سره هیڅ قسمه اړه نه لري .... دا اخري د (امید) په نامه چې ده د ناول نوم ورکړی ، په فني حواله ډېرې نیمګړتیاوې په کې ښکاري ، څو قیصې او ادبي راپورونه یې د ناول برخې جوړې کړي او هسې یې قیصه سره کش کړې ده او د ناول نوم یې ورکړی دی ، دې ته ناول ویل نه دي پکار....»(۲۱ )

په هر حال ، که د نوموړي د ناول لومړۍ برخې په ژور نظر وکتل شي، که څه هم د پښتو د ولسي کیسو څخه اغېزمنې دي ، خو د ناول خوړلني په کې ضرور محسوسیږي او د سهیلي پښتونخوا په پښتو ناولونو کې یې یادونه حتمي ځای لري . د سهیلي پښتونخوا په ناول لیکونکو کې بل لوی نوم د پروفیسر راز محمد راز دی ، پروفیسر راز درې پښتو او یو اردو ناولونه لیکلي دي ، پښتو ناولونه یې د (عاشو، لمر او باران اوري) په ۲۰۰۸ م کال او (کابل ړنګ دی مینې ژاړي) په ۲۰۱۱ م کال کې او (سنۍ درختہ انځریزه وه)په ۲۰۲۰ م کال د فکر نو ادبي فورم پښین له خوا خپاره شوي دي. پروفېسر راز په سهیلي پښتونخوا کې د نظم او نثر ځانګړی سبک لري او دده ناولونه هم دده د خاص سبک نمایندګي کوي ، ددې تر څنګ نوموړی یو ځیرک سیاسي او فکري شخصیت هم وو ، د نړۍ والو پر سیاسي لوبو پوهه وو او د هغوی عزایم ورته معلوم وو ، دده لومړی ناول (عاشو ،لمر او باران اوري) دی چې په ۲۰۰۸ م کال کې خپور شوی دی ، ددې ناول په اړه پوهانو خپل خپل نظریات څرګند کړي دي.

افضل شوق ددې ناول په اړه ليکي : « پروفيسر راز محمد راز د عاشو کيسه په داسې منطقي دلايلو د لوستونکي مخې ته ايښې ده چې هغوی يې ځواب لټولو ته په خپل خپل استعداد نه يوازې چمتو کول مقصد دی ، بلکې د ناول په اړه راپورته شوي هر سوال ته يې يوه داسې لويه لار وېره کړې ده ، له کومې څخه چې په هر دويم گام يوه نه يوه نوې لار په ډرامه يي انداز د کردارونو سره ترلې داسې ښېلېږي چې دغه ځان ځانته ښېلې شوې لارې بيا په اخر کې لويې لارې ته ورگډېږي ، لکه ژوند چې پالي يې هر کس په خپل خپل سوچ او فکر ، خو سر به يې تر مرگي پورې هريو رسوي ، خو په ښېلابېلو نومونو او بڼو . لاکن د راز محمد راز په ناول کې هم د مزل کولو لاره که څه هم يوه ده ، خو د بې شمېره لارو د پرانستلو پرته هم دلته د مزې خبره داده چې ددې ناول فلسفي ليکوال ددې باوجود هم د لوستونکي څخه لار نه خطا کوي او له ځان سره يې گنډلی مخ مخ ته بوځي ... هغه په دې ناول کې که يو اړخ ته د عاشو لويه کيسه په ښه روانه پيرايه کې سر ته رسېدلې ده ، نو بل اړخ ته يې هغه نيم درځن نورې وړې کيسې هم ورسره داسې په هنري طريقه مربوطې ساتلې دي چې يوه قصه او واقعه هم اضافي يا بې ځايه نه محسوسيږي ...» ( ۲۲)

ډاکټر محب وزير ددې ناول په اړه ليکلی: « پروفېسر راز محمد راز په ادب کې د فلسفيانه او جنسي ليکنو دپاره يوه خپله پېژندگلو لري ،( عاشو ، لمر او باران اوري) په نوم يې اولنی ناول مخې ته راغلی دی، دا ناول که څه هم د عاشو نفسياتي مطالعې نه چاپيره چورلي، خو فضا يې د يوولسم سپتمبر نه وروسته د هغې ژورناليستې ذکر هم شته څوک چې د طالبانو په قيد کې پاتې شوې ده ، د هغو امريکنيانو جينکو کردارونه په کې هم شته ، څوک چې په افغانستان کې د خپلو پوځيانو په کومکونو گمارل شوي دي.»(۲۳ )

يوسف ساحل په دې اړه خپل نظر بيا داسې څرگندوي: « ...زيات شمېر خلک و دې ته د جنسي ناول نوم ورکوي ، دا خبره تر ډېره حده درسته ځکه نه شي کېدای چې د راز صيب په ناول کې ځينې روايتي چوکاټونه مات شوي دي ، قيصه يې له ژوند سره نژدې په حقيقي بڼه ليکلې ده ، له بې بنسټه قيصو څخه يې ډډه کړې ده ، په يو نوي انداز يې په ناول کې هغه څه ليکلي دي ، کوم چې ده احساس کړي دي ، په دې عصر کې د پښتنو د ژوند ټول اړخونه په نظر کې نيول شوي دي.»(۲٤ )

زرین انځور هم ددې ناول په اړه جالب نظر لري او وايي : « د اروانباد راز دغه ناول سیاسي ، فلسفي او رومانتیک بېلابېل اړخونه په خپله ځولۍ کې رانغاړي ، د نړۍ زبرځواک او په تېره بیا د امریکې د هغو عزایمو په اړه ژور سیاسي تحلیل د خپل رومان یا ناول د کرکټرونو له خولې وړاندې کوي او د هغې سیاسي نظریې په رڼا کې چې لیکوال پرې یقین لري .... سره له دي چې ددې ناول ځینې برخې کله کله د سیاسي – اقتصادي جدي نظریاتو پر یوه بحث بدلې شي او خپل داستاني خصوصیات زیانمن کړي ، خو حقیقت دادی چې زموږ او آن د ټولې نړۍ د اوسني کړکېچن وضعیت ژور تحلیل خو په کې پروت دی او دا هغه څه دي چې زموږ نوی روښانه نسل باید ځان پرې پوه کړي.» ( ۲۵ )

ډاکټر نصرالله جان وزیر او ډاکټر عثمان توبه وال بیا ددې ناول په اړه وايي: «دغه ناول چې ګڼ کردارونه او مختلف ډوله خیالات په کې راوړل شوي دي ، په بنیادي توګه «آشو» د جنسي او نفسیاتي مسایلو ښکار یو ښکلی کردار دی ، څوک چې په یوه ازادخیاله ماحول کې رالوی شوی وي ، دا د جدت ښکار یوه خپلواکه جینۍ ده ، چې په آزاد محفلونو کې له ناستې ولاړې څخه عار نه محسوسوي ، دا رنګه د هغې کردار په پښتني ټولنه کې یو انتهايي جذباتي جدت اختیاروونکي کردار نمونه هم ده . که څه هم پښتني ټولنه تر اوسه دې ته آماده نه ده ، چې دا ډول حرکتونه دې په اسانه سره په ځان ومني ، لکه څنګه چې په ناول کې وروسته ښکاره شوي دي ، چې د «آشو» د داسې حرکاتو تر شا د هغې ځینې نفسیاتي مسایل وي ، کوم چې سوکه سوکه د جنس په تنده بدل شوي دي ، ځکه خو ناول لیکونکی د کردار په باطن کې ټول زور په تحلیل نفسي او د ماحول په لټه کې مصرف کړی دی ، خو دا هر څه یې محض په ستغه سپوره او یا قند و نبات کې نه دي لړلي ، بلکې دې هر څه ته یې یوه ښکلې رومانوي فضا هم جوړه کړې ده .» ( ۲٦ )

زما په نظر د پروفیسر راز دا ناول د پښتو ژبې په شهکارو ناولونو کې شمېرل کېږي او که پښتو ژبه څو معیاري ناولونه ولري ، نو یو ناول به یې د راز (عاشو ، لمر او باران اوري) وي ، ځکه په دې ناول کې که له یوې خوا په فلسفي انداز کې د پښتني ټولنې د ځینو منفي کردارونو یادونه شوې ، نو بله مهمه خبره په کې د بغاوت سر راپورته کول هم نغښتې ده ، پېښې یې ژوندۍ او خوځنده دي او د نړیوالو ناولونو سره د سیالۍ جوګه ناول دی.

د پروفېسر راز بل ناول (کابل ږنگ دی مینې ژاړي ) دی چې په ۲۰۱۱ م کال کې د فکرِنو ادبي فورم پښین له خوا چاپ شوی دی ، ددې ناول منځپانگه د افغانستان او په ځانگړي ډول د کابل په تراژیدیکو پېښو راڅرخي، پر دې ناول د فکر نو ادبي فورم له خوا په لیکنه کې راغلي:«کابل وسوځېد ، کابل ایرې سو ، کابل ږنگ سو ، کابل ناولو لاسونو ته ولوېد او کابل د خپلو بچیانو په وینو خړوب ، د بې شمېره ناهېدې پړوني يې کفنونه سو ، لاکن بیا هم کابل کابل پاته سو ، ولې چې کابل تاریخ لري ، کابل لرغونی کلتور دی ، کابل د مینې او رنگونو ارت سیند دی ، او «سیندونه کله مري». ژوندي خلک تاریخ رغوي ، هم دې ته به د تاریخ جبر وایي چې نن پر ژوندیو تاریخ رغېږي ، خو کابل یرغلگرو ته سپر وگرځېدو . کلتوري تغییرات تل د خوځښت په حالت کې د ودې پړاوونه رالنډوي ، د مثال په توگه د پرون په پرتله نن د نن ستونزې حلوي ، د اینده امکانات له پامه نه غورځوي . د یو قوم ژبه، ادب، کلتور او تاریخ چې په استعمارانه او بې رحمانه توگه وویشل سي ، حتماً د ودې د انکشاف بنې به يې هر اړخیزه توپیر مومي . ددې ناول اساسي ټکی همدا دی چې پښتني – افغاني روحیه او رویه دواړه په ځان کې رانغاړي ، ددې ناول کرکټرونه ریښتینې اتلان دي ، چې خپل هوډ او خپلې خاورې ته وفادار دي ، هیڅ مصنوعي سرحدونه يې په نظر کې نه ځاییږي . دا ناول د ډېرو کیسو تر څنگ روایتي قومپرستانو ته د هندارې څرگندولو وظیفه اجراء کوي او یوه منطقي خو له طنزه ډکه خندا هم وربandې کوي.» (۲۷ )

محب وزیر ددې ناول په اړه وایي : « د ناول قیصه د مرجانې نه تاوېږي ،څوک چې په کوټه ښار کې یوه این جي اوز کې کار کوي ، ددغه غیر سرکاري تنظیمونو ازاد ماحول کې د کار کوونکیو ازاد طبیعت او ازاد خیالي په کې ښودل شوې ده ، ددغه تنظیمونو شاه خرڅیو ته په کې اشاره شوې ده او د کلتور په نامه هغه سرگرمۍ پکې ښودل شوي دي، چې وگړی تش انسان خو جوړوي، ولې د قام او خاورې نه يې شوکوي.»( ۲۸)

(کابل ږنگ دی مینې ژاړي) ناول په خپله غېږ کې داسې کیسې رانغښتي چې له تاریخي او نفسیاتي پلوه د یو قام د تاریخ سره په بېلابېلو دسیسو باندې چلند شوی دی او ددې قام تاریخ بیا هم ژوندی وي ، هغه که په هر ډول وي خو په ناول کې دې اړخونو ته خاص پام شوی دی . د ناین الیون د اثراتو په اړه براه راست خبرې شوي

دي ، چې د کومو اغېزې پر پښتني ټولنه پرېوتې دي ، په دې باب ډېرې تذکرې شوي دي او د اين جی او گانو بې شمېره راتگ او پر پښتني ټولنه د نفسياتي اغېزې په اړه ډېر څه په دې ناول کې تر سترگو کېږي . په دې ناول کې هغه ټول داخلي او بهرني سياسي ، کلتوري ، جنسي ، ثقافتي اړخونه په نظر کې نيول شوي دي ، کوم چې د ناين اليون نه پس په پښتنه سيمه کې د يو بېلگامه جنگ په بېلابېلو کړيو او د تهذيب په څپو کې روان وو . (۲۹ )

ددې ناول کيسه ، پلاټ ، کردار نگاري، منظر کشي ، د ناول ژبه ، تصادم او غوټه ، ټولنې ته يې پيغام او د ناول نور ټول اړين توکي په ډېر مسلکي ډول اوډل شوي او راوړل شوي دي او د ناول نگارۍ د اصولو سره برابر دي.

د پروفېسر راز دريم ناول (سنی درخته انځريز وه ) دی چې په ۲۰۲۰ م کال کې د فکر نو ادبي فورم له خوا چاپ شوی دی ، دا ناول د مينې ، فلسفې او تاريخي مسايلو تر څنگ د پښتون افغان وطن له ډېرو ناويلو حقيقتونو موږ خبروي ، د پروفېسر راز دا ناول هم د تېرو دوو ناولونو په څېر ادبي خوږوالی لري او د پښتو ناولونه په کتار کې د مخکښو ناولونو څخه گڼل کېدای شي.

د سهيلي پښتونخوا د داستاني ادبياتو بله مخکښه څېره فاروق سرور دی ، فاروق سرور په سهيلي پښتونخوا کې د داستاني ادب په ميدان کې يو ستر نوم دی ، نوموړي دلنډو کيسو ترڅنگ د «سگوان» په نامه يو ناول ليکلی چې په ۲۰۰۸ م کال په کوټه کې د سکام ادبي اکاډمي له خوا چاپ شوی دی . دا ناول په اردو ژبه هم د اسيرمنگل له خوا د «سگ بان» په نامه ترجمه شوی او په ۲۰۱۵ م کال په کوټه کې د گوشهء ادب له خوا چاپ شوی دی.

سگوان يو سېمبوليک او علامتي ناول دی چې په پښتو ژبه کې بې ساري دی، ددې ناول په اړه زرين انځور ليکي: « سگوان تر ډېره يو سياسي معاصر ناول دی، چې نوې پېښې په سمبوليکه يا علامتي بڼه وړاندې کوي ، رواني او اجتماعي بېلابېل اړخونه لري او له همدې کبله يې سمبوليک اړخ دومره زيات هم پېچلی علامتي نه دی ، يو څه ترې د سياسي فکر له کبله سمبوليکې نخښې هم لوڅې شوي دي .... د سگوان ناول په همدې بڼه د نړۍ د لوی بادار د کړو وړو بيان دی چې څنگه د خپل جادو په زور د ټولې نړۍ خزانې لوټي، جگړې جوړوي او خپل بادار چلوي، دغه

سېمبولیک بیان سره له دې چې په ډېرو برخو کې ډېر بربنډ هم دی، خو نیمه سمبولیک بیان یې هنري ارزښت ساتلی دی.» ( ۳۰)

د فاروق سرور ناول سګوان زما په خیال په سهیلي پښتونخوا کې د معیاري ناولونو په کتار کې لوړ ځای لري ، ددې ناول جوړښت او سمبولیک بیان د ځانګړې پاملرنې وړ دی، لیکوال یې د خپل ځانګړي سبک او داستان لیکنې د طرز و تفکر سره سم پر ټولو اړخونو ښه خواري کړې ده. محمود ایاز په دې اړه وايي : «فاروق په خپل ناول کې د آغاز نه قاري تر لاس نیسي او د خپل ناول تر انجام پورې یې ځان سره ملګری بیايي ، همدغه د هغه ځانګړی هنر او کمال دی.» (۳۱ )

ډاکټر نصرالله جان وزیر او ډاکټر عثمان توبه وال بیا د سګوان په اړه وايي : « د موضوع ، هیئت ، اسلوب او تکنیک له رویه سګوان د پښتو د علامت نګارۍ په میدان کې یوه ډېره په زړه پورې اضافه ده ، دده برجسته جملې د سوچه پښتنې لهجې استعمال د قیصې ښکلا یو په دوه سېوا کړې ده ، نه په کې یو توری بې ځایه او نه چېرته کومه جمله ماته ده ، نه بې ځایه بحث کوي ، نه بې ځایه منظر راوړي ، نه قیصه په زورکشوي او نه سسپینس بې لارې کوي ، هر قاري چې دده قیصه په توجه لولي نو یو تاثر ترې خامخا اخلي .»(۳۲ )

محمد نعیم ازاد چې په سهیلي پښتونخوا کې دلیکوالۍ، شاعرۍ، څېړنې او ژباړې په برخه کې یو یاد شخصیت دی ، د (نېکمرغه خاوره) په نوم یې یو ناول لیکلی دی ، دا ناول په یودېرش څپرکو او ۲۰۸ مخونو کې د پښتو ادبي غورځنګ کوټې له خوا په ۲۰۱۲ م کال په لاهور کې چاپ شوی دی ،ددې ناول مرکزي خیال د پرل ایس بک( (Pearl S. Buckامریکایي لیکوالې له کتاب ( (The good Earthڅخه په اغېز لیکل شوی دی.

( (The good Earthیا ښه ځمکه ، د امریکایي لیکوالې پیرل ایس بک له خوا لیکل شوی ، یو تاریخي ناول دی چې په ۱۹۳۱ م کال کې خپور شوی چې د شلمې پیړۍ په لومړیو کې د چین په یوه کلي کې د یوې کورنۍ ژوند په ډراماتیکه بڼه تمثیلوي. دا په ۱۹۳۱ او ۱۹۳۲ کلونو کې په متحده ایالاتو کې تر ټولو ډېر پلورل شوی ناول و ، په ۱۹۳۲ م کې یې د پولیټزر( (Pulitzerجایزه وګټله او په ۱۹۳۸ کې د ادب لپاره د نوبل جایزې په ګټلو کې د بک له خوا اغیزمن و. دا ناول د ژوند مجلې د -۱۹۲٤

۱۹٤٤ کلونو د ۱۰۰ غوره کتابونو په لیست کې شامل دی .(۳۳ ) دا اثر د نړۍ ډېرو ژبو ته ژباړل شوی او فلمونه هم پرې جوړ شوي دي. نعیم ازاد د خپل دې ناول په اړه وايي: « زه دا منم چې لومړی ځپرکی به يې په لړ و ډېر بدلون هماغه رنګه پاتې وي ، خو نور ځپرکي يې ډېر ليرې شوي او تر داسې بريده پورې يې له هغه چاپيريال څخه د بېلتانه لار وهلې ده ، چې ماته هم مېلمه لکه کوربه داسې و ایسېدئ ، د انسانیت میراث خو يې ګډ وو ، هماغسې پر ځای پاتې وو ، خو سم دم راڅخه پښتون شوی وو او دا هغه وخت ماته څرګنده شوه چې ما بېرته کتاب له ورستيو پاڼو پرته وموند.»(۳٤)

د ازاد د ( نېکمرغه خاوره) ناول له خپلې خاورې او وطن سره د مينې پر بحثونو راڅرخي ، په دې ناول کې د وطن سره د خواخوږو تلپاتې ژوند ته اشارې شته ، د ناول کيسه خوندوره او زړه راښکوونکې ده ، ددې ناول په اړه امين تنها داسې وايي : « د خپل کوټلي پلاټ ، د پېښو د لاندې باندې او سسپېنس له مخه د پښتو په غوره ناولونو کې ځای مومي . د ناول دوه کردارونه مينه او جانان دي ، د ناول پلاټ ددې کردارونو د ژوند د مختلفو پېښو نه يو کوټلی وجود مومي او خپل تکميل ته رسي.»(۳۵ ) په دې ناول کې د پښتنې ښځې تشبيه د ځمکې او وطن سره ورکړل شوې ده چې کله هم پښتنه پېغله په ژوند کې له خپل خاوند او کورنۍ سره بې وفايي نه کوي، په ډېرو سختو حالاتو کې ورسره ولاړه وي، نو که يو څوک د خپلې خاورې او وطن خيال وساتي ، نو هغه خاوره او وطن به دی همېشه په سختو حالاتو کې له مسايلو څخه خلاص کړي ، چې ډېره بهترينه منظرکشي يې په دې برخه کې کړې ده .(۳٦ )

په سهيلي پښتونخوا کې د ناول په ميدان کې بل نوم د پروفېسر ډاکټر نصيب الله سيماب دی ، سيماب ددې تر څنګ چې د پوهنتون استاد دی ، يو ښه محقق ، ليکوال ، شاعر ، کيسه ليکوال او ناول نګار هم دی ، دده ناول (طالبه خدای که به ملا شي ) په سهيلي پښتونخوا کې د يادونې وړ ناول دی ، چې په ۲۰۱۴ م کال په کوټه کې د غزنوي خپرندويې ټولنې له خوا چاپ شوی، اردو ترجمه يې په ۲۰۱۷ م کال د نجيب الله زړګي عليخېل له خوا ترسره شوې ده او په همدغه کال د نيوکالج پبلکيشنز له خوا چاپ شوې ده. دغه ناول په تېرو څه باندې شلو کلونو کې د پښتنې ټولنې د يو حقيقت کيسه ده ، دغه کيسه ډېره د خوند په ژبه بيان شوې ده ، زرين انځور د دې ناول په اړه وايي : « د ليکوال دغه ناول د افغانستان د روانو پېښو په اړه

یو غوره هنري اثر دی ، په دې کتاب کې داستاني پېښې ، په تېره بیا د طالب د راپیدا کېدو ، په ټولنه کې د طالب د ژوند ، په افغانستان کې د هغوی د اسلامي امارت د جوړېدو او سقوط یو هنري داستاني بیان ځای شوی دی ، ددې په څنگ کې (طالبه خدای که به ملا شې) د طالب د ژوند ، کړو وړو ، فکر او عمل په اړه لکه یو تحلیلي کتاب داسې هم دی ، نصیب الله سیماب په خپل دې اثر کې د طالب دننه ته ورننوتلی او هغه یې راسپړلی دی ، مهمه خبره داده چې د طالب او افغاني ټولنې گډه شننه په مهارت سره شوې ده او له داستاني هنري ارزښتونو څخه د تحلیلي څېړنو خواته عدول هم نه دی شوی ، دا ددې ناول مهمه ځانگړتیا ده .»( ۳۷) رشید احمد ددې ناول په اړه د خپل نظر لنډیز داسې راوړي:

«(۱)دا ناول د موضوع په مناسبت سره یو ځانگړی ناول دی ، په دې موضوع بل ناول ما نه دی لیدلی . (۲)ناول نگار واقعات داسې بیان کړي دي ، چې د حقیقت گومان پرې کېږي او واقعات خپل منطقي انجام ته رسي .(۳)په دې ناول کې د معاشرې ځینې بدۍ په گوته شوي دي ، چې موجودې دي .(۴) دا ناول یو پیغام لري د اولس او حکمرانې طبقې دواړو دپاره او هغوی ته د فکر کولو دپاره ډېر مواد لري . (۵) دا ناول د نېستمنې او بې وزله طبقې نماینده گي کوي د سیمې سیاسي او معاشرتي رجحان ښیي . (٦)دا یو متجسس ناول دی او اختتام یې لا د تجسس نه ډک دی.» ( ۳۸)

تر سیماب وروسته درمحمد کاسي هم په کیسه ییز ادب کې د سهیلي پښتونخوا یو نامتو نوم دی ، د هغه داستاني لیکنې تر ډېره د پښتون افغان وطن ناخوالو ته ځانگړې شوې دي ، د هغه د لنډو کیسو ټولگې هم چاپ شوې دي او د «سورسانده» په نامه یو تاریخي ناول یې هم لیکلی دی . دغه ناول په ۲۰۱٦ م کال کې چاپ شوی دی، ددې ناول په اړه زرین انځور وایي:

«سورسانده یو تاریخي ناول دی ، دا ناول د انگرېزي ښکېلاک د هغو ظلمونو ځینې برخې وړاندې کوي ، چې نه یوازې پښتني سیمې یې لاندې کړې وې ، بلکې د پښتنو واحده تاریخي خاوره یې دوه نیمه کړه او د دوو وروڼو واحد کور یې په دوو برخو وویشه ، د ناول اساسي تاریخي موضوع د انگلیسي ښکېلاک له لوري د تاریخي افغانستان د وېش غمیزه ده ، خو په ناول کې د پښتنو د ژوند ، کلتور ، کړو وړو ، رواجونو او په

تېره بیا د پښتنو کوچیانو د ژوند په زړه پورې انځورګري شوې ده او په څنګ کې یې د میني اړخ هم جالب دی. »( ٤٠)

ډاکټر لیاقت تابان چې د پېشې په لحاظ د طب ډاکټر دی ، ولې په سهیلي پښتونخوا کې د پښتو ژبې په نامتو لیکوالو او څېړونکو کې شمارل کېږي ، هغه د پښتو کلاسیک ادب او په ځانګړي ډول د حنان بارکزي ، کاظم خان شیدا ، شمس الدین کاکړ او نورو په اړه په زړه پورې مقایسوي څېړنیز آثار لیکلي دي ، ددې تر څنګ یې ښې په تول پوره سفر نامې هم لیکلي دي ، هغه په وروستیو کې ناول لیکنې ته هم مخه کړې ده او تر دې مهاله یې درې ناولونه پښتنې ټولنې ته وړاندې کړي دي، لومړی ناول یې «ځوربدلي سره یو شول » دی ، دا ناول چې ټولټال اتیا بابونه لري ، په ۲۰۱۴ م کال د ملګري لیکوال کوټې له خوا چاپ شوی دی . ددې ناول په اړه یوسف ساحل داسې لیکي : « ددې ناول ټوله قیصه د افغانستان پر څلوېښت کلن جنګ د اغېزو له کبله چې کومې ستونزې او ناخوالې ودې ولس ته پېښې شوې وې او پر دې بې وزلو افغانانو پښتنو ، ښځو ، ماشومانو ، پېغلو ، ځوانانو ، سپین ږیرو ، تېر شوي حالات لیکوال ډېر په ژوره توګه ځېړلي دي ، په دې څېړنې کې تابان خپلې شخصي تجربې او مشاهدې په رڼا کې د افغان او پښتنې ټولنې هغه نفسیاتي ، طبعي ، جسماني ، ټولنیز ، سیاسي او کلتوري تهذیبي اغېزې په داسې شکل څېړلي دي چې د یو پوره تاریخي ناول بڼه یې ورکړې ده . په دې ناول کې لیکوال ډېرو قیصو ته ښه پلاټ سکښت کړی ، د کردارنګاری په حواله ډېر کردارونه راوړل شوي دي ، چې ځینې کردارونه د ناول په منځ کې د خپلو ریپوټونو پر وخت راوړل شوي دي ، چې بنیادي کردارونه یې پښتانه افغانان ځوانان او پېغلې دي ، د ناول ټوله منظرکشي د بې وزلو افغانانو پر ژوند راڅرخي ، ژبه یې روانه او د نثر انداز یې ساده دی، د محاورو او متلونو استعمال یې ښخي زیات کړی دی ، له بې ځایه اوچتو اصطلاحاتو څخه یې ډډه کړې ده او د مکالمو انداز یې دلچسپ دی، د ناول د تصادم په برخه کې د فني ترتیب ډېر خیال ساتل شوی دی ، د مینې او د تاریخ د واقعاتو یوه پوره لړی لري ، ډېر کردارونه یې په خپل کار اچولي دي. » (٤١ ) باید یادونه وکړو چې ددې ناول ځینې برخې د ناول له جوړښت او خصوصیاتو سره اړه نه لري او ځینې خو یې لا حقیقي ریپوټونه دي چې د ناول په ادبي سکښت یې خپل سیوری غوړولی دی. د ډاکټر لیاقت تابان دویم ناول دارالامان نومېږي دا ناول د ملګري لیکوال کوټې له لوري په ۲۰۱۷م

کال کې د پېنځه سوه ټوکونو په شمېر چاپ شوی دی او ۲۰۳ مخونه لري چې یوازې او یوازې د ناول متن په ۱۸۸ مخونو کې رانغښتل شوی دی. پر کتاب سریزې عصمت الله زهیر، فیصل فاران او په خپله ډاکټر لیاقت تابان لیکلي دي. د دې ناول ارزښت په دې کې دی چې د پښتني سیمې د بېوسو او ځورېدلیو مېرمنو د هغو کړاوونو او ستونزو عکاسي یې وړاندې کړې ده چې هره ورځ ورسره زموږ پښتنې خویندې لاس و گرېوان دي او قدرمن تابان د پښتنې ټولنې د یوه حاذق نباض ډاکټر په توگه د دغه ځورېدلي قشر احساسات، عواطف او د ژوندانه ټول هغه اړخونه راسپړلي دي چې دوی په کې خپلې شپې او ورځې تېروي او په لوستلو سره یې په انسان کې په یوه وخت کې د خوند و درد یا خندا و ژړا پاراډاکسي سمندرونه راپورته کوي.

د ناول موضوعات ټول په ښځې پورې تړلي دي، لکه په بدیو کې د سورې په ډول ورکول، پر سپین ږیرو خرڅول، تعلیم نه کول، شنډ او په تېره بیا شنډې ته په سپکه کتل، میراث نه ورکول، پر خرابو، روږدیو او چرسي ځوانانو ته ودول چې گواکې په واده سره سم شي، د کورنۍ د بېلتون لامل گرځول، تر کور د باندې په ادارو کې کار ته نه پرېښودل، په کور کې لنگون او روغتون ته یې نه وړل، د بنې تریخ ژوند تېرول، د مېړه تر مرگ وروسته لېوره ته په زور ودېدل او یا هم د خپلو بچیو له پاره سر سپینول او تر ټولو ستر یې لا دا چې د بکارت د پردې په اړوند ناسم رواج لکه څنگه چې په ناول کې ذکر شوی دی، ډېر دردوونکی دی او دغو ټولو موضوعاتو ته په کتو سره دغه ناول زه د فیمینېستي ادبیاتو پیلامه گڼم او د دغه حسن آغاز مبارکي یې ډاکټر تابان ته ورکوم.

دارالامان ناول د پلاټ په برخې کې فکر کېږي چې مجهول دی، یعنې د یوې مرکزي نقطې یا لومړنۍ سترې غوټې ایجاد له ناول لیکونکي څخه ورک دی او لوستونکی هم نه پوهېږي چې دلته اوس په دې لیک کې مرکزي کردار څوک دی چې مرکزي او ضمني پېښې د هغه پر شاوخوا راوڅرخي، ځکه په ناول کې موږ لولو چې گام پر گام وړې وړې کیسې (کردارونه) یو په بل پسې داسې مخ ته راځي چې له یوې او بلې سره یې ارتباط پرې کېږي، خو همدغه وړې وړې کیسې دلته د هغو مریو حیثیت لري چې په پای کې ترې یو مرغلین لړ رامینځته کېږي او د ناول د اوج ټکي (کلایمکس) په رامینځته کولو کې ستر رول لوبوي او د یوه واحد غوره پای له پاره ټولې په منسجم ډول خپل رولونه ترسره کوي. په لنډه ویلی شو چې که دلته

مرکزي لوی پلاټ ورک دی، خو همدغه وړې وړې کیسې د کوچنیو پلاټونو په ډول د مرکزي خیال او فکر منډې ترړې وهي او په همدغه مرکزي خیال او فکر کې ټول سره راغونډېږي او د یوه واحد فکر او خیال له پاره قرباني ورکوي. په دې ناول کې تابان یو بل لوی کمال دا کړی دی چې نوموړی ته به وایې چې ښځه ده او د پښتنو ښځمنو احساسات یې په داسې ډول بیان کړي دي چې د هغوی د ژورو جنسي، اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو مسئلو عمق ته ورکېوتی دی او په همدې ډول لوستونکی هم له لاسه نیسي او له ځان سره یې په دغو وحشتونو کې شریکوي، احساس ورکوي او دغه ټول منظرونه ورباندې گوري. په دې ضمن کې دا خبره هم ورسره غوټه کوم چې یو ناول لیکونکی د ناول لیکلو پر مهال په یوه وخت کې څو ډوله رول لوبوي، یعنې دی باید داسې لیک وکړي چې د ماشوم له پاره د ماشوم، د ښځې له پاره ښځینه او د نر له پاره نرینه احساسات بیان کړی شي او موږ گورو چې تابان د دې کار له عهدې څخه په ښه ډول وتلی دی او لکه څنگه چې په ناول کې ټوله موضوع پر ښځو راڅرخي او د ښځینه احساساتو او عواطفو بیان په خپله ښځې په ښه توگه سره بیانولی شي، خو زه دا په ډاگه ویلی شم چې د "دارالامان" لیکونکي هم د ښځو ټول اروایي مسایل په دقیق ډول بیان او انځور کړي دي. د ناول د کردارونو د تشخیص په برخې کې ویلی شو چې د کردارونو نومونه هم د پښتني او مذهبي ټولنې ځانگړنې بیانوي ، ساده او د ټولنې استازولي کوي، لکه زرلښته، نورجهان، فاطمه، خاتمه، بدري یا بدرو جماله، زین الله یا زینو ماما، زرغونه، ولي خان، جمال آغا، خالد خان، گلالۍ، کوتره، سلیمه، رام بي‌بي، زربي‌بي، آمنه، زهره، تمامه، بلقیس ، ناهیده، بي‌بي جانه او...

په همدې ډول دغه کرکټرونه د کیسې په اوږدو کې تر پایه پورې فعال او کارنده رول لوبوي، خپلې چارې په متحرک ډول اجراء کوي او د کیسې په خپلې برخې کې مکالمې په ښه ډول وایي او کله چې هم د هغوی انځورگري کېږي، نو انځورگري یې هم په ښه ډول کېږي او د مکالمو په برخې کې د سیمییزو گړدودونو په پام کې نیولو سره کردارونه په خپلو لهجو سره خبرې کوي.

د ناول لیکونکي له لوري د کردارونو مکالمې د متلونو او ښکلیو اصطلاحاتو په کارولو او راوړلو سره لا پخې او ښکلې شوې دي او دا موږ ته په زبات رسوي چې ډاکټر تابان د کردارونو د مکالمو د جوړولو له پاره ځومره کړاو گاللی دی او د خپلو کردارونو

د مکالمو له پاره څومره د ژبې پور وړی شوی دی.څو متلونه او اصطلاحات د بېلګو په توګه راوړو:

( رښتیا له وړو پوښته او یا له زړو - کرمی چې ګرځي، فتح خان له به غمونه راوړي - له بدې ښځې خوشې کور ښه دی - لنده ژبه هره خوا اوړي - پیشو که دوه وزره لرلای، د چینچڼو به یې بېخ وراېستلی وای- چې ډب نه وي، ادب نه وي - په پردي څټ سل سوکه څه دي) د کردارونو د مکالمو (نقل قولونو یا اقتباسونو) په برخې کې د ناول لیکونکي تر ډېره پورې د انګرېزي ناولونو د قاعدې تقلید کړی دی، یعنې لومړی مکالمه راوړي او بیا د کردار تعریف و تشخیص وړاندې کوي. په دې ډول:

آخر ستا لېور ولې دومره ظالم ؤ؟

زرلښتې پوښتنه ورځخه وکړه. ( ٤٢ )

په پښتو کې دغه جوړښت د پښتو ګرامري جوړښتونو د معیار له مخه سرچپه کارول کېږي چې په دارالامان ناول کې هم ځای ځای تر سترګو کېږي. د بېلګې په ډول: نورجهان چې له ډېره وخته خاموشه ناسته وه، لږ رامخته سوه او وې ویل: د عدت وروسته خو به حالات بېخي بدل وو، تا ځرنګه د نور ژوند تېرولو ترتیب ونیوئ؟ (٤٣)

د داستاني ادب او په تېره بیا د ناول له پاره منظرکشي ډېره اړینه ده او په دارالامان ناول کې موږ وینو چې منظرکشي ډېره کمه ده او ځای یې ډاکټر تابان اوږدو اوږدو مکالمو ته ورکړی دی او له مکالمو څخه مالامال دی. موږ د ډاکټر تابان په نورو لیکنو کې د هغه وړتیا ته په کتلو سره پوهېږو چې هغه د منظرکشی او د انځورکښنې په برخې کې پوره استعداد لري، خو نه پوهېږم چې ولې یې په دې برخې کې لتې کړې ده. د ډاکټر لیاقت تابان دریم ناول د سینګار هټۍ نومېږي ، چې د ملګري لیکوال کوټې له لوري پر ۱۳۹۹ لمریز/ ۲۰۲۰ م کال د جولای په میاشت کې د پېنځه سوه ټوکونو په شمېر چاپ شوی دی او ۱۴۱ مخونه لري چې د ناول متن په ۱۲۴ مخونو کې رانغښتل شوی دی. پر کتاب سریزه فاروق سرور لیکلې ده او د کتاب انتساب یې د دغه ناول د مرکزي کردار (شېرخان) په نامه کړی دی. د ډاکټر تابان دغه ځانګړتیا د ستاینې وړ ده او زه یې کمال ګڼم چې نوموړی نېغ پر نېغ موضوع ته ور داخلېږي او بیا یې د کردارونو د مکالمو، استدلالونو او دقیقو کتابي حوالو له مخه شاربي او لوستونکیو ته د موضوع اړوند حل په مخ کې ږدي.

ډاکټر تابان په دغه ناول "د سینګار هټۍ" کې د نړۍ او په ځانګړي ډول د پښتنې ټولنې د يوې سترې ناروغۍ په ډېر هنر سره د ناول د کردارونو له لارې شننه ترسره کړې ده. په ټوله کې ډاکټر تابان د پښتنې ناخوالو او ځینو فرهنګي ټکرونو په اړه په خپلو ناولونو کې خبرې لري چې نورو ناول لیکوالو یا نه دي کړي او یا یې په مستعار نامه کړي دي.

په سهیلي پښتونخوا کې عبدالقادر مجرم تر ټولو ډېر ناولونه لیکلي دي ، دده دیارلسم ناول همدا سږ کال(۲۰۲۲ م) چاپ شو ، د هغه ناولونه په لاندې ډول دي :

(۱)لویه لار ده ځوک به راشي (۲) دوی هدیره نه لري (۳) بختیالۍ (۴) ورته ګوري به جانان (۵) شرق به یې واورې (٦) ټولنه لېونۍ ده (۷) مقدسې ځوکۍ (۸) ګوشن آرا (۹) ملا بشر (۱۰) زړونه کاږي (۱۱) ته یو ځو لېونۍ وکه (۱۲) ګجو (۱۳) د ژوند لویه سزا ژوند دی.

د قادر مجرم د ناولونو عمده موضوع پښتنې ټولنه ده ، هغه د پښتنې وروسته پاتې ټولنې رنځونه په خپلو ناولونو کې بیان کړي دي.

دده ناولونه تر ډېره د ناول عمده توکي لري او د ناول نګارۍ شېوه یې تر ډېره په خپلو ناولونو کې ځای کړې ده . دده بختیالۍ د ټولنې په ډېرو مهمو موضوعاتو د نقد په ډول په خوږه او زړه راښوونکې ژبه ښکلی او یو په زړه پورې ناول دی. د یوه ښه ناول ډېرې ځانګړنې لري. یوسف ساحل د بختیالۍ ناول په اړه وایي : « د قادر مجرم ناولونه چې ما ولوستل په ټولو ناولونو کې مې دا ناول خوښ شو ، دا ناول په فني حواله څه قدرې ښه راته معلوم شو ، چې دا خبره به بې ځایه نه وي... ددې ناول د پلاټ ډېر سکښت لیکوال کړی دی ، د بختیالۍ د ژوند تصویر له پېغلتوب څخه تر کونډتوب پورې د ژوند پېښو او خاکې ته یو ښه پلاټ انتخاب کړی دی ، چې دا ددې ناول ځانګړنه ده .»(٤٥ ) ډاکټر نصرالله جان وزیر او ډاکټر عثمان توبه وال دده د (لویه لار ده ځوک به راشي ) ناول په اړه داسې وایي : « د ناول کره وړه او ابتدایي قیصه په ډېر ښکلي او دردناک انداز سره شروع شوې ده ، چې په پښتنې ټولنه کې د ښځو سره کېدونکي ناوړه سلوک ته په کې اشاره شوې ده ، ولې له هغه ځایه چېرته چې ناول لیکونکي د یوه عاشق د عشق قیصه شروع کړې ده ، له دغه ځایه ناول څه قدر فني نیمګړتیا پیدا کړې ده او ناول خوي خصلت په بله خوا اوړېدلی دی ، په دې

کې یو ډول سیاسي تقریرونه ، گوندي تبلیغات او د ځان ښودنې عمل ته هم لاس اچول شوی ، خو په لنډه توگه که ووایو ، که ناول لیکونکي هم هغه د ابتدا قیصه په ښکلي انداز سره پر مخ بیولې وی ، نو امکان کېدی شو چې په پښتو ادب کې د موضوع د هیئت او موادو په لحاظ به یقیناً چې دا یو منفرد تخلیق وی ، البته نثر یې خوږ ، روان ، لهجه یې سلیسه ، صفا او په سوچه کاکړیو توریو آراسته ده .» ( ٤٦ )

ما د عبدالقادر مجرم درې ناولونه(ملا بشر ، گوشن آرا او ته یو څو لېونۍ وکه) لوستلي، چې دغه ناولونه یې تر پورته ناولونو وروسته لیکل شوي دي ، چې زه یې پر یوه ناول لنډې خبرې وکړم :

**گوشن ارا :**

دا ناول په ۲۰۱۹ م کال کې د هېواد ادبي یون کلاسیف الله له خوا په ۱۱۷مخونو چاپ شوی دی. د ناول کیسه د ډاکې پرځمکه د یو بل ښار د ټونگي په سیمه کې پېښه شوې او د کیسې ټولې صحنې د هماغه ښار له دود دستور سره سمې دي.

- د ناول کیسه د پښتني ماحول پیدا وار نه دی ، بلکې دبنگال د ډاکې په سیمه کې پېښه د یوې بې کسه جینۍ د ژوند کیسه ده ، چې په کې د هماغې ټولنې دود دستور روښانه شوی او هلته کېدونکي دا ډول واقعاتو سره لوستونکي اشنا کوي ، خو زموږ له ټولنې او یا نورو ټولنو سره یې تړاو په انساني همدرۍ او همجنس والي دی، له دې پرته له پښتني ټولنې سره دا ډول کیسه هېڅ اړخ نه لگوي.

- ناول یوه لویه ( مرکزي کیسه) او دوې وړې کیسې لري؛ لویه کیسه یې همدا د گوشن ارا د ژوند دردونکی داستان دی چې د مړې مور نه وړه پاتې کېږي او پلار یې جلیل بابا ته په وړوکوالي کې ورکوي او د هغه سره را لوېږي. دویمه کیسه پکې د دلدار بنگالي شخص د ژوند کیسه ده چې په ناول کې د سینما د یو فلم دکیسې د لنډیز په ډول راوړل شوی ، خو دا کیسه تر ډېره د ناول د مرکزي کیسې مرستندویه نه ده، بلکې د گوشن ارا له خولې د سینما د یو لیدلي فلم کیسه ده چې راوي ته یې کړې ده. درېیمه کیسه هم د ناول د مرکزي کردار په خولې (گوشن ارا) په ژبه شوې چې هغه هم دبنجاریتوب په وخت د یو ښوونځي د شاگردانو د یو خاص پروگرام پر مهال د سټیج د ډرامې کیسه کوي چې یو انجنیر غواړي ځانته دنده پیدا کړي او د انټرویو پرمهال د کومو چلونو او نیرنگونو سره مخامخ کېږي.

ـ د ناول دکیسې پلاټ ثابت دی او په کیسه یې د رښتیا گومان کېږي او د یو بې موره او بې پلاره را لویې شوې محرومې نجلۍ د ژوند له سوزه ډکې صحنې بیانوي.

- د ناول د کیسې صحنې ډېرې ښې انځور شوي ، لوستونکي ته یو چاپېریال ذهن ته ورولي، خو ثابت ماحول نه ! خو دا انځورگري او منظر کښنه په هغه کچه هم نه ده ،په کوم ډول چې په یو معیاري ناول کې موجودې وي.

- که څه هم په کیسه کې ډېر ځایه مکالمې نه ترسترگو کېږي، بلکې کیسه د مرکزي کرکټر د ژوند تېر او اوسمهالي یاداشتونه دي او ناول لیکونکي ترې د راوي په ډول رانقل کړي، خو سترې کوونکې نه ده ، خو بیا هم په ځینو ځایونو کې د کرکټرونو لنډې مکالمې شته.

- متحرک او نیمه متحرک کردارونه لري، مثلاً گوشن ارا هغه مرکزي کردار دی چې د کیسې تر اخره ژوندی پاتې دی او لا یې ژوند پاتې دی، ځینې نور جامد کرکټرونه هم پکې ژوندي پاتې دي، خو د دغه کرکټرونو رول دکیسې په تحرک یا پرمختگ کې کوم خاص رول نه دی لوبولی ، بلکې کیسه پرې اوږده شوې ده. ځینې نیمه متحرک کرکټرونه هم شته لکه د گوشن ارا خاوند جهانگیر؛ چې د کیسې په اوج کې مړ شوی دی، خو دکیسې اصلي کرکټر یې هم گڼلی شو.

- د کیسې پیل کېدل په تلوسه دي، په منځ منځ کې د لوستونکي تلوسه کمېږي، بیا یو وخت پکې تلوسه راښکاره شي ، خو دکیسې په پای کې هېڅ تلوسه نشته او کیسه په ډېر عادي شکل تمامېږي ( کوم تصادم نه رامنځته کېږي)

- د کیسې د کرکټرونو انتخاب یې ډېر ښه او د یوې بلې نا پښتني ټولنې ښه تصویر یې پرې روښانه کړی دی ، همدارنگه د کیسې دکرکټرونو نومونه یې ډېر ښه ټاکلي دي.

- دکیسې روح هېڅ پښتني نه دی ،بلکې د یوې بلې ټولنې تصویر په کې هغه وخت د یو څرک په ډول راڅرگند شي چې گوشن ارا اختطاف شي او بیا یو بوډا پښتون یې ځان ته په زوره په نکاح کړي. په رواني لحاظ دا ډول کیسې په زیاتو ټولنو کې تر سترگو کېږي او له انساني ژوند سره دا ډول لوبې د ځینو تش په نوم انسانانو له خوا کېدونکي او بلکې شوي دي، چې دا د جهالت په نوم په زیاتو ټولنو کې یو زوړ رواج دی، چې انساني قاچاق او بیا د هغه له جسم نه د رضایت پرته ناوړه استفاده وشي.
په ناول کې ځینې املایي تېروتنې هم شته خو د ډېر تشویش وړ نه دي، ځینې نومونه یې

ناسم ليکلي لکه: قالي ؛ کالي. پکر ؛ فقر، منجاريتوب؛ بنجاري توب، ورځې؛ وريژې او ځينې نور پکې شته. په ژبني لحاظ يې سوچه لغات هم پکې کارولي لکه : دريغ، رنځ، غبرگ، غوندې، ناوړه، ټيټه، لکړه، غالۍ، تنکی، خونه او ډېر نور... له دې پرته ځينې پښتني سوچه اصطلاحات لکه : په خپل بخت کېدل، په اور کباب کېدل او ستي کېدل او ځينې نور هم پکې شته، چې ناول ته يې زړه راښکون ورکړی دی.

**زين الله رودوال** د سهيلي پښتونخوا د سيمې يو بل ځوان دی چې (جنگ زموږ نه دی) تر سرليک لاندې يې يوه د لنډو کيسو ټولگه او همدارنگه (لاس بندي) په نوم يې يو ناول هم چاپ شوی دی ، دا ناول په ۲۰۱۴ م کال کې د هېواد ادبي يون کلا سيف الله له خوا چاپ شوی دی ، ددې ناول په اړه يوسف ساحل ليکي : « د ناول عمومي موضوع د پښتني ټولنې پر بېسوادي او ناپوهي باندې تنقيد دی ، په دې ناول کې کيسه يو کليوال رنگ لري ، که څه هم ليکوال د ناول ليکلو هڅه کړې ده ، خو بيا هم د ولسي نکلونو په څېر بڼه لري ، د ناول د فن خاص خيال نه دی په کې ساتل شوی ، ټوله قيصه يې د پښتنو د قبايلي ژوند ښه او بد اړخونه او رسم رواج باندې راڅرخي ، کردارونه يې ښه ځايي کردارونه ټاکلي دي ، قيصه ښه ده ، پلاټ يې خوندور نه دی ، منظر کشي يې د پښتني ټولنې د يو دود دستور او د هغه د رواياتو کړې ده ، واقعات يې هم نه دي سره تړلي، ژبه يې ساده کليواله لهجه ده، چې تقريباً زياتره ځايي لهجه ده ، په فني حواله ډېرې تېروتنې په دې ناول کې شته، چې د يو پوره ناول په تول نه خېژي .» ( ٤٨) چې ليکوال هم ددې خبرو اعتراف کوي او ليکي چې : « په ادبي چوکاټونو خاص نه پوهېږم خو ملگرو او په ځانگړې توگه مجرم صاحب او نورو ملگرو ډېره ډاډگيرنه راکړه ، چې ستا ناول زموږ له چاپيريال سره ډېر سمون خوري .»( ٤٩)

د سهيلي پښتونخوا د ناول نگارانو په منځ کې **نجيب الله زړگي عليخېل** هم خپل نوم ثبت کړی دی ، هغه له دې وړاندې د لنډو کيسو ټولگې او يو شمېر ژباړې هم خپرې کړې وې ، خو په دې وروستيو کې يې د يو تاريخي ناول په ليکلو سره د سهيلي پښتونخوا په ناول نگارانو کې خپله نومليکنه وکړه ، د هغه ناول (برکلی) نومېږي ، چې د سريزو سره په ۱۳۲ مخونو کې د سباوون پښتو ادبي ټولنې کوټې له خوا په ۲۰۱۸ م کال کې خپور شوی دی ، دا ناول يو تاريخي ناول دی چې د افغان انگرېز د جنگ

تاریخي پېښې په داستاني ژبه بیانوي، عبدالعلي غورغوشتي ددې ناول په سریزه کې د ناول په اړه وایي: « د برکلي په نامه دې ناول کې د وړومبي انګرېز- افغان جنګ په اخري مرحلې کې د یوه کلي او د هغه د وګړو کردار په خیالي انداز او په دې دوران په کلي کې د پېښې عکاسي په ادبی انداز فرضي نومونو سره کوي.»( ۵۰) رشید احمد ددې ناول په اړه وایي:« زړګی علیخېل د وړومبي افغان جنګ د زمانې یوه کیسه وړاندې کړې ده ، په دې ناول کې د دوه کلیو د اوسېدونکو پښتنو خانانو ، زمیندارو او ملایانو واقعات بیان شوي دي ، چې څنګه ځینې خلک د انګرېزانو مرستیالان وو او د انګرېزانو نه د مراعاتو او روپو پیسو د پاره یې خپل ولس په انګرېزانو وځپلو او تباه برباد کړو .... چونکې د ناول تقاضا وي چې حالات که ریښتوني هم وي په افسانوي ډول به وړاندې کېږي ، نو زړګي هم ریښتوني واقعات په افسانوي انداز کې وړاندې کړي دي ، د زمان او مکان خیال یې ساتلی دی او لوستونکي د تېرې زمانې حالاتویني .»( ۵۱) دا ناول د تاریخي ناولونو په برخه کې د مطالعې ځای لري او د ناول نګار هڅې یې د ستاینې وړ دي.

**عصمت زهیر** د سهیلي پښتونخوا یو بل لیکوال دی چې د پنځه ویشتم اکتوبر تر سرلیک لاندې یې یو ناولېټ لیکلي دی ، دا اثر په ۲۰۱۹ م کال په کویټه کې د تکتو کتاب کور له خوا په ۹۰ مخونو کې چاپ شوی دی ، دیارلس برخې لري ، چې اکثره برخې یې تر ډېره خپلواکي لري او تر ډېره د موضوعاتو په هماهنګۍ کې سره یوه خوله نه دي ، دا ناولېټ له لویه سره د پښتنو او بلوڅو د مبارزو پر حقانیت ټینګار کوي ، له پښتون ژغورنې غورځنګ سره د ژور تړون پر بنسټ لیکل شوی او د پښتنو پر وروسته پاتي والي د غم اوښکې تویوي. په ناولېټ کې تر ډېره د ناول د تخنیکونو پر ځای د پښتون افغان وطن پر ناورین ټینګار شوی دی. خو دا په دې معنا هم نه دی چې ګوندې د ناولېټ له کتاره ووځي، بلکې د یو لنډکي ناول یا ناولېټ ښه نمونه ګڼل کېدای شي. پر دې اثر زاهدالله یوه لیکنه کړې چې په یوه برخه کې وایي: « تر اوسه د پي ټي ایم په اړه یوازې تر ټولو ښه مزاحمتي اثر (د ۲۵ اکتوبر) په نوم شتون لري کوم چې په ریالیسټیک اپروچ د پي ټي ام مځکني حالات ، واقعات ، ریاستي ترهګري ، جنګي اقتصاد او د پي ټي ایم په فطري توګه رامنځ ته کېدو ته یو عقلي دلیل په توګه لیکل سوی اثر دی.»(۵۲ ) اکبر کرګر هم ددې ناول په اړه یوه لنډه لیکنه خپره کړې چې

په یوه برخه کې یې داسې واي : « ناول دلیکوال لومړنۍ تجربه ده ـ خو ناکامه تجربه نه ده هیله ده چې بله تجربه به یې له دې هم بریالي وي ـد ناول څو ستونځې داسې په ګوته کولی شو چې د تناسب له مخې زیات کرکټرونه لري او په اساسي کرکټرونو سیوری اچوي ـ هم دا راز د تصویرونو په برخه کې هم ډېر زوړ د پښتو ناولونو سبك تعقیبوي - همدا راز کله چې د یو کرکټر ښکلا او کړه وړه انځوروي هم دا شان د صاحبزاده محمد ادریس او د رسا سید رسول مکالمو ته ورته عبارات او انځورونه لیږدوي ـ سیاست د ژوند یوه عملي برخه ده خو دلته په ناول کې د سیاسي پېښو او سیاسي جریانونو حضور د ناول هنري ښکلا ته زیان رسوي کیدای شي دلته د سمبول ژبه کارول شوې وای--- خو په هر حال د اکتوبر ۲۵ ناول د معاصر ژوند یو انځور دی.»( ۵۳)

عصمت زهیر په دې وروستیو کې یو بل ناول هم د (سوړ بوی) تر سرلیک لاندې لیکلی دی ، چې موضوع یې هماغه د پښتنې ټولنې ناخوالې رانغاړي .

د سهیلي پښتونخوا په خاوره بل ناول لیکونکی **امین مسرور** دی، نوموړي په ۲۰۲۰ م کال د (کافره) په نوم یو ناول لیکلی او چاپ کړی دی چې د سباوون پښتو ادبي ټولنې کوټې له خوا په ۱۳۲ مخونو کې چاپ شوی دی، پر ناول رشید احمد او زړګي علیخېل او د خپروندویې ټولنې یادښت راغلی دی. دا ناول هم د ثور غمیزې د پېښو تر اغېز لاندې لیکل شوی دی، په دې ناول کې د یو خلقي د ژوند کیسه بیان شوې چې څه ډول یې د مجاهدینو پر وړاندې مبارزه کوله او څنګه یې د خپلو اولادونو د تعلیم او روزنې چارې تر سره کولې، په ناول کې د پښتنې ټولنې په بدبختۍ هم اوښکې تویې شوي، د ناول ژبه اسانه، روانه او خوندوره ده، کردارونه یې زموږ په ټولنه کې موجود دي او کیسه یې د ده په وینا یوه ریښتوني کیسه ده، په ټوله کې که وواېو د ثور غمیزه په ملاتړ په کې پېښې بیان شوې دي. ددې ناول په اړه رشید احمد د ناول په سریزه کې لیکي: « ناول دلچسپ دی او کیسه یې هم ډېره غم لړلې ده، ددې ناول کیسه د افغانستان د نیم ولس یا د ټولې پښتونخوا د نیم ولس کیسه ده ....په کیسه کې ګام په ګام تلوسه موجوده ده او د کلیو نامې یې معلومې دي، پلاټ یې ساده دی، پېچیده نه دی، لیکوال کردارونه او د هغې شالید یې نه دی بیان کړی، ولې پوهېدل پرې ګران نه دي، وحدت تاثر یې هم برقرار ساتلی او لکه د اوږدې او طویلې افسانې سره جوت والی ښیي، اختتام یې هم لکه د پښتنو عام ژوند لویه

تراژيدي ده او ډېر په غم سره پای کېږي او تر ډېره وخته يې کردارونه له زړه نه وځي او سترګو سترګو ته کېږي ، په دې ناول کې د پښتنو ښځو کردار او رول هم جوت ليدلی شي.» (٥٤ )

د سهيلي پښتونخوا د ناول ليکنې په بهير کې يواځينی ښځينه ناول ليکونکې **شفاکاکړه** ده ، چې د (څڅېدلې اوښکې ) په نوم ناول يې په کوټه کې د ۲۰۱۹ م کال په فبروري مياشت کې د پښتانه مترقي ليکوال د ښځينه څانګې له خوا چاپ کړی دی ، شفا کاکړې تر ډېره په خپلو لنډو کيسو او ليکنو کې د ښځو حقوقو ته پاملرنه کړې ده او د هغې ليکنې تر ډېره د پښتنې ټولنې د ښځو پر ستونزو او بېلابېلو اړخونو راڅرخي . پر دې ناول عصمت زهير يوه لنډه سريزه کښلې ده ، چې په يوه برخه کې يې راغلي دي: « څڅېدلې اوښکې د بې رحمانه او مصنوعي ټولنې په هغه ناوړو او ناخوالو يوه کلکه زهرجنه خندا ده ، زهرجنه په دې معنا چې پرهر ملهم نه ، سرجرۍ غواړي او ددې سرجرۍ لپاره نشتر بازي اړينه ده او دا نشتر د آغلې شفا قلم دی. آغلې شفا کاکړه يوه سپېڅلې پښتنه مېرمن ، يوه استاده او يوه پښتنه ليکواله ده ، ديوې داسې ټولنې ترجمانه ليکواله ده ، چې تر اوسه قرآن ، توره او ښځه په اووه پردو کې ساتل خپل لرغونی دود هم اتلولي نوموي ، نن هم د پښتنې مېرمن د کېنسر علاج په بارتنګ او (د ماشوم د سپينې وينې د کمښت ) علاج د بي بي خالا په زيارت سي .په پښتنه نارينه ټولنه کې د ښځې حق او احترام ته چندان ارزښت نه دی ورکول سوی او نه ورکول کېږي.»(٥٥ )

د(څڅېدلې اوښکې) په اړه امان پرهر ليکي چې : «د بغاوت به ډېر ډولونه وي خو يو ډول يې د قلم د لارې هم دی لکه شفا خور چې دغه پښتنو خويندو او ميندو و زيندۍ سوو چغو ته اواز ورکړی دی کوم چې ددې ټولنې نارينه وو په زور او زبردستۍ زيندۍ کړي دي او نه غواړي چې ښځې دې هم خپل اواز پورته کړي... دا ناول و دې بې وسې ښځينه ټولنې ته دا همت ورکوي چې دوی هم کولی شي چې د دې بې رحمانه ټولنې څخه خپل واک واخلي او د خپل حق لپاره اواز پورته کړي.... شفا خور هم ددې ټولنې يوه برخه ده چې يې ددې ټولنې هر حرکت په زور او زېر ليدلی هم يې کتلی دی او بيا يې په داسې ښايسته انداز په ناول کې ځای پر ځای کړی دی چې سړی ګوته په غاښ ورته پاته شي .... دا ناول (څڅېدلې اوښکې) يو بشپړه او له

هره اړخه ( (Angleڅخه سل په سله پوره او یو کامیابه ناول دی او یو بل داسې څه مې هم ما پکې ولیدل کوم چې ما د سهېلي پښتونخوا د دوو نارینوو لیکوالانو (پروفیسر راز محمد راز او ډاکټر تابان) په ناولونو کې لیدلي دي هغه دا چې لوستونکي تر پایه ارام ته نه پرېږدي...»( ٥٦)

د سهیلي پښتونخوا بل ناول لیکونکی **میرحسن اتل** دی، د هغه ناول «ګلګوټه ساحه» نومبر چې په ۲۰۱۹ م کال د هېوادزوی څېړنیز مرکز کوټې له خوا چاپ شوی دی.

د دې ناول د کیسې مرکزي خیال د هغه کشمکش ګېر چاپېره راڅرخي چې له پېړیو پېړیو څخه د دوو لاس و ګرېوان طبقو (لاس لاندې او لوړې طبقې) ترمنځ را روان دی او امکان لري چې تر ابده هم داسې روان پاتې شي، د لوړې طبقې نماینده فکر تل دا هڅه کوي چې هغه ټول اوزار په کار واچوي، چې د لاس لاندې طبقې د کنټرولولو او مهارولو په کار ورسره مرسته وکړي، چې په هغو کې د ټګۍ برګیو او درغلیو له لارې د ټاکنو یا انتخاباتو ګټل او په مسلسله توګه ځانونه اقتدار ته رسول هم دي، سیاست که څه هم د ولسي خدمت او سپېڅلې جذبې نوم دی، خو دوی خلکو تل په دغه نوم دروغ ویلي دي، بل لور ته د کیسې اتل (روهي) یو لوستی او ټولنیزو افکارو لرونکی ځوان وي، هغه د پولیسو په محکمه کې ملازم او له درغلګرو او دروغجنو سیاستمدارانو سره یې پر ورځنیو بنیادونو تعلق جوړېږي، په هغو ټولو چلونو او ناوړو دامونو پوهېږي ، چې دوی یې د لاس لاندې طبقې په مقابل کې په کار راولي، روهي ته چې کله هم موقع په لاس ورشي ، نو هغه دغه طبقه تر سخت تنقید لاندې راولي او کوشش کوي چې په ولس او خپل سوسیالیسټ ګوند په ملګرو کې د هغو راپرځولو حوصله پیدا کړي، هغه پوهېږي چې د هر ډول ټولنیز استحصال، مالي فساد، غربت، بې روزګارۍ ، روغتیا او تعلیمي نظام د ناکامېدو او نورو ټولو ټولنیزو خرابیو شاته هم دغه خود غرضه، بې ایمانه او درغلګره طبقه په کار بوخته ده، د هغه په نظر دا هغه ناروا طبقه ده چې تل یې د خپلو ګټو لپاره مبارزه کړې ده، د ناول کیسه هغه وخت کلایمکس مومي او اوج ته رسېږي چې کله د کیسې د اتل روهي او پارک کې ولاړې مجسمې چې یو ډول د لوړې طبقې نمایندګي کوي ترمنځ خیالي مکالمه پیل شي، دغه مکالمه په اصل کې د سوسیالیزم او سرمایه دارانه نظام(کپیټلزم) د بنیادي نقطو او نظریاتي افکارو د پرتلیز جاج اخستلو کوشش

دی،ځکه له دواړو خواوو کلک دلیلونه وویل شي او د حق ناحق پرېکړه د ناول لوستونکو ته پرېږدي.

**د ناول کردارونه:** د کیسې اتل روهي نومېږي، چې د پولیس په محکمه کې سپاهي خو له غېر رسمي لارې یې ژوره مطالعه کړې وي، د ښو اخلاق خاوند او د سوسیالیسټ ګوند غړی او مخکښ وي. همایون، سیال او اولسیار هم د هغه ملګري وي چې دوی له روهي سره د پولیسو په محکمه کې او اولسیار بیا اسسټنټ کمشنر وي. غټې ترور د سعادت مور وي او روهي د پلار خور (عمه) وي، سعادت په کیسه کې د ناروغ رول لري. نوی ښاروال: غټ سرمایه دار او ټاکنې یې د درغلیو په مرسته او د پیسو په زور ګټلي وي.

ددې ناول په اړه اغلې فاطمه عیسی بارکزۍ د کوټې جنګ اردو اخبار کې داسې لیکي: «ژباړه: که خبره رالنډه کړو نو پر ځای وینا داده چې دا یو داسې ناول دی چې نه یوازې په موضوعاتي لحاظ یو شهکار ادبي کوښښ دی، بلکې په فني لحاظ سره هم د ناول په ټولو اصولو او قواعدو پوره خېژي، په کیسه کې تجسس او په پېښو کې ترتیب او توازون ، په کردارونو کې فطري رنګ ، په مکالمو کې تسلسل او رواني او زړه راښکوونکې منظر کشي هغه فني او ادبي ځانګړنې او خصوصیات دي چې لوستونکي بیا بیا دې ته مجبوروي چې پرته له کومې دمې دغه زړه راښکوونکې کیسه تر پایه ولولي.»(۵۷ )

د سهیلی پښتونخوا په لیکوالو کې **بارکوال میاخیل** د ښه قلم خاوند دی ، د شعر ، لنډو کیسو او ژباړو تر څنګ یې د (ښامار ) په نامه یو ناول هم چاپ کړی دی ، دا ناول چې په ۲۰۱۲ م کال لیکل شوی دانش خپرندویه ټولنې په ۲۰۱۷م (۱۳۹٦ل) کال په کابل کې چاپ کړی دی چې ۱۷ څپرکي او ۱۳۵ مخونه لري.

په دې ناول کې د ږوب د «شنه غره» د یو شپانه ځوان ژوند انځور شوی دی، په افغانستان کې چې له ۲۰۰۱م کال وروسته کوم بدلون راغی ، نو د کوزې پښتونخوا په زرګونو ځوانان هم هلته د کار روزګار لپاره تلل، «امان» هم یو په دغو ځوانانو کې وي چې د خپل ملګري کمال خان په هڅه افغانستان ته ځي، په افغانستان پسې د ده د زړه ستنې ځکه هم کږې دي چې د «ګلمېخۍ» د بیا لیدو تږی دی، هغه «ګلمېخۍ» چې کورنۍ یې کلونه د دوی په کلي کې کډواله وه او بیا افغانستان ته ستنه شوه. امان چې له خپلو ملګرو سره د چمن او سپین بولدک پر پوله اوړي، نو پاسپورټ او ویزه ورسره نه وي او پاکستاني ملېشه عسکر ته درې سوه روپۍ ورکوي او افغانستان

ته اوړي. هغه څو شپې په کندهار کې تېروي، بیا په زابل کې څه وخت د اشپزۍ کار کوي او بیا کابل ته ځي، خو هلته تر ډېرو ورځو تېرولو وروسته د پکتیکا په «تروو» ولسوالۍ کې د یوې ودانۍ په پروژه کې کار پیدا کوي، کله چې پکتیکا ته ځي په غزني کې یې عسکر نیسي او د جاسوس ګومان پرې کوي، په دې موټر کې شینکۍ اکا او د هغه لور «ګلمېخۍ» هم وي، خو هغوی وروسته پوهېږي چې دوی د امان دوی په کلي کې اوسېدل، عسکر دوې ورځې امان بندي کوي، وهي ټکوي یې او بیا یې پرېږدي، په سترو د پکتیکا مرکز ښرنې ته رسېږي او بیا هلته له خپل یو ملګري سلطان سره تروو ولسوالۍ ته روانېږي، پر لاره طالبان وربانديې پېښېږي ، خو له هغوی ژوندي تېرېږي، امان په تروو کې د شینکي اکا کور پیدا کوي، کار هم کوي ، خو د شینکي اکا په کور کې هم څو شپې کوي، ګلمېخۍ د ده په ورتګ خبره ده او دواړه د یو بل د دیدن ارمان لري، په دې ورځو کې پاکستان پر ډیورنډ کرښه اغزن تار غزوي، یوه ورځ د تروو ټول خلک او د ډیورنډ پورې غاړې پښتانه د دې اغزن تار پر ضد احتجاج کوي، امان هم له شینکي اکا او د هغه له زامنو سره دې احتجاج ته ورځي، کله چې احتجاج ختمېږي، امان په ناپامۍ سره په هغه ډله خلکو پسې منډې کوي چې د ړوب ورته ښکاري، خو بیرته د شینکي اکا په ګڼه ګوڼه پسې ور منډې کړي، خو پاکستاني ملېشه پوله بنده کړې وه، د ده څېرې او جامو ته په کتلو سره یې ورته وویل چې د پاکستان خواته لاړ شي ، خو دی نه ځي، اخیر په چیغه د شینکي اکا په ډله پسې منډې کوي او عسکر یو بل ته سره ګوري او وایي «د ډیورنډ مختوري جنازه یې سمه و ایسته». دا ناول هم د یوولسم سپټمبر د پېښو تر اغېز لاندې لیکل شوی دی.

دکیسې کرکټرونه او پلاټ یې ټول پښتني دي ، ددې ناول په اړه لیکوال په خپله سریزه کې وایي : « زه چې د ډیورنډ په ناولې کرښه د جلا شوې خاورې زوی یم او د خپلې خاورې مور پر سینه د غځېدلي ښامار زهر مې زړه او ذهن هره شېبه خوري ، نو څنګه به مې د یوه قلموال په توګه دا ارمان نه وي ، چې دا درد د یو ادیب او شاعر په توګه په داستان او شعر کې هم انځور کړم زه په یوه داسې بدمرغه زمانه کې زوکړی یم ، چې د همدې ښامار له امله مې کوز او پاس ولسونه په خپل ټول ژوند کې په جنګ اخته ، له تعلیمه بې برخې ، بې کوره بې وطنه ، وږي او محتاج او د لیرې او نږدې دښمنانو په استعماري چپلاخه خوږ لیدلي دي ،نو څنګه به خپل دغه حس

کړي دردونه بې لیکلو وزغمم او یا به سترګې ورباندې بټې کړم . »( ) دا ناول په ډېره خوږه ژبه لیکل شوی ، ټولې برخې یې د یو بل سره ښې کنډل شوي دي ، کیسه یې ډېره په زړه پورې ده ، د وطن مینه په کې نغښتې ده ، پلاټ یې د کیسې سره سمون لري، کرکټرونه یې پښتني دي ، په ناول کې مکالمې هم د ناول لیکنې له اصولو سره سمې دي او د منظرکشۍ په برخه کې یې هم لیکوال پوره خواري کړې ده . دا ناول لوستونکی نه ستړی کوي او تلوسه یې ترپایه برقراره ده ، د ژبې کارونه یې د جغرافیې سره سمون لري او پیغام یې د یو ویشل شوي وطن لپاره ملي مبارزه ده .

(ناټک) د **پائیدین ګران بوریوال اڅکزي** ناول دی ، چې په (۱۵۳) مخونو کې د کویټې پښتو اکاډمۍ له خوا په ۲۰۱٦ م کال چاپ شوی ، سریزې سید خیرمحمد عارف، ، ډاکټر محمد اقبال فنا خټک او پخپله د لیکوال له خوا لیکل شوې دي. د ناول اصلي متن له درویشتم مخ څخه پیلېږي او پر یو سل و دوه پنځوسم مخ پای ته رسېږي چې ټول ټال ناول په شپاړلسو برخو کې رانغاړل شوی دی ، د ناول لیکونکي کمال دا کړی دی چې ناول یې په داسې ډول پر برخو برخو وېشلی چې یوې برخې یې له بلې برخې سره منطقي تړاو او د پېښو تسلسل بایللی نه دی او که چېرې لوستونکی ناول په یوه وخت کې ونه لوستلی شي او برخه برخه یې ولولي، نو چې تر کومې برخې پورې یې لوستلی وي، نو کیسه او د کیسې منځپانګه او تلوسه یې په ذهن کې پاتې کېدلی شي او د بلې ورپسې برخې په لوستلو سره د پاتې کیسې منطقي تړاو او د پېښو تسلسل لوستونکی لکه د تېرو برخو غوندې له ځان سره تړلی ساتلی شي.

د ناول روماني موضوع زمونږ د ځپلې پښتني ټولنې پر یوه پښتون سلیم نومي کردار راڅرخي چې تر لوړې کچې (ماسټرۍ) پورې یې زده کړې کړي دي او لکه د نورو دنده لرونکیو وګړیو غوندې تعلیم یې په دې هیلې کړی دی چې ګوندې دنده ترلاسه کړي او له دې لارې له خپل غربت سره مخه ښه وکړي، خو له ډېرو کوښښونو سره سره ورته دنده نه پیدا کېږي، ځکه چې نه زور لري، نه دولت لري او نه هم څوک واسطه لري او بالاخره چې کومه دنده ورته پیدا کېږي، نو د ده د تعلیم له کچې سره نه ښایي، ځکه چې دغه ډول دنده (د موټر چلول یا ډرېوري) زمونږ په پښتني ټولنې او شاوخوا سیمو کې نالوستي وګړي هم کولی شي. په همدې کشمکشونو (د دندو په پیدا کولو) کې یې بالاخره سر یوې هندوې پېغلې ته چې پونم نومېږي، رسېږي،

هغه ورته دنده له دې امله پیدا کوي چې د سلیم د ښایست تر اغېزې لاندې راځي. د سلیم دنده د یوه خان (سېټ) په کور کې وي چې د خان لور (کوتره) تر پوهنتون، د خان تر کارځي او د کور د نورو غړیو تر مطلوبو ځایونو پورې په موټر کې وړل راوړل دي. د ځینو نورو کوچنیو پلاټونو (پېښو او کردارونو) تر څنګ د سلیم او کوترې له یو او بل سره مینه پیدا کېږي، که څه هم د پونم هم ورسره مینه وي، خو د دینونو د توپیروالي له مخې دا مینه ناشونې وي. په همدې مهال کې د خان یو زوی له بهرني هېواد څخه له خپلې بهرنۍ مېرمنې سره په دې موخه مؤقتي واده کړی وي چې د هغه هېواد تابعیت ورباندې تر لاسه کړي، راځي او له بهرنۍ مېرمنې د شوي مهالني تړون له مخه د واده اړیکه له مینځه وړي او په همدې ترځ کې یې نکاح له کوترې سره تړل کېږي، سلیم له خپلې کونډې وربندار سره جبري واده ته غاړه ږدي او د مذهبي تاوتریخوالي له امله پونم هندوستان ته ځي او همدا راز ځینې نور مهم ټولنیز مسایل په دغه ناول کې رانغاړل شوي دي چې د ناول لیکونکي پر مېړانې دلالت کوي چې د قلم په ژبه یې راوړي دي، ځکه چې دغه مسایل څوک نن سبا په ژبه هم نه ذکر کوي او تراخه حقیقتونه دي.

لکه چې پورته یادونه وشوه د ناټک ناول کیسې کې تلوسه او هیجان په عالي ډول په پام کې نیول شوي دي او لوستونکی تر پایه له ځانه سره ساتي ، خو د کیسې پای ډېر لنډ و تنګ رانغاړل شوی دی، یعنې په یوه وروستني پاراګراف کې کیسه داسې رانغاړل شوې ده چې کوتره د خان زوی ته ودېږي، سلیم له خپلې کونډې وربندار سره واده کوي او پونم د یوه لیک په وسیله سلیم دومره خبروي چې په پښتني ټولنې کې د مذهبي تاوتریخوالي د پېښېدو له امله ورته ژوند ستونزمن دی او د هندوستان مخه نیسي او بس. زما په اند کېدای شو چې دغه برخه څه ناڅه غځول شوې وای، یعنې د کوترې په ودېدلو سره د سلیم او کوترې د اروایي حالت انځور، له کونډې وربندار سره د سلیم د واده د حالت منظرکشي او داسې نور.... خو که چېرته ناول له سر نه تر پای پورې وکتل شي، د عالي منظرکشۍ لرونکی دی د سیمې او د حالت د منظرکشۍ له پاره چې لیکوال کوم ډول کلمات کاروي، نو د هغو حق ادا کوي. په همدې ډول د ناول لیکونکی د کردارونو د نومونو، د هغوی د ترسیم او د اروایي منظرکشۍ په برخو کې هم بریالی دی. ګران بوریوال د کردارونو له پاره ډېرې غوره،

لنډې او پرېکنده مکالمې د کيسې او پلاټ له حال سره برابرې راوړې دي او يو کردار د هغه د ټولنيز شان سره برابر غږوي او د ځينو ناولونو غوندې اوږدې اوږدې خبرې نه ذکر کوي چې د کردار د شخصيت سره اړخ ونه لګوي، خو يوه خبره د يادونې وړ ګڼم او هغه دا چې ناول ليکوال د کردارونو له پاره د مکالمو ليکلو او د منظرکشيو د جوړولو په برخو کې ادبي او شاعرانه ترکيبونه ترې کارول کېږي او دا موږ ته د ګران بوريوال هنري او ادبي پوهه راپه ګوته کوي چې څنګه د کلماتو په وسيله د يوه کردار د شخصيت، ذهنيت او د هغه د چاپېريال انځور زموږ مخ ته ږدي.

## پايله

که چېرې موږ د سهيلي پښتونخوا ناولونه په ژور نظر وګورو، نو دې پايلې ته رسېږو چې په دې سيمه کې ناول که څه هم له افغانستان او پښتونخوا وروسته سر راپورته کړی دی ، خو بيا هم د موضوع ، مفهوم او تکنيک له مخې يو شمېر په تول تللي معياري ناولونه تخليق شوي دي ، چې حتی موږ کولای شو له نړيوالو ناولونه سره يې د سيالۍ ډګر ته راوباسو. د سهيلی پښتونخوا د ناول موضوعي اړخ تر ډېره د پښتونخوا او افغانستان د ناولونو سره همغاړی نه دی او هغه په دې معنا چې دلته د ناولونو موضوع په لويه پيمانه د پښتون افغان وطن د تاريخي پېښو او دربدريو ، د پښتنو قامي او ملي تشخص ، د پښتنو ژوند و ژواک ته کره کتنه په ځانګړي ډول د ښځو ژوند ، نشنليزم ، د پښتنو په وطن کې د روانو ناورينونو او ناخوالو موضوعات تر هر څه زيات دی، حتی دلته رومانوي ناولونه هم د همدغو پېښو پر محور څرخي او ډېر کم ناولونه به داسې وي چې له دغو پېښو به خالي وي. په سهيلي پښتونخوا کې تر ټولو ډېر ناولونه عبدالقادر مجرم ليکلي چې په عامو خلکو کې لوستونکي لري او د پښتني ژوند او په ځانګړي ډول د ښځمنو مسايلو، د پښتنو ناوړه دودونو او ټولنيزو مسايلو ته په کې ځانګړې پاملرنه شوې ده ، ناولونه يې تر ډېره د هنر په ګاڼه سمبال دي ، دده د بختيالی ، ملا بشر ، ته يو څو لېونی وکه ناولونه د کيسې ، پلاټ ، کردارونو او نورو اړخونو له مخې د ستاينې وړ دي.

په موضوعي لحاظ د سهيلي پښتونخوا ناولونه د پښتني ټولنې پوره پوره عکاسي کوي او ليکوالو يې تر ډېره هڅه کړې ، چې د ناول په موضوعي اړخ ډېر پام وکړي او د ناول فني او تخنيکي اړخ ته توجه کمه کړي ، يا په بله معنا په سهيلی پښتونخوا کې تر ډېره

د ناول موضوعي اړخ ته ډېره پاملرنه شوې او مقصدیت ته ترجیح ورکړل شوې ده ، ناول لیکونکو په زیاته پیمانه د ناول د فني اړخ او سټرکچر پر ځای په معنا او مفهوم ډېر زور راوړی دی ، خو دا په دې معنا هم نه ده چې ګوندې په سهیلي پښتونخوا کې دې د معیاري ناولونو کمی وي ، بلکې په سهیلي پښتونخوا کې هم له هر اړخه پوره او په تول تللي ناولونه تخلیق شوي دي چې حتی ځینې ناولونه یې مو ږ د نړیوالو ناولونو سره د پرتلې لپاره هم وړاندې کولای شو. د سهیلي پښتونخوا یو شمېر ناولونه په نورو ژبو هم ترجمه شوي دي ، چې دا کار د نورو ژبو ویونکو ته د پښتنو د فرهنګ ، کلتور او ادب په اړه یو مثبت پیغام لېږدوي ، چې د ستاینې وړ کار دی. په سهیلی پښتونخوا کې ناول لیکنې ته د یوولسم سپتمبر له پېښې وروسته زیاته توجه اوښتې ده او تر ډېره ددې سیمې ناولونه د همدغې پېښې په شالید کې د رامنځته شوو پېښو څخه اغېزمن دي. که څه هم یو نیم ناول له دغو پېښو وړاندې ناخوالو ته هم اشارې لري او پر تاریخي موضوعاتو راڅرخي.

## وړاندیز

بهتره به وي چې د لر او بر افغانستان ځوان لیکوال، څېړونکي او محققین د سویلي پښتونخوا د پښتو ناولونو په منځپانګه، کرکټرونو او نورو موضوعاتو جلا جلا څېړنې وکړي.

## مأخذونه


۱ـ بریالی، عبدالکریم. د بلوچستان پښتو ادب زرکلیزه جاج، مشموله لیکنې، ۱۹۸۴م کال، ۱۳۷مخ.

۲ـ ساحل،محمد یوسف. په سهیلي پښتونخوا کې د پښتو ناول تحقیقي او تنقیدي جائزه، د ایم فل تحقیقي مقاله، پښتو ادبي غورځنګ: کوټه: ۲۰۱۸ م کال، ۷۳ مخ.

۳ـ وزیر. توبه وال، نصرالله جان او محمد عثمان. پښتو ناول په سهیلي پښتونخوا کې، (تکتو) مجله، جولای ـ دسمبر ګڼه، ۲۰۱۱ م کال، ۱۱ مخ.

۴ـ وزیر، نصرالله جان او توبه وال، محمد عثمان. پښتو ناول په سهیلي پښتونخوا کې، ۱۳ مخ .

۵ـ شوق، افضل. پروني مخونه، د سعدالدین شپون سریزه، سکام پښتو ادبي اکاډمي: کوټه، ۲۰۰٦ م کال، ۳مخ.

٦ـ شوق، افضل. پروني مخونه، د زرین انځور سریزه، ۳مخ.

۷ـ تنها، حسینه گل. فیض الاسلام پرنټنګ پریس راولپنډي: ۲۰۰٦ م کال، ۲۲۴-۲۳۵مخونه.

۸ـ وزیر، نصرالله جان او توبه وال، محمد عثمان توبه وال. پښتو ناول په سهیلي پښتونخوا کې، ۱۹ مخ.

۹ـ ساحل، محمد یوسف. په سهیلي پښتونخوا کې د پښتو ناول تحقیقي او تنقیدي جائزه ، ۷۰مخ.

۱۰ـ انځور، زرین. د سهیل داستاني ستوري: هاشمي خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۲۰۲۰ م کال، ۲۵- ۲٦ مخونه.

۱۱ـ صادق، ناظر. وچه لښته: پښتو ادبي غورځنګ،کوټه، ۲۰۰۵ م کال، ۳ مخ.

۱۲ـ احمد، رشید. پښتو ناول (سل کاله): ضیاء سنز پرنټرز، پېښور، ۲۰۱۵ م کال، ۳٦۹- ۳۷۰ مخونه .

۱۳ـ احمد، رشید. پښتو ناول (سل کاله). ۳۸۲مخ .

١٤ـ ساحل، محمد یوسف او اقبال، جاوید اقبال. د کوټې د اووم اکتوبر رزم صنفي تعین، مشموله: (تکتو) مجله، جنوري – جون ګڼه، ۲۰۱٦ م کال ، ۱۰۸ مخ.

۱۵ـ انځور، زرین. د سهیل داستاني ستوري، ۳۱- ۳۷ مخونه.

۱٦ـ غورغشتی، عبدالعلي. اوښکې، د رشید احمد سریزه، د عبدالعلي غورغښتي اوښکې: ۲۰۱۸ م کال ۱۲-۱۰ مخونه.

۱۷ـ غورغشتی، عبدالعلي. اوښکې، د عمرګل عسکر د غورغوشتی ناول اوښکې کیسه: ۲۰۱۸ م کال ۱۲-۱۰ مخونه.

۱۸ـ غورغشتی، عبدالعلي. اوښکې، د رشید احمد سریزه، ۲۰۱۸ م کال ۱۵-۱۳ مخونه.

۱۹ـ غورغشتی، عبدالعلي. اوښکې، د طاهر ځلاند یو څو خبرې،۱۲-۱۰ مخونه.

۲۰ـ وزیر، نصرالله جان او توبه وال، محمد عثمان توبه وال. پښتو ناول په سهیلي پښتونخوا کې، ۲۰ – ۲۲ مخونه.

۲۱ـ ساحل، محمد یوسف. په سهیلي پښتونخوا کې د پښتو ناول تحقیقي او تنقیدي جائزه، ۱٦۸ – ۱۷۱ مخونه.

۲۲ـ راز، راز محمد. عاشو لمر او باران اوري، د افضل شوق سریزه، فکر نو ادبي فورم: پښین، ۲۰۰۸ م کال، ۱۰- ۱۱ مخونه.
۲۳ـ وزیر، محب. په پښتو ناول او افسانې د یوولسم سپتمبر اثرات: پښتونخوا، ۲۰۱۰ کال. ۷۰ مخ.
۲۴ـ مطالعاتي مرکز، باچاخان پوهنتون ، چارسده، ۲۰۱۵ م کال ، ۷٦ مخ.
۲۵ـ ساحل، محمد یوسف. په سهیلي پښتونخوا کې د پښتو ناول تحقیقي او تنقیدي جائزه، ۱۰۲ – ۱۰۳ مخونه.
۲٦ـ انځور، زرین. د سهیل داستاني ستوري، ۴۲- ۴۵ مخونه.
۲۷ـ وزیر، نصرالله جان او توبه وال، محمد عثمان توبه وال. پښتو ناول په سهیلي پښتونخوا کې، ۲۳ مخ.
۲۸ـ راز، راز محمد،کابل ړنګ دی مینې ژاړي، فکر نو ادبي فورم، یونایټیډ پریس: کوټه، ۲۰۱۱ م کال، ۵مخ.
۲۹ـ وزیر، محب. په پښتو ناول او افسانې د یوولسم سپتمبر اثرات، ۷۷ مخ.
۳۰ـ وزیر، محمد یوسف. په سهیلي پښتونخوا کې د پښتو ناول تحقیقي او تنقیدي جائزه، ۱۰۲ – ۱۰۳ مخونه.
۳۱ـ انځور، زرین. د سهیل داستاني ستوري، ۱۲۹ – ۱۵۸ مخونه.
۳۲ـ ایاز، محمود. د پښتو ژبې، ادب او کلتور فکري او تخلیقي یون له ناین الیون وروسته (د مقالو ټولګه )، پښتو اکاډمي: کوټه، ۲۰۱۹ م کال، ۱۳۱ مخ.
۳۳ـ وزیر، نصرالله جان او توبه وال، محمد عثمان توبه وال. پښتو ناول په سهیلي پښتونخوا کې، ۳۱ – ۳۲مخونه.
۳۴ـMeyer, Mike (March ۵, ۲۰۰٦). "Pearl of the Orient". The New York Times. Retrieved October ۱۰, ۲۰۱۱.
۳۵ـ ازاد، محمد نعیم. نېکمرغه خاوره، پښتو ادبي غورځنګ: کوټه، ۲۰۱۲ م کال، د سریزې دویم مخ.
۳٦ـ تنها، امین. لمبه (مجله) پښتو ادبي غورځنګ: کوټه، پرلپسې ۵۰ ګڼه ، ۲۰۱۲ م کال، ۱۵۰ مخ.

۳۷ـ ساحل، محمد یوسف. په سهیلي پښتونخوا کې د پښتو ناول تحقیقي او تنقیدي جائزه، ۱۷۳مخ.

۳۸ـ انځور، زرین. د سهیل داستاني ستوري، ۱۸۷ – ۱۸۸ مخونه.

۳۹ـ احمد، رشید. پښتو ناول (سل کاله)، ۴۱۵- ٤١٦ مخونه.

۴۰ـ انځور، زرین. د سهیل داستاني ستوري، ٦٣ مخ.

۴۱ـ ساحل، محمد یوسف. په سهیلي پښتونخوا کې د پښتو ناول تحقیقي او تنقیدي جائزه، ۱۹۰ – ۱۹۴ مخونه.

۴۲ـ تابان، لیاقت. دارالامان ملګري لیکوال، کوټه، ۲۰۱۷ م کال ، ۴۹مخ.

۴۳ـ تابان، لیاقت. دارالامان، ۵۰- ۵۱ مخونه.

۴۴ـ ساحل، محمد یوسف. په سهیلي پښتونخوا کې د پښتو ناول تحقیقي او تنقیدي جائزه، ۱۸۲ – ۱۸۳مخونه.

۴۵ـ وزیر، نصرالله جان او توبه وال، محمد عثمان توبه وال. پښتو ناول په سهیلي پښتونخوا کې، ۳۲ – ۳۳مخونه.

۴٦ـ ساحل، محمد یوسف. په سهیلي پښتونخوا کې د پښتو ناول تحقیقي او تنقیدي جائزه، ۲۰۲ – ۲۰۳ مخونه.

۴۷ـ رودوال، زین الله. لاس بندي، هېواد ادبي یون: قلعه سیف الله، ۲۰۱۴ م کال، د سریزې لومړی مخ.

۴۸ـ علیخېل، زړګی. برکلی، د غورغوشتي سریزه، سباوون پښتو ادبی ټولنه: کوټه، ۲۰۱۸ م کال، ۸ مخ.

۴۹ـ علیخېل، زړګی. برکلی، د رشید احمد سریزه، ۸ مخ.

۵۰ـ https://pashtojournal.com/?p=۱۷۷۳

https://dawatmedia۲٤.com/%d۹%۸٦%d۸%a۷%d۹%۸۸%d۱۳/۹%۸٤ /۷۵۸۲ ۵۱ـ

۵۲ـ مسرور، امین. کافره، د رشید احمد سریزه، سباوون پښتو ادبی ټولنه: کوټه، ۲۰۲۰ م کال، ۹ مخ.

۵۳ـ کاکړه، شفا. څڅېدلې اوښکې، د عصمت زهیر سریزه، پښتانه مترقي لیکوال بنځینه څانګه: کوټه، ۲۰۱۹ م کال، ۴ مخ.

۵۴ـ  /http://khaisor.com/archives۳٤۰۱

۵۵ـ  بارکزی، فاطمه عیسی. گلگوټه ساحه  اور میرحسن خان اتل، جنگ اخبار: کویټه، ۴ نومبر ۲۰۲۰ م کال، ۸ مخ.

۵٦ـ میاخیل، بارکوال. ښامار، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۲۰۱۷ م کال، ۵-٦ مخونه.

څېړندویه شکیلا میاخېل

# په پښتو ادب کې د مېلمه پالنې دود انعکاس

# Reflection of hospitality tradition in Pashto literature

Assistant Prof. Shakila Miakhel

## Abstract

Based on the social requirements and needs, hospitality and hujra (guesthouse) is of much importance among Pashtun tribes. Majority of people sustain hujra as per their economic possibilities. Hosting people is the sign of dignity in Pashto and inhospitality is considered as dishonor. Allah (swt) likes guest and is the shadow of dignity. In today's world the mode of hujra and hospitality has been changed, village hujra acquired the form of family hujra. To pay mutual visits among women and hosting is also common in Pashtun community and this tradition is followed by them in good way. This and likewise topics are considered in this article.

## لنډیز

مېلمه پالنه او حجره د پښتنو د قبیلو او ټولنیزو ضرورتونو له مخې ډېر اهمیت لري او په کور کلي کې زیاتره خلک د خپل اقتصادي توان په کچه حجرې لري. مېلمه درلودل په پښتنو کې دعزت نښه ده او مېلمه ځوابول د بې غیرتۍ نښه ده، مېلمه د الله جلّ جلاله دوست او د عزت سیوری دی . په اوسني عصر کې د حجرې او مېلمه پالنې څرنگوالي بدلون موندلی، د کلي حجرې د کورنۍ حجرې بڼه غوره کړې ده . همدارنگه په پښتنې

ټولنه کې د ښځو ترمنځ راشه درشه او مېلمستيا ډېر رواج لري او دا دود د دوی له خوا په ښه توګه پالل کېږي دا او دې ته ورته نور موضوعات په دې مقاله کې څېړل شوي دي.

## سريزه

مېلمه او حجره درلودل د پښتونولۍ له ښو څخه يوه ستره نښه ده، پښتانه هغه سړی معزز او قدرمن ګڼي چې مېلمه پال وي. د پښتنو دغه دود په اسلامي شريعت کې هم يو د قدر وړ عمل بلل شوی دی. که موږ نبوي سيرت ته مراجعه وکړو، نو دا به را ته په ډاګه شي چې د اسلام ستر لارښود رسول الله صلی الله عليه وسلم له بعثت څخه مخکې هم يو مېلمه پال شخصيت و او د اسلام د سپېڅلي دين له راتګ سره مېلمه پالنه له اسلامي احکامو څخه د يوه حکم په توګه بيان شوې ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم په دې اړه فرمايلي دي:

[مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ](١ ). څوک چې په الله( جلّ جلاله) او د قيامت پر ورځ باورلري، نوهغه دې د خپل مېلمه قدر وکړي. دا مبارک حديث په ډېر صراحت سره مومن ته امر کوي چې د خپل مېلمه اکرام او عزت دې کوي. پښتانه مېلمه پالنه يواځې پښتني ښه دود نه، بلکې يو اسلامي او د قدر وړ عمل هم ګڼي، نو مناسبه وګڼل شوه چې پر دغه اسلامي، ملي او عنعنوي دود باندې څېړنه ترسره شي او په پښتو ادبياتو کې د مېلمه پالنې دود انعکاس وښودل شي. په دې توګه، په دې مقاله کې د مېلمه پالنې اومېلمستيا په اړه موضوعاتو باندې څېړنه شوې ده.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د دې موضوع مبرميت په دې کې دی چې نه يواځې پښتون قوم، بلکې ټول افغانان او مختلف قومونه چې په افغانستان کې استوګنه لري، ځينې خورا ښه صفتونه او دودونه لري چې له دغو دودونو څخه يوهم مېلمه پالنه ده چې د دوی په فطرت کې ځای لري او په ډېره ښه توګه يې ترسره کوي، نو ما په دې برخه کې څېړنه وکړه او د يوې مقالې په بڼه مې چمتو کړه، هيله ده چې درنو لوستونکو ته په زړه پورې وي. د افغا - نستان د ټولو خلکو لپاره مېلمه پالنه يوه اسلامي دنده او د مېلمه قدر يو غوره منل شوی دود دی، نو د دې مقالې له ليکلو څخه زما هدف دا دی چې په دې موضوع باندې يو څه رڼا واچوم او د پښتنو دغه دود، ښېګڼې او ځانګړنې يې ښکاره او روښانه کړم.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخه دا ده چې دا جوته شي چې ایا مېلمه پالنه د افغانانو دود دی او که ټولنیز فرض او هم به دا څرګنده شي چې د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې مېلمه پالنه سره څه توپیرونه لري.

## د څېړنې پوښتنې

۱ ـ مېلمه پالنه او مېلمستیا دافغانانو دود دی او که ټولنیز فرض ؟
۲- د افغانستان په ټولو سیمو کې مېلمه پالنه یو شان ده او که سره توپیر لري ؟
۳- په مېلمستیا کې اسراف وي او که اخلاص؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشرېحي او توضیحي میتود څخه کار اخیستل شوی دی، چې په ځینو برخو کې تنقید هم ورسره مل دی.

## اصلي متن

مېلمه پالنه د پښتون قوم او په افغانستان کې د ټولو میشتو ولسونو ترمنځ یو غوره او منل شوی دود دی. پښتانه هغه څوک پښتون نه ګڼي چې مېلمه پالنه نه کوي. همدغه موضوع په پښتو لنډیو او اشعارو کې ښه ځلېدلې ده:

که پښتون شي ګدا ګرد کل جهان
غرېبې تللی د ډوډۍ دی تر یونان
هسې ښه مهمان نوازه خلک نه شته
لکه خدای چې پیدا کړی دی افغان
که بهر درته ځان زمری شی خو په کورکې
له ادبه ځان مرېې کړي تابه خان
د هرچا ځای له چې ورشې بې تکلیفه
کټ پوزی درته تیاردی آش ونان ( ۲ )
او دا هم د مېلمه په اړه یوه لنډۍ:
بیلتونه راشه ستړی مه شې

زړه مې پښتون دی مېلمه نه خپه کوینه ( ۳)

پښتون قوم ځينې خورا ښه صفات اودودونه لري، له دې ډول دودونوڅخه یوهم مېلمه پالنه ده چې دا یواځې پښتنې ښه دود نه دی، بلکې یو اسلامي او د قدر وړعمل هم دی، همدا وجه ده چې د بشريت لارښود او د انسانيت ښوونکی هم داسې فرمایلی :(من کان یومن بالله والیوم الاخرفلیکرم ضیفه) څوک چې په الله جلّ جلاله او د قيامت پر ورځ باور لري، نوهغه دې دخپل مېلمه قدر وکړي. دا مبارک حديث په ډېر صراحت سره مومن ته امرکوي چې د خپل مېلمه اکرام اوعزت دې کوي او دهغه له شان سره سم او د خپل وس برابر دې هغه څه ورته وړاندې کړي چې پرې خوښېږي. دا ځکه چې هر چاته د هغه له شان او مرتبې سره سم احترام کول هم یوه ديني اوشرعي وجيبه ده. کله ناکله د ځينو پښتنو احساسات دومره په جوش راشي او مېلمنوته داسې اکرام وکړي چې وروسته ورته تکليف جوړشي، په دې معنا چې له خپل وس څخه ډېر اوچت څه ورته وړاندې کوي چې سبا ورځ یې له امله له ستونزو سره مخامخ وي، نو ځکه زه خپلو دغه رنګ پښتنو وروڼو ته سلا او مشوره ورکوم چې له خپلې شړۍ څخه دې پښې نه باسي او د خپل وس برابر دې د مېلمه قدر وکړي .

مېلمه خو یا خپل وي، یا دوست وي او یا ملګری، نوکه رښتیا همداسې وي، هغه هم د خپل مېلمه پال وس په نظرکې نيسي او له هغه زیات ورڅخه د څه هیله خو نه کوي، بلکې له هغه مېلمه پال څخه چې له وس څخه لوړ څه کړي وي، ترې د خفګان څرګندونه هم کوي.

دا به ښه وي، څنکه چې د مېلمه شان په نظرکې نيول په کار دي، همدارنګه یې د راتلو وخت هم په نظرکې نيول ضرور دي. یو هغه مېلمه دی چې هو به هو د ډوډۍ په وخت کې له مخکينۍ خبرتيا پرته راځي، له هغه سره د(څه چې تيار دي - هغه د ياردي) په قانون عمل کول په کار دي.

دويم هغه مېلمه دی چې درې څلورساعته د مخه راځي، هغه ته د مېلمه پال د وس سره سم څه مخ کې اېښودل په کاردي، هغه ته نه ښایي چې د لومړي مېلمه په څېر ورته وکتل شي او درېيم هغه دعوت کړی شوی مېلمه دی چې د کوربه له خوا یو څه وخت د مخه غوښتل شوی وي، نو د داسې مېلمه باید د هغه د شان او حال مطابق خدمت وشي او د قدر په سترګه ورته وکتل شي. دا هم په دې شرط چې له

خپل طاقت څخه تېرى ونه کړي او پرځان دومره بار وانه چوي چې اوچتېدل ترې لاندې ورته ګران شي، خو چې وس يې وې، هغه دې تر آخره په کار واچوي، ترڅو د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وړاندینی ارشاد په ښه توګه عملي شي ،که څه هم زموږ پښتانه وروڼه دا کار کوي، پرته له دې چې نبوي ارشاد يې په نظرکې وي، ځکه دا يې دود او دستور دی او له دې څخه سرغړونه هم ورته ناشونی کار برېښي، الله جلّ جلاله دې ټولو مسلمانانو ته، نه یواځې پښتنو ته د داسې نیکو کارونو او ښکلو دودونو د پلي کولو مرسته په برخه کړي او د بخل او کنجوسۍ له بدو عاداتو څخه دې وژغوري( ۴).

پښتانه د طبيعی مېړانې او شجاعت له امله د ننګ او غیرت په ځای کې له خپل سر څخه هم تيرېږي، نو د مال ښندنه خو ښځي ورته یوعادي او معمولي شی ښکاري، نو ځکه دوی د مېلمه پوره قدر کوي.

د پښتونخوا د غرني محیط د کليوالي ژوند دا طبيعي تقاضا ده چې د مېلمه قدر د دې ځای د خلکو عادت شي، بلکې د طبيعت جزيې ګرځي، ځکه د دې ملک په زیاترو برخو کې ښارونه او بازارونه او بیا هلته منظم هوټلونه او د شپې تېرولو ځایونه نه وي او له بلې خوا په اجتماعي ژوندانه کې یو تربله د دوی تګ او راتګ جاري وي، نو ځکه دوی مجبور دي چې خپلو قومي عزيزانو کره شپه تېره کړې او ډوډۍ وخوري. د پښتنو قومي جذبه دا تقاضا لري چې، له مېلمه څخه دې دا پوښتنې ونه شي چې ته چېرته ځې او کله ځې؟ د تلو په وخت کې د دې لپاره چې د سفر په لاره کې ورسره مرسته وکړي، بیا د دې پوښتنې وار راځي، پښتنو ته د مېلمه پېژندل کوم فرق نه کوي او د ناپېژندلي سړي قدرهم کوي، پښتون سړي ته بې مېلمنو خوراک خوند نه ورکوي، لکه د خوشحال خان خټک په دې لاندې شعر کې دا مسئله ښه روښانه کېږي:

چې ته په ګېډه وخوري ابته شې
د مجلس سره چې خوړشي خوان هغه

په بل ځای کې بیا عبدالقادرخان خټک داسې وايي :

د خپل ځان د پاره نيم درم اسراف دی
چې په بل خونه ښندې بې اسرافي ده

د پښتنو زياتره عادات او خويونه سپېڅلي او ساده دي، نو ځکه د مېلمه په برخه کې هم له زيات ساده توب اوبې تکلفۍ څخه کار اخلي، يعنې څه شی چې په خپله خوري، هغه مېلمه ته هم ورکوي.

دوی د مېلمه قدر د تکلفي ډوډۍ او لوکس لوښي او ظرف سره نه کوي، بلکې د مېلمه حضورته د مينې، اخلاص، صميميت او روا دارۍ عالي ترين مراتب وړاندې کول د مېلمه قدر ګڼي. دوی په دې راز باندې پوه شوي دي چې مېلمه ته تکليف کول د يوې ورځې کار وي او دوی غواړي چې هيڅکله بې مېلمنو پاتې نه شي. په پښتون سړي باندې دا ضرور او لازم دي چې د خوب تر وخته پورې له مېلمه سره ناست وي او ښې د مينې مرکې ورسره وکړې. پښتون سړي ته دا هم ډېر زور ورکوي چې د ډوډۍ له خوړلونه پرته څوک د ده له کوره لاړشي، خو که د ډوډۍ وخت نه وي، نو چای خو ضرور ورکوي. که مېلمه د سړي د سر دښمن هم وي، د پښتنوالي له قانون سره سم تر څو چې مېلمه وي او د کوربه په کور کې وي، زيات عزت او قدرېې لازم بولي. هغه کسان چې په خپل کور کې له خپلو دښمنانو سره بدي وکړي، پښتانه هغوی ته په ډېره کرکه او نفرت سره ګوري او پښتون يې نه بولي. هغه کسان چې د مېلمه قدر نه کوي، که څه هم د ډېرو شتو خاوندان وي، د پښتنو نه خوښېږي او په کوم ځای کې چې دغسې خلک اوسېږي، هغه ځای هم لا د چا نه خوښېږي او وايي. ورک يې کړه ـ ډوډۍ په کې نه شته ... ( ۵).

د مېلمه پالنې په اړه به دا لاندې لنډۍ هم وګورو:

الله ورکړې مېلمستيا ده
په لامکان يې شوي خدای سره رازونه

ماوې مېلمه دی اوس به لاړشي
بېلتون زما په زړه کلا آبادوينه

منګی په درز وهه جانانه
د کوټې شاته مېلمنې ولاړې دينه

برايي تاکره مېلمه وم
ترسرمې لاندې وو دبڼوبالښتونه
برايي ستاکره مېلمه وم

ترسرمې لاندې وو د پرو بالښتونه
بېلتون په هر چا مېلمه کېږي
پرما چې راشي تيروي مياشتې کلونه ( ٦).

له پورتينو لنډيو څخه دا خبره ډېره ښه څرګندېږي چې، مېلمه پالنه د پښتنو له اقتصادي ژوند سره کلکې اړيکې لري، څه وخت چې د پښتنو قبيلو ترمنځ ځمکه مشترکه وه ، په دې وخت کې هرکلي خپله مشترکه حجره درلوده او د کلي په حجره کې مسافر مېلمه، د ټول کلي مېلمه ګڼل کېده. مېلمه پالنه او حجره د پښتنو د قبيلو او ټولنيزو ضرورتونو له مخې ډېر اهميت لري او په کور کلي کې زياتره خانان د خپل اقتصادي توان په سبب حجرې چلولی شي چې په دې اړه به د يوې ښځې له خوا يوه ويل شوې لنډۍ واورو:

حجره په نوم د ملــــک جـــان ده
ډکې کاسې مې د آشنا له کوره ځينه
خاونــــده ټوله مې ترې جار کړې
د يار د کلــــي مېلمانه راغلي دينه

په همدې ترتيب، په پښتني ټولنه کې د ښځو ترمنځ راشه درشه او مېلمستيا ډېر رواج لري او دا دود د دوی له خوا په ښه توګه پالل کېږي. د دې موضوع ثبوت په لاندينۍ لنډۍ کې وګورئ :

نن مې همزولې مېلمنې دي
په کلي ګرځم بالښتونه ټولومه
نن مې همزولې مېلمنې دي
شولې لمدې دي چرګ نيوی نه را کوينه

د کابل په ښار کې چې د افغا نستان پلازمېنه ده، مېلمه او مېلمه پالنه خپل ځانګړی ځای لري . له پخوانيو زمانو څخه دوی د کور د جوړولو په وخت کې دکلا يوه برخه د مېلمنو لپاره ځانګړی ځای جوړول چې د سراچې په نامه به يادېده او اوس يې دا پارتمان په نامه يادوي، په دويم پوړ کې جوړوله او دروازه به يې مستقمياً د کوڅې يا سړک خواته خلاصېدله او په هغه لاره به مېلمانه تلل راتلل. په سراچه

کې به دهلیز ، تشناب یو وړکی اتاق او بل لوی ( غټ) اتاق سره له برنډې موجود وو او نور هغه لوازمات به په کې موجود وو چې د مېلمه اړتیا ورباندې رفع شي او مېلمه په کې هوسا، آرام او خوشحاله وخت تېر کړي. دا د دې لپاره چې د مېلمه ښه قدر وشي او هغه په تکلیف نه شي او د حویلۍ نوره برخه به یې د کورنۍ لپاره د تعمیر په بڼه جوړول او هلته به یې هم د مېلمه لپاره یوه ډېره ښکلې او ښایسته کوټه د سالون په نامه جوړوله.

په دې سالون کې به یې موبل فرنیچر او ټول زینتي وسایل، په ډېرنظم او ترتیب سره اېښودل چې دا په خپله د مېلمه پالنې او مېلمه خوښوونې تصدیق کوي. زموږ افغانانو یو لوی صفت دا دی چې تر ټولو ښه خواړه او ښه وسایل د مېلمه لپاره چمتو کوو، چې خوشحاله شي او بیا بیا د راتلو او مېلمه کېدو هوډ ولري . په اوسنې وخت کې د حجرې او مېلمه پالنې بڼې بدلون موندلی، د سیمې حجرې د کورنۍ حجرې بڼه غوره کړې ده. د بیلګې په توګه: په ځینو ولایتونو کې د مېلمه پالنې دود ته لنډه کتنه کوو: په لغمان ولایت کې هم وروستی دود چلیږي، خو کله چې په کلي کې د مړینې او یا هم بله موضوع پیدا شي، د کلي ښځې په خپلو کورونو کې ډوډۍ پخوي او حجرې ته یې ورلېږي. که چېرې مېلمانه ډېر شي او په حجره کې ځای نه شي، د کلي خلک مېلمانه خپلو حجرو ته بیایي، په ټولیز ډول د پښتنو د مېلمه پالنې روحیه له دغو لنډیو څخه څرګندېږي:

د آشناغم په ما مېلمه دی
د مېلمنو خلک همېش عزت کوینه
څوک چې د چا وکور ته ورشي
مناسب نه دي چې یې تش له کوره ځینه (۷ ).

دا هم د خوست مېشتو پرګنو او خصوصاً په منګلو کې د مېلمه په دود او مېلمه پالنې په اړه یو څو خبرې چې په څلور ډوله په کلیو او بانډو کې تر سره کېږي:

الف: که کوم مېلمه کلي او یا جومات ته راشي ،که دغه مېلمه په کلي کې کوم دوست، خپل، آشنا اویار ولري، نو دا مېلمه په ډېره مینه یار او آشنا خپل کور ته بیایي او ښه عزت یې کوي ، که دغه راغلی مېلمه په کلی کې څو ورځې تم او پاتې شي، نور کلیوال یې هم د خپل کلیوال لپاره اوهم د ده د عزت لپاره مېلمه کوي او کورونو ته یې بیایي او وایي: مېلمه عزیز دی او پر موږ حق لري.

ب: که کلي ته داسې یو مېلمه راشي چې څوک یې ونه پېژني، دوی یې خدایې مېلمه بولي، دغه مېلمه د کلي له خلکو څخه چې هر یوه لاس پرې کېښود، کور ته بیايي، په داسې مېلمه هر یو کلیوال خوشحالېږي چې کورته یې بوځي، ځکه دوی عقیده لري چې مېلمه کور ته بیول ثواب لري، دوی په خپل کور کې د مېلمه ښه عزت کوي، څه یې چې په کور کې وي، هغه په درنښت سره د ده مخې ته په پراخه او روڼ تندي او له خندا ډکې خولې سره ږدي، که مېلمه څوک کور ته بو نه ځي یا کوروته یې د تګ امکان نه وي، نو یو کلیوال نورو ته وايي، دغه مېلمه ته زه په مینه ډوډی راوړم چې له تاسې خفه نه شئ، نور ورته وايي: دا زموږ مېلمه هم دی، پر موږ حق لري، دی وايي اوس خو زه ورته ډوډۍ ورکوم،که دلې پاتې و، بیانو تاسې پوهېږئ.

ج : که کلي ته یو یا څو او یا ډېر مېلمانه راشي ، نو د کور پر سر ډوډۍ ورته د پخلي سره را ټولوي اوجومات ته یې ورته راوړي ، مېلمه ته په جومات کې ټول کلیوال په درنښت ډوډۍ ورکوي اوعزت یې هم کوي.

د: په منګلو کې په مېلمه باندې د کلي د هر کور پر سر وار وي، کلي ته چې مېلمه راشي، د هر کور چې نوبت وي مېلمه ته به درنښت ډوډۍ ورکوي، په کلي کې د مېلمه د وار او نوبت حال د دوی ترمنځ معلوم وي ،په هرحال دوی د مېلمه راتګ کلي اوکورته ثواب ګڼي( ۸).

د مېلمه عزت په دغه شعر کې وګورئ :

د مېلمه عزت روا دی

که د چا د مخې کېږي

تریخ چای چلم لګېږي(۹)

په زابل ولایت کې مېلمه پالنه: مېلمه پالنه د پښتونولۍ خورا مهم دود دی، پښتانه چې په هره سیمه کې اوسېږي، د مېلمه درناوی کوي او مېلمه د خدای دوست ګڼي، چې ورسره کورته برکت راځي، کلیوال په ژمي کې یو کلی پر بل کلي مېلمستیاوې جوړوي، یا د برفي په نامه یا په بله کومه پلمه او د یوه کلي خورا زیات خلک بل کلي ته ځي او ورځ یا شپه په خوشحالۍ سره له هغوی سره تېروي، دغه ډول مېلمستیاوې پخوا د جوماتونو د طالبانو له خوا ترسره کېدلې، اوس سیمه ییز او کلیوال کسان هم

دغه ډول مېلمستیاوې جوړوي، که چېرته د چا کوم مسافر له لرې سفرڅخه راشي، په همدغه ترتیب لویه مېلمستیا جوړوي او ګڼ خلک رابولي(١٠ ).

د مېلمه او مېلمه پالنې دود په کونړ ولایت کې: په قبیلو کې مېلمه د لوی حق خاوند دی او د کوربه په کور کې د خاص مصؤنیت درلودونکی دی او که څوک د چا مېلمه ته زیان ورسوي، نو دا د کوربه پرحق تېری بلل کېږي، تېری کوونکی داسې تعقیبېږي، لکه د ده د کورنۍ اوقبیلې غړي ته چې چا زیان رسولی وي. د افغانستان په روان کړکېچ کې ترډېره بریده دا فکتورهم دخیل دی. مېلمه درلودل دعزت نښه ده اومېلمه ځوابول، د بې غیرتۍ علامه ده، مېلمه که هر څومره لوی مجرم هم وي، خو کله چې د یو چا په کورکې مېلمه شو، نو نه یواځې کوربه، بلکې د مېلمه دښمنان هم څه ورته نه شي ویلای، په ځینو قبیلو کې نه یواځې مېلمه ته ډوډۍ ورکول کېږي، بلکې د رخصتېدو پر مهال یو څه سوغات هم ورکوي. په قبیلوي ژوندانه کې مېلمه د لوی حق څښتن دی او د کوربه په کور کې ځانګړې خوندیتوب لري( ١١).

اوس راځو د نورستان د خلکو دود ته چې د مېلمنو په اړه دی: د نورستان په مېشتو پښتنو او نورستانیانو کې یو ګډ متل دی چې وایي: ((مېلمه د خدای دوست او د عزت سیوری دی.)) په نورستانیانو او د هغه ځای په پښتنو کې مېلمه یوشان قدر او مصونیت لري، پښتانه او نورستانیان له مېلمه څخه نه پټېږي اوخوشحالېږي، چې مېلمه ته هرکلي ووایي، پښتانه خپل مېلمه خوشحاله ساتي ، قدریې کوي او ژوندیې خوندي ساتي، نورستانیان هم لکه د پښتنو په شان د مېلمه ډېر خیال ساتي او عزت یې کوي او له خطرڅخه یې ژغوري( ١٢) .

دا هم د احمدزو قوم په عیسی خېلو کې د مېلمستیا په باب یو څو خبرې:

١ ــ که څوک د چا په کورکې مېلمه وي او د کوروالا دښمن د مېلمه اسباب یوسي ، نو دوه چنده تاوان به ورکوي او که مال یې ورکړ، نو د مال قیمت او (٨٥) د هغه وخت روپۍ به د کاله د شرم په عنوان د کورخاوند ته ورکوي. که څوک د چا په مېلمه د ټوپک ډز وکړي ،که قصداًیې کړی وي او زخم واقع شي، دوه چنده پوربه ورکوي اوکه سهواً وي (١٥٠) دهغه وخت روپۍ پور لري اوکه مړ شي، دوه چنده خون او څه مبلغ د کاله شرم لازمېږي.

٢: که په غلطي کې د کاله د خاوند په عوض چې د خون پور وړی وي، مېلمه ولګېږي او مړشي، نو د کاله خاوند له پوره خلاصېږي، د مېلمه خون به هم دی ورکوي

او (۵۰۰) دهغه وخت روپۍ به د مقتول ورثې ته ورکوي .که څوک له چا سره د مېلمستیا وعده وکړي چې د شپې درځم اوبیا ورنه شي؛ نو (۱۵۰) روپۍ ناغه او یوه نغواتې لازمېږي.که څوک یو سړی مېلمه کړي اوبیا یې د دښمن د پیسو د اخیستلو په سبب په دوستۍ کې مړ کړي، د مرگ حق هم پرې ثابتېږي او د یو خون پور هم پرې کېږي(۱۳).

محمد صلی الله علیه وسلم د مېلمه د اکرام په اړه فرمایلي دي :(ژباړه)ای خلکو ! په خدای ایمان لرئ او د هغه حضور ته په تعظیم سرونه ټیټوئ، د مېلمنو پالنه کوئ پرهیزگار اوسئ او عدالت وچلوئ( ۱۴).

نن سبا د مېلمنو د قدر او عزت دود او مېلمه پالنې ډېره اسرافي او تشریفاتی بڼه ځان ته غوره کړې ده. د افغانستان پلازمېنه (کابل ) او هم په ولایاتو کې له اندازې څخه زیات لگښت لري، چې اکثراً د ډېرو بې ځایه لگښتونو او منفي سیالیو له امله په خوړو کې خوند او مجلس کې هغه مینه نه وي، لکه پخوا چې په مېلمستیا وو کې وو، ځکه کوم دعوتونه چې اوس ترسره کېږي، زیاتره د یو مطلب موخې شیرنې یا ډالۍ په توگه وي او هغه هم دځانگړو کسانو لپاره چې اخلاص په کې نه وي، بیا نو رنگ او خوند نه لري، چېرته چې مینه وي، که ډېره عادي اوساده ډوډۍ هم وي، خوند او لذت یې زیات وي.

چې د درد په اوبو عقل اودس وکا
سهوه نه شته که بیا مونځ دعشق ادا کړي
مېلمستیا د زړه دغوښوکړم بڼو ته
کړي اغزي رنگین اودس دگل ثنا کړي
زه حمزه د چا د سوي زړه لوگی یم
چې فنا مې منزلونه تربقا کړي( ۱۵).

د المان نامتو شاعر او لیکوال گویته د ښکلي مېلمه په اړه ویلي دي: ښایست هغه مېلمه دی چې په هر کور کې قدر او عزت لري ( ١٦).

بیا زاړه یادونه مې د زړه مېلمانه شوي دي
نه دي مېلمانه د کور بانه مېلمانه شوي دي
ځکه مې په دې مېلمنو پام په مېلمنو کې دی

دا په مېلمنو کې مېلمانه مېلمانه شوي دي
خدمت او احترام خو به منم د مېلمنو
گلان به لاندې فرش کړو ترقدم دمېلمنو
همزولو نن را جمع شئ په مینه دې محفل ته
ښادي خو کله کله وي په چم د مېلمنو
لاسونه د تندي په سر سلام مې پخوانی دی
خړ پړ د خټو کور د خټو جام مې پخوانی دی
دا نوي رواجونه مې د لاسه پوره نه دي
اخلاص را سره شته دی احترام مې پخوانی دی
راتلل دې زموږ لپاره د اختر ځینې کم نه دی
فطرت د پښتنو دي مېلمنو ته خوشحالېږي ( ۱۷ ).

مېلمستیا د پښتون ثقافت یو داسې غوره خاصیت دی چې په نورو قامونو کې په دومره بشپړ ډول نه دی موجود. پښتون که په خپله نهرې تېروي، خو مېلمه ته قرض او پور کوي او د هغه د خوراک څښاک او سنبالښت ضرورتونه پوره کوي. د دغې مېلمستیا د خاصیت نه استاد حمزه په خپل شعر کې دومره ښکلی کار اخیستی دی چې کله ترېنه دتغزل څرېکه را اوچته شي . کله ترېنه د پښتونولۍ د یو عظیم قدر پاخه او کوټلي بنیادونه څرگند شي. کله تاریخي او ثقافتي پېښې شخصیتونه مخې ته راشي:

پاتې لا یو څو زلمي دي دا هم غنیمت دی
زه یې د وقار لوړو شملو ته حېرانېږم
لا د زړه حجره کې مې پښتو کوربنه ښکاري
وي که تنگدستي هم مېلمنو ته خوشحالېږم

دلته د پښتون ثقا فت یو ډېر نازک اړخ ته زموږ پام راگرځوي. کله چې د پښتون حجرې ته د ده دښمن هم ورشي، نو دی نه یواځې د هغه په مېلمستیا مجبور وي، بلکې د هغه بېرته خپل کور ته په حفاظت رسولو ذمه وار هم وي. د پښتنو دغه رواج، دغه دستور دومره عجیبه دي چې د خپل سر قاتل ته هم هر کلی وایي او له خپل در څخه به یې بېنوا نه رخصتوي:

ستا د ترخو به علاج وي چې په کور درشم
ننګ د پښتو به دې مېلمه ته کړي خوږې سترګې
نن به د مېلمه په حیثیت پښه ورو کړمه
شي پښتنی هوډ به احترام په سترګو کې
زه به ځان ته د مېلمه په سترګو ګورم
چې تر څو مې ستا غمونه مېلمانه دي
په خلاصېدو شوه د زړه وینه حمزه
لا ډېر غمونه مېلمانه پاتې دي
تر نیمې شپې یې منتظر د التفات وومه زه
د پښتانه اشنا مېلمه وومه نهر پرېوتم

د پښتون فطرت دا دی چې مېلمه ته خوشحالېږي او دغه اندازه یې له حجرو څخه په ښه ډول لګي. حجره یو داسې ځای دی چې هر وخت په کې مېلمانه موجود وي. حمزه بابا له دغه دستور څخه د تغزل داسې رنګونه او د پوهې داسې لارې چارې ولې راایستلې دي چې لوستونکی ګوته په خوله پاتې شي:

حمزه یو ښکلی که لاړو بل به راشي
دا حجره کله خالي د مېلمنو شوه
دا امید مې د پښتون اشنا نه و
چې مېلمه یې له حجرې تلی نهر دی
زړه دی که حجره دپښتنو زما
څومره چې ډېرېږي مېلمانه ګوري .

بیا دې حقیقت ته هم اشاره کوي چې ځینې شومان خلک له مېلمنو څخه پټېږي او هم ورته تندی تریو نیسي، نو دلته حمزه بابا خپل محبوب، خپل یار دوست ته وایي چې یا خو د خپل حُسن حجره بنده کړه چې مېلمانه نه راځي او چې کله ستا د حُسن په کشش راغلي خلک ستا د حُسن ننداره کوي، نو هغوی ته تندی تریو مه نیسه.لکه د شوم او کنجوس بینادم چې مېلمنو ته په زړه خړه راځي، یعني مېلمانه پرې ښه نه لګي. پښتون خو هر وخت په هر حال کې مېلمنو ته روڼ تندی لري:

پښتون اشنا دې حجره بنده کړي د خپلې ښکلا
غوټه جبين شي لکه شوم چې مېلمانه ووينې
څه شي که خبرې په پښتو د پښتنو کړې
هله به پښتون يې چې کارونه دپښتو کړې
ستا غوټه جبين کې اشنا پټ دي گردابونه
ته پښتنې داسې احترام د مېلمنو کړې

دلته يې سترگو ته هندکۍ او باڼه ته پښتانه ويلي دي، د مېلمه او کوربه تر منځه په پښتنه ټولنه کې يو عجيبه رشته وي . پښتانه وايي: په پښتنو کې مېلمه مشروي. مطلب دا چې د هغه احترام هم لازم دی او د هغه رضا کول هم ضروري گڼلی شي.

سترگې هندکۍ دې کله شي ټيټې
باڼه دې نيغ وي چې پښتانه دي
د نظرونو خاطر مې وکړه
ته پښتنه يې دا مېلمانه دي
باڼه دې برند شول چې نظر مې گستاخي وکړه نن
پښتانه بويه چې زغمي د مېلمنو خبرې

په مېلمه باندې کوربه بيا بيا تاکيدکوي چې دا ستا خپل کور دی، بيخې به طبعيت نه درنوې، تکلف به نه کوې؛ نو دلته يې د تغزل دغه خاصيت د اورېدو او لوستو دی:

ستا يادونه چې تراوسه لا په خوی د مېلمنو دي
تکلف خو غيريت وي د پښتون د زړه حجره کې

په مېلمه حجره ښايسته ښکاري، خو کله کله کوربه ته څه پېښه وي او بې وخته پرې مېلمه راشي، خو بيا هم د پښتون مزاج او هوډ غوښتنه دا ده چې مېلمه په ځان پوه هم نه شي چې بې وخته راغلی دی او د هر بللي نا بللي خوښ نا خوښ مېلمه احترام لازم دی.

زړه مې احترام کا دهر ښکلي چې خفه نه شي
څه به کړي پښتون چې يې حجرې وته مېلمه راشي
وايي چې مېلمه په نه خوړلو ښه ښکاري او کوربه په ست:
ماوې پښتون کوربه په نه زړه هم څه ست

خو وکا په خپله هیڅ ویلی نه شي مېلمانه
په ژبه حجره د زړونو بویه چې پراخه پښتانه کا
بیا ځای دې په کې پسته دحالاتو مېلمانه کا اشنا
زه خـو مېلمه وومه له شرمه به ما څه وې
اخر مسلماني ده دومره ست خو کوربانه کا

په پخوا زمانه کې زموږ په سیمه کې دا دستور و چې مېلمه به راغلو؛ نو درې ورځې به د هغه ښه په مینه محبت مېلمستیا کېدله او چا به ترېنه هیڅ پوښتنه نه کوله چې مېلمه څنګه راغلی یې. په درېیمه ورځ به د کور مشر په ډېره ښه طریقه او احترام د مېلمه مقصد او مدعا معلومول او تر ېېرته ستنېدو پورې به یې تر ورځو پورې د مېلمنو درانه وړل:

پښتنې خیرکه مې نظر څه ووې
خلک زغمي د مېلمنو خبرې

په پښتنه ټولنه کې د مېلمستیا دغه قدر د پښتون اخلاق او کردار یو غوریز اړخ دی . که د کوربه توب څه اداب او اصول شته، نو د پښتنو په ژوند کې د مېلمه هم څه انداز او رنګ شته، هغه به هم د دغه رنګ پابندي کوي:

کور د زړه دې وران کړو پښتنې زما
دلته خو رنګ رنګه مېلمانه راتله

په مینه کې دپښتونولی د حجرې او د مېلمتوب له قدر نه څومره ښکلې ګټه پورته کوي:

نور ښکلي مې هم که زړه ته راشي اشنا څه وشول
پوه یې خویې حجره د پښتنو خو مېلمانه غواړي
نوې حجره د مینې جوړه شوله
اوس د دردو نو مېلمانه راولم
رنګ د پښتونواله کې مدار د رقیبانو دی
موږ ته کوربانه وایي هغو ته مېلمانه وایي
بې له غمه اوس په کې بل چا لره ځای نه شته
نور د زړه حجرې ته مېلمانه بللی نه شم

مينې مېلمنه شوې د پښتون بې پته کېږمه مه

اوس لکه مېرمنې غونډې زړه ته مې کور ووايه، د نن سبا په پښتنو هم طنز کوي، چا چې د حجرو په ځای ډرايينګ رومونه جوړ کړل او يا يې حجرې شاړې کړې، دغه کيسه په سادګۍ او پرکارۍ بيانوي:

دا نن سبا چې مېلمانه نه شته

هوښياران وايي چې پښتانه نه شته

مېلمه چې راشي درته کوربه وايي

مخه دې نيسه کوربانه نه شته

بل مثبت اړخ يې هم د کتلو دی :

ګرانه! زړه زما حجره د پښتنو ده

چې هيڅ وخت نه وي خالي د مېلمنو نه( ۱۸).

مه ګرځوه سترګې له مېلمه نظر

ګوره حجرې بېرته پښتانه ساتي

## پايله

د پښتنو د اجتماعي نظام يو مهم رکن مېلمه پالل دي، خو په دغو شرايطو سره چې دوی يې لري، مېلمه ته مکلفه ډوډۍ ورکول دوی له دغه قانون څخه بهر ګڼي او له مېلمه سره په پراخه تنده او صميميت سره ناسته پاسته کول اوپه تياره اکتفا کول دوی د يو دايمي ملي سنت په حيث قبول کړې دي او ورباندې پوره ننګ دی .پښتانه په خپلو خبروکې هره ورځ دا غږ پورته کوي (مېلمه سترۍ مه شې! ).

## وړانديزونه

هر افغان او په ځانګړې توګه پښتنو ته مې وړانديز دی چې د مېلمه پالنې دود له پامه و نه غورځوي او د خپلو مشرانو په څېر دغه دود ژوندی وساتي. صوتي او تصويري رسنيو ته وړانديز کوم چې د مېلمه پالنې دود چې يو اسلامي او افغاني منل شوی دود دی، د ترويج او خپراوي په اړه يې نه سترې کېدونکي هڅې وکړي.

## مأخذونه

۱. بخاري، محمد بن اسماعيل، صحيح البخاري، ۱۹ ټوک، باب إكرام الضيف وخدمته، مصر، ۱۰۳مخ.

۲. بختانی، عبدالله. پښتنې خویونه، لومړی چاپ،کابل مطبعه: کابل،۱۳۳۴لمریز کال، ۳۴مخ.

۳.شهزاده، زیاران او نور. پښتولنډۍ، د افغانستان د علوموا کاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز:کابل، ۱۳٦۳ لمریزکال،۳۲مخ.

۴. عبدالغفور، فضل الرحمن، دیني مرغلرې، لومړی چاپ، ویښتابه (مجله)، اسلام آباد، ۲۰۱٦زکال،۱۹۴-۱۹۲ مخونه.

۵. پښتني خویونه،۲۹مخ.

٦. لایق، سلیمان. پښتو لنډۍ، نیو کابل کتاب پلورنځی: پېښور، ۱۳٦۱ ل کال، ۱۲مخ.

۷. د لغمان د خلکو دود، د افغانستان اتنوگرافیک اطلس، پښتانه، لومړی ټوک، مهتمم، څېړنیار رحمت الله هوتک،۱۳۸۹لمریز،۲۰۳ مخ.

۸. پورتنی اثر،۳۹ مخ.

۹. بختانی، عبدالله. مېلمه پالنه او مېلمستیاوي، لومړی چاپ،کابل مطبعه:کابل، ۱۳٦۴لمریز کال، (۳۹)مخ.

۱۰. د افغانستان اتنوگرافیک اطلس، (۹۰) مخ.

۱۱. د افغانستان اتنوگرافیک اطلس، (۱۵۳)مخ.

۱۲. د افغانستان اتنوگرافیک اطلس، (۳۱۰) مخ.

۱۳. خادم ، قیام الدین، پښتونولي، خپرونکې مسسه، ډاینستي:(-۱٦۹ ۱۷۰)مخونه.

۱۴. الفت، گل پاچا، لوړ خیالونه او ژور فکرونه، د افغانستان د کلتوري خدمتونو اداره: پېښور، ۱۳۸۰ لمریزکال ،۱۰ مخ.

۱۵. شینواری، حمزه. د حمزه شینواري کلیات، (دوهم ټوک) سریزه، څېړنه اوډون او وییپانگه د محمد آصف صمیم، مطبعه طباعتي وصنعتي احمد: کابل، ۱۳۸۷ لمریز کال ،۱۰۳۰ مخ.

۱٦. پورتنی اثر،۱۰۲۴ مخ.

۱۷. صـــادق، صـــادق الله ، د مينې ټپې، لومړی ټوک، مازيگر کتابپلورنځی او خپرندويه ټولنه: ننگرهار، ۱۳۹٦ لمريز، ۱۱۰ مخ.

۱۸. يوسفزی، اباسين، پښتون حمزه، د حمزه شينواري په شاعرۍ کې د قوميت تصور، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۹۸ لمريز کال، ۱٦۰ ـ۱٦۴ مخونه.

محمد عالم عالميار

# د درېيم ټولګي د پښتو ژبې د نوي او پخواني درسي کتاب محتوايي پرتلنه

# The Content comparison of new and previous Pashto language textbooks of the third grade

**Mohammad Alim Alimyar**

## Abstract

This research examined the new Pashto textbook for the third grade was written by the authors of the educational curriculum in 2018 with the support of ACR (Afghan Children Read) program and the previous textbook for the third grade in 2007. The aim of this research is to find out the content differences between the new and the previous Pashto language textbooks.

The method of this research is qualitative and the necessary information was collected from new and old textbooks. Each part of collected data has been analyzed separately.

The results showed that there are lots of differences in mentioned textbooks aspects. The difference between the previous textbook and the new textbook is related to the high quality content standards for correct language learning. The content of the new textbook is written with high level of standards than the previous textbook with

different topics. The texts are organized with part to whole method. There are many educational, moral and emotional contents in the same textbooks but previous textbooks are just focused by carry of information. Finally, there are some suggestions for the betterment of quality and improvement of the 3rd grade Pashto subject.

## لنډیز

په دې څېړنه کې د درېیم ټولګي د پښتو نوی درسي کتاب چې په ۱۳۹۷ ل کال کې د ((افغان ماشومان یې لولي)) پروګرام په مرسته د تعلیمي نصاب مؤلفینو لیکلی او د درېیم ټولګي پخوانی درسي کتاب چې په ۱۳۸٦ ل کال کې لیکل شوی، تر څېړنې لاندې نیول شوی دی. د دې څېړنې موخه د پښتو ژبې د نوي او پخواني درسي کتاب د موضوعاتو او متنونو د توپیرونو پیدا کول دي. دا څېړنه کیفي ده او اړین معلومات له نوي او پخواني درسي کتابونو څخه را ټول شوي دي. د هر یوه بېلې او مشترکې برخې په توپیر سره څېړل شوې دي. له نتایجو څرګنده شوه چې د ذکر شویو دوو درسي کتابونو توپیري اړخونه ډېر دي. له پخواني درسي کتاب سره د نوي درسي کتاب توپیر د ژبې د سمې زده کړې د تعلیمي نصاب د تحقیقاتو او لوړو محتوایي معیارونو له پرمختګ سره ارتباط لري. د نوي درسي کتاب محتوایي جوړښت د پخواني په پرتله په لوړو معیارونو لیکل شوی او بېلابېل موضوعات لري. متنونه یې له جز څخه کل ته منظم ترتیب شوي. په متن کې یې تربیتي، اخلاقي او عاطفي مطالب ډېر او په پخواني درسي کتاب کې پوهنیز مطالب ډېر دي. په پای کې د درېیم ټولګي د پښتو ژبې درسي کتاب د ښه والي او کیفیت لپاره وړاندیزونه شوي دي.

## سریزه

دا څېړنه په ښوونه او روزنه کې د مثبت بدلون او د پښتو ژبې د درسي کتابونو او د تعلیمي نصاب د کیفیت د ښه کولو په موخه ترسره شوې ده. سره له دې چې پخواني درسي کتابونه یواځې څو کاله پخوا لیکل شوي وو، خو سربېره پر دې د ابتدایې د لومړۍ دورې لپاره نوي کتابونه ولیکل شول. نو دا فکر راته پیدا شو چې د درېیم ټولګي نوی او پخوانی درسي کتاب د محتوا له مخې سره پرتله کړم چې په کومو برخو کې ورته والی او توپیرونه لري. له دې څېړنې سره به زموږ ښوونکي او مؤلفین د پخوانیو درسي کتابونو نیمګړتیاوې او د نویو درسي کتابونو معیارونه او ځانګړتیاوې او

د دواړو کتابونو توپیرونه او مشابهتونه وپېژني، له نویو میتودونو او معیارونو سره به یې بلد شي او د نورو درسي کتابونو په لیکلو او تدریس کې به ورځخه ګټه واخلي. پر دې سربېره، هغه نوي میتودونه او معیارونه چې د نویو درسي کتابونو د محتوا په لیکلو کې ترې کار اخیستل شوی دی، ورته معرفي شي. پاتې دې نه وي چې د دې موضوع په اړه تر اوسه په هېواد کې چا کار نه دی کړی.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

زموږ په هېواد کې د هر سیاسي نظام بدلون، د ښوونیز نصاب په تغییر کې خپلې مثبتې او منفي اغېزې درلودلې دي، د درسي کتابونو په لیکلو کې یې خپل پرمختګونه او نیمګړتیاوې لرلې. دا څېړنه ځکه ترسره شوه، ترڅو هغه تغییرات چې د نوي او پخواني درسي کتاب د محتوا د پرتلې په نتیجه کې تر لاسه شوي، باید له ښوونکو او پوهنیز نظام له مسؤلینو سره شریک شي چې په تدریس او تالیف کې یې له شته محتوایي معیارونه او بدلونونه څخه اغېزمنه ګټه واخلي. د دې څېړنې ارزښت دا دی چې مؤلفینو او لیکوالانو د خپل توان او امکاناتو په کچه په تعلیمي نصاب او درسي کتابونو ځینې لیکنې کړې دي، خو د دربېیم ټولګي د پښتو ژبې د نوي او پخواني درسي کتاب د محتوایي پرتلنې په اړه هیڅ نه دي ویل شوي، نو ځکه دا څېړنه ترسره شوه.

## د څېړنې موخې

د پښتو ژبې د دربېیم ټولګي د نوي او پخواني درسي کتاب د محتوایي جوړښت، له توپیرونو سره آشنایي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. د پښتو ژبې د دربېیم ټولګي د نوي او پخواني درسي کتاب د موضوعاتو ترمنځ توپیرونه کوم دي؟

۲. د پښتو ژبې د دربېیم ټولګي د نوي او پخواني درسي کتاب د متنونو ترمنځ توپیرونه څه شی دي؟

## د څېړنې میتود

په دغه څېړنه کې له تحلیلي ـ تشریحي میتود او په ځینو ځایونو کې له انتقادي میتود څخه هم کار اخیستل شوی دی.

**۱. د پښتو ژبې د درېیم ټولګي د نوي او پخواني درسي کتاب د موضوعاتو توپیرونه څه شی دي؟**

د پخواني درسي کتاب موضوعات: پخواني درسي کتابونه په (۱۳۸۴)کال کې لیکل شوي دي. د درېیم ټولګي د پښتو ژبې د پخواني درسي کتاب د ټولو عنوانونو شمېر ۷۳ ته رسېږي، یو عنوان په دریو (۳) ساعتونو کې تدریسېږي او عنوانونه یې په لاندې ډول دي: (قرآن کریم، د حضرت محمد ﷺ کوچنیوالی، حضرت ابوبکر صدیق (رض)، د ښوونکي مقام، ښه زده کوونکی، ټوکه او کیسې، راځئ چې کتاب ولولو، قلم وایي، د پوهولو او را پوهولو لارې چارې، د ناروغۍ رقعه، د ضرورت رقعه، د ماشومانو لوبې، بریالی، د مور او پلار حقونه، د مور ورځ، د لیک او لوست ارزښت، نظم، ځان ځاني، هوښیاره نجلۍ، د کور په کارونو کې مرسته، خواخوږي، نثر، مکرجنه ګیدړه او ناپوه چرګ، ماینونه، ترافیکي لارښوونې، رښتیا ویل، روغتیا، د چاپېریال د پاکوالي ساتنه، زموږ چاپېریال، د سګرټ څکولو زیانونه، چرچرک او مېږی، د غاښونو ساتنه، د ملاریا ناروغي، هېوادنۍ مینه، د غزني ښار، دوه اخترونه، د تګ راتګ وسیلې، چرګه، وزلوبه (بزکشي)، د اوړي موسم، باغوان، د ونو ګټې، د وخت ارزښت، باران، بزګر، ترکاڼ، تیلفون، د الوتونکو وززونه، طبیعي شتمني، کار او طبیعت، ورمونه، متلونه، د مني موسم، د ژمي موسم، د اور ګټې او زیانونه، الوتونکي مرغان، رښتینی هلک، د کورني چرګانو ساتنه، پر حیواناتو زړه سوی، مرغان او د ځالو جوړونه، ښه کړه وړه، د شاتو مچۍ، وربښم څرنګه لاس ته راځي، روغه جوړه، د زردالو زړی، زیار او هوسایي، لیک نښې، ساده کلمې، مرکبې کلمې، وروستاړي، مختاړي، عبارت او جمله، جمله).

په پورته عنوانو کې داسې عنوانونه شته چې هېڅ ضرورت ورته نه شته چې د درېیم ټولګي زده کوونکي ته دې راوړل شي او د درېیم ټولګي د زده کوونکو له سن او سویې سره تناسب نه لري او ځینې عنوانونه یې د ماشوم د اخلاقي او عاطفي برخې لپاره په درد نه خوري. لکه: وزلوبه (بزکشي)، ترکاڼ، د تګ راتګ وسیلې، ملاریا ناروغي، د سګرټ څکولو زیانونه، د پوهولو او را پوهولو لارې چارې، د چرګانو ساتنه، وربښم څنګه لاس ته راځي، او د ګرامر ځینې برخې. مثلاً: وزلوبه داسې لوبه ده چې یواځې د هېواد په شمالي ولایتو نو او سیمو کې ترسره کېږي او په نورو ولایاتو کې دا لوبه نه

ترسره کیږي او نه ورځخه معلومات لري، بل د ماشوم له سن او سويې سره هم مطابقت نه لري، موږ باید د دې پر ځای داسې موضوع راوړو چې د ماشوم سن او سويې سره سمه وي او اخلاقي او عاطفي برخې ته يې وده ورکړي او په ورځني ژوند کې ترې ګټه واخلي. بل ((د سګرټ ځکولو زيانونه)) دا هم د درېيم ټولګي د زده کوونکي لپاره ضرور نه ده. دا بايد د لوړو ټولګيو زده کوونکو ته را وړل شي، په ځانګړې توګه د ۹ ـ ۱۲ ټولګيو لپاره، ځکه چې زموږ ځينې ځوانان په دې سن او کلونو کې له داسې مسايلو سره مخامخ کېږي. ځينې سرليکونه په يوه موضوع کې راغلي، لکه: چاپېريال او چاپېريال ساتنه. د موضوعاتو ډېرى متنونه د زياتوالي او کموالي له مخې تناسب نه لري او له کم څخه د زياتيدو پر لور نه دي ليکل شوي.

**د نوي درسي کتاب موضوعات**

نوي درسي کتابونه په ۱۳۹۷ ل کال کې ليکل شوي. د درېيم ټولګي د پښتو د نوي درسي کتاب ټول عنوانونه ٥٦ ته رسېږي او موضوعات يې په لاندې ډول دي: (الله (ج) ، حضرت محمد (ص)، پوهه، مطالعه، ښه ټولګيوال، کتاب، ښه ملګرتيا، ښه ګاونډی، د يوه او بل منل، نيکي، بې احتياطي، سوله، کتابونه، د رسی کشول، درناوی، له کورنی سره مرسته، کورنی اقتصاد، مور، زغم، پلار، سمسورتيا، د څښلو د اوبو زېرمې، کثافات، باران، د ښار پاکوالی، د پسرلي ترانه، په خپل ځان باور، پاکه هوا، صحيح خواړه، د سترګو ساتنه، نس ناستی، واکسين، ورزش، د روغتيا ترانه، د غزني لرغونی ښار، ونو ته پام، افغانی، د ګل سرخ مېله، ملالی، د وطن ترانه، زېور اکا، موزيم، شنه خونه، زعفران، لاسي صنايع، آهنګر، دنده اړتيا ده، د ښوونکي ترانه، ملي شتمني. د حاجيګک کان، د پستې ځنګل، زمرد، برېښنا، ملي شتمني، کاغذ څنګه جوړېږي، د اوبو بندونه).

دا پورتني موضوعات د درېيم ټولکي د پښتو د نوي درسي کتاب لپاره ټاکل شوي دي چې د زده کوونکو له سن او سويې سره مطابقت لري او د زده کوونکو ديني، اخلاقي او عاطفي ودې ته پکې ځانګړې پاملرنه شوې ده. له نږدې محيط څخه د لرې چاپېريال پر لور ليکل شوي دي. پورتني فرعي موضوعات (عنوانونه) له لاندې اصلي موضوعګانو څخه په اتو (۸) برخو کې ټاکل شوي دي: ښوونځي، ټولنې، کورنی، چاپېريال، روغتيا، ملي او فرهنګي ارزښتونه، معيشت (ژوندکول) چې د

معيشت اصلي موضوع يې دوه ځلې د کتاب په وروستۍ برخه کې راغلې ده. په نوي درسي کتاب کې د ملي شتمنۍ موضوع دوه ځلې تکرار راغلې چې د دې کتاب په فرعي موضوعاتو کې تکرار شوې ده. د درېيم ټولګي نوی او پخوانی درسي کتاب دوه مشابه عنوانونه لري: د حضرت محمد (ص ) او د کور په کارونو کې مرسته چې په دواړو درسي کتابونو کې راغلي دي. د پخواني درسي کتاب محتوا او کلمې د زده کوونکو له سن او سويې څخه لوړې دي، د کتابونو تصوريرونه له بهر څخه اخيستل شوي دي داسې، تصويرونه دې راوړل شي چې زموږ د افغاني او اسلامي ټولنې له ارزښتونو سره مناسب وي(۴).

د نوي او پخواني درسي کتاب دوه عنوانونه سره يو شان او نور ټول سره توپير لري. د پخواني درسي کتاب ټول عنوانونه (۷۳) او د نوي درسي کتاب ټول عنوانونه (۵٦) ته رسېږي. په پخواني درسي کتاب کې داسې عنوانونه شته چې د دې ټولګي د زده کوونکو له سن او سويې سره تناسب نه لري.

## ۲. د پښتو ژبې د درېيم ټولګي د نوي او پخواني درسي کتاب د متنونو توپيرونه کوم دي؟

د درېيم ټولګي د پخواني درسي کتاب متنونه د زياتوالي او کموالي له مخې سره تناسب نه لري او له کم څخه د زياتيدو پر لور نه دي ليکل شوي. لکه: ځينې داسې متنونه لرو چې د کتاب په لومړيو درسونو کې يې متن ډېر شوی او په وروستيو درسونو کې يې متن کم شوی دی. متنونه يې د يوه متن د جملو د شمېر او په يوه جمله کې د کلمو د شمېر له پلوه ترتيب او تنظيم شوي نه دي. د دې کتاب ځينې متنونه ساده او روان نه دي، جملې يې لنډې او مناسبې نه دي، سخت او پېچلي لغات لري او د ماشومانو ژبه پکې نه ده کارول شوې او متنونه يې د زده کوونکو له سن او عمر سره تناسب نه لري. د پخواني درسي کتاب محتوا او کليمې د زده کوونکو له سن او سويې څخه لوړې دي، د کتابونو تصوريرونه له بهر څخه اخيستل شوي دي؛ داسې تصويرونه دې راوړل شي چې زموږ د افغاني او اسلامي ټولنې له ارزښتونو سره مناسب وي(د ريسرچ، معيارونو او ارزونې رياست.(۱۳۹۲).

د درېيم ټولګي د پخواني درسي کتاب ځينې متنونه له انځور سره ارتباط نه لري او د ځينو درسونو انځورنه پيکه او تياره دي او ځينې متنونه هيڅ انځور نه لري او که يې لري هم سم نه دي رسم شوي. پخوانی درسي کتاب يوه يا دوې انګېزوي پوښتنې

لري، خو په نويو درسي کتابونو کې انګېزوي پوښتنې نشته. په پخواني درسي کتاب کې د متن لاندې ډولونه شامل دي: روايتي، معلوماتي او شعر چې د معلوماتي متن بېلګه يې په لاندې ډول ده:

**د چاپېريال د پاکوالي ساتنه**

د کور له انګړ څخه نيولې تر ښوونځي او زموږ د لوبو ځايونه زموږ چاپېريال دی.

په چاپېريال کې اوبه، هوا، باغونه، سيندونه، ځنګلونه، دښتې او غرونه شامل دي.

که چاپېريال پاک او ښکلی و، زموږ ژوند به سم او روغتيا به مو ښه وي. موږ بايد د چاپېريال په پاک ساتلو کې زيار وباسو. ونې او ګلان وکرو، د ونو ښاخونه مات نه کړو. د کور خځلې او کاغذونه په يوه ټاکلي ځای کې واچوو. که دا کارونه مو سرته ورسول، نو زموږ چاپېريال به پاک وي. په دې پورتنې متن کې د مطالبو ترمنځ منطقي تسلسل نه دی مرعات شوی. او د دې درسي کتاب متنونه د زياتوالي او کموالي له مخې يو له بل سره تناسب نه لري او له کم څخه د زياتيدو پر لور نه دي ليکل شوي. لکه: پورتنی متن ( د چاپېريال د پاکوالی ساتنه) چې په اته ويشتم لوست کې راغلی دی او لاندې متن (طبيعي شتمني) په نهه څلويښتم لوست کې راغلی دی ،د کليمو او د جملو د شمېر له مخې سره توپير لري. د اته ويشتم لوست د متن د کليمو او جملو شمېر ډېر دی، خو د نهه څلويښتم لوست د کليمو او جملو شمېر کم دی.د بېلګې په ډول:

**طبيعي شتمني:** زموږ د هېواد ځنګلونه، دښتې، غرونه او ټول کانونه له سرو او سپينو زرو ډک دي. موږ بايد په خپلو درسونو کې زيار وباسو، علم او پوهه زده کړو، ترڅو د خپل هېواد له طبيعي شتمنيو څخه په سمه توګه ګټه واخلو او خپل هېواد ودان او سمسور کړو.(۵: ۱۰۷)

پورتنی متن د کتاب د وروستۍ برخې متن دی چې له لومړنيو متنونو څخه ډېر کم دی، يعنې له لږ نه ډېر لوري ته نه دی ترتيب شوی. همدارنګه په پورته متن کې لومړی بايد طبيعي شتمنۍ ور وپېژندل شي او اړين به نه وي چې د درېيم ټولګي زده کوونکو ته د (ځنګلونو، دښتو، غرونو او ټولو کانونو، د سرو او سپينو زرو) د ګټې اخيستنو په اړه څه وويل شي، ځکه دا کار د دې ټولګي د زده کوونکو له سويې څخه لوړه خبره ده. دوی ته بايد داسې متن راوړل شي چې په زده کوونکو کې مثبت تغيير

راولي او ورځخه په ورځني ژوند کې ګټه واخلي او د دوی په توان پوره وي. په محتوايي لحاظ پخوانی کتاب بېلابيل موضوعات لري چې ځينې پکې داسې موضوعات شته چې د دريېيم ټولګي زده کوونکي لپاره مناسب نه دي. د زده کوونکو له ورځني ژوند او سويې سره برابر نه دي، لکه: (د سګرټ ځکولو زيانونه) داسې موضوع ده چې د لېسې دورې زده کوونکو ته بايد را وړل شي. ځينې معلومات پکې ګډوډ راغلي دي، لکه: «زموږ د هېواد ځنګلونه، دښتې، غرونه او ټول کانونه له سرو او سپينو زرو نه ډک دي.» لومړی خو سره او سپين زر په کانونو کې وي، نه په ځنګلونو او دښتو کې او بله دا چې ټول کانونه هم له سرو او سپينو زرو ډک نه دي.

د دريېيم ټولګي په پخواني درسي کتاب کې ټول ۷۲ عنوانونه او متنونه راغلي دي چې ۱۹ يې روايتي، ۴۵ يې معلوماتي دي او شپږ ٦ يې شعرونه دي. د دې درسي کتاب متنونه د زياتوالي او کموالي له مخې سره تناسب نه لري او له جز څخه کل ته نه دي ترتيب شوي. په يوه متن کې يې هم د کليمو او جملو شمېر او په يوه جمله کې يې هم د کليمو شمېر نه دی ترتيب شوی. د پخواني کتاب ډېری متنونه ساده او روان نه دي، جملې يې لنډې او ساده نه دي، سخت او پېچلي لغات لري او همدارنګه د ماشومانو ژبه پکې نه ده کارول شوې او متنونه يې د زده کوونکو د سن او عمر سره تناسب نه لري. ځينې متنونه له انځور سره ارتباط نه لري. د متنونو حجم ډېر زيات او وچ دی، د زده کوونکو له سن او سويې څخه لوړ دی، منطقي تسلسل پکې نه دی مرعات شوی. داسې موضوعات پکې شته چې د زده کوونکو له ورځني ژوند او سويې سره اړخ نه لګوي. په پخواني کتاب کې ژبه له تکلفه ډکه، يو څه پېچلې او په ځينو ځايونو کې ناسمه کارول شوې ده. په نوي درسي کتاب کې پورته نيمګړتياوې ډېرې کمې او يا هم بيخي نشته چې په لاندې ډول مو دغه کتاب څېړلی دی.

## د نوي درسي کتاب د لوستلو متنونه

د دريېيم ټولګي د نوي درسي کتاب د لوستلو متنونه، له زده کوونکو سره د هڅوی د لوستلو مهارتونه د ودې له پاره چمتو شوي دي. په دې کې د کليمو زېرمه، ګرامر او د مفهوم اخيستنې بېلابېل مهارتونه شامل دي. متنونه يې په يوه متن کې د جملو د شمېر او په جملو کې د کليمو د شمېر له پلوه ترتيب او تنظيم شوي دي. لاندينی جدول په دريېيم ټولګي کې د بېلابېلو برخو لپاره د متن اصول په ډاګه کوي چې ګام

په گام دا پرمختګ ښيي چې له زده کوونکو سره د هغو د لوستلو مهارتونو په وده او پرمختګ کې مرسته کوي. د درېیم ټولګي د پښتو ژبې نوی درسي کتاب اته برخې لري چې د دوو برخو (لومړۍ او دوهمې) برخې لپاره يې د جملو او کلمو شمېر او د کلمو اوسط يې په يوه اندازه په پام کې نیول شوی. همداسې تر (اومې او اتمې) برخې پورې چې د جملو او کلیمو شمېر او د کلمو اوسط يې په ترتیب سره زیات شوی دی.

**د نوي درسي کتاب د متنونو ډولونه:**

په درېیم ټولګي کې متنونه په دريو ډولونو ویشل شوي دي: روايتي، شعري او معلوماتي، روايتي متنونه (کیسې) دي. په دې کې کرکټرونه، د کیسې د پېښې تسلسل او د عناصرو ارتباط، مرکزي موضوع ( (Platاو پایله شامل وي. د دې کیسو موخه ساعت تېری دی. معلوماتي متنونه؛ هغه متنونه دي چې معلومات وړاندې کوي( ۲: ۱۸). د بېلګي په ډول:

**ښه ټولګيوال**

څنګه ښه ټولګيوال کیدلای شو؟

ښه ټولګيوال يو پر بل سلام اچوي. په درسونو کې له يو بل سره مرسته کوي. د مطالعې پر وخت ټولګيوالو ته مزاحمت نه کوي. د اړتیا په وخت کې له نورو ټولګيوالو سره د کتاب او قلم مرسته کوي. يو پر بل مهربانه وي. يوځای لوبې کوي. د دې لپاره چې ښه ټولګيوال و اوسو، باید: د ټولګيوالو خبرو ته غوږ ونیسو. څه چې ځان ته خوښوو، نورو ته يې هم خوښ کړو. له ټولګيوالو سره په درسونو کې مرسته وکړو. که پورتنیو ټکو ته پاملرنه وکړو، ښه ټولګيوال کیدلای شو. ( ۳: ۱۳ـ ۲۵).

همداراز د پورته معلوماتي متن د جملو او کلیمو شمېر نظر هرو دوو برخو ته په پام کې نیول شوی دی. جملې يې لنډې، روانې او با مفهومه دي. همدارنګه د روايتي متن نمونه په لاندې ډول ده:

**د يوه او بل منل**

کاغۍ ناروغه وه. فیل مرغ ته ورغله.

ورته ويې ويل: همیشه مې زړه خپه وي. له ګاونډۍ بلبلې مې بد راځي. چې ويې وینم، زړه مې خپه شي. نسخه راکړه چې په درملتون کې درمل واخلم. ګوندې روغه شم. فیل مرغ ورته وويل: ستا د ناروغۍ درمل له ما سره دي: «کینه ساتل، د ناروغۍ سبب کېږي.» نو له زړه څخه دې بلبلې کینه وباسه! بله ورځ کاغۍ بلبلې ته په موسکا

سلام وکړ. بلبلې یې سلام واخیست او خوږې نغمې یې ورته و غږولې. د کاغی زړه باغ باغ شو. هغه خوشحاله او رکه روغه شوه.

له روایتي او معلوماتي دواړو متنونو څخه په ګټې اخیستنې سره، زده کوونکي به د دواړو ډولونو متنونو د لوستلو لپاره د لوستلو او مفهوم اخیستنې ستراتیژۍ منځته راوړي. پورتنی متن روایتي دی چې روایتي متن یې پیل، منځ او پای لري. د هر روایتي متن په پیل کې لومړی ستونزه یا غوټه رامنځ ته شوې او د متن په پای کې د ستونزې حل لارې ورته راوړل شوې دي. دا متنونه د زده کوونکو لپاره ځکه ډېر ګټور دي چې کله زده کوونکي په ورځني ژوند کې له کومې ستونزې سره مخامخ کېږي، نو لومړی یې په اړه فکر کوي چې خپله یې حل کړي که بیا ونه توانید، له مشرانو او نږدې ملګرو سره یې مشوره کوي او ستونزه حل کوي. د نوي درسي کتاب معلوماتي او روایتي متنونه سره برابر او د شعر متنونه یې یو څه کم دي. شعر د متن درېیم ډول دی او بېلګه یې په لاندې ډول ده.

## د ښوونکي ترانه

هــــغوی ودان دي — پر مـــــخ روان دي
ښـوونکی، ښوونکي — چې پر چـا ګـران دي
چې نه یې شور وي — چې نه یې ځــوږ وي
چې د ښـــــوونکو — سبـــق ته غــوږ وي
دا نو بې شـــــکه — ښه شـــاګردان دي
کـــه علم، پـــوهه — او کـــه حکــمت دی
بس د ښـــــوونکي په برکـــــــت دی (۳: ۱۶).

په درېیم ټولګي کې متنونه په درېو ډولونو وېشل شوي دي: روایتي، معلوماتي او شعر. د دواړو کتابونو متنونه په درې ډولونو کې راغلي دي. د پخواني درسي کتاب معلوماتي متنونه زیات او روایتي یې لږ کم دي. د نوي درسي کتاب معلوماتي او روایتي متنونه سره برابر دي او شعرونه یې یو څه کم دي چې د پورتنې شعر په څېر نور شعرونه هم په نوي درسي کتاب کې په ساده او روانه ژبه لیکل شوي دي. په هر متن کې د جملو او کلیمو شمېر او په اوسط ډول په دوو برخو کې د کلیمو د شمېر له پلوه ترتیب او جوړ شوي دي. په نوي درسي کتاب کې اجتماعي روزنه او د نظم او

قواعدو زده کړه شته، د تربیتي او اخلاقي مطالبو حجم نژدې دوه برابره شوی دی. د دیني او مذهبي روزنې او پېژندنې د درسونو شمېر په مناسبه اندازه زیات شوی دی. د لوستلو هر متن یې یوه غوټه (ستونزه) لري چې وروسته د هغې د حل لارې چارې ورته په گوته شوې دي. کیسې یې پیل، منځ او پای لري.

## پایله

په دې څېړنه کې د دریم ټولگي د پښتو ژبې نوی او پخواني درسي کتاب سره پرتله شوي او دغه برخې رانغاړي. د محتوا (موضوعاتو او متنونو) توپیرونه چې د هرې برخې مشابهتونه او توپیرونه جدا جدا څېړل شوي دي. نتایج ښیي چې د نوي او پخواني درسي کتاب محتوا ډېر توپیر لري. دغه موضوع د بېلابېلو هېوادونو د ژبې د زده کړې د تعلیمي نصاب د پرمختللو څېړنو له معیارونو سره ارتباط لري. په دې څېړنه کې د محتوا له تحلیل او مشاهدې څخه معلومېږي چې نوي درسي کتابونه په لوړو او نړیوالو معیارونو لیکل شوي دي، خو پخوانی درسي کتاب له دې معیارونو څخه برخمن نه دی. د نورو درسي کتابونو لپاره دې هم د نوي کتاب له معیارونو څخه کار واخیستل شي، نو په دې سره به نور کتابونه هم د نویو کتابونو په څېر ولرو. د دې څېړنې له پایلو څخه په لاندې ډول نتیجه تر لاسه کولای شو:

د پخواني درسي کتاب متنونه نظر نوي درسي کتاب ته زیات دي، خو د نوي درسي کتاب د هرې اونۍ لپاره دوه متنونه راغلي دي. د دواړو کتابونو متنونه په درې ډولونو (ژانرونو) کې راغلي دي. د پخواني درسي کتاب معلوماتي متنونه زیات، روایتي او شعر یې لږ کم دي. د نوي درسي کتاب معلوماتي او روایتي متنونه سره برابر دي او شعرونه یې یو څه کم دي.

د پخواني کتاب متنونه د زیاتوالي او کموالي له مخې سره تناسب نه لري او له کم څخه د زیاتیدو پر لور نه دي لیکل شوي، په یوه متن کې د کلیمو او جملو د شمېر له پلوه ترتیب او تنظیم شوي نه دي. متنونه یې ساده او روان نه دي، جملې یې لنډې او مناسبې نه دي، سخت او پېچلي لغات لري او د ماشومانو ژبه پکې نه ده کارول شوې او متنونه یې د زده کوونکو له سن او سویې سره تناسب نه لري، خو په نوي درسي کتاب کې دا تناسب شته او پورتنیو ټولو برخو ته پاملرنه شوې ده. په نوي درسي

کتاب کې اجتماعي روزنه او د نظم او قواعدو زده کړه شته. د پخواني درسي کتاب په متنونو کې د زده کوونکو پوهې ته زیاته پاملرنه شوې ده. په نوي درسي کتاب کې تربیتي او اخلاقي مطالبو حجم نږدې دوه برابره شوی دی او د دیني او مذهبي روزنې او پېژندنې د درسونو شمېر په مناسبه اندازه زیات شوی دی. د نوي درسي کتاب د لوستلو هر روایتي متن یوه غوټه (ستونزه) لري چې وروسته د هغې د حل لارې چارې ورته په ګوته شوې دي. روایتي متنونه یې پیل، منځ او پای لري، خو د پخواني درسي کتاب په روایتي متنونو کې دا معیارونه په پام کې نه دي نیول شوي. د دواړو درسي کتابونو له دې موندنو او ځانګړتیاوو څخه معلومېږي چې نوي درسي کتابونه نظر پخواني ته په لوړو او نړیوالو معیارونو لیکل شوي دي. همدارنګه د درېیم ټولګي نوی درسي کتاب ماشومانو او زده کوونکو ته په زړه پورې دي. ژبه یې ساده، روانه او معیاري ده. معلومات یې سم او د ماشومانو له سن او سویې سره برابر دي؛ د ماشومانو له ورځني ژوند سره اړخ لګوي او پکې ښه زده کړه کولای شي.

## وړاندیزونه

۱ـ د نویو درسي کتابونو د ګټور تدریس او تطبیق لپاره ضرورت دی چې باید د پوهنې وزارت او تربیه معلم ریاست خاصه توجه وکړي.

۲ـ د درېیم ټولګي د نوي درسي کتاب له لوړو معیارونو څخه باید د ابتدایې د دوهمې دورې په درسي کتابونو کې هم ګټه واخیستل شي.

## مأخذونه


۱. ځدراڼ، الف شاه.اصلاح و بهبود کیفیت معارف (مجموعه مقالات سیمینار)، وزارت معارف: کابل، ۱۳۸۴لمریز کال، ۱۱۱ـ ۱۱۲مخونه.

۲. ځدران، میرویس او همکاران. د پښتو د تدریس لپاره د ښوونکي لارښود، پوهنې وزارت: د تعلیمي نصاب د پرختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست، کال، ۱۳۹۷کال ۱۸مخ.

۳. ځدران، میرویس او همکاران. د پښتو درېیم ټولګی،کابل: پوهنې وزارت: د تعلیمي نصاب د پرختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست، ۱۳۹۷کال، ۱۳ـ ۲۵مخونه.

۴. ریسرــچ، د معیارونو او ارزونې ریاســـت. د تعلیمي نصــاب د پرختیا او درسي کتابونو لوی ریاست:کابل، افغانستان، ۱۳۹۲کال، ۱۰ مخ.

۵. نژند، امین الله او همکاران. د پښـــتو درېیم ټولگی، پوهنې وزارت: د تعلیمي نصاب د پرختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست، کابل، ۱۳۸٦ کال، ۱۰۷مخ.

څېړندوی فضل الرحمن علیزی

# نجیب سربندی د سبک پر څلور لارې

# Najeeb Sarbandai on the intersection of Subak(Style)

**Assistant Prof۰ Fazal rahman Alizai**

## Abstract

Classical period of Pashto literature, which is also called the middle period of Pashto literature, was a remarkable period. This period of Pashto literature is different compared to the ancient period of the literature, during which we have collected many interesting works and great poems of poets. This period of Pashto literature is divided into several stages and each stage has different stylistic feature. In this article, Najeeb Sarbandai a prominent Pashto poet of the classical era, his poems and life has been discussed. Since Najeeb Sarbandai has written poetry on the styles of other poets, an article on the regard was necessary to be written about his poetry style and vision.

## لنډیز

د پښتو ادبیاتو کلاسیکه دوره چې د پښتو ادبیاتو منځنۍ دوره هم ورته ویل کېږي، په زړه پورې دوره تېره شوې ده. دا دوره د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې په پرتله توپیر لري، په دې معنا چې په دې دوره کې موږ ته ډېر په زړه پورې آثار او د شاعرانو منظم دېوانونه لاسته را غلي دي. د پښتو ادبیاتو دا دوره په څو پړاوونو وېشل

شوې ده او هر پړاو یې بېلابېلې سبکي ځانګړنې لري. په دې لیکنه کې د کلاسیکې د ورې د یوه مهم شاعر نجیب سربندي پر ژوند، دېوان او د شعرونو د سبک پرځرنګوالي بحث او څېړنه تر سره شوې ده. ځرنګه چې نجیب سربندي د بېلابېلو شاعرانو د شعرونو پر سبک شاعري کړې ده، نو اړتیا لیدل کېده چې په دې اړه باید لیکنه وشي او د لیکنې په ترڅ کې د ده د شعرونو سبک او لاره را ځرګنده او مشخصه شي.

## سریزه

ادبیات د انساني ټولنې او ټولنیز ژوند د بېلابېلو اړخونو له مطالعې او مشاهدې څخه د لاسته را غلو تجربو نچوړ دی. کله چې انسانانو ټولنیز ژوند پیل کړی ور سره سم یې د خپل ټولنیز ژوند د مختلفو اړخونو د اصلاح او سمون لپاره فکرونه هم کړي او تل یې کوښښ کړی دی، چې هوسا او آرام ژوند ولري. د یو هوسا او آرام ژوند لرلو لپاره یې د خپل ژوند نیمګړي اړخونه تر نظر تېر کړي دي او وخت پر وخت یې د ټولنې اوسېدونکو ته د ادبیاتو له لارې ځینې واقعیتونه بیان کړي دي، خو دا واقعیتونه یې په مستقیم ډول نه دي بیان کړي، بلکې د هنر او عاطفې په جامه کې یې نغښتې او د ټولنې نورو وګړو ته یې وړاندې کړې دي، ځکه چې:«ادب یو ژبنی هنر دی چې واقعیتونه په انځورونو کې وړاندې کوي. له انځور( تصویر یا ایماژ) څخه مقصد دا دی چې ادب واقعیت کټ مټ او په مستقیمه توګه نه بیانوي، بلکې د ادبي آثر د لیکونکي له خوا په ښکلي او احساس پاروونکي شکل وړاندې کېږي. یا په بله ژبه، نوښتګر(شاعر یا کیسه لیکونکی) له واقعیت څخه خپله انطباع او برداشت په عاطفي بڼه انځوروي.»(٦: ٩م)

ادیب د خپلې ټولنې له بېلابېلو اړخونو څخه تر لاسه کړې تجربې او یا د ټولنې واقعیتونه د خپل احساس په ملتیا بېرته د ټولنې وګړو ته د ټولنې د اصلاح په موخه د ادب او ادبیاتو له لارې وړاندې کوي او هغه پوهنه چې د ادب او ادبیاتو د بېلابېلو اړخونو په اړه څېړنه کوي ادبپوهنه بلل کېږي. ادبپوهنه پر دریو مهمو او اصلي څانګو: ادب تیوري، ادبي کره کتنه او ادبیاتو تاریخ باندې وېشل شوې ده، چې هره څانګه یې په خپل خپل ځای کې ارزښت لري او د مختلفو دندو په تر سره کولو سره د ادبیاتو د بېلابېلو اړخونو په را سپړلو سره د ادب مینوالو ته پوره او بشپړ معلومات وړاندې کړي. د ادبیاتو تاریخ د ادبپوهنې هغه مهمه او ارزښتمنه څانګه ده چې د ادبیاتو د

پیدایښت، ودې او انکشاف جریان مطالعه کوي:«د یوې ژبې د علمي، ادبي لوړتیا او ځوړتیا (وده، انکشاف او تنزل) د تاریخ د بېلابېلو پیړیو په پوړیو کې څېړي او د ټولنیزو چاپیریالي شرایطو او تاریخي حالاتو په رڼا کې د ادبي ودې او تنزیل د پیښو اصلی عوامل په گوته کوي.»(۲۳:۱۰)

دا چې زموږ دموضوع اصلي بحث د کلاسیکې دورې د یوه نوم ورکي شاعر نجیب سربندي د دېوان معرفي او د شعرونو د سبک پېژندلو ته ځانگړی شوی، نو په همدې خاطر په دې لیکنه کې د کلاسیکې دورې د پورته یاد شوي دېوان لرونکي شاعر(نجیب سربندي) پر ژوند، دېوان او د سبک پېژندنې باندې څېړنه کېږي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د ادبیاتو د تاریخ په هره دوره کې مهم او نامتو شاعران او لیکوالان تېر شوي دي، نورو نسلو ته یې ادبې پنځونې په مېراث پرېیښې دي، چې باید نور نسلونه یې په اړه هر اړخیزه توگه څېړنه او سپړنه وکړي. د دې څېړنې او لیکنې اهمیت او مبرمیت هم په دې کې دی چې موږ به د کلاسیکې دورې یو مهم شاعر وپېژنو او د هغه شاعر له دېوان سره د آشنایي ترڅنگ به یې د شعرونو له منځپانگې او همدارنگه د سبک له پیروی څخه هم څه ناڅه خبر شو.

## د څېړنې موخې

د پښتو ادبیاتو په منځنی(کلاسیکه) دوره کې د پښتو ژبې ډېر پیاوړي شاعران او لیکوالان تېر شوي دي، خو لکه څرنگه چې ښایي، په هغه ډول یې په اړه بحث او څېړنې نه دي ترسره شوي، اړتیا لیدل کېږي چې د یادې دورې د پیاوړو شاعرانو د شعرونو او سبکونو پر څرنگوالي باندې بحث وشي او په اړه یې هر اړخیزه څېړنې او شننې وشي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې لاندې پوښتنو ته د ځواب موندلو هڅه شوې ده:

۱. نجیب سربندی څوک دی؟

۲. د ژوند زمانه یې کومه ده ؟

۳. د چا د سبک پیرو شاعر دی؟

۴. د دېوان او شعرونو منځپانگه یې څه ده؟

## د څېړنې میتود

په دې لیکنه کې د تشرېحي او تحلیلي میتود ترڅنګ، له مقایسوي او انتقادي میتود څخه هم استفاده شوې ده.

## د موضوع اصلي متن

مخکې تر دې چې د پښتو ادبیاتو د کلاسیکې دورې د دېوان لرونکي شاعر نجیب سربندي د دېوان پر پېژندنه بحث وکړو، لازمه ده چې د کلاسیکې دورې په اړه یوه څه رڼا واچوو، تر څو روښانه شي، کلاسیکه دوره کله پیل شوې، څو پړاوونه لري او نجیب سربندي د دې دورې د کوم پړاو شاعر تېر شوی دی؟

د پښتو ادبیاتو کلاسیکه (منځنۍ) دوره د لسمې هجري پېړۍ له اواسطو پیل کېږي او د څوارلسمې هجري پېړۍ تر لومړیو دوو، درې لسیزو پورې ادامه لري.«په دې دوره کې پښتو ادبیات د افغانستان او پښتونخوا او هند په سیمو کې له ځېنو ملي، مذهبي او پښتني غورځنګونو سره په اړیکه کې ایجادېږي او وده کوي، د سیمې مسلط فرهنګي او ادبي جریانونه پر پښتو ادبیاتو خپل اغېز ښندي او د همدغو جریانونو په پیروۍ په پښتو ادب کې ځانګړي سبکونه پیدا کېږي او ځانته ځانګړي پیروان مومي، د دې دورې یوه عمده ځانګړنه دا ده چې موږ د دې دورې بشپړ او مکمل ادبي او فرهنګي آثار په واک کې لرو، په دې دورې پورې اړوند په سلګونو پښتو دېوانونه، په سلګونو سیمه ییز آثار او په زرګونو ولسي سندرې له موږ سره شته چې د پښتو د ادبي تاریخ د یوې سترې پانګې په توګه هراړخیز بحثونه پرې کولای شو. دې دورې ته مورږد منظومو آثارو دوره هم ویلای شو.»(۱۱: ۸۵م)

د پښتو ادبیاتو کلاسیکه دوره په حقیقت کې پر څو پړاوونو، لکه: روښانیان، خوشحال خان خټک، عبدالرحمن بابا، حمید بابا او داسې نورو باندې وېشل شوې ده چې د هر پړاو په ایجادي آثارو کې د هغه پړاو ټولنیز او مسلط فکري شرایط منعکس شوي او د آثارو له مطالعې څخه یې د وخت ټولنیز، فکري شرایط او خصوصیات را څرګندېږي. د کلاسیکې دورې په یوولسمه پېړۍ کې چې د پښتو ادبیاتو تاریخ پوهانو یې د عبدالرحمن بابا د پړاو یا هم ادبي مکتب په نوم نوملې ده، د کلاسیکې دورې دا پړاو له ځانګړې ارزښت څخه برخمن ځکه دی چې په دې پړاو کې:«د را پورته شوو شاعرانو له ډلې څخه یو هم عبدالرحمن مومند دی چې پښتانه

له ډېرې مينې او زياتې عقيدې ورته (بابا) وايي او د پښتنو په عامو ولسونو او فرهنګونو کې په رحمان بابا مشهور دي. رحمان بابا د يوه ځانګړي سبک خاوند دی، د ده سبک د خپلو خاصو ځانګړتياوو له پلوه په ولس او فرهنګي حلقو کې عالمګير شهرت او محبوبيت وګاټه او د دوولسمې، ديارلسمې او څوارلسمې پېړۍ ډېرو شاعرانو په ده پسې اقتدا وکړه.»(۱۱: ۸۵م) د دغو شاعرانو له جملې څخه يو هم نجيب سربندی دی، چې دلته به يې په اړه هر اړخيزې څرګندونې وشي.

**د نجيب سربندي پېژندنه**

نجيب د دوولسمې پېړۍ دېوان لرونکی شاعر دی. د پښتو ژبې د ځينو کلاسيکو شاعرانو په څېر د ژوند او مړينې کره نېټه يې نه ده معلومه. «دمېجر را ورټي له يو ليکلي يادښت څخه څرګندېږي چې شاعر د يوسفزی قبيلې ته منسوب او د پښتونستان په کتاب کې دا هم زياته شوې ده چې د يوسفزو په سيمه کې اوسېده.»(۲: ٦۲۲م)

د نجيب د دېوان له ځينو بيتونو څخه داسې ښکارې چې د پېښور د سيمې په سربند نومي کلي کې زېږېدلی دی، لکه په يوه بيت کې چې وايي:

چې خوبان يې دي په مثل د حورانو
ځکه بولم زه نجيب جنت سربند

يا لکه وايي چې:

خلد اِرم فردوس به هېر که
که څوک ووينې سربند (٦۲:۵م)

د نجيب د ژوند او د اوسېدو د ځای په اړه څېړنپوه زلمي هېوادمل ليکلي»:نجيب د پېښور د سيمو په سربند نومي ځای کې اوسېده او ژوند يې تر ۱۱۷۷ هـ، ق کال پورې يقيني ښکاري.» (۱۱: ۱۸۰م)

کېدای شي چې سرمحقق هېوادمل د نجيب د دېوان په لاندې بيت چې وايي:

سن زر سل اووه اويا دی دلربايه
ستا په غم کښې چه نجيب انشا کړم (۵: ۱۵۳م)

استناد کړی وي او هغه يې د سربند خوږ ژبی شاعر معرفي کړي وي، خو د شاعر د دېوان له يوه بل بيت څخه داسې ښکارې چې د نجيب سربندي ژوند تر ۱۱۷۸ هـ. ق کال پورې يقيني دی، لکه دی چې په خپل يو بيت کې وايي:

زر سل کاله پرې اته اویا د پاسه

سن د هجر په دا وخت هومره حساب شه(۵:۱۰۸ م)

که د برټش نسخې د استنساخ کال ۱۲۰۸ هـ، ق کال په نظر کې ونیول شي، نو ویلای شو چې نجیب سربندی د یارلسمې هجري پیړۍ تر پیل څخه دمخه مړ شوی دی، دا چې تر اوسه پورې لا هم موږ ته د ده د زوکړې او مړینې په اړه کوم باوري اسناد لاسته نه دي را غلي، خو بیا هم د ده د پورته بیت په استناد ویلای شو چې د نجیب سربندي ژوند تر ۱۱۷۸ هـ، ق کال پورې یقیني ښکاري.

زده کړه: د نجیب سربندي د زده کړو په اړه ډېر څه ځکه نشو ویلی چې د پښتنو د ځینو نورو شاعرانو په څېر یې د زوکړې، زده کړې او مړینې کره او دقیقې نېټې نه دي ثرګندې، خو د دېوان له مطالعې یې داسې ښکارې چې ډېر عالم او فاضل سړی تېر شوی دی، لکه خپله چې په یوه بیت کې وایي:

هله پسه به دا شان غزل اُو وایي

هر شاعر که خدای نجیب غوندي فاضل کا

کله چې دی ځان ته خپله هم د فاضل لقب ورکوي، دا په دې معنا ده چې د وخت مروج علوم یې لوستې دي او د زده کړې خاوند سړی و او بل دا چې، کله د ده دېوان شعرونه په ځیر سره ولوستل شي ، لوستونکی پوهېږي چې د ژورې پوهې او زده کړې لرونکی سړی تېر شوی دی.

**د نجیب دیوان او خطي نسخې**

د سربندي د شاعري د پیل په اړه څه نه شو ویلای،ی چې ده په څو کلنۍ کې شعر او شاعري پیل کړې ده، خو نجیب د شعرونو یو لوی دېوان لري او د دېوان له یوه بیت څخه یې داسې معلومېږي چې ده په دېرش کلنۍ کې ډېر پاخه او په تول تللي شعرونه ویلي دي:

لا دېرش کاله مې د عمر پوره نه دي

بیا نجیب ستا د هجران غمونو پیر کړم (۵:۱٦۴م)

د نجیب سربندي د دیوان دوه خطي نسخې موجودې دي:«یوه خطي نسخه یې د برټش موزیم په ۴۴۹۸ پرله پسې او ۳۲ / ۲۷۱ خصوصي لمبر ضبط دی، ۱۸۸ پاڼې لري، چې ۱۷۷ پاڼې یې غزلي او وروستۍ ۱۱ پاڼې یې رباعي دي. د نجیب د دیوان

دغه نسخه چې په برټش موزیم کې ضبط ده، د میا عمر صاحب د مشر زوی محمدي صاحبزاده (؟ - ۱۲۲۰ هـ، ق) په امر گل محمد پېښوري لیکلې ده او د ۱۲۰۸ هـ، ق کال د صفرې په وروستۍ ورځ یې د استنساخ کار تمام شوی دی.» پورته یاده شوې نسخه هم د نورو ډېرو ارزښتمنو پښتو قلمي نسخو په څېر مېجر را ورټي لاسته ورغلې او هغه هم په ۱۸۵۹ ع کال برټش موزیم ته سپارلې ده. د بلې نسخې په اړه د «دېوان نجیب» د ترتیب او مدوین له خبرو ښکاري چې تر لومړۍ هغې یو څه بشپړه ده:«څه وخت چې ما د دې کتاب تصحیح، ترتیب او تدوین کاوه، نو را محسوسه شوه چې په دې کښې ځینې نیمگړتیاگانې شته؛ ځینې ځایونه درست نه لوستلی کېږي. د دې د « ایډیټنګ» کار خو به هغسې ونه شي، لکه څنگه چې په کا دی. د خدای کارونو ته گورئ چې په هم دغو ورځو کښې را له د اسلامیه کالج د بازار د جمات امام مولوي شاه سید صاحب د غیبو د نجیب د دیوان قلمي نسخه را وړه چې دا را له چا دوست را کړې ده چې تاسو له یې دروړم... او بیا وائیس چانسلر صاحب د دې نعمت غیر مترقبه د اخستو منظوري را له د مخې سره را کړه. دغه کتاب را له خدای پاک داسې په ښه موقع را واستا وه، چې د چاپ نه وړاندې مونږ د برټش موزیم د دغسې نسخې ډېري نیمگړتیاگانې او د لیک نه پاتې الفاظ برابر کړل.»(۵: ح، م)

که څه هم د نجیب سربندي د دېوان خطي نسخې زمونږ په لاس کې نشته چې قضاوت وکړو،ی کومه یوه یې بشپړه ده او کومه یوه یې نیمگړې ده، خو د دېوان د مدون له خبرو داسې ښکارې چې په دې نسخو کې دا وروستۍ لاسته ورغلې نسخه بشپړه ښکاري او د لومړۍ نسخې په بشپړولو کې ورڅخه استفاده شوې ده. د نجیب د شعرونو دېوان د«دیوان نجیب» په نوم سید خیالي بخاري، له دوو نسخو څخه چې یوه یې د برټش موزیم له نسخې څخه یو نقل د مائکرو فلم په شکل پښتو اکاډمي را غوښتې وه او بله هم د اسلامیه کالج د بازار د جومات ملا ورکړې وه، تصحیح، ترتیب او تدوین کړی دی په ۳۲۸ مخونو کې چې په دې کې تر ۲۹۷ مخونو پورې غزلې او په پاتې ۳۱ مخونو کې رباعیات را غلي دي، له خپلې یووشت مخه اوږدې او په زړه پورې مقدمې سره په ۱۹۷۲ ع کال کې د پېښور په شاهین برقي پریس کې د یو زر(۱۰۰۰) ټوک په شمېر د پښتو اکیډیمۍ ـ د پېښور یونیورسټۍ لورې چاپ شوی دی. د دېوان په متن کې یې ځای ځای د مهمو او ضروري خبرو یادونه هم شوې ده.

## د نجيب ديوان او د سبک تنوع

مخکې له دې چې د نجيب سربندي د شعرونو د سبک د څرنګوالي په اړه بحث وکړو، لازمه ده چې لومړی سبک وپېژنو، د سبک او مکتب تر منځ په توپير هم يو څو خبرې وکړو. د سبک او ادبي مکتب په اړه ادبپوهانو بېلابېل تعريفونه او پېژندنې وړاندې کړې دي، چې تر ډېره سره ورته والي لري. استاد ګل پاچا الفت ليکلي دي:« د سبک حقيقي معنا سره يا سپين زر ويلي کول او په قالب کې اچول دي، مجازاً د بيان د اظهار خاص طرز ته سبک وايي. هر ليکوال د خپل فکر او خيال د څرګندولو لپاره يو خاص طرز لري چې  هغه د ده سبک بلل کېږي.»(۱: ۵۰م)

يو بل ځای هم د سبک د لغوي او اصطلاحي تعريف په اړه ليکل شوي دي(( سبک عربي کلمه ده چې معنا او مفهوم يې د سرو او سپينو ويلو زرو ويلي کول او په کابل کې اچول دي او په ادبي اصطلاح کې سبک د يو شاعر يا ليکوال د وينا او ليکنې لارې، اسلوب او روش ته وايي.»(۱۰: ۸۱م)

څرنګه چې سبک او مکتب په خپل منځ کې توپير لري، نو اړينه ده چې  په لنډه توګه مکتب هم تعريف شي او له هغه وروسته د سبک او مکتب په توپير باندې هم خبرې وشي. د سبک د تعريف په څېر ادبي مکتب ته هم د ادبپوهانو له لورې بېل بېل، خو ورته تعريفونه ورکړل شوي دي. د مکتب د لغوي او اصطلاحي تعريف په برخه کې ويل کېږي:« د مکتب لغوي معنا د لغاتو فرهنګونو د زده کړې او ښوونې ځای بللی او په اصطلاح ادبي مکتب هغه پراخ ادبي جريان او لاره ده چې د زيات شمېر اديبانو (شاعرانو او ليکوالو) د سبکونو له ګډون څخه منځ ته راغلی وي. ادبي مکتب د هغو نظريو، ادبي او فرهنګي ځانګړنو مجموعه ده چې د يوه يا څو هېوادونو د فرهنګي ټولنيزې او سياسي اوضاع په بهير کې رامنځ ته شوې وي.دغه ځانګړنې عموماً د ليکوالو د يوې ډلې په آثارو کې سره ګډې او مشترکې وي او د نورو شاعرانو او ليکوالو له تخليقي آثارو څخه د توپير او بېلتون سبب ګرځي. (۱۰: ۸۲م)

سبک او مکتب په خپل منځ کې توپير لري، ځکه سبک تر ډېره د يو ليکوال يا شاعر د وينا يا هم د ليکنې طرز او دود ته ويل کېږي، خو مکتب د سبک په نسبت پراخ دی او د څو يا زياتو ليکوالانو د سبکونو له مجموعې څخه منځته راغلی وي. کله چې يو سبک د نورو ليکوالانو له لورې وپالل شي او لمن يې پراخه شي، هغه په مکتب بدلېږي چې عمده توپيرونه يې په لاندې ډول دي:

۱. ادبي سبک د ادبي مکتب په پرتله ځانګړې، محدوده یا په بله وینا فردي بڼه لري، خو د« ادبي مکتب» مفهوم د هغې په نسبت عام، پراخ او یو ډله لیکوالان یا شاعران یا په بله وینا د ادبي آثارو رامنځ ته کوونکي په خپله پراخه لمن کې رانغاړي.

۲. سبک په خپلو ذاتي کلیاتو کې یواځې د یوه شخص(چې رامنځ ته کوونکی یې دی) څېره څرګندوي؛ خو مکتب بیا د یوې ډلې(د ادبي آثارو د رامنځ ته کوونکو) د ادبي ځانګړنو څرګندویي کوي.

۳. سبک د یوې ټاکلې او محدودې دورې څرګندویي کوي، خو مکتب یوه ډېره پراخه دوره راچاپېروي. (۱۰: ۸م)

٤. ادبي مکتب د داسې یو شمېر لیکوالو په ایجاداتو کې وحدت ته ویل کېږي ،چې په خپله ایډیالوژۍ کې د ستونزو د حل لپاره د یو شان لارو په درک کې په جهان بیني، د افادې طرز په ورته والي او داسې نورو کې سره نږدې وي. په بل عبارت: سبک د انفرادیت صنف دی او مکتب د (جمعیت).

۵. سبک یواځې د یوه هنرمند او لیکوال په اثر کې د مضمون او فورم د بېلوونکو اساسي خصوصیاتو مجموعې ته ویل کېږي، مکتب د یوه لیکوال نه ، بلکې د یوې ډلې لیکوالو خصوصیت دی.» (۷: ۹۱ م)

د ادبي سبک او مکتب پورته یاد شوي توپیرونه ته په کتلو سره ویلای شو چې سبک د ادبي مکتب په شاوخوا کې ځان را څرګندوي، مګر ادبي مکتب بیا د څو سبکونو له یوشانوالي او ګډون څخه را منځته کېږي. یعنې کله چې یو شمېر لیکوالانو او شاعرانو په یو ځانګړي سبک کې لیکنې او یا شعرونه ولیکل او تر ډېره دوی د مشترکو خاصیتونو لرونکي شول، دلته خبره له سبک څخه مکتب ته ځي او دوی په مجموع کې په یو مکتب کې سره را ټولېږي او د دوی دغه لاره د ادبي مکتب په نوم یادېږي. یوه خبره بله هم دلته د یادونې وړ ده، هغه دا چې آیا لیکوال د یو چا د سبک پیروي کوي او که د مکتب؟ دلته باید وویل شي چې د مکتب پیروي نه کېږي، بلکې د یوه لیکوال د سبک پیروي کېږي، کله چې د هغه د سبک ډېری ځانګړنې په خپلو لیکنو او شعرونو کې را وړل شي او دغه سبک د نورو لیکوالانو له لورې هم وپالل شي، بیا نو خبره تر مکتب پورې رسېږي. په لومړي سر کې پیروۍ له سبک څخه پیل کېږي او د پیروانانو له ډېروالي وروسته مکتب منځته راځي.

یوه بله خبره هم باید له یاده ونه ایستل شي، هغه دا چې د سبک پیروۍ او اقتباس په خپل منځ کې توپیر لري. په سبک کې یو لیکوال د یو بل شاعر له فکري ذهني لارې څخه اغېزمن شوي وي، چې د دغې لارې د اغېزې په پایله کې دی هغه څه وایي یا لیکي چې له مخکني مطالعه شوي شاعر سره په موضوعي او یا مفهومي لحاظ ورته والي پیدا کوي او دا کار عندي او ارادي نه وي، مگر په اقتباس کې بیا د بل شاعر د شعرونو موضوعات را واړل یا هم کټ مټ د هغه شعرونه را واړل تر ډېره عندي او ښکاره وي، له لوستلو یې هم یو څوک پوهېږي چې دغه کار یا اقتباس قصداً شوی دی. کله چې دغسې مسایل را منځته شي، نو بیا موږ نه شو کولای چې د یو چا د شعرونو اقتباس کوونکی دې هم د هغه شاعر د سبک پیرو وگڼل شي، ځکه دغسې کړنه تر ډېره قصدي تر سره کېږي چې کېدای شي خبره ادبي سرقت ته ولاړه شي او بل دا چې د سبک پیروي او اقتباس سره دوه بېل شی دی، په خپل منځ کې توپیر سره لري، چې پورته یو څه اشاره هم ورته وشوه. په هر حال له پورته خبرو وروسته را ځو د نجیب سربندي سبک ته؛ کله چې د سربندي د دېوان شعرونه ولوستل شي، په لومړي سر کې سړي ته دا پوښتنه پیدا کېږي چې نجیب سربندی د چا د سبک پیرو شاعر دی؟

سربندي په خپلو شعرونو کې د بېلابېلو شاعرانو پر سبکونو باندې شعرونه ویلي دي، کله یې د عبدالرحمن بابا عالمگیر سبک پاللی او د ده په پیروۍ یې شعرونه ویلي او کله یې خوشحال خان خټک لاره د خپلو شعرونو لپاره غوره کړې ده او کله یې هم بیا د عبدالحمید مومند د شعرونو پر طرز او سبک شعرونه ویلي دي، خو دی په خپله ځان د عبدالرحمن بابا د سبک پیرو گڼي او په خپلو شعرونو کې عبدالرحمن بابا ته عقیدت څرگندوي، هغه د خپل وخت د ټولو شاعرانو سرلاری معرفي کوي او ځان د ده دامنگیر بولي، لکه چې وایي:

د شعراو سرحلقه عبدالرحمن دی
زه نجیب د ده د شعر دامنگیر یم(۵: ۱۵۱م)

مخکې یادونه وشوه چې نجیب سربندي په خپلو شعرونو کې بېلابېل سبکونه پاللي دي، خو د دېوان د شعرونو ډېره برخه یې د عبدالرحمن بابا د سبک په پیروۍ ویلي او په زیاتره شعرونو کې یې د عبدالرحمن بابا د شعرونو محتوا پرته ده، د بېلگې په

توګه: د رحمان بابا او د ده د شعرونو له پرتلنې څخه دا موضوع په اسانۍ سره د پوهېدو وړ ده، لکه رحمان بابا چې وايي:

دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی

د جمله وو مخلواتو پلار دی دا (۳: ٦۵م)

**نجيب**

زه نجيب خو يم له عشقه پيدا شوی

که دا نور خلق زولي دي له موره

يا لکه رحمان بابا چې وايي:

چې دې زړه دی پرې تړلی استوار

دا جهان دې د نيکه دی که د پلار(۳: ۱۵۰م)

**نجيب**

چې دې هسې شان دی زړه پورې تړلی

دا دنيا دې دنيکه که د بابا ده.

که څه هم د نجيب په دېوان کې ډېر شعرونه د عبدالرحمن بابا د شعر محتوا لري او د نوموړي سبک يې په شعرونو کې واضح دی، خو په دېوان کې داسې شعرونه هم موندل کېږي چې د خپل وخت له نورو شاعرانو، لکه: خوشحال خان خټک او عبدالحميد مومند پر سبکونو باندې هم تللی او په دېوان کې يې داسې شعرونه موندل کېږي چې که يو څوک يې ووايي، داسې تصور کوي چې ګواکې د خوشحال بابا شعرونه لولي، د بېلګې په ډول: خوشحال بابا وايي:

د ښادمنو په خنداګو

د غمژنو په ژړا ګو...

نجيب سربندي ليکي:

په ګلونو د ګلزار ګو          د بلبلو په چغار ګو

چې مدام په مخ پرتې دي          ستا د زلفو په هر تارګو

چې سيالي که ستا له قده          په هغې سروې چار ګو

چې معشوق عاشق واصل که پـه هغه صادق ریبار گو...
(۱۸۲:۵م)

د پورته شعرونو له مقایسې څخه داسې ښکاري چې نجیب سربندي د خوشحال بابا شعرونه مطالعه کړې دي او له ځینو شعرونو څخه یې متاثره شوی او د هغه د شعر په طرز او فکر باندې یې شعرونه لیکلي دي، ځکه خوشحال بابا له سربندي څخه تقریباً مخکې تېر شوی دی. موږ او تاسو پوهېږو چې د خوشحال بابا ژوند له ۱۰۲۰ هـ .ق پیلېږي تر ۱۱۰۰هـ .ق پورې ادامه لري، خو نجیب سربندی ۱۱۷۸ هـ. ق پورې یقیني ښکاري. موږ دا نه شو ویلای چې نجیب سربندي له خوشحال بابا څخه وروسته دی او یا داچې د خوشحال بابا له مرگ څخه وروسته د نجیب سربندي ژوند پیل کېږي، نو دا معنا چې دی د خوشحال بابا د سبک پیروی نه دی، ځکه چې د ژوند زمانه یې توپیر لري. د یو چا د سبک پیروي تر ډېره په زماني واټن پورې هم ډېره اړه نه لري، موږ د ادبیاتو په تاریخ کې ډېر داسې کسان لرو چې د رحمان بابا، خوشحال بابا، حمید بابا او نورو له زمانې څخه یې د ژوند زمانه ډېره وروسته وي یا په را وروسته زمانه کې یې ژوند کړی دی، مگر د پورته ښاغلو د سبک ټینګ پیرو وي او د هغه د سبک تقریباً ټولې ځانګړنې یې په خپلو لیکنو او شعرونو کې لیدل کېږي.

د نجیب سربندي په دېوان کې ځینې داسې شعرونه لیدل کېږي چې د خوشحال بابا د شعرونو په طرز او طریقه یې ویلي او لیکلي دي. د دې ترڅنگ ډېر داسې شعرونه هم په کې موندل کېږي چې د عبدالحمید بابا د سبک پیروي پکې کوي او له لوستلو څخه یې داسې فکر پیدا کېږي چې سربندي په اصل کې د عبدالحمید مومند د سبک پیرو شاعر دی، لکه په لاندې شعرونو کې د حمید بابا د دې غزلې په مطلع چې وایي:

چې مې ولیده پر مخ د دلارام خط
بیا موند نور د آزادۍ ما غلام خط
خلاص مرغه د دام په دام کله ویسا کا
په نیوه زما ناحق غوړوي دام خط...(۴: ۹۳م)

نجیب سربندی وایي:

را څرګند شو تور پر مخ د دلارام خط
که زما نیوو ته وغوړاوه دام خط
حسن لا په خط و خال سره افزون شي
همیشه کوي هسې پیغام خط
سترګې زړه به مې اوس ورسي منزل ته
چې په ورځې د مخ راغی ناګه شام خط...( ۲: ٦٢٣ م)

یا لکه حمید بابا چې وایي:

خط پر مخ د صنم را غی که سپوږمۍ شوه په هاله کې
دا یې غاښ په خوله کې زیبا کا که هاله شوه په لاله کې

نجیب وایي:

په رخسار د اشنا خط را غی نجیبه
حق حیران یم که سپوږمۍ شوه په هاله کې

د نجیب سربندي په دیوان کې نور هم ډېر مثالونه شته چې د خپل وخت د مشهورو شاعرانو، لکه : خوشحال بابا، رحمان بابا او حمید بابا د شعرونو په مطلع باندې یې لیکلي دي. څرنګه چې په ادبیاتو کې د سبک د پیروي یو اصل دا دی چې که چېرته لیکوال یا شاعر په خپلو شعرونو کې بېلابېل سبکونه پاللي وي او یا یې د مختلفو شاعرانو د شعرونو پر لاره تللی وي، خو بیا هم د هغه چا د سبک پیرو دی چې د شعرونو ډېره برخه یې د هغه  د سبک په پیروي لیکلې وي، څرنګه چې نجیب سربند په خپلو شعرونو کې بېلابېل سبکونه پاللي، خو که دیوان یې په غور سره وکتل شي، معلومېږي چې د دیوان غوښنه برخه شعرونه یې د رحمان بابا د سبک په پیروۍ ویلي دي، نو موږ ویلای شو چې نجیب سربندی د رحمن بابا د سبک پیرو شاعر دی او په خپلو شعرونو کې یې د رحمان بابا د سبک ځانګړنې ، لکه : تصوفي، عرفاني او عشقي موضوعات په ډېره خوږه، روانه او ساده الفاظو کې منعکس شوي دي. د نجیب سربندي په دیوان کې پر تصوفي، عشقي او عرفانې موضوعاتو سربېره ډېر په زړه پورې او نادر تشبیهات او د ادبي فنونو نور ډېر لفظي او معنوي صنعتونه موندل کېږي او

ټول دېوان يې د ادبي فنونو له ښکلاښېلو مرغلرو ډک دی، چې په لوستلو يې لوستونکی نه مړېږي، خو له بده مرغه د پښتو د نورو ډېرو پیاوړو شاعرانو په څېر ډېره پاملرنه نه ده ورته شوې چې باید ورته وشي.

## پایله

د پښتو ادبیاتو کلاسیکه دوره له هره اړخه یوه په زړه پورې دوره تېره شوې او په ښکلاښېلو پراوونو باندې وېشل شوې ده. د دې دورې په هر پړاو کې ښکلاښېل پیاوړي شاعران او لیکوالان تېر شوي دي او ډېر قیمتي آثار يې موږ ته په میراث را پاتې دي. د دغو شاعرانو له ډلې څخه یو هم نجیب سربندی دی. د سربندي د زوکړې کال او د زده کړو کچه معلومه نه ده، خو د دېوان له شعرونو څخه يې معلومېږي چې د ډېرې مطالعې خاوند و او د خپل وخت مروج علوم يې لوستي دي. که د نجیب دېوان په دقت سره وڅېړل شي، نو په زغرده ویلای شو چې د همدې دورې د مشهورو شاعرانو او لیکوالانو، لکه: خوشحال بابا، رحمان بابا، حمید بابا په څېر یو پیاوړی شاعر تېر شوی دی. سربندی د رحمان بابا د سبک پیرو شاعر دی، خو په شعرونو کې يې د ځینو نورو شاعرانو، په ځانګړي ډول د خوشحال خان خټک او حمید مومند د شعرونو تومنه هم شته. د نجیب دېوان د خیال بخاري له لوري په ۱۹۷۲ ع کال د دوو نسخو له مخې تصحیح، ترتیب او تدوین شوی او په همدې کال د پښتو اکاډمۍ له لورې په پېښور کې چاپ شوی او تر موږ پورې را رسېدلی دی. د نجیب سربندي په دېوان کې هر ډول ملغلرې موندل کېږي، که له یوې خوا د رحمان بابا د عالمګیر سبک پیر دی، نو له بلې خو يې د خوشحال بابا په پلونو باندې هم تر یو ځایه پورې قدمونه اخیستې دي او د حمید بابا په څېر د عشق په باریکه لاره يې هم مزلونه کړي دي.

## وړاندیزونه

د نجیب سربندي د دېوان له مطالعې څخه ښکاري چې دی د خپل وخت یو له پیاوړو شاعرانو څخه تېر شوی دی، خو دا چې د پښتو ژبې او ادبیاتو د نورو قیمتي آثارو او پانګې په څېر د ده دېوان هم د زمانې په ګردابونو کې ورک شوی و ، په همدې وجه، لکه څرنګه چې ښایي په هغه ډول نه دی پېژندل شوي. د دې لپاره چې د

کلاسیکې دورې د دې وتلي شاعر حق اداء شوی وي، هیله ده لاندې دوه وړاندیزونه په پام کې ونیول شي:

۱ـ د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز دې د نجیب سربندي دېوان له سره چاپ کړي، تر څو د خلکو او مینه والو تر لاسو پورې ور ورسېږي او د دې مهم دېوان له منځپانګې څخه هم خبر شي.

۲- د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز دې د کلاسیکې دورې د شاعرانو پېژندنې ته ځانګړې پاملرنه وکړي، وخت پر وخت دې د دغسې شاعرانو او د هغوی د دېوانونو د معرفۍ کنفرانسونه جوړ کړي، د کلاسیکي دورې نوم ورکي، خو پیاوړي شاعران پښتو څېړونکو ته ور وپېژني، تر څو د دوی د ژوند او فن په اړه هر اړخیزې څېړنې ته لاره پرانیستل شي.

## مأخذونه


۱.الفت، گل پاچا. لیکوالي( املاء او انشـــاء)، پښـــتو ټولنه، دوهم چاپ، دولتي مطبعه:کابل،۱۳۳۹ ل کال.

۲.پښتانه شعراء (بشپړ متن). ببلابېل لیکوالان، ترتیب، تصحیح او زیاتونې، مطیع الله روهیال، علامه رشاد خپرندویه ټولنه:کندهار، ۱۳۹۱ ل کال.

۳.د عبدالرحمن بابا کلیات. سریزه، یاداښـــتونه او ویېپانه، حنیف خلیل، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۴ل کال.

٤.د عبدالحمید مومند کلیات. اوډون او ویېپانه، محمد آصـــیف صـــمیم، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸٦ل کال.

۵.دیوان نجیب. ترتیب، تدوین او دیباچه، د ســـید خیال بخاري، پښـــتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي: پېښور، ۱۹۷۲ ع کال.

٦.روهي، محمد صـدیق. د پښـتو ادبیاتو تاریخ، دوهم ټوک، د محمد صـدیق روهي فرهنګي ټولنه، دانش خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه:پېښور، ۱۳۸۴ل کال.

۷.شینواری، دوست.د ادب د تیورۍ اساسونه، دولتي مطبعه: کابل، ۱۳٦۵ لمریز کال،

۸.ښـــکلی، اجمل. ســـبکپوهه، دانش خپرندویه ټولنه، د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه: پېښور، ۱۳۹۰ل.

**۹.** عابد، عبدالله جان. د پښتو اکیډمۍ پېښور یونیورسټي د علمي او تدویني خدماتو تنقدي مطالعه، ملاکنډه ایجنسي، علامه اقبال اوپن یونیورسټي: اسلام آباد، ۲۰۱٦ ع کال.

**۱۰.** هاشمي، سید محی الدین. ادبپوهنه، د اریک د کتب گرځنده کتابتونونو اداره: پېښور، ۱۳۸۱ل کال.

**۱۱** هېوادمل، زلمی. د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغونې او منځنۍ دورې، لومړی ټوک، دوهم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۷۹ل کال.

پوهنیار عبیدالله اغیـز

# د متلونو موسیقوي ارزښت تجـزیاتـي جـاج

# An Analytical Assessment of the Musical Value of Proverbs

**Assistant prof. Obidullah Agheez**


## Abstract

language. They are concise, precise. and well- worded sentences that have both poetic and prosaic aspects. They are the best tools for reinforcing speech and literary criticism. Apart from the delicacy and charisma, Pashto poetic proverbs also have melodic value in which its own unique rhythm and properness of words create the sweet melody. The rhythm and melody gives more strength to its meaning and sense, increases the value of its meaning, and increases its effect severl times than the ordinary words, this can be called the melodic art of proverbs and the melodic value. When the words are powerful and mellifluous, they become more attractive, shiny, pleasant and brilliant. It then has a profound effect on the opposite side, conveying him a concept and placing it in the mind.

## لنډیز

متلونه په ولسي ژبه  کې کارېږي، لنډې ،کره او پخې جملې دي چې منظوم او منثور اړخونه لري. د خبرو د پیاوړتیا او نیوکې غوره وسیلې دي. د پښتو منظوم متلونه د

خپل خوند او رنګ سره سره یو ډول موسیقوي ارزښت هم لري چې خپل ځانګړی وزن، د کلیمو او لفظونو تناسب پکې خوږه موسیقي پیدا کوي. همدا وزن او موسیقیت یې معنا او مفهوم ته لا پیاوړتیا وربخښي، معانیز ارزښت یې لوړوي او تر عادي خبرو یې اغېز څو برابره زیاتوي چې همدې ته د متلونو د موسیقۍ هنر او موسیقوي ارزښت ویلی شو. په متل کې پرته موسیقي د خبرو وزن زیاتوي او یا موزیکاله کلیمې یو ډول ښکلاییز او ذوقي احساس زېږوي، نو کله چې خبرې موزونې او اهنګینې شي، لا یې پسې جذابیت، رنګیني، خوږلني او ښکلا زیاتېږي. دا بیا په مخامخ لوري ښه ژور اغېز ښندي چې یو فکر ورلېږدوي او په ذهن کې یې ځای نیسي.

## سریزه

متلونه د فولکلور د یو ډول یا صنف په توګه د مطالعې، سپړنې او تجزیې وړ دي. دا د مشرانو او لویانو د فکرونو څرګندونه کوي. هر وخت د یوې خبرې او وینا د پخلي او پیاوړتیا لپاره کارېږي چې په خپل ځای کره او په تول پوره خیژي او د مخامخ لوري د قناعت وړ ګرځي. د متل ویونکي موخه دا وي چې خپل اورېدونکي ښه پوه کړي. داسې ډېرې مسئلې او خبرې شته چې ویناوال خپل مخامخ لوری د یوه متل په کارېدنې سره په پوره توګه پوهوي. د دې ترخوا هغه خبره بیا ډېر اغېز ښندلی شي چې موزونیت او موسیقیت ولري. دا موزونې جملې او متلونه د خپل ځانګړي وزن او موسیقیت له مخې آره موخه په ذهن کې ژر کښېنوي. دغسې موزونه خبره او جمله د انسان ذهن او حافظه هم سملاسي اخلي او په ذهني مېمورۍ کې ثبتېږي. په دې لیکنه کې به هڅه وشي چې د متلونو موزونیت او موسیقوي ارزښت او جوهریت په تجزیاتي ډول وسپړل شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې لیکنې ارزښت او مبرمیت په دې کې دی چې څنګه او څه ډول له یوې عادي خبرې نه موزونه لنډه جمله او متل خپل اغېز، خوند او رنګ ښندلی شي. څه ډول مفهوم او پیغام په کره توګه رسولی شي. دا داسې کره او په تول پوره توکي دي چې د ځینو مسئلو او خبرو حل په لنډو راوباسي او په مخامخ لوري ځانګړی اغېز کوي. د دې موزونو توکو جوته او اغېزمنه ځانګړنه موسیقوي ارزښت او جوهریت دی چې د مخامخ لوري په غوږ کې شرنګ څڅوي او هم یې په ذهن کې په اسانۍ سره خوندي کېدای شي. پر

همدې بنسټ ویلی شو چې یاده موضوع په دغسې ځانګړي رنګ لا نه وه سپړل شوې او ما یې د نویوالي په پام کې نیولو سره وڅېړله.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې آره موخه داده چې څنګه یوه موزونه جمله او متل په اورېدونکي او مخامخ لوري سمدستي اغېز ښندي، د هغه په عواطفو کې بدلون راولي او څنګه ورته له عادي او ساده خبرو نه شرنګېدلې او موزونه برېښي، کله چې خبره موزونه او د موسیقۍ په څپو او پردو کې ونغاړل شوه، نو اغېز یې هم ورسره لوړېږي. د مفهوم او پیغام پیاوړتیا یې لا ډېرېږي. د اوږدو خبرو او ډېرو توضیحاتو په مخنیوي کې اړینه ونډه اخلي، یعنې اوږده مسئله او خبره رالنډوي، په عامه او ساده بڼه یې پای ته رسوي. په ټوله کې په دې لیکنه کې هڅه شوې چې د هر متل موسیقوي ارزښت را څرګند شوی او په مخامخ لوري څومره اغېز کولی شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. متلونه څه او ټولنېز دربځ یې په څه کې دی؟
۲. د متلونو موسیقوي ارزښت په کومو کلمو او لفظونو راڅرخي؟
۳. د متلونو موزونیت په عادي خبرو څومره اغېز ښندلی شي او څومره پیاوړتیا وربخښي.

## د څېړنې میتود

د دې څېړنې میتود د کمپوزیت یا تحلیلي، ښریحي او د اړتیا پرمهال اشاري دی او د څېړنې ډول یې کتابخانه یي او ساحوي دی چې په هغې کې پنځه اتیا سلنه کتابتوني او پنځلس سلنه ساحوي دی، ځکه ځینې متلونه د ځایي خلکو له ژبو را ټول او لیکل شوي دي. د دې لیکنې بڼه تجزیاتي او تشریحي ده.

## اصلي متن

متلونه د ګړنـي او فولکلوریک ادب هغه ځانګړې او د پام وړ برخه ده چې په پښتـــي چاپېریال او سیمو کې د پېړیو پېړیو راهیسې ژوند کوي او د ژوند په دې اوږده سفر کې مزل وهي چې په دې کې ځینې ټولمنلي او سیمه وال شي او ځینې یې د پنځګرو په کلیو کې پاتې شي چې همله اوسي. متلونه د تجربو هغه لنډې، پخې او کره ویناوې دي چې د یوې کړنې او د کار د پایلې وروسته په منثوره یا منظومه بڼه په خپل

طبیعي رنګ له توري شویو لفظونو سره سم له خولې راوځي او را ټوکېږي، په زړه او ذهن کې ځای نیسي او بیا په هره سیمه او کلي ګرځي چې ځان د لوستو او نا لوستو وګړو په ژبه را څرخوي. په ټوله کې متلونه د خبرو هنر ، جوهر او موزونیت دی. متلونه د ټولنیزو چارو په سمون، د مسئلو په حل، برابرښت او هم په اخلاقي جوړښتونو کې ونډه اخلي. د یوې خبرې په پخلي او پیاوړتیا کې مرسته کوي چې د کاڼي کرښه ګرځي. دغه لنډې جملې د یوې تجربې، د یوې پېښې او یا د یوې کیسې له مخې را زېږي، نو ګڼ متلونه خپلې ځانګړې کیسې او نکلونه هم لري. په ټوله کې د ولسونو استازولي کوي. یو فولکلوریست یې په اړه داسې لیکي:(( متلونه د خلکو هغه سپېڅلې، پاکې، معناداري او لنډې جملې دي چې د ولس د ثقافت، فرهنګ، علم او پوهې، کړو وړو ژوندۍ نمونې او د ولسي پوهانو د لوړو افکارو نماینده ګان دي.)) ( ۵: ۱۲۹ )

متلونه د نړۍ په ټولو ژبو کې ځانګړی مقام، ارزښت او جوهریت لري چې د بڼې او ډول له مخې لنډ او یوه جمله وي، خو د معنا او مفهوم له پلوه ډېر پراخه برېښي، یعنې دا لنډې جملې ډېر مسایل او ژور مفاهیم رانغاړي او په کوزه کې سمندرونه ځایوي. دغه وېناوې او جملې دوه ډله ځان راښکاره کوي چې یو ډول یې اهنګینې« منظومې» او بل یې ساده« منثورې» بڼې لري چې دواړه یې د مدعا لپاره غوره او لوړ بیان دی او هم د فکر او احساس اړینې سرچینې دي. د ډولونو په اړه یې دا اند د لوستلو دی:(( متلونه په دوه ډوله دي، یو یې منظوم او بل یې منثور، خو یو ډول یې بل هم شته چې اهنګین ترکیبونه دي، نه پوره منظوم دي او نه پوره منثور... ډېری داسې متلونه وینو چې د نظم او نثر دواړه خواږه په کې ګډ دي.))( ۱۳ : ۱۲۳ )

د دې خوږ عام ډول دا دواړه بڼې وګورئ، لومړی یې منظوم او بل یې منثور اړخ لري.

منظوم: چې هـوس دی، دومـره بس دی.

(۲:۷۲)

منثور: کارغـه د زرکې تګ کاوه، خپل یې هېـر کړ.

(٦: ۴۱۰)

د دغه عام ډول بله اړینه ځانګړنه داده چې په کنایوي او استعاري ډول د معنا او پیغام افاده رسوي او هر یو په ځانګړي مکان او زمان کې خپله موخه او اغېز ښندي.

هر متل دوه اړخونه لري. په اړه يې داسې لولو:(( د متلونو پېژندنه دوه خواوې لري، يو دا چې د ويلو اصلي ځای وپېژندل شي. لومړی معنا يې حقيقي او دويمه يې کنايي او مجازي ده. مثلاً د دې متل:« مات لاس غاړې ته لوېږي» حقيقي معنا يې هم موجوده ده، ځکه چې د چا لاس خوږ او مات شي، نو رښتيا يې غاړې ته اچوي او مجازاً په داسې ځای کې ويل کېږي چې يو عاجز او بېوزلی سړی د خپل ځان غم خوړل، په کوم مشر باندې اچول غواړي.)) (۵: ۱۳۰)

زموږ آره موضوع په منظومو متلونو کې موسيقوي ارزښت او د هغې اغېز ځرگندول دي، خو خبره رانه لږ څه وغځېده. په خپله موسيقي يو ډول موزون او آهنگوال غږونه دي چې په ترنگ او شرنگ يې انساني حواس را پارېږي، ذهن او زړه په مستۍ راولي. په خپله موسيقي چې د همغږو او متجانسو غږيزو تورو او لفظونو له محسوس تکراره رازېږي چې د کلام ظاهري اړخ اهنگين کوي. په اړه يې لولو:(( موسيقي د لفظونو تر منځ د غږونو يو منسجم او اهنگين تړون دی. دغه تړون د يو فکر او احساس په لېږدونه کې پر مخاطب لوري يو ژور اغېز ښندي، د هغه معنوي او ښکلاييز ذوق راپاروي.)) (۱: ۱۰۳)

که موسيقي د لفظونو له همغږۍ پيدا کېږي، خو د احساس او جــذبې په لېږد کې هم خورا مرسته کوي او خپل اغېز ځـرگندولی شي. دغه هنري اغېزمنتيا لومړی د انسان زړه او بيايې د بدن نور غړي د يو منظم خوځښت سره په ښپو کوي، جــذبې او ولــولې راپاروي. په يو بل ځــای کې يې په اړه لولو: (( موسيقي اصلاً يو رواني او اندروني کېفيت دی، دغه کېفيت د طبعيت سره له ظاهري او باطني حواسو رامنځ ته کېږي. دغه کيفيتونه په خپله د کلام په موسيقۍ او آهنگ کې ونډه اخلي چې په دوی کې ځينې معنوي او ځينې رواني ځانگړنې لري.)) (۲: ۹۹)

که فکر وکړو، نو په يوه وينا يا کلام کې هنري ارزښتونه، سندريزوالی او موسيقيت هله را ټوکېږي چې لفظونه او کليمې يې په يو ځانگړي خوځښت او ځوږ سره غاړه غړۍ وي او سره همغږي ولري، دا بيا يو ځانگړی موسيقيت خپلوي چې په زړه اغېز کوي او تارونه يې ترنگوي. اوس که موسيقي د لفظونو او کلماتو يو منسجم او اهنگوال امتزاج او تړون وگڼـو، نو د يو فکر او احساس په وړاندې کولو کې پر خپل مخاطب يو

ژور اغېز کوي او په هغه کې ولوليز خوځښت راولي. د کليمو معنوي تړون او د تورو غږيز ترکيب دواړه د وينا او کلام په برابرښت کې اړين توکي دي چې د کلام او وينا پيغام ته پياوړتيا وربخښي او معنا په اصلي بڼه وړاندې کوي. د دې پورتنيو څرگندونو موخه داده چې کله ناکله زموږ په ولسي ادب کې يو شمېر متلونه منظومول وپنځول شي او يا رازېږيدلي دي چې د يو ځانگړي وزن او قافيې لرونکي وي، خبره د قافيې شوه او قافيه هم په قافيه وال ژانرونو کې د موسيقۍ د برابرښت او تړښت يو اړين توکی دی چې د منظومې وينا معنوي او لفظي موسيقي جوړوي. که رديف ولري، نو د رديف منظم تکرار هم په خپله موسيقي زېږوي. په اړه يې يو ځای کې داسې ليکل شوي: (( د قافيې موسيقوي تاثير دادی چې په هر بيت کې د قافيې په کلماتو کې يوه مشترکه برخه تر يوه ټاکلي فرمان وروسته تکرارېږي، دا تکرار په خپله يو تناسب او وزن پيدا کوي... د قافيې په کليماتو کې چې د مشترکو توريو شمېر څومره زياتېږي، هماغومره ورسره د کلام موسيقي پياوړې کېږي.)) (۴:۴۴۹)

اوس که منظومو متلونو ته وگورو، نو دغه توکي د متل له نورو کلمو سره لا ښه تناسب پيدا کوي چې همدا وزن، اهنگ او موسيقيت يې معنا او مفهوم ته پياوړتيا وربخښي، معانيز ارزښت يې لوړوي او تر عادي خبرو ډېر اغېز کولی شي چې همدې ته د متلونو د موسيقوي ارزښت او جوهريت ويلی شي. دا څرگنده ده چې انسان فطرتاً له موسيقيت، تناسب او موزون کلام سره مينه ښيي او خپل ښکلاييز ذوق په دغسې بڼه څرگندوي، داسې کلام د انسان درونيت ته ډېر په اسانۍ سره لار کوي، نو دغه ځانگړنې او جوهر منظوم متلونه هم لري. د منظومو متلونو د موسيقۍ هنر، وزن او قافيه يې ويناوال ته دا شونتيا او وړتيا ورکوي چې يوه نا اشنا او خونډوره خبره وکړي او کله چې خبره نا اشنا شي، نو خوږلني او رنگيني پيدا کوي، د اورېدونکي پام ډېر ژر را اړوي او چې يوې نااشنا خبرې ته د مخامخ لوري پام را وگرځي، نو اغېز يې لا پسې ډېر شي. د يو منظوم متل په اړه لولو: (( پخوانو متل کړی چې « خپله ژبه هم کلا ده، هم بلا ده.» دلته کلا او بلا د ژبې دوه ځانگړنې بلل شوې دي. دوی په قافيې سره شريکې دي. په دې جمله کې د کلام موسيقي د کلام له معنا سره همغاړې ده او يو بل يې پياوړي کړي دي.)) ( ۸: ۱۳)

خپله ژبه هم کلا ده، هم بلا ده.

(۳: ٦۹)

دا منظوم متل په ډېرو ځايونو کې د کارېدنې ځای او ارزښت لري چې معنوي اړخ يې ښکلی، کره او په تول پوره دی، خو اغېزمنتيا يې بيا په تناسبوالي او موزونيت کې ډېر ښه ښکاري. دلته وينو چې « کلا او بلا » د ژبې دوه بېلابېلې ځانګړنې دي، خو دواړه متضادې دي او هم يې قافيه سره ګډه او همغږې ده. په دې موزونه جمله کې د وينا موسيقي د کلام له معنا او پيغام سره همغاړې ده چې يو بل ته يې پياوړتيا او ځواک وربخښلی دی. دې متل کې د ( ه) غږ او توري د پرله پسې تکرار هم ترنم را زېږولی او ( ده) رديف هم خپل تکراري شرنګ او موسېقيت ښودلی. همدغو ټولو توکو يې معانيـز ارزښت ساتلی دی. په دې متل کې هر توری او کليمه يو د بل بشپړونکي دي، يو له بله سره معنوي تناسب لري، خو« کلا او بـلا» کليمو باندې ډېر ټېنګار شوی، کلا د متل په لومړۍ برخه او بـلا يـې د متل بشپړونکي برخـه جوړوي. دا دواړه کليمې ټکان ورکونکي هم دي، په مخامخ لوري اغېز کوي او د احساساتو او عواطفو په بدلون کې مرستندوی ګرځي.

په خپله ملا مـې کـړې ، ځـان ته بـلا مې کـړې.

(٦: ۴۰٦)

دلته لومړی دا ويل په کار دي چې ملا کليمې نه موخه په يو څه د پوهېدو په معنا او مفهوم سره راوړل شوې چې دا يوه ولسي اصطلاح هم ده، ځکه په خبرو اترو کې داسې ويل کېږي چې ښه مې مـلا او پوه کړې، خو بيا دې هم تېروتنه وکړه او وښوييدې. دا کليمه په استعاري ډول د دويمې معنا لپاره کارېدلې. دا متل هم خپل د کارېدنې ځای لري او معنويت يې هم کره دی. زموږ آره خبره د ( ملا او بلا ) همغږو کليمو سره ده چې دواړو په ګډه قافيه جوړه کړې، همدا د متل همغږۍ برخه ده چې موزونيت او معنويت يې موسيقي برابره کړې. دغه دواړه کليمې سره ډېره جوخته او چُسته پخلاينه او همغږي لري، خو د رديف تکراري موزونوالي يې ښکلاييز اړخ او عام فهمه کلام ته يوه ځانګړې موسيقي، رنګ او خوند ورکړی چې د کلام اغېز يې لا ډېر کړی دی. د دې متل هره کلمه په طبيعي ډول د موسيقۍ په لحاظ يو له بله سره اړيکه لري. دغسې موزونه وينا او کلام په اورېدونکي خپل ژور اغېز ښندلی شي.

په منظوم متل کې کله نا کله توري، لفظونه او کلیمې یو بل سره داسې غاړه غړې شي چې په متل کې پرته موسیقي را څرګنده کړي، کله چې دا موسیقي د ژبې په څوکه وشرنګېږي، نو خپل اغېز راجوت کړي، همدلته ده چې په یوه جمله او متل کې وزن او قافیه د تورو، لفظونو او کلماتو تړون او پخلاینه د کلام او وینا ویده موسیقي او شور په ډېر ښه رنګ او خوند راویښولی شي. په اړه یې یو ځای کې داسې لیکل شوي: (( دا هغه موسیقي ده چې د متجانسو کلیمو یا هم مخرجو یا ورته اوازونو له محسوس تکرار نه پیدا کېږي. دا موسیقي د کلام ظاهري یا تلفظي ښه اهنګینه کوي او لوستونکي د ورته اوازونو له پرله پسې تلفظ خوند اخلي.)) (۷: ۵۷)

دا بېلګه وګورئ :

چې شپه شي ډار په وره شي، چې ورځ شي ډار په غـره شي.

( ۱۲ : ۱۳)

د دې متل خوند او معنا د لفظونو او کلماتو په تړښت او اوډون کې په څپو ښکاري او د قافیې کلیمې په طبیعي انداز او ډول سره پېیل شوي چې د « وره او غره» کلمې سره هم قافیه او همغږی دي او وروستی یې ردیف دی، دا ځکه په یوه ښه، په یوه معنا او تکرار سره په څپو دي. په دې متل کې د قافیو کلمو موسیقیت او اهنګ ساتلی دی چې خبره یـې شرنګېدلـې او موزونه کړې ده، بل پکې دا د « ش» توري پرله پسې تکرار د متل د موسیقی کیفیت او خوند په ډاګه کړی، لا یې پسـې اهنګین او په شرنګ کړی چې د موزونیت د جوهر خوږې اوبه یې پـرې ورڅڅولي دي. همدې محسوس تکرار پر ترنم سربېره معانیز ارزښت یـې هم لوړ کړی. د متل دې ځانګړنې او موسیقوي ارزښت یې د پیغام او مفهوم په رسولو کې خورا مرسته کړې چې د مخامخ لوري پر حواسو جوت اغېز ښندي او هم له پرله پسې تورو او لفظونو نه یو ډول خوند او رنګ اخلـي.

آس دې هم وي، په لس دې هم وي.

( ۱۲ : ۴)

په دې منظومه جمله او کلام کې د لفظونو او کلیمو خپل طبیعي اغېز یو اړخ لري او د کلیمو د تورو غږیز تړون یې بل اړخ څرګندوي، دواړه د جملې او کلام په برابرښت کې اړین توکي دي. که چېرې د کلیمو او لفظونو توري ناموزون ولوستل شي، نو

معنويت او ښکلاييز اړخونه يې هم ماتېږي. په دې پورتني متل کې لومړۍ برخه د دويمې برخې بشپړونکې ده او هم يادې ټولې ځانګړنې پکې په ځپو دي. په دې متل کې د « آس، لس» کليمې سره همغږي لري چې قافيه ورته وايي او« دې هم وي» تکرار يې رديف دی. همدغو توکو متل ته موسيقوي ارزښت او جوهر وربخښلی چې د مفهوم او پيغام ارزښت او اغېز يې لا لوړ کړی. دلته يو ډول دروني موسيقي په ځپو ښکاري چې د کليماتو په معنوي تړاو کې يې مرسته کړې. دغسې همغږې کليمې او موزونوالی د خلکو پام ډېر ښه را اړولی شي او مخامخ لوری پرې قانع کېدای هم شي.

زموږ د پښتو ژبې په ټولو منظومو متلونو کې دغه يادې ځانګړنې او ښېګڼې په ځپو دي، دا ځکه چې د منظومو متلونو موسيقي د لفظونو، کلماتو، ترکيبونو او غږونو له معنوي او لفظي تړون او برابرښت په مرسته رازيږي او د مخامخ لوري پر حواسو، ذهن او زړه ځانګړی اغېز کوي. په منظوم ډوله متلونو کې د قافيې کلمې او طبيعي وزن د خپلې ځانګړې موسيقۍ سره ځپې وهي، نو دا بيا د وينا وال د خبرو پخلی او استدلال لا پسې پياوړی او خوندور کوي او پر اورېدونکي باندې ترعادي خبرو ډېر اغېز ښندلی شي. له بلې خوا دغه توکي وزن، قافيه، سجع، رديف او موسيقي ويناوال اړ باسي چې د خپلو خبرو انداز واړوي،کله چې خبرې موزونې شي، نو يو ډول جذابيت، رنګ، خوند او ښکلا پيدا کړي. دا بيا يو ډول اغېز هم کولی شي، دغه اغېز په زړه چنګ لګوي. کله په يوې وړې جملې کې توري او کليمې سره داسې پخلا او همغږې شي چې يو ډول موسيقي ترې راوزېږي. په اړه يې لولو: (( کله کله توري او کليمې د يو بل په څنګ کې داسې سره کېني چې په ژبه کې پرته موسيقي راڅرګنده کړي. په يوه جمله او بيت کې وزن، قافيه، رديف، تجنيس، تسجيع او د توريو کليمو فريکونسي زياتوالی هغه ذريعې دي چې د ژبې وېده موسيقي ورسره بېدارېږي... د ژبې موسيقي که له معنا سره رابطه وشلوي، په بې فايدې شي بدلېږي، ښکلا يې زوال مومي.)) (۱۳: ۸)

لکه دا متل وګورئ:

څه غر پناه، څه ور پناه (۳: ٦۹)

په منظوم متل کې طبيعي وزن، سجع او موسيقيت يوازې ښکلا او رنګيني نه جوړوي، بلکې د عواطفو او پېغام په لېږدونه کې هم رول لري او د انسان له روحي او

دروني کړنو سره اړیکه پالي. اوس که دې پورتني متل ته ځېر شو، نو ټول توري، لفظونه او کلیمات یې یو له بل سره تړلي دي او یو د بل بشپړونکي ښکاري چې هم یې د کلام موسیقوي ارزښت او هنر برابر کړی او هم یې معنوي تړښت وربخښلی.په دغو لفظونو کې په منظم تکرار سره تر بل هر څه پیغام او مفهوم ښه وړاندې شوی، دا ځکه یو فکر په منظومه بڼه په ښه توګه لېږدولی شي. دا بله بېلګه یې هم ولولئ:

چې په تمه د سپرو شي، هغه پاتې په مېرو شي

(٦: ٣۴۵)

په دې متل کې هم خپل طبیعي وزن، سجع او موسیقیت په څپو دی. د قافیو له کلیمو یې موزونوالی او د لفظونو تناسبوالی رازېږېدلی، د ردیف توري یې هم شرنګ لري او هم خوند. دا هر توری او کلیمه یې یو د بل بشپړونکي دي او یو د بل سره اړیکه او تړون لري. بله خبره پکې د خپل طبیعي خوند او رنګ ده. د مفهوم او پیغام د څرګندونې لپاره هم شرنګېدلي لفظونه لري، د همدغو موزونو لفظونو زور او جذابیت دی چې په ذهن کې کېنـي ، په زړه چنګ لګوي او د مخامخ لوري په زړه او ذهن یې منـي. همدا د متل موسیقوي ارزښت او جوهریت په ډاګه کوي. زموږ په ټولنه کې داسې ډېر نور منظوم متلونه هم موندلی شو چې د ټولو موسیقویـي ازرښت تجزیه او شننه به موضوع پسې اوږده کړي، نو له تجزیاتو او سپړنو تېرېږو او د بېلګې په توګه ځینې خواږه او شرنګېدلي منظوم متلونه راوړو چې هر متل خپل د کارېدنې پر ځای سربېره د قافیو، ردیفونو، مسجعـو او موزونو کلیماتو او لفظونو ځانګړی موسیقوي ارزښت او خوند وربخښلی، دغو ټولو ځانګړنو یـې د مفهوم او پیغام په رسولو او وړاندې کولو کې ونډه اخېستې ده.

چې زور تېـر شي، عقل هېـر شي

(٩: ٣٨)

***

سړی چې زوړ شي، نو مونځ ته جوړ شي

(١١:٩٦)

***

کلالـه وکــه ، خپلــه سیالــه وکه

(۹:۱۵)

***

شپه چې تېره شــي، خبـره هېـره شي

(۱۱ : ۱۲۸)

***

اوگره چې سړېږي، بلا پـــې لگېږي

(...)

***

تور توتان دي، له تا قربان دي

(...)

***

راست اوسه، په لويه لار ملاست اوسه

(...)

***

ځومـره يې خرگی، هومـره يې بارگی

(...)

***

چته چې ځوان ووينې، صورت حيران ووينې

(...)

***

مه کوه په چا ،چې وبه شي په تا

(...)

نه گله شوه نه شاگله، په ځای يې راغله يوه بلـه

(...)

که دې پورتنيو متلونو ته وگورو، نو هر متل يې خپل د کارېدنې ځای او کره توب لري، خو ځانگړنې، جوهريت او موسيقوي ارزښتونه هم پکې په طبيعي رنگ په ځپو دي. دا خبره هم د يادونې وړ ده،که منظوم متلونه پر خپلې موسيقۍ او موزونوالي

سربېره له معنا او مفهوم سره اړيکه وشکوي، نو خپل معنويت، اصلي رنګ، خوند او ارزښت له لاسه ورکوي او په يو بې ګټې او بې ارزښته شي اوړي، نو پای کې ويلی شو: (( ګڼ شمېر متلونه وزن او قافيه لري چې دغه ډول توکي د وينا د ښکلا او اغېز ډېروني لامل ګرځي او دا بيا د ادب لپاره ارزښت دی.)) (۱۰:۹۴)

## پايله

د دې موضوع پايله دا راوځي چې متلونه د خبرو هنر او جوهر دی. په خبرو اترو کې وينا ته پياوړتيا وربخښي. په منظومه جمله او کلام کې د لفظونو او کليمو خپل طبيعي اغېز دوه اړخونه رانغاړي، يو د کليمو د تورو غږيز تړون دی او بل اړخ يې وزنـي او قافيوي دی چې دواړه د جملې او کلام په برابرښت کې اړين توکي دي. که چېرې په منظومه وينا او کلام کې د کليمو او لفظونو توري ناموزون ولوستل شي، نو معنويت او ښکلاييز اړخونه يې په هماغه شېبه کې ماتېږي. د منظومو متلونو د موسيقی هنر، وزن او قافيه يې ويناوال ته دا شونتيا او وړتيا وربخښي چې يوه نا اشنا او خوږه خبره وکړي، کله چې خبره خوږه شي، نا اشنا شي، نو خوږلني او رنګيني هم ورسره همغاړې کېږي، د مخامخ لوري پام ورته ژر راګرځي، نو دلته يې اغېز لا پسې ډېرېږي.

د پښتو په ټولو منظومو متلونو کې خپل طبيعي وزن، سجع او موسيقيت په ځېو ښکاري. د قافيو او له همغږو کليمو يې موزونوالی او د لفظونو تناسبوالی را پيدا شوی، په دې کې د رديف ونډه هم شته، که دغو ټولو ځانګړنو ته وګورو، نو په هر منظوم متل کې يې رنګونه په ځېو دي چې همدا د متلونو موسېقوي ارزښت ګڼلی شو، خو دا هر طبيعي وزني توری او کلمه يې يو د بل بشپړونکي هم دي، که يو بل بشپړ نه کړي، نو بيا يې معنوي اړخ او موسيقوي ارزښت دواړه له لاسه ورکوي او په يو بې معنا او بې اغېزې شي بدلېږي.

## وړانديزونه

متلونه د فولکلور يوه اړينه برخه ده، نو په کار داده چې څېړونکي او شنونکي دې د متلونو بېلابېل نور غوره اړخونه په بېلابېلو بڼو راوسپړي. د متلونو هراړخېزه سپړنه، څېړنه او راټولونه د پوهنتونونو او او اکاډميو اړوندو څانګو دنده ګڼل کېږي. دوی بايد خپلو

استادانو او محصلانو ته سيمينارونه، پايليکونه او تېزسونه ورکړي چې د دغې فولکلوريکې پانګې حق ادا شي.

## مأخذونه


۱. ازمون، لعل پاچا. د شيدا د شعر موسيقي، مقاله. خال مجله، درې مياشتنی، ۴۰مه ګڼه: کوټه، سکام ادبي اکيډمي. ۲۰۱۷م کال.

۲. ازمون، لعل پاچا. شعرپوهنه، د افغانستان علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست: کابل، ۱۳۹۹لمريز کال.

۳. بهار، سيد محمد نعيم. منظوم متلونه، جلال اباد، په خپل لګښت چاپ. ۱۳۸۷ل کال.

۴. درمل، احسان الله. شعرستان، کندهار، بېنوا فرهنګي ټولنه. ( ۱۳۹٦ل).

۵. رفيع، حبيب الله. د خلکو سندرې: کابل، د افغانستان علوموا کاډمي. ( ۱۳۴۹ل) کال.

٦. شينواری، محمد موسی خان. د متلونو قيصې: پېښور، يونرستي بوک ايجنسي. (۱۹۹۸م).

۷. ښکلی، اجمل. ادبستان: جلال اباد، کلاسيک خپرندوی ټولنه. (۱۳۹٦ل).

۸. غضنفر، اسدالله. جادوګرهنر: جلال اباد، مومند خپرندويه ټولنه. (۱۳۹۳ل).

۹. فضلي، فضل ودود. متلونه د پښتون ولس پندونه: القلم ژباړې او خپرېنې خپرندويه ټولنه. ( ۱۳۸۷ل).

۱۰. کډوال ، شاه محمود. د پښتو متل سپړنه: کابل، د افغانستان ملي تحريک، فرهنګي څانګه. ( ۱۳۹۴ل).

۱۱. لشکري، محمد انور. تېر په هېر باقي روزګار: پېښور، زيب ارټ پېشرز. (۲۰۱۲م).

۱۲. نيازی، ومان. متلونه: جلال اباد، د ختيزې سيمې ليکوالو او ژورنالستانو خپلواکه ټولنه. (۱۳۸۷ل).

۱۳.وفا، محمد داود. د فوکلورپېژندنې لارښود: جلال اباد، مومندخپرندويه ټولنه.( ۱۳۹۲ل).

خېړنيار محمد اسحاق مومند

# د عبدالحمید شرعة الاسلام (بشپړ متن) تنقیدي جاج

# A critical review of Abdul Hameed's Sharatul Islam (full text)

**Junior Assist.prof. M. Ishaq Momand**

**Abstract**

Shariat al-Islam is one of the works/Books translated into Pashto that has not been researched for years its translator, and it was not clear by which author or poet this work/book was translated in an orderly manner. But Recent research, has shown that this translation was made by Abdul Hamid Momand, a great literary scholar and owner of literary school in Pashto. So far, many scholars have written articles on this subject. Sharia al-Islam has also been published by two scholars and there are differences in the publication of both versions of this book, which have been discussed in detail in this regard.

**لنډیز**

شرعة الاسلام په پښتو ژبه کې د ژباړل شویو آثارو له جملې څخه هغه اثر دی چې کلونه کلونه یې د ژباړونکي په اړه څېړنې روانې وې، معلومه نه وه چې دا به د کوم لیکوال او یا شاعر منظومه ژباړه وي؛ خو په دې وروستیو کې څېړنو وښوده چې یاده ژباړه د پښتو ژبې د لوی صاحب سبک او مکتب خاوند عبدالحمید مومند منظومه ژباړه ده چې تر اوسه پرې ډېرو څېړونکو مقالې لیکلې دي، ورسره دوو څېړونکو په شرعة الاسلام

باندې داسې کار کړی دی چې یاد کتاب یې چاپ کړی دی. د دواړو په چاپ شویو نسخو کې ځینې توپیرونه لیدل کېږي چې په تفصیل سره پرې بحث شوی دی.

## سریزه

عبدالحمید بابا د پښتو ژبې هغه شاعر او لیکوال دی چې زموږ په ادبیاتو کې خپله لاره او خپل منزل لري، دی زموږ د ادبیاتو هغه ستوری دی، چې پښتو ژبه او پښتانه وي، نو حمید په کې ځلېږي او شاعري به یې روانه وي. عبدالحمید مومند په پښتو ژبه کې د (دُر او مرجان) په نوم د شعرونو دیوان لري. سربېره پر دې یې په ادبیاتو کې منظومې ژباړې هم کړې دي چې (د شاه او ګدا کیسه)، (نیرنګ عشق)، (یوسف او زلېخا) او (شرعة الاسلام) یې هغه آثار دي چې پښتو ژبې ته یې ژباړلې دي.

د عبدالحمید منظومې ژباړې خورا له خونده ډکې دي، د ژباړې ګومان پرې نه کېږي. شرعة الاسلام یې هغه ژباړه ده چې په دې وروستیو کلونو کې د دوو بېلا بېلو خېړونکو له خوا پرې څېړنې شوې دي او د بېلا بېلو نسخو له مخې چاپ شوې دي. دلته په یادو نسخو باندې انتقادي کار شوی دی.

## د څېړنې ارزښت او اهمیت

په ملي او نړیواله کچه داسې لرغوني او پخواني آثار شته چې څېړنو او تو ضیحاتو ته اړتیا لري؛ دا ځکه چې نسلونه او ژبې د بدلون تابع دي او دا بدلونونه په طبیعي ډول سره منځته راځي. کله ناکله داسې هم کېږي چې د یوه اثر په اړه لا زیات معلومات نه وي ترلاسه شوي، هر کله چې نوي معلومات تر لاسه او رامنځته شي، نو څېړونکي لا نورو څېړنو ته مخه کوي. په پښتو ژبه کې (شرعة الاسلام) همداسې یو اثر دی چې په دې وروستیو کلونو کې څو تنو څېړونکو پرې څېړنې کړې دي، دا چې د دغو څېړنو ترمنځ کوم مشترکات دي او یا هم دا چې دا مشترکات او یا جلا ټکي سره په څه کې توپیر لري او ایا وروستۍ څېړنه په کومو میتودونو ترسره شوې؛ کومې ښېګڼې او منفي خواوې لریو په دې لیکنه کې به جوته شي.

### د څېړنې موخه

پښتو ژبه او ادبیات لا ډېرې سپړنې او څېړنې ته اړتیا لري، زموږ زاړه متون سم نه دي څېړل شوي او که څېړل شوي هم دي، نو ځینې یې د متن څېړنې په اصولو برابر نه دي. موږ باید د معاصرې څېړنې په اساس خپل آثار و ارزو، ترڅو د متونو شته ستونزې

له منځه يوسو. شرعة الاسلام په پښتو ژبه کې يو مهم اثر دی، دا چې ياد کتاب په وروستي ځل سم نه دی شرحه شوی، نو اړينه مو وبلله چې کره کتنې ته مخه وکړو، د کتاب کره او ناکره خواوې را وسپړو.

## د څېړنې پوښتنې

١ .شرعةالاسلام چا ليکلی او په کومه ژبه ليکل شوی دی؟

٢ .شرعة الاسلام پښتو ژبې ته چا ژباړلی دی؟

٣ .د شرعة الاسلام په متن باندې چا او چا کار کړی دی؟

۴. ايا شرعة الاسلام يو ځل بيا څېړنو او شرحې ته اړتيا لري؟

## د څېړنې ميتود

د دې څېړنې ميتود انتقادي دی او د تشريحي ـ تحليلي ميتود په اړخ کې، د څېړنې له کتابتوني ډول څخه کار اخيستل شوی دی.

## د مقالې متن

شرعة الاسلام، د عبدالحميد مومند ژباړل شوی اثر دی چې بشپړ متن يې د عبدالکريم عامر په څېړنه او زيار سره چمتو شوی دی. دا کتاب په ۲۰۱۹ لمريز کال کې د پښتو څېړنه (بوری) لورالايي په لاهور کې د زين نعمان پريس مطبعې له خوا په ٦٣٦ مخونو کې چاپ شوی دی. د عبدالکريم عامر له خوا د شرعة الاسلام ترون په دې ډول شوی دی (د استاد دوست شينواري په نوم چې د دې متن وروستۍ برخه يې چاپ کړې ده. د ميا طارق شاه کاکاخېل په نوم: چې ماته يې دا نسخه راکړې ده.

په ياد کتاب باندې د عبدالکريم عامر له خوا ۴۵ مخه سريزه ليکل شوې، بيا ورپسې کتاب په بېلا بېلو موضوعاتو باندې اته پنځوس(۵۸) څپرکي راغلي دي. د کتاب په پای کې حاشيې او لغتنامه راغلې. دا چې شرعة الاسلام څنګه يو کتاب دی او ليکوال يې څوک دی؟ په دې اړه استاد محمد اصف صميم په خپل کتاب (د حميد مومند فرهنګ) کې داسې ليکي: ((شرعة الاسلام يو ديني، اخلاقي کتاب دی چې د عربي متن مؤلف يې د بخارا امام الواعظ رکن الاسلام محمود بن ابي بکر الحنفي مشهور په امامزاده (۵۷۳ق مړ) دی. لومړۍ وړه شرح پرې يحيی بن يخشي بن ابراهيم الرومي الحنفي په (۸۴۰ يا ۹۰۰ق کې مړ) ليکلې ده. دويمه شرح پرې د مفاتيح الجنان او مصابيح الجنان په نامه يعقوب بن سيدي علي الرومي الحنفي په (۹۳۱ق کې مړ)

لیکلې ده. دغه شرح په ۵۷۴مخونو کې په ۱۳۲٦هـ.ق په استانبول کې خپره شوې ده. دربیمه او تر ټولو لویه شرح یې د مرشد الانام الی دارالسلام یشرح شرعة الاسلام په نامه محمد عمر الرومي چې په (قورد افندي) مشهور دی او په (۹۹٦هـ.ق کې مړ) دی لیکلې ده. دا کتاب په فارسي هم ترجمه شوی دی چې د اخوند درویزه په (تذکرة الابرار و الاشرار) مأخذونو کې راغلی دی. (۲: ۲مخ.)

دا چې شرعة الاسلام کوم حمید ژباړلی دی؟ په دې اړه تر ډېره پورې سم معلومات نه و، خو په دې وروستیو وختونو کې ځینو څېړونکو دا ثابته کړه چې دا هماغه عبدالحمید دی چې په پښتو ژبه کې د غزل او نوي غزل نیلې غزولي دي. دا هماغه حمید دی چې په پښتو ژبه او ادبیاتو کې هندي ادبي مکتب رامنځته کړ او پښتو غزل یې له نورو ګاونډیو سره سیال کړ. دا هماغه حمید دی چې په پښتو ژبه کې ترې دیوان راپاتې دی، بلې! هوکې! دا هماغه حمید دی چې نیرنګ عشق او دُر مرجان یې مور ته په میراث را پرېښي دي. د شرعة الاسلام د بشپړ متن مدون عبدالکریم عامر داسې لیکي: ( . . . د شرعة الاسلام د ژباړې شاعري ښه روانه ده. د شعر بحر یې لنډ خفیف دی، کله کله یې مصرعې اووه سېلابه هم په مخه راځي. دا کتاب یې له عربي څخه پښتو کړی دی.

دا دي واوره درته وایم
عربي په پښتو نمــایم

یو ځای وایي چې په دې فکر مند وم چې کوم کتاب پښتو ته واړوم

فکر مند وم په دا بـــــاب
چې پښتو کړم کوم کتاب

شرعة الاسلام اخلاقي او فقهي موضوع لري، هر باب یې دیني رنګ لري. ځای په ځای داسې روایتي رنګ لري چې ما (عامر) په حاشیه کې اشاره ورته کړې ده، یعنې ډېر غیر مدلل رنګ لري یا روایتي انداز لري، دلته دا پرېکړه نه شم کولای چې دا د مصنف رنګ دی او که د ژباړونکي؟ لکه:

هم دي وځښې کمې زیاتې
لـــــه اودسه اوبــه پاتې
په ولاړې چــــې صفا دي
د اویـــا رنځـــــو دوا دي

بل ځای

په حمام کــــــې په ولاړې
بول ښه دی که پرې وياړې

بل ځای

بـــــد د بدې ښځې پېـ دي
يا د خرې دي يا د سپېـ دي
(۴: ۵مخ.)

په سريزه کې څېړنكار عبدالكريم عامر دا خبره ثابته کړې چې شرعة الاسلام د عبدالحميد مومند ژباړه ده. په دې اړه يې د بېلا بېلو څېړونكو او ليكوالو نظرونه ياد کړي دي. د شرعة الاسلام په اړه استاد محمد اصف صميم ليكي: (دا د حميد بابا څلورم اثر دی چې موندنې يې حميد پوهانو او پښتو د ادبي تاريخ څېړونكو ته د څېړنې نوی ور پرانيست. د دې اثر موندلو چې حميد بابا پر ۱۱۴۸ق کال پای ته رسولی، زموږ د خوږ ژبي شاعر ژوند تر دې كاله را وغځاوه. (۳: د مخ.)

استاد محمد اصف صميم د پښتو ټولنې او د دوست شينواري په زيار سمه شوې نسخه يادونه کړې ده. د عبدالكريم عامر د ليکنې په اساس شرعة الاسلام درې قلمي نسخې لري:

۱. د كابل نسخه: دا نسخه ما د كابل چاپ نسخې په نامه پورته ذكر کړې ده چې د پښتو ټولنې (اوس د افغانستان د علومو اکاډمي) په كتابتون كې خوندي ده.

۲. دا دويمه نسخه ده چې ما د اصل په نامه پورته ذكر کړې ده. دا نسخه دا وخت له ما (عامر) سره ده چې خاوند يې ميا طارق شاه کاكا خېل دی.

۳. دا نسخه په پښتو اكېډمۍ پېښور كې پر ۱۱۱٦نمبر باندې خوندي ده چې ۵۱۴ مخونه لري. كاتب يې محمود شاه دی په ۱۲۹۰ ق، ۱۸۷۳م كې يې كتابت کړې ده، ځای يې جامع مسجد گنډيری دی، خط يې نسخ دی. د سر له خوا نيمگړې ده، څېړونكي وايي چې دا نسخه نيمگړې ده او له ۳۴ باب څخه پيلېږي. (۴: ۳۲، ۳۳مخونه.)

استاد دوست شينواری په خپله سريزه كې دا يادونه كوي چې د افغانستان د علومو اکاډمي نسخه د سر له خوا نيمگړې ده او له ۳۱ څپركي څخه وروسته پيلېږي، خو بله خوا د عبدالكريم نسخه تقريباً پوره ده، ټول اته پنځوس واړه فصلونه لري او په همدې خاطر يې چاپ کړې هم ده. دا چې د (كابل) پښتو ټولنې او عبدالكريم عامر د نسخو

ترمنځ توپیر په څه کې دی په دې اړه عامر لیکي: (ما چې دا متن له کومې نسخې څخه اوډلی دی هغه مې دلته د اصل نسخې په نامه یاده کړې ده چې تر دېرش بابونو پورې یوازې روانه ده. د دې نسخې یو دېرشم باب داسې دی چې یو ځای له کابل چاپ نسخې سره گډېږي معنا دا چې دلته د کابل چاپ نسخه او د عبدالکریم عامر بشپړ متن سره یوځای کېږي او له دې ځایه وروسته د دواړو نسخو فصلونه سره یوځای تر پایه سم دي، یا په بله وینا د کابل چاپ نسخه له همدغه یو دېرشم څپرکي څخه وروسته شروع کېږي. په اصل نسخه کې د دېرشم باب (په بیان د خوراک څښاک) تر دغه لاندیني شعره پورې نسخه یوازې ده:

هاله ما کړه لـــه سپو طمع

گیر پیر کېږي د سپو طمع

له دې شعره پس د کابل چاپ نسخې شعرونه پیل کېږي چې د دواړو مشترک شعرونه دي. ځای ځای توپیر لري یا که شعر نه وي راغلی، هغه مې په حاشیه کې ټول په گوته کړي دي. زما د متن دغه اصلي نسخه ماته میا طارق شاه کاکاخېل راکړې ده چې ۱٦x۲٦ سانتي متره ده. متن یې ۱۱x۲۲ سانتي متره دی. په یوه مخ کې ۱۷ کرښې لري. خط یې خوندور نسخ دی چې د میانیځي(؟) درجې دی. ډېر صفا یې لیکلی دی. په دوه کالمیز جدول کې لیکل شوې ده چې د شنگراف او شنه خط جدول لري، ټول خاص توري یې په شنگرف باندې لیکل شوي دي. دا نسخه پر نري ښوی ژربخون کاغذ لیکل شوې ده. د کاغذ حال دا دی چې لږ په زور نیولو باندې ماتېږي. د کاغذ ځی تکي تورې شوې دي. د سر او پای له خوا یې یوه یوه پاڼه یعنې دوه دوه مخونه لوېدلي دي چې د کاتب نوم او د کتابت نېټه نه لري. نسخه وقایه نه لري او نه یې سپېنسی پاتې شوې دي، ټوله سره ختلې ده، هر مخ یې جلا شوی دی. دا نسخه ۳۴۹ مخونه لري.) (۴: ۳۰، ۳۱مخونه.)

دا و د عبدالکریم عامر د نسخې حال چې له موږ سره یې شریک کړی دی، یاد لیکوال د کابل چاپ نسخې په اړه هم څېړنه کړې چې دلته به یې سره ولولو: ((دا نسخه علامه عبدالشکور رشاد موندلې وه او د پښتو ټولنې په خطي کتابونو کې یې خوندي کړې وه. د کابل چاپ نسخه هغه قلمي نسخه چاپ شوې ده یعنې کتابت یا کمپوز شوې ده. د نسخې هغه رنگ یې د کاتب په خط کې چاپ شوی دی. خط یې خوندور نه دی چې بې خونده نستعلیق دی. د شعرونو رنگ یې هم دوه کالمي راوړی دی. له

دې سره يې په حاشيو کې هم شعرونه راوړي دي. د متن د شعرونو شمېر يې شپاړس دی او پر حاشيه يې اتلس شعرونه راوړل شوي دي چې په يوه مخ کې د شعرونو شمېر يې څلور دېرش دي چې په ويلو کې اساني نه لري. په دې نسخه کې د دېرشم فصل پوره سل شعرونه راغلي دي، بيا يو دېرشم فصل پيلېږي. دا نسخه په دې تورو پيل شوې ده:

هله ما کړه له سپو طمعهَ

پورِ تلم د دوی پــه جمعهَ

پورتنی شعر زما اصل نسخه نه لري. له دې وروسته شعرونه بيا د دواړو نسخو سره يو دي چې کوم توپير لري هغه په گوته شوي دي. دا نسخه شمس الدين نومي کاتب کتابت کړې ده. د ځای او تاريخ درک يې نشته.) (۴: ۳۱مخ.)

عبدالکريم عامر ليکي چې: د کابل نسخه عبدالشکور رشاد مونډلې، خو د ځينو ملگرو په اند چې ياده نسخه پوهاند صديق الله رښتين هغه مهال له هند څخه راوړه چې دی د پښتو ټولنې مشر او په يوه رسمي سفر هند ته تللی و. په هغه وخت کې عبدالکلام ازاد د هند صدراعظم و. عبدالکلام ازاد پوهاند رښتين ته ۱۴ پښتو قلمې نسخې ورکړې وې او دا يې ورسره ژمنه کړې وه چې په راتلونکې کې به نورې پښتو نسخې هم ورکوي. په دغو نسخو کې د حميد شرعة الاسلام، د ملا لتاړ ديوان، د نواب محبت خان ديوان او نور شامل وو.

د شرعة الاسلام د بيا چاپ کېدو لپاره شايد د څېړنکار عبدالکريم عامر يوه لويه خبره دا وي چې د استاد دوست شينواري لومړی چاپ کړې نسخه نيمگړې وه او ده نسبتاً مکمله نسخه تر لاسه کړې او بيا يې چاپ کړه؛ خو خبره يوازې په دې نه حل کېږي؛ بايد د دوست شينواري او عامر ترتيب او تدوين د زمانې له بدلون او غوښتنو سره ډېر جوت وای. په شرعة الاسلام باندې چې عبدالکريم عامر کومه سريزه ليکلې، نو تر ډېره يې د دوست شينواري، زلمي هېوادمل او استاد محمد اصف له آثارو يې اخيستنه کړې.

سره د دې چې د دوست شينواري له خوا په ترتيب شوي شرعة الاسلام باندې لويه سريزه نه ده ليکل شوې؛ شايد د هغه وخت د چاپ غوښتنه همداسې وه، يا به د وخت د سيمينار نږدېوالی وو او په بيړه باندې ياد سيمينار نيول شوی وي او يا شايد همدومره يې ښه گڼلې وي، په هر حال په دې لنډه سريزه کې يې بيا هم د شرعة الاسلام په اړه علمي او په ثبوت پوره خبرې کړې دي؛ د شرعة الاسلام د ليکدود خصوصيات يې بيان

کړي، د لغوي زېرمې په اړه يې خبرې کړې دي او د شرعة الاسلام ټولنيز ارزښت يې بيان کړی دی. را به شو دېته چې د عبدالکریم عامر په چاپ شوې نسخه کې کوم نوښتونه راغلي دي چې تر لومړۍ هغې يې برتري حاصله کړې وي. لومړی خو دا چې د دوست شينواري نسخه په افيسټي بڼه چاپ شوې او د عامر په معاصره بڼه کمپيوټرايز چاپ شوې ده. د عامر په سريزه کې دا په ثبوت رسېدلې چې شرعة الاسلام د عبدالحميد مومند ژباړل شوی اثر دی، د اثبات لپاره يې د حميد بابا د ټولو ليکل شويو او ژباړلو منظومو اثارو بېلګې راوړې دي او په هغوی کې يې د سبک، تغزل، زمان او مکان او د نومونو ورته والی يې سره ارزولی دی. د دوست شينواري په چاپي نسخه کې لغوي زېرمه په حاشيو کې نه ده راوړل شوې؛ بلکې په خپل يوه بل اثر (زړه پانګه) کې يې خوندي کړې او شايد دا د څېړنې د اصولو خلاف کار وي. عبدالکريم عامر هم حاشيې په اړوند مخ کې نه دي کارولې، معنا دا چې د کتاب په هر مخ کې حاشيې نه لري، د کتاب اخري برخې ته يې وړي دي او د وييپانګې په شکل يې ليکلي دي. د عبدالکريم عامر له خوا چې د شرعة الاسلام کوم متن برابر شوی، په نسبتاً معياري ليکدود نه دی ليکل شوی او تر ډېره بريده يې خپله سليقه په کې کارولې ده. په داسې مسايلو کې بايد لږ تر لږه د (باړه ګلۍ او پښتو ټولنې) پرېکړې پلې شي. متني ستونزې لري، ډېرې داسې کليمې او لغتونه مخې ته راځي چې ناسم ليکل شوي دي، دلته به هغه وييونه سره ولولو چې د عبدالکريم عامر په زيار چاپ شوي اثر کې ناسم راوړل شوي دي:

| ناسم | سم |
|---|---|
| ۱.شور و غوغا | سرغړونه (آشوب) |
| ۲. آنده | انده (سخوندر) |
| ۳. آند | اند |
| ۴. پټکنۍ | پټکرى (ځنځ) |
| ۵. وملي | ملل (مېشتل، مېشته) |
| ٦. چڼ | چاڼۍ (غلبېل) |

۷. شنواری شینواری

۸. پېټکی پټکی

اروړ: دغه لغت ته د عبدالکریم په زیار چاپ شوې نسخه کې د (کینه او حسد) معنا راوړل شوې؛ خو څېړنپوه دوست شینواري همدا بیت په زړه پانګه کې راوړی دی او هلته یې د تاوان او زیان په معنا سره یاد کړی دی. دلته به یې د شعر بېلګه سره ولولو:

چـــې پرې وشـــي کفـارت

د دنـــیـــا د خـــســـــارت

کا به خدای ترې په بـدل مروړ

ورک د دې گـــنــــــاه اروړ

(۱: ۸مخ.)

د عبدالکریم عامر په ترتیب شوي بشپړ متن کې ځینې مهم لغتونه له معنا او ویې پانګې نه پاتې دي چې دلته به یې یو څو نمونې بېلګې سره ولولو:

ارتینه لوه لاغره

کړی نه بویه ایغره

(۱: ۳۸مخ.)

د همدغه لغت د ثبوت لپاره یې د خوشحال خان خټک یو بیت هم لیکلی دی؛

د ټټوو نه همه ټټوگی زېږي

که ایغر یې د عرب یا د عراق وي

(۱: ۳۸مخ.)

د څېړنپوه دوست شینواري په وینا چې په وردګو کې ایغر بډای او شتمن ته وایي.

بل کوم لغت چې د عبدالکریم عامر په بشپړ متن کې نه دی راغلی د (بخښو) لغت دی چې څېړنپوه دوست شینواري په خپله زړه پانګه کې راوړی او داسې یې معنا کړی دی (پخښو، پښو) د خلاص، آزاد، آرام او خوشی په معنا راغلی دی.

یا د ښو خوره یا په ښو

کړه له بدو ځان بخښو

(۱: ۵۴مخ.)

بل لغت د (پرینې) دی چې دوست شینواري د (سلا مشورې) په نوم یاد کړی دی.

په ایام کې د فتنې
پرین غوښت له ارتینې (۱: ۱۱۴مخ.)

## پایله

د عبدالحمید د شرعة الاسلام بشپړ کوم متن چې عبدالکریم عامر ترتیب کړی دی، په پښتو ژبه او ادبیاتو کې یې هغو تاویلو او ما ویلو ته د پای ټکی کېښود چې یاد کتاب یې د عبدالحمید مومند نه باله او لا هم هڅې روانې وې چې یاد اثر شاید د بل کوم حمید وي. د لومړي چاپ په نسبت دېرې خوبیانې لري، خو څومره چې په کار وو، په هغه کچه کار پرې نه دی شوی.
لومړی خو دا چې د لیکدود مسئله یې په پام کې نه ده نیولې.
دویم دا چې لغوي پانګه یې سمه نه ده راټوله کړې او تر ډېره بریده یې سر سري کار کړی دی.
دریم دا چې حاشیې باید په هر مخ کې ښودل شوې وای.
څلورم دا چې په وېیپانګه کې یې ځینې لغتونه همداسې بې معنا پرېښي دي.

## وړاندیزونه

۱. له علمي او اکاډمیکو باصلاحیته شخصیتونو څخه مې هیله دا ده چې د شرعة الاسلام درې واړه نسخې سره پرتله او وروستۍ نسخه دې چاپ ته تیاره کړي.
۲. د شرعة الاسلام د وروستۍ چاپې نسخې لیکدود معیاري نه دی او باید د یوه مسؤل څېړونکي له خوا نسبتاً په معیاري لیکدود ولیکل شي.
۳. دا چې شرعة الاسلام خورا لویه لغوي زېرمه لري، نو اړینه ده چې یاده لغوي زېرمه مکمله وکتل شي او که کېدلای شي، د شرعة الاسلام فرهنګ ترې جوړ شي، نو غوره کار به شوی وي.

## مأخذونه

۱. شینواری، دوست. زړه پانګه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز: کابل، ۱۳۶۳ل کال.
۲. شینواری، دوست. شرعة الاسلام د حمید مومند (سریزه)، د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو بین المللي مرکز: کابل، ۱۳٦٦ل کال.

۳. صـمیم، محمـد اصـف. د عبدالحمیـد مومنـد فرهنـگ، احسـان خپرندویـه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۱ل کال.

۴. عـامر، عبـدالکریم. د عبدالحمیـد شرعـة الاسـلام پشـپړ مـتن (سریـزه)، زیـن نعمان پرېس: لاهور، ۲۰۱۹م کال.

څېړنوال شهزاده توحیدمل

# د پښتو لرغوني دورې د منظوم عرفاني ادب څېړنه

# A review of the poetic Mystical Literature in the Pashto ancient Period

**Associate Prof. Shahzada Twheedmal**

## Abstract

In this article, in addition to a brief introduction to the first period of Pashto literature, we will see the rays of mysticism Or Sufism in the pages of Pashto literary history in this academic period.

The well-known beginning of mysticism and Sufism of this period, which starts from Bet Nikah, respectively, the Sufi mystical thought of Sheikh Mati Baba (688 AH), will be presented in the examples of their poems.

## لنډیز

په دې لیکنه کې به د پښتو ادب د لومړۍ دورې پر لنډې پېژندنې سربېره، په دغه ادبي دوره کې د پښتو ادبي تاریخ په پاڼو کې د عرفان او تصوف څرک وګورو، د دغې

دورې دعرفان او تصوف معلومه پیلامه چې د بیت نیکه له مناجات څخه پیل کېږي، په ترتیب سره به په کې د شیخ متي بابا (٦٨٨ هـ ق) تصوفي عرفاني فکر، د هغوی د شعرونو په بېلګو کې وړاندې شي.

## سریزه

د ادبي تاریخ زیاتره لیکونکي، د پښتو ادب لرغوني یا لومړنۍ دوره له دویمې هجري پېړۍ څخه را پیلوي او دا دوره تر لسمې هجري پېړۍ پورې زماني اټن بولي. په دې دوره کې موږ ډېر ادبي آثار په واک کې نه لرو، زیاتره د زمانې حوادثو، پېښو او توپانونو له څان سره د فنا کندې ته وړي دي، ډېر لږ یې له دغو توپانونو څخه خوندي پاتې شوي، تر موږ پورې رارسېدلي دي او د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغوني او منځنۍ دورې) اثر د لیکوال په نظر، سره له دې چې د دې ادبي دورې آثار متفرق دي، خو تاریخي تسلسل لري او په هېواد کې له رامنځته شویو تاریخي او فکري جریانونو سره په ارتباط کې را پیدا شوي او هم دغه آثار، د خپلو شکلي او جوړښتي خصوصیاتو د بیان د شېوې او د موضوعي ځانګړنو له پلوه ځینې ګډې وجهې لري، چې د همدغو مشخصاتو او خپل تاریخي قدامت له امله موږ د پښتو دغه ټول ترلاسه شوي متفرق آثار، د پښتو د ادبي تاریخ په لومړنۍ دوره کې مطالعه کوو. (١)

دلته د دې ادبي دورې په څرنګوالي او ځانګړنو څه نه وایو، یواځې په ځینو خورو ورو او متفرقو ادبي آثارو کې، چې د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیاء د څو پاڼو چې (له ٦١٢ هجري کال را وروسته) د محمد هوتک پټې خزانې (١١٤٢ هجري کال تألیف) او ځینو نورو آثارو خوندي کړي، له ورکېدنې یې ژغورلي او تر موږ یې را رسولې دي، چې موږ په کې د تصوفي او عرفاني افکارو څرکونه ګورو، خو د لیکنې لنډ تنګ چوکاټ ته په کتنې سره د دغو عرفاني شخصیتونو پر ژوند او اشعارو باندې له مفصل تحلیلي بحث نه ډډه کوو او یواځې د هغوی د شعري بېلګو د یوې برخې په را اخیستنې او په ډېرې لنډې او ځغلندې کتنې اکتفاء کوو.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

دا چې موږ د پښتو ژبې او ادب د لرغونې دورې ډېر لږ آثار په واک کې لرو، چې هغه هم د سلیمان ماکو تذکرةُ الاولیاء او د پټې خزانې په وسیله تر موږ را رسېدلي دي، دا چې په دې لږو شعرونو کې زیاتره تصوفي عرفاني موضوعات موږ ته را څرګند

وي، دا چې عرفاني او تصوفي ادبيات زموږ د ادبياتو مهمه او اساسي برخه جوړوي، نو څېړنه يې د عرفان او تصوف له نظره مهمه او ضروري ده، چې همدغه زما د څېړنې اهميت او مبرميت څرګندوي.

## د څېړنې موخې

د څېړنې موخه او هدف دا دی چې د پښتو په لرغونې ادبي دوره کې عرفان او تصوف وپېژندل شي.

## د څیړنې پوښتنې

۱. د پښتو ادب په لرغونې دوره کې عرفان او تصوف څرنګه و؟

۲. د پښتو د تصوفي او عرفاني ادب منظومې بېلګې په لرغونې ادبي دوره کې کومو منابعو خوندي کړې دي؟

۳. شاعرانو دعرفان او تصوف سپېڅلي موضوعات څه ډول وړاندې کړي دي؟

## د څېړنې میتود

د څېړنې میتود توضیحي او تشرېحي او د څېړنې ډول يې کتابتوني دی.

## اصلي متن

کله چې د پښتو د ادبي تاريخ زرينې پاڼې را اړوو، لومړنی شاعر چې په شعر کې يې د عرفان او تصوف وړانګې په ځلېدو دي، هغه بيټ نيکه دی، چې د ژوند زمانه يې مؤرخينو له (۳۰۰هـ ق) څخه (۴۰۰ هـ ق) ترمنځ کلونه اټکل کړې ده، تذکرة الاولياء او مخزن افغاني يې د ژوند پېښو په باب حکايتونه او روايتونه لري او دا ورڅخه څرګندېږي، چې زموږ دا نيکه د سليمان د غرونو په لمن کې اوسېده، سره له دې چې د خپلې قبيلې مشر و، يو علمي ادبي، روحاني او عرفاني شخصيت هم و. د نوموړي دا لاندينی مناجات په پښتو تذکرة الاولياء کې خوندي دي:

لويه خدايه، لويه خدايه!

غر ولاړ دی درناوي کې

دلته دي د غرو لمنې

دا وګړي ډېر کړې خدايه!

دلته لږ زموږ اوربل دی

مینه ستا کې موږ مېښته یو
هسک او مځکه نغښته ستا ده
ستا په مینه په هر ځایه
ټول ژوي په زاري کې
زموږ کېږدۍ دي په کې پلنې
لویه خدایه، لویه خدایه!
ووړ کورګی دی، وړ بور جل دی
بل د چا په مله تله نه یو
د مړو وده له تا ده
دا پالنه ستا ده خدایه!
لویه خدایه، لویه خدایه!

(۲)

د بیټ نیکه د دې پورتني مناجات له لوستنې څخه موږ ته د هغه علمي او عرفاني څېره او د لرغونې زمانې له دود سره سم د خپل قوم او قبیلې په وړاندې د نوموړي نېکې هیلې، بشري عواطف او پېرزوینې را څرګندېږي. په اوومه هجري پېړۍ کې یو بل عرفاني او روحاني شخصیت لرو، چې شیخ متي بابا (رح) نومېږي او په خلکو کې په ((کلات بابا)) هم مشهور دی، نوموړی د شیخ عباس زوی په (٦٢٣ هـ ق) کال زېږېدلی، د غوریا خېل خلیل قبیلې ته منسوب ؤ، نوموړی برسېره پردې چې د خپلې زمانې لوی ولي، د کراماتو او برکاتو خاوند و، د پښتو ژبې منلی صوفي او عارف شاعر هم و، ((د خدای مینه)) په نوم یې د خپلو اشعارو دیوان بشپړ کړی، چې زیاتره په کې عارفاني اشعار او مناجاتونه وو. د پټې خزانې د مؤلف محمد هوتک د وینا له مخې: دا کتاب د شیخ متي بابا تر مړینې (٦٨٨ هـ ق) وروسته هم د ده پر مزار پروت و، زیارت کوونکو به لوسته او اغېز به یې پرې کاوه، د مغلو تر حملو وروسته دا کتاب ورک شو... پټې خزانې د بابا یو عرفاني مناجات خوندي کړی او تر موږ یې را رسولی، چې دلته یې یوه برخه د نمونې په توګه لولو:

په لویو غرونو هم په دښتو کې

په غاړه ږغ او په شپلکو کې
په لوی سهار په نیمو شپو کې
یا د وېرژلو په شپېلو کې
ټول ستا د یاد نارې سورې دي
دا ستا د مینې ننداری دي
جنډې زرغون که په بېدیا دي
ترنک چې خړ دی په ژړا دي
د بربنې خوا ته په خندا دي
دا ټول اغېز د مینې ستا دي
ټوله ښکلا ده ستا د لاسه
اې د پاسوالو لویه پاسه!

د شیخ متي بابا د همدې یوه لاس ته راغلي مناجات مطالعه موږ ته دا څرګندوي، چې په دغه مناجات کې یو عرفاني فکر په نسبي سیستماتیک ډول بیان شوی دی او موږ ته ور څخه د شاعر څېره د یو ولي، عارف او زاهد په توګه را څرګندېږي او د ارواښاد استاد پوهاند حبیبي په وینا: «شیخ متي هم لکه پخواني نور لوی عارفان هغسې فکر کوي او په جمالي فکر کې د کایناتو له مظاهرو او ښکلیو مزایاوو څخه عرفاني او روحاني نتایج اخلي، موږ په خپلو زړو ادبیاتو کې دغسې یو پاړکی نه لرو، چې په منظم ډول دې عرفاني فکر په کې پالل شوی وي. (۳)

په نهمه هجري پېړیو کې تصوف او عرفان په پښتو ادب کې ښې غځونې کړې دي، که څه هم د دغې زمانې ډېر آثار موږ په واک کې نه لرو او یو شمېر متفرق آثار یې تر موږه را رسېدلي دي، په دغو تر لاسه شویو ادبي آثارو کې چې د تصوف او عرفان کوم څرکونه تر سترګو کېږي، هغه ډېر څرګند او له عرفاني سوز او ګداز نه ډک دي، په دې لړ کې موږ په خپل هېواد او بهر د هند په پراخه سیمو کې مېشته پښتانه متصوف او عارفان وېناوال پېژنو چې را پاتې آثار یې د ژورو عرفاني افکارو بیانوونکي دي.

په هندوستان کې د اوسېدونکو پښتنو عارفانو شاعرانو په ډله کې د شیخ عیسی مشوانې، شیخ علي سرور لودي او شیخ بستان بړېڅ نومونه مخې ته راځي، چې د دوی له ژوند پېښنو او آثارو مو پټه خزانه، مخزن افغاني، مرآت الافاغنه، تاریخ مرصع او

نور خبروي او د دوی روحاني مرتبو او عارفانه مقامونو په باب په زړه پورې څرګندونې زمونږ مخې ته ږدي. په دوی کې شیخ عیسی مشوانی د هندوستان په امله کې اوسېده او په هند کې د افغان واکمن شېر شاه سوري معاصر و، د نوموړي د ژوند زمانه د (۹۵۰ هـ ق ) کال شاو خوا ټاکل شوې. په پښتو – پارسي او هندي ژبو یې یوه ګډه رساله لیکلې وه، نعمت الله هروي په خپل اثر مخزن افغاني کې له هغه نه دا کوچنۍ درې بیتیزه غزله خوندي کړې او تر موږ یې را رسولې ده:

په خپله کار کړې په خپله انکارکړې
کله بادار یم، کله مې خوار کړې
ته خـو قـادر یـې په صفتــونو
کله مې نور کړې کله مې نار کړې
عیسی حیران دی په دې شیونو
کله مې یار کړې کله اغیار کړې

د شیخ عیسی مشواني له دې پورتنیو بیتونو څخه څرګندېږي، چې د خپل وخت له نومیالیو عارفانو او پیاوړو متصوفینو څخه و او لکه د خواجه عبدالله انصاري او نورو عارفانو په څېر یې له خدای (ج) سره راز او نیاز کاوه. (۴)

په همدغو وختونو کې د پخواني هند د ملتان په سیمه کې د علي سرور لودي په نوم یو بل پښتون عارف او صوفي شاعر استوګن، چې ارواښاد استاد حبیبي یې د ژوند زمانه د (۹٦۰ هـ ق) شاو خوا کلونه بولي، وایي چې: نوموړي د مریدانو یوه حلقه درلوده او برسېره پر دې به نورو خلکو هم ددیني او عرفاني مسایلو د حل په برخه کې ده ته رجوع کوله. محمد هوتک په پټه خزانه کې د ((تُحفة صالح)) په حواله د نوموړي دا لاندې غزل تر موږ را رسوي:

محبت پیاله مې نوش کړه په مجاز کې
درست وطن راته دریاب شو بې دیدنه
که زه مړ شم هم له ګوره کړم سر پورته
که مې سر غوځ د رقیب په تېره تېغ شي
زه ویار مداماً ناست وو یو له بله
ګران بېلتون به د هغو مئینو وینه

ای سروره غمازان شو بې حسابه
د حق نور وینم په سترگو د ایاز کې
دید مې نه شـي مگر خدای مې سبب ساز کي
ناگهانه چې دلبر راته اواز کي
هم به ځمه که دلبر مهر و ناز کي
پر غماز دې بارې کاڼې د غم ساز کي
چې تل ناست وي په خلوت کې سره راز کې
پاک الله دې صورت تش بې مغز پیاز کي

د شیخ سرور لودي له دې پورته غزلې معلومېږي، چې په اسلامي تصوف کې د زیاتې مطالعې خاوند او د لویو متصوفانو آثار او افکار یې لوستي وو او د ډېرو مشکلو عرفاني مسئلو د حل صلاحیت یې درلود. (۵)

د دې لړۍ د تصوفي او عرفاني کړۍ یو بل شاعر شیخ بُستان بړېڅ چې (۱۰۰۲ هـ ق) کال مړ دی، د محمد اکرم زوی په قوم بړېڅی او د کندهار په ښوراوک کې اوسېده، په ځوانۍ کې هندوستان ته تللی او په سامنه نومې ځای کې مېشت شوی، د خپل وخت لوی عارف او ولي و، د «بُستان الاولیاء» په نوم یو اثر یې درلود چې په کې یې د پښتنو اولیاوو او عارفانو حالات لیکلي وو، که څه هم اوس د دې کتاب کومه نسخه په لاس کې نه لرو، خو د پټې خزانې د مؤلف پلار داؤد هوتک هغه په ښوراوک کې له بړېڅانو سره لیدلی او له هغه څخه یې ځینې شعرونه او د بزرگانو حالات خپلې حافظې ته سپارلي،چې له هغه څخه یوه بدله محمد هوتک په پټه خزانه کې خوندي کړې او تر موږ یې را رسولې ده، دلته د هغې بدلې کسر او لومړي او وروستي بندونه د بېلگې په توگه راوړو:

اوښکې مې څاڅي پر گرېوان یو وار نظر کا پر ما
راشه گذر که پرما (٦)
د مینې اور دې زما زړگی وریت په انگار کړ نا
ښې تارو نار کړ نا
خود به وېلېږم چې مې زړه پر تا مفتون کړ نا
ځان مې زبون کړ نا

اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان یو وار نظر کا پر ما
راشه ګذر که پرما
خوږو زړو له حاله ته یې اې باداره آګاه
یې د بېوزلو همراه
د خپل عزت په روی (( بُستان)) ته کړه د مهر ښندل
کړې له ګناهه ګواښل
اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان یو وار نظر کا پر ما
راشه ګذر که پرما

له دې پورته بدلې څخه د شیخ بُستان برېښ عرفاني مقام په ډاګه برېښي، له هغه څه چې زموږ عرفاني شاعر یې په دغه بدله کې بیانوي، د عرفان او عارفانو په مشرب کې موجود حال دی، چې صوفیان کله کله د وصل په وخت کې له اینده هجرانه وېرېږي او تل د سوز په حال کې وي، د ځینو څېړونکو په نظر دغه بدله کې چې کوم درد، سوز، شور او جذبه شته، هغه د شیخ بُستان له حاله سره سمون لري. (۷)

د «زر هجري قمري» شاوخوا کلونو کې د کندهار په سیمو کې د شیخ صالح الکوزي په نوم د یوه بل پښتون عارف شاعر له حاله مو «د تُحفة صالح» په حواله محمد هوتک خبروي، نوموړي په پټه خزانه کې د شیخ صالح دوې غزلې خوندي کوي، یوه یې داده:

د لیلا د مینې فیض به هر سبا وړم
بېهوده منت به ولې د نور چا وړم
چې اشنا یې د شپې ناڅاپه په لاس کښېووت
روښان زړه په ګوګل پټ لمر په سما وړم
پر دنیا که تجارت څوک د دنیا کي
زه د زړه په بازار بار د عشق سودا وړم
که پر تخت مې د سلیمان سپور کړي سرېیه
عاقبت خاورو ته ښه عمل پېشوا وړم
زه «صالح» که په خوله خوښ په زړه ژړا وړم (۸)

وايي چې دا غزله شيخ صالح د کندهار د هغه وخت مغلي صوبدار شاه بېک د غوښتنې په ځواب کې ليکلې او هغه ته يې ورلېږلې وه، په دې غزل کې د شاعر يو ډول عارفانه او صوفيانه استغنا ليدلی کېږي او کومه مينه چې زموږ دا عارف شاعر يې په دې شعر کې يادونه کوي هغه دده له حاله سره سم الهي مينه ده، چې د عارفانو زړونه پرې تل خوښ من او ډاډه وي. بي بي نېکبخته د (۹٦۰ هـ ق) شاوخوا کلونو يوه عارفه شاعره پښتنه مېرمن ده، چې موږ يې له ژوند پېښنو او عارفانه کلام سره پټه خزانه آشنا کوي. وايي چې دغه عارفانه مېرمن د مشهور ولي او عارف شيخ الله داد لور په قوم مموزی وه، دغې عارفې پښتنې شاعرې د «ارشاد الفقراء» په نوم يو کتاب هم ليکلی و؛ محمد هوتک په خپل کتاب پټه خزانه کې له هغې څخه دا لاندې شعري بېلگه خوندي کړې ده، چې د شاعرې عرفاني څېره ور څخه ډېره ښه څرگندېږي:

د خدای حق ته غاړه کېږده
دنيا پاتې له هر چا ده
څو قوت لرې په ځان کې
ځان له بده خويه ژغوره
کل دنيا به دې دښنه شي
ټوله غواړي حسابونه
نورې نورې وينا پرېږده
په اخلاص کې ځينې لېږده
سر د يار په رضا کېږده
زړه په ذکر د يار بلېږده
اوس له بېرې ځينې رېږده
که دې اوښې که دې مېږ ده
دنيا ترک وهه که پوه يې
د بقا په لورې پښې ږده
(۹)

## پایله

د پښتو د لرغونې ادبي دورې په شاعرۍ کې د عرفاني او تصوفي ادب د څومره والي او څرنګوالي په اړه د بحث د پایلې په توګه ویلی شو چې، د پښتو د ادبي تاریخ په دې لومړۍ یا لرغونې ادبي دوره کې ښایي نور لوی لوی عرفاني شخصیتونه او متصوف شاعران تېر شوي وي، خو لکه چې ما د مخه د خپلې لیکنې په پیل کې هم د دې خبرې یادونه وکړه، د دې زمانې د بهیر ډېر لږ آثار د پېښو او حوادثو له توپانونو نه خوندي پاتې دي، چې هغه موږ ته د تذکرة الاولیاء او پټې خزانې په وسیله را رسېدلي دي، د دغو بېلګو له مطالعې څخه چې عرفان او تصوف په کې له ورایه داسې څرګندېږي چې، عرفان او تصوف په دې دوره کې زموږ په ادبیاتو کې پوره رېښې ځغلولې او د ودې او پرمختیا پړاوونه یې وهلي وو، که د دغې دورې ځینې نور پوره او کره آثار هم تر لاسه شي، نو به څرګنده شي، چې عرفاني ادب ځولۍ مو له ډېرو ښکلیو ګلونو ډکه او زموږ د لرغوني ادب یوه مهمه او ارزښتناکه پانګه یې جوړه کړې ده، دا چې ما ته د دغو ترلاسه شویو شعري بېلګو د مطالعې له مخې همدغه عرفاني څېرې را څرګندې شوې، چې د هغوی په لنډه پېژند ګلوي او ادبي آثارو د بېلګو په وړاندې کولو سره مې له تاسې سره د زړه خواله وکړه.

## وړاندیز

که رښتیا در ته ووایم، په دې مقاله کې مې، د عرفان او تصوف په اړه تیوریک بحث ځوانو څېړونکو ته پرېښود. د دغو دوو عرفاني او تصوفي اصطلاحاتو، د هغوی تر منځ د اړیکو او اسلامي مکتب په اړه ښه ډېر څه ویل کېدای شي. ما په دې مضمون کې دا بحث ، د پښتو په لرغونې دوره کې د بیټ نیکه له مناجات نه را پیل کړی، چې په حقیقت کې د دعایې بڼه لري. څومره به ښه وي چې راتلونکي څېړنې په دې اړه نورې هم پراخې شي او ان دومره واک پیدا کړي، چې په زغرده دا وښیي، چې د بیټ نیکه مناجات یواځې دعا ده او که د عرفان او تصوف په اړه یو څه په کې شته.

## مأخذونه

۱. هېواد مل، زلمی. د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دورې) دانش خپرندویه ټولنه: پېښور (۱۳۷۹ هـ ش) کال، ۲۴ مخ.

۲. طبیبي، عبدالحکیم. سیر تصوف در افغانستان، انتشارات بیهقي: کابل، (۱۳۵٦هـ ش) کال، ۱۸۹ مخ.

٣. هېوادمل، زلمی. د پښتو ادبیاتو تاریخ، لرغونې او منځنۍ دوره، ٦١ مخ.

۴. حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، دویم ټوک، لومړی چاپ، پښتو ټولنه: (۱۳۴۲هـ ش) کال ، ۱۲۹ مخ.

۵. هېواد مل، زلمی د پښتو ادبیاتو تاریخ، لرغونې او منځنۍ دورې، ۷۸ - ۷۹ مخونه.

٦. هاشمي، سید محی الدین. د افغانستان مشاهیر، لومړی ټوک، اریک گرځنده د کتابونو اداره: (۱۳۷۸ هـ ش) کال، ۲۱ – ۲۳ مخونه.

۷. هېواد مل، زلمی. د پښتو ادبیاتو تاریخ،لرغونې او منځنۍ دوره، ۷۸ مخ.

۸. هوتک، محمد. پټه خزانه، څلورم چاپ، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی،کابل پوهنتون: (۱۳۵٦) کال، ۵۱ مخ.

۹. حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، دویم ټوک، لومړی چاپ، ۱۳۸ مخ.

څېړندوی لطف الله صابر

# د زین العابدین پردېس ژوند او شاعري

# Poetry and Life of Zain-ul- Abudeen

**Assistant Prof. Lutfullah Saber**

## Abstract

Pashtuns have many more cultural values in their literature history, the mention values of these people could develop the high level of honor and by using various dimensions such as symbols and other social and natural concepts of this tool they stand against unfair behaviors of this society.

Pashtun's local poets have immense part in the developing and intellectual growth of cultural values in the Pashto literature. They ever struggle with their pens against cruelty and brutality of society. One of Local poets is Zain-ul- Abideen who ever try his best to share their full of love, full of peace and full of bright life messages to their people around. He and our local combatants could provide the public awareness services in their poets, by which they understood the public; the enemy wants to damage our physical, mental and intellectual wealth, so they have to concentrate carefully, finally they have to struggle against these problems and find the best ways for solution.

## لنډیز

زین العابدین پردېس د پښتو ژبې او ادب د اوسنۍ زمانې یو له هغو ولسي شاعرانو ځخه دی، چې د خپل ځوربدلي مېړني ولس دردونه يې په رښتيني بڼه او حقيقي توګه درک کړي او پرې پوهېدلی و او د هغوی د ژوندانه د غوښتنو پر بنسټ يې، د هغوی غږ او پيغام د شعر او نظم له لارې تر موږ پورې را رسولی دی. دا پښتون شاعر چې په زړه پورې شعرونه لري، تر اوسه د ده او د ده د اشعارو په اړه هر اړخیزه علمي ليکنه نه ده شوې، نو ما د خپل وظيفوي مسؤليت له مخې وپتيله چې د زین العابدین پردېس پېژندنه وکړم او د شعرونو ځينې نمونې يې په تحليلي بڼه راوړم، دا دی له توان سره سم مې په دې اړه ليکنه کړې، چې تفصيل به يې په لاندې کرښو کې ولولئ.

## سریزه

پښتانه د خپلې ژبې او ادبیاتو تاریخ کې خورا زیات کلتوري ارزښتونه لري، همدې ارزښتونو د پښتنو په ژوند او ټولنيز چاپېريال کې د ننګ جذبې زېږولې دي او د ناوړه کړو وړو پر وړاندې يې د خپلو کلتوري ارزښتونو له بېلابېلو سمبولونو، طبيعي او ټولنيزو منظرو څخه کار اخيستی دی. د پښتو ادب د کلتوري ارزښتونو په وده، پالنه او پرمختګ کې، د پښتنو ولسي شاعرانو تر بل هر چا ډېر، ژبه او قلم چلولی دی، تل يې په ټولنه کې د ناخوالو او بدو کړنو پر وړاندې غږ پورته کړی او د ظالمانو د ظلمت د ناوړه چلند او بې رحمۍ پر وړاندې يې، د ژبې او قلم په زور مبارزه کړې ده او تل يې د ولس او ټولنې وګړو ته د روښانتيا او ويښتيا سوله ييز، ډاډمن او ميناک ژوند پيغام رسولی دی. زموږ ولسي مبارزينو د خپلو خوږو ليکنو او اشعارو د پيغام په قوت په ولسونو کې ويښتيا را مينځته او په دې يې وپوهول، چې دښمن او جابر يې د ټولنې مادي او معنوي شتمنۍ له ګواښ او خطر سره مخامخ نه کړي او هغوی د هر ډول ناخوالو پر وړاندې پر دې وپوهوي، چې له ستونزو سره مبارزه وشي، حل لارې او اسانتياوې را منځته کړي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

ددې موضوع اهميت او مبرميت په دې کې دی، چې تر اوسه پورې د نوموړي شاعر د ژوند او شاعرۍ په اړه په اکاډميکه توګه کار نه دی شوی او د پښتو ادب په اوسني دور کې د دې شاعر پېژندنه او د شعر او شاعرۍ په باب پراخه او هر اړخيزه څېړنيزه ليکنه نه ده شوې ، نو لازمه

مې وګڼله چې په دې اړه څېړنه وکړم. دا څېړنه به له يوې خوا زموږ په ادب کې د يوه بل شاعر پېژندنه او د ځينو اشعارو بېلګې ثبت کړي او له بل لوري به د علم او ادب مينه وال د دې شاعر په اړه معلومات تر لاسه کړي.

## د څېړنې موخه

دا ليکنه د دوو موخو لپاره ليکل کېږي؛ يو دا چې زين العابدين پردېس به زموږ د معاصرو ادبياتو په لړ کې معرفي شي او بل دا چې د نوموړي شاعرانه افکار به د ادب مينه والو ته ور وپېژندل شي او په راتلونکي کې به ترې په نورو څېړنو کې کار واخيستل شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ – زين العابدين څوک و؟

۲ – د زين العابدين پردېس شاعري کومه بڼه لري؟

۳ – د پردېس شاعري کومو ټولنيزو عواملو څخه اغېزمنه ده؟

## د څېړنې ميتود

په دې څېړنه کې له تشرېحي – تحليلي ميتود څخه کار اخيستل شوی دی.

## اصلي متن

### د زين العابدين پردېس پېژندنه

زين العابدين پردېس د حاجي سعدالدين زوی د ملا معاذالدين لمسی په ختځه خوړيانۍ په ( ۱۳۰۷ل) کال د ننګرهار ولايت د چپرهار ولسوالۍ د ماڼو سيمې د کمانګړو په کلي کې د ملا معاذالدين په ديندار کورنۍ کې زېږېدلی، نوموړی په اته کلنۍ (۱۳۱۵ل) ز کال له خپل پلار حاجي سعدالدين سره له ننګرهاره د هېواد شمال (کندز) ولايت ته لاړل او د کندز لوېديځ چهاردرې ولسوالۍ کې مېشت شول.

زين العابدين پردېس د اتو کالو په عمر د خپل پلار او کورنۍ له خوا د چهاردرې ولسوالۍ د لومړنيو زده کړو ښوونځي کې شامل او تر پايه پورې يې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ، چې په پايله کې يې د دولسم ټولګي بريليک ترلاسه او په (۱۳۲۷ل) کال له ښوونځي څخه فارغ شو. نوموړي د دولسم ټولګي له زده کړو وروسته په بغلان ولايت کې لوړو زده کړو ته دوام ورکړ او د درېو کالو په موده کې يې د کرنې په برخه کې خپلې

لوړې زده کړې بشپړې او په همدې ځانګه کې یې د هېواد د سمسورتیا متې را ونغښتې او په رسمي دنده یې پیل وکړ، چې د هېواد شمال په بېلابېلو ولایتونو او ولسوالیو کې یې خپل ماموریت ته دوام ورکړی دی. ارواښاد زین العابدین پردېس چې د ژوند ټول وخت یې هېواد ته د خدمت او ملي احساس لرلو کې تېر کړی دی، په ۱۳۵۹ ل کال د علم او فرهنګ د دښمنانو له خوا شهید شوی دی. (۳)

زين العابدين پردېس په شمال کې د هغه مهال د لومړنيو پښتنو شاعرانو په لړ کې راځي چې د سيد عبدالقيوم عسکر، کشمير خان خروټي، وزير احمد حسين خېل، زمري حسن، محمد اسماعيل ملزم، ډاکټر طلامحمد خادم، نظر محمد کامياب، اسدالله جميلي، عصمت الله شرقي او نامتو شاعر محمد صديق پسرلي په شمول يې د هېواد په شمال کې د ادبي او فرهنګي بهيرونو بنسټ اېښی دی او داده چې لا تر اوسه يې مينه والو په شمال کې د پښتو ډېوه روښانه ساتلې ده. د پورته نوميالیو نومونه ځکه د قدر او يادولو وړ دي چې دوی هر يوه د خپل کلي حجرې او دېرې د پښتو ادب او فرهنګ په خوږو خوږو ساتلې وې او د خپلې ژبې، ادب او فرهنګ ډېوه يې روښانه ساتلې ده. (۴:(https://yaraan.com/shaheed-pardees)

## د پردېس شاعري

د پردېس د شاعرانه فکر غوټيو د غوړېدو مينه د هغه له ماشومتوبه د فطرت ګامونه اوچت کړي وو او له جذبې ډکه ملي، ولسي او رياليستيکه شاعري يې په کرنيزو منظرو کې انځور کړې ده، د سترګو ليدلي حالات (عيني منظر کشي) يې د شعر په ښکلا کې بنسټيز توکي دي، چې پيغام يې سم له واره په زړونو منګولې لګوي. د وخت حالاتو، د استوګنې سيمه ييز طبيعي جوړښت، همدا شان ادبي او فرهنګي بنډارونو د پردېس په شاعرانه ذوق کې نغښتې تومنه ده، چې د نوموړي د شعر احساس او عاطفه يې لا رنګينه کړې ده؛ همدا لامل دی، چې د پردېس شاعري ريالستيک ولسي پيغام لېږدوي، واقعيتونه او حقيقتونه پکې د ټولنيز ژوندانه ښکارندويي کوي. شهيد پردېس له پښتو ژبې، شعر، ادب، اديبانو او شاعرانو سره ډېره مينه درلوده، د ځوانۍ له مرحلې را پيل د ژوند تر وروستيو شېبو يې د حجرې کليوالي مجلسونه او بنډارونه ډېر خوښېدل، له اديبانو او شاعرانو سره يې ناسته ولاړه درلوده او د ورځني ژوند ډېرې چارې يې له شعر

او شاعرۍ سره پېلېدې او د دې تر څنګ یې له ښکار کولو سره هم خورا شوق درلود. د پردېس د شعر ژبه خوږه، روانه، ساده، اسانه، په واقعیتونو ولاړه او د ولس له پوهې او غوښتنو سره برابره او همغږې ده. د نوموړي لومړنۍ شعري ټولګه (ولسي هینداره) نومیږي، چې په (۱۳۸۹ل) کال د هغه د زامنو استاد عبدالمجید پردېس او عرفات پردېس په زیار او هڅو سره چاپ شوې ده.

د پوهیالي عبدالمجید پردېس د وینا پر اساس: د زین العابدین پردېس دا شعري ټولګه، چې (ولسي هینداره) نومیږي، لومړنۍ برخه یې چاپ او بله برخه یې چې په راتلونکي کې به چاپ شي، د (ولسي هینداري) دویمه برخه ده. دا چې دا مقاله ما څو کاله د مخه لیکلې وه او په هغه وخت کې د همدې ټولګې دویم ټوک نه و چاپ شوی، د دې ټوک په منځپانګه به هم په خپل ځای کې خبرې وشي، چې کوم ډول شعرونه پکې وړاندې شوي دي او څه ډول ټولنیز ارزښتونه لري او د کوم ډول پیغام احساس پکې ډېر ځای منعکس شوی دی، هېره دې نه وي چې د دې شعري ټولګې همدا دویم ټوک په (۱۳۹۰ ل) کال کې چاپ شوی دی. د دې شعري ټولګې (لومړی ټوک) درې سوه دوه څلوېښت مخونه لري چې نوم یې (ولسي هینداره) ده او په وروستۍ پاڼه کې یې یادونه شوې، چې د دې شعرونو ټولګه د زین العابدین پردېس د شعري نړۍ یوه برخه ده او دویمه برخه یې همدا دویم ټوک دی چې په ۱۳۹۰ ل کال کې چاپ او خپور شوی دی، همدا شعري ټولګه چې ما یې دواړه ټوکه ولوستل، د دواړو ټوکونو شعرونه ولسي (ریالیستیکه) او ملي بڼه لري، چې د ولسي وګړو د ژوند حالات، کړه وړه او غوښتنې په کې وړاندې شوې دي. د لومړي ټوک په وروستۍ پاڼه کې یوه بله یادونه هم شوې ده، چې د پردېس د شعرونو ډېرې بېلګې ورکې شوې دي.

کاشکې! هغه اشعار هم نه وای ورک شوي او او زموږ د منظوم ادب بڼ یې لا سمسور کړی وای؛ د دې اشعارو ارزښت هغه وخت جوتېږي، چې سرې یې ولولي او په هغو کې د ټولنې بېلابېل مسایل تر سترګو کېدلای شي، د دې ټولګې اشعار هر اړخیز ټولنیز مسایل را نغاړي او شاعر تل کوښښ کړی دی، چې د عامو وګړو د ټولنیز ژوند په پرمختګ کې د عامه پوهاوي وړانګې روښانه کړي او له همدې لارې د ژوند له حقه حقوقو څخه دفاع او ملاتړ وکړي. د دې لپاره چې د زین العابدینپردېس له شعر او شاعرۍ سره هم اشنایي پیدا کړو، نو په لاندې توګه یې د شعرونو څو نمونې را اخلم او بیا به پرې لنډې خبرې ولرو.

د نظم بېلګه:

ځويه!
فکر اهتمام کوه
ګرانه ځويه پام کوه
مه ګرځه کوڅو کې ته زيار باسه درسو کې ته
ګوره کايناتو ته سير د موجوداتو ته
(۲: ۲۳ – ۲۴ مخونه)

په پورتنيو بيتونو کې، د ځوان نسل لپاره څومره ښه او په زړه پورې نصيحت او لارښوونه شوې ده، شاعر ځوان نسل د خپلو بچيانو په څېر مخاطب کوي او هغوی زده کړو ته داسې متوجه کوي:

پاڅېږه بيدار کړه ځان
ښه دقيق هوښيار کړه ځان
زده هر يو لسان کړه ته ژبه زر افشان کړه ته
پاس د خاص و عام کوه ګرانه زويه پام کوه
ستر ملي انسان شه ته
ښه مرد ميدان شه ته
(۲: ۲۳ – ۲۴ مخونه)

پورتني بيتونه چې د زوی تر سرليک لاندې ليکل شوي دي، زوی، اولاد او په ټوله معنا د ټولنې ځوانانو ته د ټولنيز ژوندانه د هر اړخيز پرمختګ په اړه سپارښتنې لري، د فکر کولو، پوهې تر لاسه کولو، د ډېرو ژبو زده کولو، د يو بل درناوی کولو، ملي شخصيت جوړېدلو او مېړانې درس ورکوي.

رنګ بد د خپل قام نه کړې ځان چټي سرسام نه کړې
مه څه هر يو چا پسې څه خپلې حيا پسې
جوړ ملي وقار کړه ته
دا وطن سينګار کړه ته
(۲: ۲۳ – ۲۴ مخونه)

دا بیتونه هم ځوان او اولاد ته په کور کلي، قام او ټولنه کې په ملي روحیه د وقار، عزت ساتنې او وطن پالنې سپارښتنه کوي:

جارېږه له کشرانو نه ټولو ماشومانو نه
د مشر احترام کوه گرانه ځویه پام کوه
زده د ساینس او تخنیک کړه ته
جوړ ملي تحریک کړه ته
مه اوسه خمود جمود ځان کړه حقیقي موجود
کلک لکه سندان اوسه فخر د افغان اوسه
لوړه کړه شمله د پلار
روح نه کړې خفه د پلار
(۲: ۲۳ - ۲۴ مخونه)

که د پردېس د شعر هر بیت ته په جلا جلا توگه هم نظر وشي، په ډېره پیمانه د یو پراخ فکر او مفهوم درلودونکی دی، په پورته بیتونو کې په کشرانو شفقت او د لویانو درناوي ته اشاره شوې ده او ځوانان دې ته هڅوي، چې ژوند په مینه او مهربانۍ رنگین کړي. سره د دې چې پردېس په شعر کې نصیحت کوي، شعر یې تدریسي خوا هم لري او په هر بیت کې یې ځوانانو ته د هر مسلک او هرې پوهې د زده کولو پیغام رسولی دی. د دې بیتونو یوه بله ځانگړنه دا هم ده، چې ځوان ته د پښتني ټولنې د دود او دستور درس هم ورکوي او ټینگار یې دا دی، چې د پښتني دودونو د پت او عزت سیمبولونو ته په کتلو سره، خپل ژوند عیار او د هغو په رڼا کې خپل کړه وړه تنظیم کړي:

ښه فعال صادق شه ته پوه په دې سبق شه ته
غوره تل مدام کوه گرانه ځویه پام کوه
دا وطن حاجت لري
کار ته ضرورت لري
پرېږده غټ یادگار پکښې مه گرځه وزگار پکښې
دشتې یې گلونه کړه جوړ شینکي باغونه کړه
ځان کړه ترې قربان گرانه

واوره دا بيان گرانه
قدر د ايام كوه
گرانه ځويه پام كوه
(۲: ۲۳ – ۲۴ مخونه)

هره ټولنه وينبو او خوځنده وگړو ته اړتيا لري، تر څو د پرمختگ هر اړخيز مقام تر لاسه كړي، زين العابدين پردېس د يوه ښوونكي په توگه د خپلې ټولنې اړتياوې سنجوي او بيا نوي نسل ته د هغو اړتياوو د پوره كولو داسې غږ كوي:

ملنگ جان هم په يوه شعر كې داسې ويلي دي:

طلب د علم پور دى     لپاره د انسان
خاونده زه نو ولې     ناپوهى سره اشنا شوم
په سترگو نابينا شوم
طلب د علم فرض دى     په موږه لكه قرض دى
وحشت يو لوى مرض دى
وحشي له په دنيا كې د همه خلكو پېغور دى
طلب د علم پور دى
(۱: ٦٩مخ)

په يوه بل ځاى كې بيا وايي:

په خپل علم دنيا وخته اسمان ته
كال په كال يې د هنر شغل زياتېږي
عزيزانو! تاسې فكر وكړئ ځان ته
د غفلت خوب نه مو سترگې نه غړېږي
(۱: ۷۴مخ)

د اروانباد پردېس شاعري تر ډېره د ملنگ جان د شاعرى رنگ لري، چې په ډاډ سره ويلى شو چې د پردېس شاعري د ملنگ جان د شاعرى تر اغېز لاندې راغلې ده او بل دليل يې دا هم كېداى شي چې دوى هممهاله شاعران تېر شوي دي. د دوى ځوانان دې ته هڅوي، چې د وخت قدر وكړي او د همدې وخت په لرلو سره خپل وطن سمسور

او د نورو له محتاجۍ یې وساتي، د ده د شعر پیغام په تمامه معنا په هېواد د یوه مئین د زړه آهونه دي، هر شعر او هر بیت یې د ځورېدلي ولس او هېواد په شاوخوا را څرخي، غواړي چې د ولس او ځوانانو په ملتیا له تورتم ځان وباسي او د رڼا پر لور گامونه اوچت کړي. د شهید زین العابدین پردېس پورتنی شعر، چې د (ځویه) تر سرلیک لاندې د (نظم) په فورم کې ویل شوی دی، که د منځپانگې له مخې وڅېړل شي، له یوې خوا ځوانانو ته د زوی او اولاد خطاب کوي له بله پلوه هغو ته د پوهې او زده کړې پیغام وړاندې کوي، دی کوښښ کوي، چې په ساده ولسي ژبه ځوانان له گڼو ټولنیزو ستونزو وژغوري او هغو ته د ژوند روښانه لار ور وښیي. پردېس هغه څه بیانوي، چې په ده او د ده په زمانه کې تېر شوي، هغه کړاوونه چې دوی زغملي، هغه یې په تنکیو ځوانانو نه دي پېرزو، دی غواړي، چې په ځوانانو کې ملي احساس، له خپل وطن سره مینه او هېواد پالنه وروزي، هغوی ته د خپل مسلک له مخې د هېواد سمسورتیا او زرغونتیا ور زده کوي، سربېره پر دې، چې هېواد پرې ابادوي، د ابادۍ او سمسورتیا گټې او ارزښت هم ورته څرگندوي. د ده د شعر بله ځانگړنه د پښتني ارزښتونو درنښت او پالنه را څرگندوي، چې مشرانو ته درناوی او په کشرانو شفقت کول دي، دا لارښوونه د پښتني کلتور او پښتني فولکلور له لرغونو اخلاقي کړو وړو څخه غړیتوب کوي.

د یوه بل ولسي نظم بېلگه:

که ته والي که ته وزیر صاحب یې
تا نه ارزو د صداقت لرم زه
کارو ته شا مه گرځوه هېڅکله
له بېکارۍ نه سخت نفرت لرم زه

د نوموړي د شاعرۍ بله ځانگړنه دا ده، چې مسوولینو ته په ښکاره توگه د سپېڅلي خدمت غږ کوي. دی د صداقت او رښتینولی پلوی دی او له بېکارۍ داسې نفرت کوي:

درد د وطن د اعتلا پیدا کړه
وطن ته فکر د خدمت لرم زه
په خوله خندا په زړه حسد ښه نه دی
ملي وحدت ته ضرورت لرم زه

(۲: ۱۸۷ – ۱۸۰مخونه)

په پورتنيو بيتونو کې له وطن سره مينه، وطن ته خدمت، رښتينولي او ملي يووالی ستايي او ننګه يې کوي، بد عملونه غندي او نفرت ترې لري، چې دا ټول د شاعر ملي احساس او هېوادپالنه رابښيي. همدا پورتنی ولسي نظم چې منځپانګه يې انتقادي بڼه لري، د وخت له چارواکو او زورواکو يې سر ټکولی دی، چې همدا زورواکي له بده مرغه ،لا تر اوسه هم زموږ په ټولنه کې حاکمه ده. نوموړي په خپلو اشعارو کې زياتره له انتقادي رياليزم څخه کار اخيستی دی، په شعري کلام کې يې ګڼ شمېر ټولنيز موضوعات او مسايل، لکه: د ټولنې د رغښت په موخه انتقادي مبارزه، د ټولنې په رغښت او پايښت کې د ښوونې او روزنې مبارزه او د هغو د ارزښت پيغام وړاندې کول، وعظ او نصيحت او همدا راز د کار او زيار په اړه پيغام وړاندې کوي، دی ظالم او جابر ته په شاعرانه ژبه اخطار ورکوي، چې ټولنيز حقوق له پښو مه لاندې کوه، د ولس او ټولنې په واقعي خدمت سترګې مه پټوه. د پردېس انتقادي نظر دوه اړخه لري؛ يو دا چې ظالم او جابر مخاطب کوي او بل دا چې عام ولسونه د دوی د ظلم او تيري پر وړاندې را بيداروي. د ده يو بل بيت داسې دی چې په واقعي توګه له وطن سره د نوموړي مينه را څرګندوي:

محبت مې د وطن جز د ايمان دی
تېر به زه کله له جزه د ايمان شم
(۲: ۱۲مخ)

مرحوم ملنګ جان وايي:

چې د وطن په خدمت ځان کړمه فدا په ميدان
لوږ به شم زه ملنګ جان
هلته به غم کړم چې راځئ ګورئ سره زر يمه زه
پښتون عسکر يمه زه
(۱: ۴۴۸مخ)

پردېس په خپل شعر کې له هر ډول ټولنيزو ناخوالو پرده پورته کوي؛ په ښکاره ډول د بدو غندنه او د ښو ستاينه کوي، ځان د چا متاع نه ګڼي، د شعر ښکلا يې همدا ده، چې حقيقت او واقعيت ته تر بل هر څه په شعر کې ډېر ارزښت او اهميت ورکوي.

د پردېس (ولسي هينداره) شعري ټولگه په رياليستيکه بڼه ټولنيز، ښوونيز، روزنيز، اقتصادي، علمي او فرهنگي مسايل او موضوعات په غېږکې نيسي، شعر يې روان او د ولس له پوهې سره برابر دی، د ولس د ټولنيز ژوند غوښتنې يې د شعر له ارزښتمنو ځانگړنو څخه دي، اروابناد پردېس د ستاينې پر مهال ستاينيزه شاعري کړې ده او د ناوړه ټولنيزو کړو وړو پر وړاندې يې سالمه انتقادي شاعري کړې او په دې ترتيب سره يې د خپل شعر رنگارنگي او ښکلا زياته کړې ده. سره د دې چې ښاغلي پردېس د مسلک له پلوه ادبيات نه و لوستي او دی د ټولنې شاعر و، په ځينو شعرونو کې يې د ادبي فنونو او ادبي صنعتونو کم رنگي ليدل کېږي، خو بيا هم هغه واقعيتونه او حقايق چې بايد پرده ترې پورته شوې وای او پيغام يې عام ولس ته رسېدلی وای، نوموړي شاعر دا کار کړی دی او تل يې د شعر په ژبه د پرمختگ او زېرځواکۍ څخه د خلاصون په موخه غږ اوچت کړی او خلک يې ملي بيدارۍ ته هڅولي دي.

د شعر بله بېلگه يې داسې ده:

استقلاله خدای دې ساته له زواله

دا دعا مې همېشه په خوله جاري ده

(پردېس) وايي نن هغه مردان يادېږي

چې گټلې يې په توره آزادي ده

(۲: ۱۹مخ)

پورتني بيتونه موږ ته د شاعر ملي احساس او له خپلواکۍ سره مينه را څرگندوي، نوموړی د خپلواکۍ غوښتونکی او په آزادۍ مئين شاعر دی چې په دې اړه يې هم خپل احساسات بيان کړي دي. پردېس نه يوازې له ناخوالو سر ټکولی؛ بلکې د خوښيو ستاينه او خوښي يې هم اظهار کړې ده، په آزادۍ ميئن شاعر تېر شوی،د استقلال پلوی او آزادي خوښوونکی دی، ستايي يې او ولس ته پيغام رسوي چې دا آزادي د مېړنيو په توره او د هغوی د وينو په بدل کې موږ ته را پاتې ده. موږ په پښتو ادب کې د ډېرو نوميالیو ملي او مبارزو ولسي شاعرانو له نومونو سره اشنا يو، چې تل يې په خپلو شعرونو کې له اسارت څخه د خلاصون او د هېواد د خپلواکۍ غږ پورته کړی دی. ملنگ جان هم يو له هغو وطندوستو مبارزينو څخه شمېرل کېږي، چې ملي او ولسي شاعري

به یې په هر پیر کې د هېواد د خپلواکۍ او ملي مبارزې په برخه کې د ځوانانو سپېڅلي احساسات او مېړانه په جوش راولي. ما چې د شهید پردېس شاعري وکتله، نو دا راته جوته شوه چې نوموړی د ملنگ جان له شاعرۍ څخه اغېزمن شوی دی.

ملنگ جان وایي:

که مې ازاد نه کړې وطنه پښتون به نه یم
یا مې په تن نه شوې کفنه پښتون به نه یم
یا ازادي به وي یا مرگ به وي والله بالله
که به په شا شوم له دشمنه پښتون به نه یم

(۱: ۳۴۲ مخ)

د ملنگ جان همدا بیتونه او د پردېس پورتنی (استقلال) شعر په یوه هیله راڅرخي، چې هغه آزادي او خپلواکي ده، دواړه د وطن میئنان دي او دواړه په هېواد دردېږي او پردېس هم وایي:

په وطن باندې چې ځان خپل قرباني کړم
پس له مرگه به سرلوړی په جهان شم
د وطن خدمت چې و نه کړم په نره
خجالت به مقابل کې د وجدان شم

(۳: ۱۲مخ)

## پایله

زین العابدین پردېس موږ ته د پښتو ژبې او ادب په برخه کې دوه غوره شعري ټولگې په میراث را پرېښې دي، چې په هغو کې د هغه مهال ډېر ټولنیز منفي او مثبت موضوعات یاد شوي او پرده ترې پورته شوې ده. د دې ټولگو شعرونه خورا له خوند او رنگ ډک الفاظ لري، د خپل وخت سره سم پیغام پکې نغښتی دی او د اوسني ژوند او ټولنیز چلند په برخه کې یې د مثال په توگه راوړلی، کارولی او پرتله کولای شو. که چېرې په دې شعري ټولگو باندې د ادبي فنونو او عروضو له مخې څېړنه وشي، نو د پردېس د شاعرۍ نور اړخونه به هم روښانه شي، په دې شعري ټولگو کې ځینې نایاب لغتونه هم شته چې د بحث او څېړنې وړ دي. ښاغلی زین العابدینپردېس د علمي او

فرهنګي خدمت تر څنګ د کرهنې په برخه کې د ډېرش کلن خدمت وروسته د (۵۲) کلنۍ په عمر په (۱۳۵۹ل) کال د هېواد او فرهنګ د دښمنانو له خوا په بې رحمانه توګه په شهادت ورسول شو او د تل لپاره یې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې، خو د ترسره کړي خدمت له مخې به تل د شعر او شاعرۍ په ځلاندو ستورو کې یادېږي.

## مأخذونه


۱ – د ملنګ جان، خوږې نغمې. د علامه سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنه: ۱۳۷۷ ل کال.

۲ – پردېس، زین العابدین. ولسي هینداره، چاپ زیار؛ عرفات پردېس، کندز، ۱۳۸۹ ل کال.

۳ – پردېس، شهید زین العابدین. ولسي هینداره، عابد مطبعه: کندز. ۱۳۹۰ ل کال.

۴ – انټرنیټي سایټ: (( https://yaraan.com/shaheed-pardees))

۵ - انټرنیټي سایټ: کتابتون. کام. ((ketabton.com))